د عم سیپاري ترکیب او تفسیر

عنبر الیم فی تفسیر عم

امتیازات او خصوصیات

- ترجمه
- تفسیر
- ترکیب
- حل المفردات
- فوائد
- شان نزول
- او متعلقه واقعات

افادات

حضرت مولانا الشیخ عبدالرحمن جامی دامت برکاتهم
شیخ الحدیث جامعه دارالعلوم رحیمیه ملتان
سابق استاذ الحدیث دارالعلوم عیدگاه کبیر والا خانیوال
مدیر جامعه حفصه للبنات الاسلام جهنگ موړ مظفر گړه

ضبط وترتیب

حضرت مولانا مفتی محمد ناصر صاحب زید مجده
استاذ جامعه دارالعلوم رحیمیه ملتان
سابق استاذ دارالعلوم کبیر والا خانیوال

محله جنگی پشاور
سردار پلازه اکوړه خټک



بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

انتساب

(۱) د بادشاهانو د بادشاه ذات په نوم چه دهغهٔ د شاهانه کلام د تفسیر لیکلو سعادت راته نصیب شو.

---

(۲) د پلار محترم په نوم چه.دهغهٔ د ډیر زیات شفقت او ښهٔ تربیت او د خصوصی دعاګانو په وجهددې تفسیر د لیکلو توفیق راته نصیب شو.

گر قبول افتد زهے عز وشرف

فهرست مضامین

صفحه	مضمون

مضمون	صفحه

مضمون	صفحه

مضمون	صفحه

صفحه	مضمون

مضمون	صفحه

صفحه	مضمون

مضمون	صفحہ

تقــــریظ مبـــــارک

شیخ المعقول والمنقول استاذ العلماء والمشائخ

حضرت مولانا **منظوراحمد نعمانی** صاحب مد ظله العالی

شیخ الحدیث طاہر والی

الحمدلله وکفی والصلوة والسلام علی عباده الذین اصطفی لا سیما علی سید الرسلی والانبیاء وعلی اله واصحابه الصفیاء اما بعد!

رایت الکتاب المسمی ،،**بعنبرالیم فی تفسیرعم**،، وجدته نافعاً ومفیداً وکاملاً لمن اراد علم تفسیر الجزء الاخیر من القرآن المجید قد التزم المؤلف مولانا عبدالرحمن الجامی تفسیرالقرآن بالمنقولات کما هو طریق السادات وحل المفردات بحسب اللغات وحل التراکیب النحویة وحل الاشکالات فوائد علی فوائد مفیدة اللمستفیدین من الطلبة والمدرسین علی الخصوص للذین یریدون امتحان الوفاق لهم معین وکفیل للفوز النجاح وادعو ان یجعله الله تعالی صدقة جاریة للمصنف والمرتب فی الاولی ذخیرة سعیدة فی العقبی وجعلها مقبولة فی حضرته العلی ویوفق للمؤلف توفیقاً کاملاً لخدمة الدین القویم لتفسیر القرآن الکریم والله تعالی نسئل ان یجعل خاتمتنا علی الایمان الکامل ولاسلام التام صلی الله تعالی علی من انزل علیه القرآن المجید وعلی من اعانه فی تنفیذه وتبلیغه الی الناس.

کتبه :

منظور احمد نعمانی عفی عنه

تقــــــريظ

د استاذ الاساتذه حضرت مولانا مفتي محمد صديق صاحب دامت برکاتهم العاليه مدير مدرسه امداد العلوم محمود کوټ ضلع مظفر ګړه

بسم الله الرحمن الرحيم

نحمده ونصلي على رسوله الكريم............اما بعد!

مادا مجموعه د اول نه تر آخره پورې اوکتله اود بعضې قابل اصلاح ځيزونو نشاندهي مې هم اوکړله، مؤلف عزتمند يقيناً چه ډير سخت محنت سره دا مجموعه تياره کړې ده او بې شکه چه د ګنړو کتابونو د سوونو صفحاتونه ئې دا فوائد حاصل کړی دی په ژورو سمندرونو کښې غوپې وهلو سره ئې دا عنبر (موتيان) حاصل کړی دی مؤلف عزت مند په دې مجموعه کښې اهم او ضروری مباحث درج کړی دی. حل المفردات، حل التركيب چه د استعداد لرونکو طلباؤ دپاره عموماً اود شوق وذوق لرونکو محنتی استاذانو دپاره خصوصاً د قدر قابله تحفه ده.

او شان نزول او تفسيری مباحث خو هر پوهه مسلمان دپاره په ايمان کښې د قوت او نشاط پيدا کولو دپاره د کتلو قابل دی.

دعا ده چه الله تعالی دې د مؤلف عزتمند دا محنت قبول کړی اوپه دواړو جهانو کښې دې د عزت سبب اوګرځوی. (آمين)

والسلام

محمد صديق

يکم ذوالحجه ۱۴۲۳ھ

تقریظ

د مرشد العلماء فقیه العصر حضرت مولانا
مفتی **عبدالقادر صاحب** دامت برکاتهم العالیه
شیخ الحدیث دارالعلوم عیدگاه کبیر والاضلع خانیوال

بسم الله الرحمن الرحیم

چه تر کوم وخت نه د وفاق المدارس دطرفه دقرآن کریم آخری سیپاره د دویمې درجې په نصاب کښې داخل کړې شوې ده دهغه وخت نه ددې د تدریس اهمیت زیات شوې دې، ښکاره خبره ده چه د ثانیه درجې ماشومان د آخری سیپارې په تفسیر باندې حاوی کول مقصود نه دی بلکه هغوی د قرآن پاک د ترجمې سره سره د صرف، نحو، لغت، او عربی ذوق پیدا کول مطلوب دی او د اسلامی او عربی علومو د عمارت دپاره هم دا فنون د بنیاد رومبۍ خښتې درجه لری په دې وجه ماهر استاذان دا سیپاره په داسې انداز سره ښائی چه دمبتدی طالبانو دې بنیادی علومو سره مناسبت پیداشی اوپه اوږدو اوږدو او ژورو تقریرونو سره د طالبانو ذهن باندې بوجهـ نه اچوی بلکه په آسان انداز سره د الفاظو لغوی معنی ترکیب، دصیغو تشریح ښائی او دمخاطبینو د استعداد لحاظ ساتلوسره نحوی، صرفی، تفسیری اشکالات او دهغې جوابات ښائی، په دې صحیح طرز سره آخری سیپاره په نصاب کښې د داخلولو صحیح نتیجه حاصلیږی.

عزتمند محترم مولانا عبدالرحمن جامی صاحب د نصاب دا حصه د پورته درج شوی طرز مطابق ښائی دا یو لائق او تجربه کار استاذ دې په دارالعلوم کبیروالا کښې د کافی مودې راسې صرف، نحو او د عم سیپارې تدریس دوی ته حواله کړې شوې دې اود طالبانو د پوهولو خاص انداز دوی ته حاصل دې.دوی د عم سیپارې

خپل درسی افادات په کتابی شکل کښې مرتب کړی دی چه دې سره معلمین او متعلمین دواړو دپاره آسانی اوشوه،اګرچه اکابر علماء خاصکر مولانا محمد انورشاه صاحب کشمیري قدس سره به نه په خپله د اردو کتابونو مطالعه کوله اونه به ئې د درس نظامی د استاذانو او طالبانو دپاره خوښوله،مقصد ئې داوو چه ددې طبقې د عربئ شروحاتو او حواشیو سره مناسبت وی.حضرت رحمه الله چه کله دحضرت تهانوی رحمه الله تفسیر بیان القرآن اوکتلو نووې فرمائیل چه بعضې اردو کتابونه هم دمطالعې قابل دی.لیکن نن صبا د علمی انحطاط په دورکښې د اردو شروحاتو او حواشیو مطالعه په علماؤ او طلباؤ کښې دومره مروج شوې ده چه شاذ ونادر که څوک مدرس او طالبعلم ددې نه بچ شوې وی.اوددې نه انکارهم نه شی کیدې چه د کم استعداد والااستاذانو او طالبانو دپاره د اردو شروحاتو او حواشیو مطالعه د سیړهئ (اندرپایه) کار ورکوی اوپه مقصود حاصلولو کښې په یوه درجه کښې مدد کونکې اومعاون دې.

بهرحال مؤلف سلمه په ډیرکوشش اومحنت سره ددې موضوع متعلق د مرتب معلوماتو ذخیره جمع کړې ده چه دا د استاذانو اوطلباؤ دپاره انمول تحفه ده،ما مختلف مقامات اوکتل صحیح وو،د پوره کتاب مطالعې کولو نه همت شته نه فرصت، الله تعالی دې دا مجموعه ډیره نافع اوګرځوی اود مؤلف دپاره دې دآخرت ذخیره جوړه کړی.او آئنده دپاره دې هم دغه شان دوی ته د افاداتو توفیق ورنصیب کړی.آمین یارب العلمین بحرمة النبی محمد صلی الله علیه وعلی آله واصحابه اجمعین.

بنده عبدالقادر عفی عنه

یکے ازخدام دارالعلوم کبیر والاضلع خانیوال

۱۸ ربیع الاول ۱۴۲۳ھ

تقــــــریظ

نمونه اسلاف حضرت مولانا **محمدانورصاحب** مدیردارالعلوم کبیروالا

بسم الله الرحمن الرحیم

زما د پلارمحترم شیخ الحدیث والادب حضرت مولانا علی محمد صاحب رحمه الله ادبو سره ډیر زیات شوق وو په علمی حلقه کښې ددوی دمقامات تدریس ته چه کوم مقبولیت حاصل وو هغه دچا نه پټ نه دې،ددوی د ښودلو انداز بې مثاله او منفرد وو.ددوی د پخوا راسې خواهش وو چه د قرآن پاک د یوڅو آخری سیپارو په داسې انداز کښې تفسیر اوکړې شی چه په هغې کښې تفسیری نکاتو سره سره لغوی، صرف ونحوی تحقیق هم اوشی.چه د طالبانو تفسیر سره سره په لغت اوصرف ونحوکښې هم مهارت حاصل شی.ددوی دا خواهش عزیزمحترم مولانا عبدالرحمن جامی صاحب د آخری سیپارې تفسیرلیکلوسره څه حده پورې پوره کړې دې.جامی صاحب تقریباً لس دولس کاله زمونږ د دارالعلوم شعبه بنات کښې طالباتو ته هم په دې اندازکښې د عم سیپارې تفسیر اوښودلو.چه په دې کښې تفسیر سره سره د صیغوحل، حل الترکیب هرڅۀ موجود دی. چه دا د طلباؤ دپاره ډیرزیات مفید دی.

دعا ده چه الله جل شانه دا تفسیر دعلماؤ، طلباؤ او طالبات دپاره مفید اوګرځوی اود مؤلف موصوف دپاره دې د آخرت ذخیره جوړه کړی. آمین

محمد انور خادم دارالعلوم کبیر والا

تقــــــریظ

فقیه العصر حضرت مولانا مفتی **عبدالستار صاحب** دامت برکاتهم
العالیه صدرمفتی جامعه خیرالمدارس ملتان

باسمه سبحانه وتعالی!

ما هم دا تفسیر دبعضې مقاماتونه اوکتلو، زۀ هم دحضرت مفتی عبدالقادرصاحب مدظله رائې سره متفق یم، الله پاک دې خپله رضا ورنصیب کړی. (آمین)

فقط بنده عبدالستارعفی عنه
جامعه خیرالمدارس ملتان

تقــــــریظ

د جامع المعقول والمنقول حضرت مولانا **محمدیسین** صاحب
صابرزیدمجده شیخ الحدیث جامعه اسلامیه ډیره غازی خان

ما د عم سیپارې تفسیر اوتشریح اوددې د تعلیم اوتعلم په سلسله کښې د ضروری امورو په بیان باندې مشتمل دا کتاب مصنفه محترم عزیز فاضل حضرت مولانا عبدالرحمن جامی زید مجده اوکتلو، زړۀ مې ډیر خوشحاله شو.

دعا کوم چه الله تعالی دې په هرشان نافع جوړکړی.(امین)

العبد المسکین
محمد یسین صابر
جامعه اسلامیه ډیره غازی خان

تقـــــریظ

د مخدوم العلماء حضرت مولانا غلام یسین صاحب تونسوی دامت برکاتهم العالیه مدیر جامعه اسلامیه للبنات تونسه شریف

بسم الله الرحمن الرحیم

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم......اما بعد!

عزتمند ورور مولانا عبدالرحمن جامی زما په معتمدو شاګردانوکښې دې په دارالعلوم کبیروالاکښې د کافی مودې نه زما سره درس کوی دهغه وخت نه ئې د عم سیپارې تفسیر مرتب کولو، وخت په وخت به ئې زمانه مشوره اخستله او ماته به ئې مسوده خودله،ماشاء الله ډیره ښه تفسیردې د معلمینو، معلماتو طالبانو او طالباتو ټولو دپاره یوشان مفید دې الله تعالی دې د محترم دا محنت قبول کړی اودې تفسیر ته دې قبولیت ورکړی.(آمین)

بنده غلام یسین تونسوی
خادم جامعه اسلامیه للبنات تونسه شریف

تقـــــــريظ

د جامع المعقول والمنقول امام الصرف والنحو حضرت مولانا محمد اشرف صاحب شاد دامت برکاتهم العالیه مدیر جامعه اشرفیه مانکوټ

بسم الله الرحمن الرحیم

ما د محترم فاضل نوجوان حضرت مولانا عبدالرحمن جامی صاحب لیکلې شوې د عم سیپارې تفسیر د یوځو ځایونو مطالعه اوکړله، د مولانا صاحب محنت او کوشش قابل داد دې. ان شاء الله د طالب علمانو د استعداد دپاره به مفید ثابت شی.

حضرت مولانا صاحب د دارالعلوم مشهور استاذانو ځینې دې په دې تفسیر لیکلوسره ئې په ابتدائی طلباء کرامو باندې احسان کړې دې د زړه نه دعا ده چه الله تعالی ددوی دا علمی خدمت په خپل دربار کښې قبول کړی اود علمی ذوق لرونکو دپاره دې نافع اوګرځوی. (آمین ثم آمین)

فقط

العارض محمد اشرف شاد

خادم علوم عربیه جامعه اشرفیه مانکوټ

تقـــــــریظ

دجامع المعقول والمنقول حضرت مولانا **محمد اشرف** صاحب دامت برکاتهم العالیه مدرس مدرسه مظاهر العلوم کوټ ادو

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله الذی علم القرآن، خلق الانسان، علمه البیان
والصلوة والسلام علی رسوله محمد وعلی آله واصحابه
ما دامت السموات واختلف الملوان

امابعد! بنده اضعف محمد اشرف عفی عنه د عم سیپارې مجموعه مرتبه عزیزالقدر مولوی عبدالرحمن جامی صاحب دمختلف ځایونو نه اوکتله او د بعضې ضروری اصلاحاتو نشاندهی مې هم اوکړه، ماشاء الله دا مجموعه فنی لحاظ سره په اردو ژبه کښې یوه شانداره علمی تحفه ده چه د استاذانو او طالبانو دپاره یوشان مفیدده.

د زړۀ د اخلاص نه دعا ده چه الله تعالی دې داعلمی خدمت قبول کړی اومؤلف دپاره دې د دواړوجهانو دکامیابئ ذریعه جوړه کړی.او د ټولو طالبانو دپاره دې آسانه استفاده اوګرځوی او خپله رضامندی دې ورنصیب کړی.(آمین یارب العلمین)

محمد اشرف عفی عنه
خادم العلوم بالجامعه مظاهر العلوم کوټ ادو
۲۲ ربیع الثانی ۱۴۲۳ھ، ۵_۷_۲۰۰۲میلادی

تقـــــريظ

د استاذالقراء حضرت مولانا قاری **محمد ادریس** صاحب هوشیار پوری دامت برکاتهم العالیه مدیرجامعه دارالعلوم رحیمیه ملتان

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

دا کتاب د عم (۳۰) سیپارې تفسیردې.چه دا د عزتمند محترم حضرت مولانا عبدالرحمن جامی صاحب زیدت معالیکم هغه علمی افادات دی کوم چه دوی د درس په دوران کښې ارشاد فرمائیلی دی.اوس الحمدلله د مرتب کیدو په شکل کښې کتابی شکل کښې رانلوسره به نورهم د زیات افادیت ذریعه جوړه شی.

د طلباء کرامو دپاره دا داسې جامع څیزدې چه دوی به ددې د مطالعې او استحضارنه پس د اوږدو او ږورو تقریرونو او مباحثو ضرورت نه محسوسوی.د اختصار اوجامعیت دواړو څیزونو لحاظ ساتلې شوې دې.دکتاب په ترتیب کښې خاصکر د طالبعلمانه ذوق سلیم خیال هم ساتلې شوې دې.چه په دې کښې طلباء کرامو ته په یادولو کښې آسانئ سره سره د مدرس محترم د تدریس ذوق هم ښکاره کیږی.دوی محترم په علمی دنیا کښې یو تجربه کار استاذ او د طلباء کرامو د معتمد طرز تفهیم والا مدرس په حوالې سره مشهور دې.په دې وجه د طلباء کرامو د تقاضې پیش نظر مؤلف دې لره په موجوده شکل ورکولو کښې بنیادی کردار اداکړې دې.چه دا یو قابل تحسین کوشش دې.الله تعالی دې قبول کړی.

آسانئ او مطالب اومفهوم پورې د رسیدلو په لحاظ : عم

سیپارې داتفسیر د عامو خلقو دپاره هم مفید دې.په آسانه ژبه او عام فهم انداز کښې آیت سره متعلق ئې بحث کړې دې.چه دا د ,,قال الله تعالی،، په پوهیدلو کښې راهنمائی کوی.چه ددې دپاره د ,,قال النبی ﷺ،، نه باحواله مدد اخستلې شوې دې.

په حل الترکیب وغیره سره د درس گاه دخالص علمی ماحول رنړا هم عامو خلقوته رامخې ته کیږی چه دا دې خبرې طرف ته هم اشاره کوی چه صرف اردو باندې پوهیدلوسره د قرآن کریم مقصد ته رسیدل محض ,, یو بې دلیله دعوی،،ده.

الحمد لله صاحب د افاداتو په موجده وخت کښې په دارالعلوم رحیمیه ملتان کښې د شیخ بخاری په حیثیت سره خپل علمی فیوض اوبرکاتو نه طلباء کرام سیراب کوی.او ددوی د علمی تندې لرې کولو اسباب تیاره وی.,,اللهم زد فزد،،

دا عاجز اگرچه د شعبه کتب مدرس نه دې البته طالبعلمانه ذوق د خپلو استاذانوپه وجه اوس هم رانصیب دې.په دې وجه د عم سیپارې تفسیر مطالعه کولوسره چه کوم تاثر قائم شو.هغه مې دحضرت جامی صاحب دامت برکاتهم د ارشاد موافق اولیکلو.چه هغه ښکاره خبره ده چه ددوی په علمی مقام کښې د اعتماد بالکل باعث نه دې البه زما عاجز دپاره ضرور د عزت باعث دې.او الله دې اوکړی چه مونږ دپاره د نجات باعث هم جوړشی.آمین

والسلام

محمد ادریس

خادم دارالعلوم رحیمیه ملتان

تقـــــــریظ

د مناظراسلام حضرت مولانا **محمد انورصاحب** اکاړوی مدظله
استاذ شعبة الدعوة والتحقیق جامعه خیرالمدارس ملتان

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم.......امابعد!

د عم سیپارې ترجمه د ثانویه عامه د بنین اوبناتو د نصاب اهم جزو دې.اوپه قرآن پاک پوهیدل ددې درجاتو د اولین تعلق ذریعه اود قرآن د فهم د ذوق بنیاد دې.اود بنیاد مضبوطی او کمزوری،د تعمیرپه مضبوطئ اوکمزورئ کښې اهم اثر لري.ځکه چه دا (حقیقت) حقیقة واقعیه دې چه..

خشت اول چون نهد معمار کج :: تا ثریا میرود دیوار کج

د فهم قرآن د بنیاد مضبوطی د وخت اهم ضرورت وو.

شیخ الحدیث حضرت مولانا عبدالرحمن جامی صاحب زید علمه ددې وخت دهم ضرورت پوره کولو دپاره د عم سیپارې تفسیر لیکلې دې.ان شاء الله په دې سره به طلباء او طالباتوکښې د فهم قرآن ذوق پیداشی.بلکه مدرسینو دپاره په هم دا تفسیر معین او مددګار ثابت شی.د الله تعالی نه دعا ده چه د لامذهبو د فهم قرآن کورسونو (چه دا په اصل کښې تفسیربالرای بلکه تحریف قرآن کورسونه دی) نه مسلمان محفوظ اوساتی او ددې په شان دَمسلک اهل سنت تفاسیروسره د رابطې قائمولو توفیق ورنصیب کړی.اوپه طالبانو، استاذانو، او عوامو په هره شعبه کښې دې ته قبولیت ورکړی او مؤلف مدظله دپاره دې د آخرت ذخیره جوړه کړی.

این دعا از من واز جمله جهان آمین باد

کتبه: محمد انور اکاړوی
جامعه خیرالمدارس ملتان

تقــــــریظ

د مرجع الطلبه حضرت مولانا **ارشاد احمد صاحب** مدظله
استاذ الحدیث دارالعلوم کبیر والا

بسم الله الرحمن الرحیم

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم......اما بعد!

عـزت منـد رور شهنـشاه تـدریس جنـاب حـضرت مولانـا عبدالرحمن جامی صاحب مدظله په جامعه دارالعلوم کبیروالا کښې تقریباً شپاړس کاله تدریس خدمات ترسره کړل.د ذهانت، لیاقت، شرافت، استعداد او ملکۀ تفهیم په وجه سره علمی حلقه کښې خصوصاً په طالبانو او طالباتو کښې چه موصوف ته کوم مقبولیت حاصل شو، دهغې اندازه ددې نه لګیدلې شی چه په څوانۍ کښې دا وخت د شیخ الحدیث په منصب باندې اولګیدو اوپه دارالعلوم رحیمیه کښې طلباء کرامو لره علمی فیض سره سیراب کوی.

موصوف په دارالعلوم لبنات عائشه کښې طالباتو ته څوکاله د عم سیپارې تعلیم ورکړو،د مختلف تفاسیرونه استفاده کولوسره ډیر په ژور اندازکښې شهنشاه تدریس د شهنشاه حقیقی احکم الحاکمین د شاهی کلام یوجزو عم سیپارې لفظی ترجمه، شان نزول، مختصرتفسیر، حل المفردات، حل التراکیب باندې مشتمل دا مجموعه تیاره کړله،چه دا دمعلمین، معلمات، طالبین او طالباتو دپاره شاهی تحفه ده.

د زړه د اخلاص نه دعا ده چه الله تعالی په خپل فضل سره

دخپل شان مطابق دې مجموعې ته قبولیت ورنصیب کړی،او په معلمین، معلمات، طالبین او طالباتو کښې ددې نه د استفادې کولو رښتونې طلب پیداکړی.اود مؤلف موصوف دپاره د فلاح دارین ذریعه جوړه کړی.آمین

ارشاد احمد عفی عنه

مقیم دارالعلوم عیدگاه کبیروالاخانیوال ۲۰ ربیع الاول ۱۴۲۳ھ

تقـــــــریظ

د صاحب الاوصاف الحمیده حضرت مولانا مفتی **محمد اویس** صاحب زید مجده مدیرجامعه مکیه ایمن آباد گوجرانواله

بسم الله الرحمن الرحیم

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم.....اما بعد!

ما د عم سیپارې تفسیر مصنفه عزتمند رورحضرت مولانا عبدالرحمن صاحب جامی شیخ الحدیث دارالعلوم رحیمیه ملتان د مختلفو ځایونونه اوکتلو، زړۀ مې ډیر خوشحاله شو.د مبتدی طالبانو او طالباتو د استعداد مضبوطولو دپاره د داسې تفسیر سخت ضرورت وو.مؤلف موصوف په ډیر محنت سره مفردات، صیغه جات،او ترکیب حل کولوسره ابتدائی طلباء او طالباتو دپاره اسانی پیداکړې ده.د زړۀ نه دعا ده چه الله جل جلاله دا تفسیر د طالبانو او طالباتو دپاره نافع جوړکړی او د حضرت جامی صاحب دپاره دې د آخرت ذخیره جوړه کړی.آمین

ابو ادریس عفی عنه

خادم جامعه مکیه گوجرانوله

پیش لفظ

ما عاجز گناهگار بنده عبدالرحمن جامی ته په خپل مادر علمی دارالعلوم عیدگاه کبیروالا کښې شپاړس کاله د تدریس موقع ملاو شوه،چه دا بې شکه زما دپاره د تدریسی ژوند یادگار لمحات وو.د دارالعلوم علمی اومحنتی ماحول ما عاجز لره هم په محنت کولو مجبوره کړو.ماپه دارالعلوم کښې د تسهیل المبتدی، گلستان، تیسیرالمنطق، ایساغوجی نه دخپل تدریس آغاز اوکړو.او د دارالعلوم د مدیر حضرت مولانا محمد انورصاحب مدظله په پوره تسلئ راکولو،اود حضرت شیخ طریقت مفتی عبدالقادرصاحب دام ظلهم اود حضرت الشیخ مولانا غلام یسین صاحب تونسوی زید مجدهم په دعاگانواو راهنمایئ او د محترم رورحضرت مولانا ارشاد احمد صاحب زیدمجدهم په مفید مشورو سره زهٔ د شمشتئ په رفتار د لویو کتابونو تدریس طرف ته وړاندې کیدم.بیا دالله په فضل وکرم سره د اکابرینو استاذانو د اعتماد په وجه ماته په خپله مادرعلمی کښې ابوداؤد شریف، هدایه ثالث، توضیح تلویح، شرح جامی سبقونه اتهٔ اتهٔ، لس لس خله د لوستلو توفیق ملاؤ شو.فله الحمد حمداً کثیراً

هم په دې دواران دارالعلوم کښې د شعبه بنات اجرا اوکړې شوه حضرت مهتمم صاحب مدظله د بناتو صرف اود عم سیپارې تفیسر ماته اوسپارلو.او ترآخره پورې ماسره وو.د عم سیپارې د تدریس په دوران کښې به د مختلفو تفسیرونو مطالعه کوله او دهغې خلاصه به مې لیکله.د لوستلو طریقه به مې دا وه چه د هر آیت

نه مخکښې به مې مفردات حل کول،بیا به مې ترکیب کولو بیا به مې لفظی ترجمه کوله او په څلورم نمبرکښې به مې تفسیری نکات بیانول.اوهم په دې انداز کښې مې د پوره عم سیپارې یوه کاپی تیاره کړه چه هغې لره علم دوست ملګرو خوښه کړله.

اتفاقی خبره داده چه د دارالعلوم په درجه بنین کښې یو لائق او تجربه کار استاذ محترم مولانا مفتی محمد ناصرصاحب زید مجده درجه عامه ته د عم سیپارې تفسیر ډیر محنت اوکوشش سره لوستلو.هغوی سره به هم وخت په وخت مذاکره اومشاورت کیدلو، ما هغوی ته درخواست اوکړوچه په دې مسوده باندې نظرثانی اوکړی او دا مرتب کړی چه دا شائع کړې شی.الله تعالی دې هغوی ته جزائې خیر ورکړی هغوی زما درخواست قبول کړو.او ډیر ژور نظر اومحنت سره ئې دا مرتب کړو.او ورسره ئې حواله جات هم نقل کړل.چه دې سره نوره هم تسلی اوشوه.

زه عاجز ښکاره اعتراف کوم چه په دې تفسیرکښې کوم مواد راجمع کړې شوی دی دا دمختلفو تفسیرونونه نقل کړې شوی دی.تردې چه کوشش مې کړې دې چه الفاظ مې هم دهغه حضرات اکابرینو رانقل کړی دی.ما صرف دومره محنت کړې دې چه د اکابرین مفسرینو خورې ملغلرې مې په یو تارکښې پیللی دی.

کما قال الشارح جامی رحمة الله علیه

نظمتها فی سلک التقریر وسمط التحریر

اظهـــار تـــــشکر

زهٔ عــاجز دخپلــو مــشفقو اسـتاذانو او اکـابرینو ډیرزیـات احسان مند یم چه هغوی سره د مشغولتیا او بیماریانو خپـل قیمتی وختونه ویستـل خپله رائې ئې راکړه په مـا بانـدې ئې عظیم احـسان اوکړو.فجزاهم الله احسن الجزاء

خـصوصاً دخپـل ډیـر مـشفق او مربـی پلارمحتـرم مـدظلهم احسان منديم چه پلارمحترم قدم پـه قـدم زمـا راهنمـائی اوکړلـه او دا تفسیرئې حرف بـه حـرف اوکتلـو اود خپلـو قيمتـی مـشورو او اصـلاح طلب امورو طرف ته ئې متوجه کړم.په آخرکښې د محتـرم عـزت منـد حضرت مفتـی محمـد ناصرصـاحب شـکريه اداکـوم چـه هغـوی ددې تفسيريه تسويد او ترتيب کښې ډيـر محنت او جدوجهـد اوکـړو، او د فاضـل نوجوان مولانـا محمدمحـسن صـاحب هـم احـسـان منـد يـم چـه هغوی هم د تفسير تسويد او تبييض او نظرثانی او کمپوزنـګ کـښې هرقسمه تعاون اوکړو.ددې نه عـلاوه د محتـرم محمـد اليـاس صـاحب او محمـد افـضل صـاحب هـم خـصوصی شـکريه اداکـوم چـه هغـوی د اغلاطو په تصحيح کښې مدد اوفرمائيلو.

دعا ده چه الله تعالی جل شانه دې ټولـو حضراتوته دهغـوی د شان مناسب جزائې خير ورکړی.او مـالره دې دهرقـسمه ريـاکارئ نـه بچ کولوسره دخپلې رضا دپاره د دين متين د زيـات نـه زيـات خدمت کولوتوفيق رانصيب کړی.آمين ثم آمين

عبدالرحمن جامی عفاالله عنه

مبادیـــــــــات

(۱) **التعریف علم تفسیر:** لغوی معنی الابانة والاظهار(ښکاره کول) او اصطلاحی معنی علامه سیوطی په الاتقان کښ بیان کړې ده چه "هو علم یبحث فیه عن احوال القران من حیث انه یدل علـــی مـــراد الله تعالی بحسب الطاقة البشریة و بحسب ما یقتضیه القواعد العربیة.

ترجمه: علم تفسیر هغه دې چه په هغې کښ د قران پاک د حالاتو نه بحث اوکړې شی په دې حیثیت چه هغه د الله پاک په مراد باندې دلالت کوی په اعتبار د انسانی طاقت او په اعتبار د عربی قواعدو.

(۲) **تعریف د سورة:** لغوی معنی اوچت والې او اصطلاحی معنی "هی طائفة من القران ذی فاتحة و ذی خاتمة یعنی سورة د قرآن یو داسې حصې ته وائی چه اول او آخر لری.(روح:۱/۳٤)

(۳) **تعریف د رکوع:** د رکوع معنی ده ښکته کیدل او د دې وجې چه د دومره آیتونو لوستلو نه پس انسان رکوع ته ځی څکه دې ته رکوع وئیلې شی.(احسن الفتاوی)

(٤) **د آیت تعریف:** آیت په معنی د نخښې او د دې د وجې نه چه آیت هم یو نخښه وی په دې خبره چه د هغې مابعد د ماقبل نه جدا دې په دې وجه ورته آیت وئیلې شی د دې جمع آیات او ای دې.

(٥) **مکی مدنی:** د سورة دوه قسمونه دی.مکی او مدنی.مکی هغه دې کوم چه په مکه او د مکې په علاقو کښ نازل شوې وی مدنی هغه دې کوم چه په مدینه منوره او د هغې په نزدو علاقو کښ نازل شوې وی.(۲) مکی هغه دې کوم چه د هجرت نه مخکښ نازل شوې وی او

مدني هغه دي کوم چه د هجرت نه پس نازل شوي وي.

(٦) **فائده:** د هر آیت متعلق به څلور څیزونه ذکر کولي شي:

(۱)حل المفردات (۲)حل الترکیب (۳)ترجمه (۴) مختصر تفسیر

سورة النبـا مکیـة

آیاتها: ٤٠	بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ	رکوعتها: ٢

﴿ عَمَّ يَتَسَاءَلُونَ ۝١ عَنِ النَّبَإِ الْعَظِيمِ ۝٢ الَّذِي هُمْ فِيهِ مُخْتَلِفُونَ ۝٣ كَلَّا سَيَعْلَمُونَ ۝٤ ثُمَّ كَلَّا سَيَعْلَمُونَ ۝٥

ترجمه: خاص په مدد د نوم د الله چه عام مهربانه او همیشه مهربانه دي شروع کوم ځه.

د څه څیز په باره کښې تپوس کوی دا خلق.دا د مکې کفار د قیامت په باره کښې تپوس کوی هغه په کوم کښې چه دوی اختلاف کوی هرګز داسې نه ده زر ده چه دا کافران به پوهه شی بیا هر ګز داسې نه ده زر ده چه دا کافران به پوهه شی.

اسم السورة:(۱) د دې سورة نوم مشهور سورة النباء دې.(۲)یو نوم ئې سورة التسائل هم دې.(۳) او یو نوم ئې عم یتساءلون هم دې.(۴) او یو بل نوم ئې المعصرات هم دې.(روح المعانی: ۲/۳۰)

حل المفردات: باحرف جار ددې تقریبا اولس(۱۷) معانی دی دلته درې کیدې شی(۱) مصاحبت کوم چه دا بیانوی چه زما ماقبل د مابعد سره دې لکه "اشتریت الفرس بسرجه" یعنی ما اس د زین سره

واخستلو(۲) استعانت:کوم چه دا بیانوی چه زما د مدخول نه مدد غوښتلي کيږي. "کتبت بالقلم " يعنی ما د قلم په مدد ليکل اوکړل.
(۳)برکت: د چا د مدخول نه چه امداد حاصل کړې شي.

اسم: په اصل کښې سمــو وو واؤ د آخر نه حذف کولو سره د هغې په عوض کښې په شروع کښې همزه د وصل راوړې شوه نو اسم شو د دې معنی نخښه او اوچت والي دې.

لفظ د الله په اصل کښې اله وه همزه حذف کولو نه پس د هغې په عوض الف کښې لام راوړې شو نو ال له شوه بيا لام په لام کښې مدغم کړې شو نو الله شو.لفظ د الله د الله پاک د ذات علم دې. د علم دوه قسمونه دی: (۱)علم ذاتی (۲) علم صفاتی......علم ذاتی هغه دې کوم چه د يو څيز په ذات باندې دلالت کوی.علم صفاتی هغه دې کوم چه د هغه صفت ښکاره کړی لکه الرحمن الغفار د الرحمن الــرحيم د دواړو ماده رحم دې دواړه د مبالغې صيغې دی.

په رحمن او رحيم کښې فرق: په دې کښې څو اقوال دی: (۱) بعض مفسرين حضرات فرمائی چه دا دواړه د مبالغې صيغې دی هيڅ فرق ئې نشته مثلا بې حده مهربانه او ډير رحم کونکې.(۲) بعض مفسرين فرمائی چه په نسبت د رحيم په رحمان کښې مبالغه زياته ده څکه چه د رحمان معنی داسې رحمت کونکې ذات چه د هغه په شان رحمت بل ذات نه شی کولې دا صرف د الله پاک سره خاص دې او د رحيم معنی مطلق رحم کونکې ذات اګر که د هغه په شان رحمت بل ذات کولې شی يا نه شی کولې.

(۳) بعض مفسرين حضرات فرمائی چه رحمن عام دې که په دنيا

کښې وی او که په آخرت کښې او رحیم د آخرت سره خاص دې عبارت به داسې جوړیږی. رحمان الدنیا والاخرة و رحیم فی الاخرة.

حل المفردات: عم په اصل کښې عن ما وو عن حرف جار ما استفهامیه ده بیا نون ساکن نه پس میم واقع شو نون مو میم کړو او میم مو په میم کښې مدغم کړو نو عما شو بیا قاعده ده چه په ما استفهامیه باندې چه کله حرف جر داخل شی نو د هغې الف غورځیږی لکه لِمَ تؤذوننی ....بم یرجع المرسلون،مم خلق ..د دې قاعدې په وجه دلته هم الف اوغورځولې شو نو عم شو.

سوال: د استفهام الف ولې غورځولې شی؟

جواب: د کثرت استعمال د وجې نه.(۲) د ما موصوله او ما استفهامیه په مینځ کښې د فرق کولو د پاره د یتساءلون صیغه جمع مذکر غائبین فعل مضارع معلوم د باب تفاعل نه په معنی د یو بل نه سوال کول د باب تفاعل او مفاعله دا خاصه ده مشارکت(د دوه سړو یو ځائې کار کول)عن حرف جار په معنی(۱) نه (۲) باره کښې،النباء په معنی د خبر د دې جمع انباء راځی،فائده: ډیر لوئې خبر ته نباء وائی او خبر عام دې که وړوکې وی که غټ وی.العظیم صفت مشبه دې د باب کرم نه په معنی د لوئې کیدلو د دې جمع عظام او عظماء راځی مختلفون صیغه دجمع مذکراسم فاعل ده ازباب افتعال په معنی داختلاف کولو کلا ته حرف ردع وائی په معنی د رټلو سپیسلو زجر او توبیخ ورکول.

فائده: د کلا تحقیق : کلا د دوه معنو د پاره استعمالیږی: (۱) د مخکښې کلام د تردید د پاره چه زما مخکښې کلام قابل د خبرو اترو

او قابل د توجه نه دي.(۲)په معنی د حقا راخی هغه وخت کښ د روستو راتلونکی مضمون د پوخ والی د پاره راخی معنی به ئې وی بیشکه.سیعلمون صیغه د جمع مذکر غائبین فعل مضارع معلوم په معنی د پیژندلو یقین کولو.

حل التركيب: با جار اسم مضاف لفظ د الله موصوف الرحمن صفت اول او الرحیم صفت ثانی موصوف د دواړو صفتونو په یو ځائې کیدلو باندې مضاف الیه د مضاف مضاف او مضاف الیه یو ځائې کیدلو سره مجرور د حرف جار با...جار د خپل مجرور سره یو ځائې کیدلو باندې متعلق د ابتدء فعل محذوف...ابتدء فعل سره د خپل فاعل او متعلق نه یو ځائې کیدلو سره جمله فعلیه انشائیه شوه....عن النباء .....عن حرف جار نباء موصوف العظیم صفت اول الذی اسم موصول هم ضمیر راجع دې په طرف د کفار مکه مبتداء فیه جار مجرو یو ځائې کیدلو سره متعلق شو د مختلفون مختلفون صیغه د اسم فاعل هم ضمیر په کښ مستتر راجع په طرف د مکې د کفارو هغه ئې فاعل صیغه د صفت د خپل فاعل سره یو ځائې کیدلو باندې شبه جمله خبر شو د هم مبتداء مبتداء د خپل خپل سره یو ځائې کیدلو باندې صله ده د الذی اسم موصول موصول د صلې په یو ځائې کیدلو باندې صفت ثانی دې د النباء موصوف موصوف سره د خپلو دواړو صفتونو مجرور شو د عن جاره جار مجرور یو ځائې کیدلو باندې متعلق شو د یتساءلون ذکر کړې شوی یا محذوف یتساءلون فعل د خپل فاعل او متعلق سره جمله فعلیه خبریه شوه کلا حرف ردع سین د پاره د استقبال قریب یعلمون فعل واو ضمیر بارز چه راجع د مکې کفارو ته هغه ئې فاعل عذاب القبر یا نفس

الحشر ئې مفعول به محذوف فعل د خپل فاعل او مفعول به سره جمله فعليه خبريه معطوف عليه ثم حرف عطف كلا سيعلمون په مثل د كلاسيعلمون معطوف سره د معطوف عليه نه جمله معطوفه شوه.

تفسیر: د بسم الله والاآيت ته مختصرا آيت د تسميه وئيلې شي كله به هم چه په رسول الله ﷺ باندې څه سورة نازليدلو نو د ټولو نه اول به بسم الله نازليدله چه په هغې سره به هغوی ته معلومه شوه چه رومبې سورة ختم شوې دې او اوس نوې سورة نازلیږی.

فضائل تسمیه: (۱) په رسول الله ﷺ باندې چه كله دا آيت نازل شو نو وې فرمائيل چه زما نه مخكښې سوا د سليمان عليه السلام نه دا آيت په چا هم نه دې نازل شوې.(۲)عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی چه څوک د دوزخ د نورلسو ملائكو نه ځان بچ كول غواړی هغه دې بسم الله لولی.ځكه د دې هم نورلس حروف دی هر حرف به د يو دربانچی نه بچ كول كوی.هر كار لره د بسم الله نه د شروع كولو هدايت په دې وجه اوكړی شو چه كفارو به كله يو كار كولو نه هغه به ئې د بتانو د نوم ذكر كولو سره كولو لكه بسم الات والعزی به ئې وئيل د دې رسم د ختمولو د پاره د الله پاک په نوم د شروع كولو حكم وركړې شو.

حدیث: رسول الله ﷺ فرمائی چه كله د كور دروازه بندوئ نو بسم الله ؟ وايئ چه كله ډيوه مړه كوئ نو بسم الله وايئ چه په لوښی سر ګدئ نو بسم وايئ هم دغه شان د ډوډئ د خوراک په وخت سورلئ ته د ختلو په وخت د بسم الله وئيلو حكم اوكړې شو

حکمت: د بسم الله د وئيلو يو حكمت دا هم بيان كړې شوې دې چه په دې كښې د انسان د پوره ژوند رخ د الله پاک طرف ته تاؤ كړې شوې

دي چه د هر کار کولو په وخت دا عقیده اوساتي چه هیڅ کار د الله پاک د ارادې او امداد نه بغیر نه شي کیدې.

مسئله: د قرآن مجید د تلاوت شروع کولو نه مخکښې تعوذ لوستل سنت دی.(معارف)

تفسیر: عم یتساءلون.........کلا سیعلمون...ربط(۱)لفظی ربط د دې سورة د مخکښې سورة سره يو شان دی مثلا هلته ﴿ الم نخلقکم من ماء مهین ﴾ دلته دی ﴿ خلقناکم ازواجا ﴾ هلته دی ﴿ الم نجعل الارض کفاتا ﴾ دلته دی ﴿ الم نجعل الارض مهادا ﴾ هلته دی ﴿ لیوم الفصل و ما ادراک ما یوم الفصل ﴾ دلته دی ﴿ ان یوم الفصل کان میقاتا ﴾
(۲) معنوی ربط.د دې سورة د مضمون په اعتبار د ما قبل سره ربط دې هلته د قیامت او میعاد د امکان او د قیامت منکرینو ته په قیامت کښې د جزاء او سزا بیان وو دلته هم د هغه مضمونونو تفصیلات ذکر کړې شوې دی.(روح المعانی...بیان القران)

شان نزول: کله چه د رسول اللهﷺ په سر باندې د نبوت تاج کیخودلې شو او هغوی اهل مکه ته د قیامت او د اعمالو د جزاء او سزا خبر ورکړو نو کفار او مشرکین په دې باندې سخت حیران شو او د رسول اللهﷺ او د صحابه کرامو رضی الله عنهم او خپل مینځ کښې به ئې د يو بل نه د قیامت او جزا او سزا په باره کښې تپوسونه کول او د مرګ نه پس دوباره ژوندی کیدل به ئې د عقل نه لرې ګڼړلو سره په هغې انکار او مسخرې کولې په دې باندې دا سورة نازل شو چه پکښې د قیامت د امکان او وقوع باندې په تفصیل سره کلام کړې شوې دې او د هغې نه بې ځایه انکار کولو او ټوقو لره په مختلفو طریقو سره د رد کولو

او په قیامت کښې راتلونکو واقعاتو لره په دلائلو سره ثابت کړي ده.

عم یتساءلون: مقصد دا دې چه اهل مکه د څنګه لوئې او خطرناک څیز په باره کښې د یو بل نه تپوس کوی.استفهام او سوال د یو پټې خبرې د پیژندګلو د پاره کولې شی د الله پاک د ذات نه خو هیڅ څیز پټ نه دې په دې وجه چرته هم چه الله پاک د یو څیز په باره کښې استفهام یا سوال کوی نو د هغې دا مقصد بالکل نه وی چه معاذالله چه د دې څیز الله پاک ته علم نه وو بلکه هلته مقصد د هغه څیز لوئې والې اهمیت او خطرناک کیدل بیانول وی دلته هم نباء عظیم سره مقصود د قیامت خطرناک کیدل بیانول مقصود دی.چه کله د مکې مکرمې کفارو د قیامت په باره کښې آیتونه واورول نو هغوی په خپلو مخصوص مجلسونو کښې ناسته کولو سره پټې پټې خبرې او رائې ښکاره کول شروع کړل د هغوی په نزد د قیامت راتلل او د مرګ نه پس بیا ژوندی کیدل او جزاء او سزا دا ټول څیزونه ناممکن وو په دې باره کښې د هغوی په خپل مینځ کښې ډیر خبرې کیدې چا به تصدیق کولو چا به انکار کولو چا به استهزاء کوله نو په اول آیت کښې د هغوی دې خیال بیانولو سره مخکښې د قیامت د واقع کیدلو دعوی په عجیب او حاکمانه انداز کښې بیان اوفرمائیله او د الله پاک د مشاهداتو په ذریعه د هغوی اشکال لرې کړې شو په دې وجه ئې اوفرمائیل ﴿عم یتساءلون عن النباء العظیم الذی هم فیه مختلفون﴾ یعنی دا خلق په خپل مینځ کښې د کوم خطرناک څیز په باره کښې د یو بل نه تپوسونه کوی اودهغې په باره کښې خپل مینځ کښې اختلاف کوی.

تپوس کونکي څوک وو؟ د مفسرينو اقوال:

سوال: دا تپوس کونکي څوک وو او د چا نه به ئې سوال کولو؟

جواب: د سائلينو په باره کښې د مفسرينو درې اقوال دي:

(۱) د جمهورو په نزد ترې مراد کفار دي چه هغوی به د يو بل نه د تعجب او انکار او د توقو د پاره تپوسونه کول د دې تفصيل داسې دې عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمائي چه کله رسول الله ﷺ ته پيغمبري ورکړې شوه نو رسول الله ﷺ به د مکې کفارو ته تبليغ کولو او فرمائيل به ئې دا ژوند عارضي دې يو ورځ مرۀ کيدل دي او قبر ته تلل دي بيا به دوباره تاسو ژوندي کيږئ بيا به تاسو په ميدان حشر کښې جمع کولې شئ او ستاسو د عملونو حساب کتاب به کيږي.نو د مکې کفارو به په خپلو مخصوص مجلسونو کښې په دې باندې تبصرې او پتې پتې خبرې کولې او د يو بل سره به ئې بحث کولو او خپل مينځ کښې به ئې اختلاف کولو بعضو به وئيل چه داسې کيدل ممکن نه دي بعض د رسول الله ﷺ د قول منکر شو بعض کفار به په شک کښې پريوتل چه کيديشي داسې اوشي مونږ دوباره ژوندي کړې شو په دې باندې دا آيت نازل شو په دې کښې الله پاک د کفارو د حال او د هغوی د انکار بيانولو نه پس د هغوی ترديد کوی چه ستاسو د قيامت او د بعث انکار بالکل غلط دې ځکه چه بعث بعد الموت او د قيامت قيام يو يقيني امر دې نزدې به تاسو ته د دې خبر ريشتينوالې معلوم شي په داسې حال کښې چه دا تول مناظر او د قيامت خطرې به په خپلو سترګو وينئ د دې قول دليل روستو ضميرونه دي مثلا هم ......د مختلفون هم ضمير د سيعلمون هم

ضمیر د دې مرجع کفار دی(معارف،حقانی)

(۲) (بل قول دا دی) چه د مکې کفارو به د مسلمانانو نه سوال کولو چه ستاسو نبی ﷺ څه وائی؟ او انکار به ئې کولو مسلمانانو به جواب ورکړو او د دې خبر تصدیق به ئې کولو د دې سوال او جواب ذکر کولو نه پس الله پاک د کفار مکه تردید فرمائی.(۳) دریم قول دا دی چه د سائلینو نه مراد مسلمانان او کفار دواړه دی دواړو به د رسول الله ﷺ نه تپوس کولو ړومبی قول راجح دی.عن النباء العظیم یعنی د مکې کفار د یو ډیر لوئې خبر متعلق بحث او مباحثه کوی چه د هغې عظمت خپله په زړونو باندې اثر غورځوی په دې شرط چه زړونه د تیرې نه ډک نه وی د دې د عظمت دا تقاضا وه چه هغوی دا بغیر د خبرو کولو نه منلې وې.خو دا خلق په هغې کښې اختلاف کوی.

نباء عظیم نه څه مراد دی؟ :

په دې کښې درې اقوال دی:

(۱) قیامت مراد دې د دې قول یو څو دلائل دی(۱) سیعلمون نه مراد دهمکی ورکول مقصود دی او دا دهدید او زور نه ورکول په قیامت کښې زیات متحقق دی.(۲) الم نجعل الارض مهادا...کښې ئې د خپل کامل قدرت دلائل بیان فرمائیلی دی.چه په هغې سره ئې په قیامت کښې خپل قادر کیدل ثابتول مقصود دی.(۳) د لفظ عظیم په بل ځائې کښې په قیامت باندې اطلاق شوې دې ﴿ الا یظن ان اولئک انهم مبعوثون لیوم العظیم...قل هو نبو عظیم انتم عنه معرضون ﴾

(۲) د دې نه مراد قرآن دې په دې کښې د هغوی اختلاف وو چه جادو دې یا شعر دې یا د مخکښې خلقو قصې دی الله پاک پرې رد

فرمائی چه په قرآن پاک کښې د هغوی اختلاف صحیح دې یا نه دې زر ده چه د هغې صداقت به اوپیژنی.

(۳) نبوت ترې مراد دې ځکه چه دا هم یو لوئې څیز دې چا چه په دنیا کښې یو لوئې انقلاب راوستلو پخوانی رسمونه او رواجونه ئې ختم کړل زاړه حکومتونه ئې ختم کړل او نوې حکومتونه ئې قائم کړل د مکې کفارو به د رسول الله ﷺ د نبوت انکار کولو او اختلاف به ئې کولو چا به وئیل جادوگر دې چا به وئیل شاعر دې چا به وئیل کاهن دې الله پاک د کفارو تردید او د رسول الله ﷺ د نبوت تصدیق فرمائی.(حقانی)

الذی هم فیه مختلفون......... اکثر اهل عرب د قیامت منکر وو دا به ئې په تعجب سره وئیل چه ﴿ اذا متنا و کنا ترابا ذلک رجع بعید ﴾ نصاری د معاد جسمانی منکر او د روحانی قائل وو بلکه اوس هم دی او د یهودیانو بعض فرقې د قیامت بالکل منکر وو او په کیفیت کښې سخت اختلاف وو پس بعض وائی چه د مرګ نه پس د انسان روح په پیریانو یا ملائکو کښې یو ځائې شی هم د دې نوم قیامت دې دوباره په دې عالم کښې د مخکښې وجود سره راتلل ګران دی او نه به دا زمکه او آسمان او عناصر فنا کیږی بلکه څنګه چه دا قدیم دی ابدی هم دی خو د دې نه مرکب شوې څیزونه حادث دی هغه به فنا کیږی او په مختلفون سره ئې اشاره اوکړه چه د دې لوئې خبر په باطل والی باندې د هغوی سره هیڅ قوی دلیل نشته.(حقانی)

کلا سیعلمون ثم کلا سیعلمون......... د کلا دوه معنی کیدلې شی(۱) که کلا په معنی د انکار وی نو مقصد به دا وی چه د

کافرانو د قیامت متعلق بحث او مباحثه کول صحیح نه دی ځکه دا په بحث او مباحثې سره په پوهه کښې راتلونکې څیز نه دې او د کافرانو انکار هم صحیح نه دې ځکه چه زر په هغوی باندې د قیامت عالم کله ښکاره شی او د قیامت د حالاتو او د هغې خطرې د هغوی مخې ته راشی هغه وخت به هغوی ته د دې خبر حقیقت او صداقت په پوهه کښې راشی.(۲) که معنی ئې حقا وی نو مطلب به دا وی چه د قیامت واقع کیدل حق دی او یقینی خبره ده زر ده چه کافران به د دې په واقع کیدلو باندې پوهه شی.

کلا سیعلمون کښې تکرار ولې؟

سوال: کلا سیعلمون ثم کلا سیعلمون ئې مکرر ولې ذکر کړو؟

جواب: (۱) تکرارصرف د تاکید دپاره دې او د مضمون د مضبوطولو د پاره دې.(۲) د رومبی کلا سیعلمون مطلب دا دې چه کافران کله د قبرونو نه پاسی هغه وخت به خپل انجام او د دې خبر صداقت اوبیژنی او د دویم کلا سیعلمون نه مراد دا دې چه کله الله پاک ته اودریږی او الله پاک دوی ته جزاء ورکړی هغه وخت به خپل انجام اوبیژنی.(۳) د اول نه مراد چه کله په هغوی باندې مرګ راشی هغه وخت به دوی په خپل انجام باندې پوهه شی.(۴) د اول نه مراد کافر دی چه هغوی ته به د خپل تکذیب انجام معلوم شی چه هغوی ته به سزا ملاویږی او د دویم نه مراد مومنان دی چه هغوی به د خپل تصدیق او ایمان انجام معلوم کړی چه هغوی ته به جنت ملاویږی.(خازن وغیره)

أَلَمْ نَجْعَلِ ٱلْأَرْضَ مِهَـٰدًا ﴿٦﴾ وَٱلْجِبَالَ أَوْتَادًا ﴿٧﴾ وَخَلَقْنَـٰكُمْ
أَزْوَٰجًا ﴿٨﴾ وَجَعَلْنَا نَوْمَكُمْ سُبَاتًا ﴿٩﴾ وَجَعَلْنَا ٱلَّيْلَ لِبَاسًا ﴿١٠﴾ وَجَعَلْنَا
ٱلنَّهَارَ مَعَاشًا ﴿١١﴾ وَبَنَيْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعًا شِدَادًا ﴿١٢﴾ وَجَعَلْنَا سِرَاجًا وَهَّاجًا
﴿١٣﴾ وَأَنزَلْنَا مِنَ ٱلْمُعْصِرَٰتِ مَآءً ثَجَّاجًا ﴿١٤﴾ لِّنُخْرِجَ بِهِۦ حَبًّا وَنَبَاتًا ﴿١٥﴾
وَجَنَّـٰتٍ أَلْفَافًا ﴿١٦﴾

ترجمه: آیا مونږ زمکه نه ده خوره کړې.او غرونه میخونه.او تاسو مو جوړه جوړه پیدا کړئ.او خوب مو ستاسو د پاره آرام جوړ کړو.او شپه مو ستاسو د پاره پرده جوړه کړه.او ورځ مو ستاسو د پاره د ګټې ذریعه جوړه کړه.اوستاسودپاسه مو اووۂ اسمانونه مضبوط اسمانونه مضبوط جوړ کړل.او پیدا مو کړه ډیوه ځلیدونکې(نمر).او نازلې مو کړې په تاسو باندې د وریځو نه اوبه وریدونکې.چه راوټوکوو مونږ په هغې باندې دانه او ګیا او باغونه ګور ګور.

حل المفردات: همزه د پاره د استفهام تقریری لم نجعل صیغه د جمع متکلم بحث نفی جحد بلم از (ف) معنی ئې ده جوړول.

فائده: د لفظ جعل تحقیق:

جعل په درې معنو استعمالیږی.(۱) په معنی د صیر په دې وخت کښې دا متعدی وی مفعولینو ته.(۲) په معنی د خلق په دې وخت دا یو مفعول ته متعدی وی.(۳) په معنی د صار په دې وخت کښې به دا لازم وی دلته به معنی د صیر دې الارض په معنی د زمکې د دې جمع ارضون او اراضی ده،مهاد په معنی د خوره کړې شوې د دې جمع

مُهد،اَمهِدَة ده عند البعض مهدا په خپله جمع ده د دې مفرد مهدا دې د باب (ف) نه خورول....والجبال ...جبال جمع ده د جبل په معنی د غر په ماده د جبل کښې د قوت او سختوالی معنی ده په دې وجه طبیعت ته هم جبلت وئیلې شی ځکه هغه مضبوط وی بدلیدلې نه شی اوتاد جمع ده د وتد په معنی د میخونو د باب (ض) نه (۱) میخ لګول (۲) موګې ښخول...وخلقنکم...خلقنا صیغه د جمع متکلم د باب (ن) (۱) په معنی د پیدا کولو (۲) د عدم نه وجود ته راوستل کم ضمیر منصوب متصل ازواجا جمع ده د زوج په معنی د جوړې او جعلنا صیغه د جمع متکلم په معنی ده صیرنا .نومکم خوب د باب (س،ن) په معنی د اودهٔ کیدلو سباتا په معنی ده آرام د باب (ن،ض) په معنی د پرې کولو ختمولو خوب ته په دې وجه سبات وئیلې شی چه دا ستړې والې او ستومانی ختمه کړی وجعلنا په معنی د صیرنا اللیل مفرد دې د دې جمع لیالی او لیائل راځی لباسا د پردې څیز د دې جمع البسة د باب(س) نه راځی په معنی د کپړې اغوستلو د باب (ض) په معنی د ګډوډ کولو و جعلنا په معنی د صیرنا .النهار په معنی د ورځ د دې جمع اُنهُر،نُهر راځی معاشا یا مصدر میمی دې یا ظرف دې یعنی هغه څیز چه په هغې سره ژوند تیرولې شی دلته به معنی وی د روزئ ګټولو وخت،د باب ضرب نه په معنی د ژوندی اوسیدلو ،بنینا صیغه د جمع متلکم د باب(ض) نه په معنی د تعمیر کولو بناء مستری یعنی معمار(ګلکار) ته وئیلې شی.فوقکم لفظ د فوق په اسماء ظروف کښې دې په معنی د اوچت د باب (ن) نه په معنی د اوچتیدلو سبعا مراد تړې اووهٔ آسمانونه دی شداد جمع ده د

شـدید معنی ئـې ده مـضبوط محکـم د بـاب(ن،ض) نـه مـضبوط کول،ټرل......وجعلنا په معنی د خلقنا یا پـه معنی د صیرنا سراجا په معنی د ډیوې د دې جمع سُرُج راځی سراج اللیـل د شپې اور اورکې وهاجا صیغه د مبالغې په معنی ده پړقیدونکی ځلیدونکی د باب (ض) نه په معنی د اور بلیدل د نمر روښانه کیدل.وانزلنا پـه معنی د صیغه جمع متکلم د باب(افعال) معنی کوزول من المعصرات صیغه د جمـع مونث سـالم اسم فاعـل د بـاب (افعـال) لغـوی معنـی ئـې ده نچـوړول بعـض حضرات فرمـائی چـه د المعـصرات نـه مـراد هغـه هواګـانې دی کـومې چـه وریـځـې ځـان سـره اوچتـی راوړی بعـض مفسرین فرمائی چه د المعصرات نه مراد وریځې دی کومې چه د اوبو نه ډکې وی خو لاوریدلې نه وی وریدلو ته نژدی وی ماء په معنی د اوبو د دې جمع میاه ده ثجاجا صیغه د مبالغې ده مجاهد رحمه الله ئې معنی کړې ده ښه وریدونکې او قتاده رحمه الله ئې معنی کړې ده مسلسل وریدونکې د بـاب (ن) په معنی ده بهیدل او وریدل لنخرج صیغه د جمع متکلم فعل مضارع د باب (افعال) په معنی د راویستل حبا په معنـی د غلې د دې جمع حبوب ده.نباتـا د زمکې نـه چـه کوم څیز راوټوکیږی،بـوټې ګیـا وغیـره دې تـه نبـات وئیلـې شـی د دې جمع نباتـات او انبتـة د بـاب(ن) شنه بوټی وغیره جَنات جمع ده د جنة په معنی د باغ د باب (ن) په معنی د پټیدلو په ماده د جن کښې پټ والې او د پټیدونکی معنی وی مثلا باغ ته جنت وئیلې شی ځکه د هغې نه لاندې زمکه پټه وی جن(پیری) ته هم جن ځکه وئیلې شی چه هغـه پټ وی د مجنون سړی پـه عقـل بانـدې پرده راشـی د هغـه عقـل پټ شی جنین هغه ماشوم ته وائی کوم چه د مور په خیټه کښ وی هغـه هم پټ

وی جنان زړه ته وائی ځکه چه هغه هم پټ وی الفافا په معنی د ګڼړ او ګور الفافا جمع ده د دې په مفرد کښې اختلاف دې علامه زمخشری فرمائی چه د دې واحد نه راځی د بعض په نزد ئې واحد لَف(په فتحې د لام سره) دې د بعض په نزد لُف (په ضمې د لام سره) او د بعضو په نزد لِف (په کسرې د لام سره) دې د بعضو په نزد لفیف دې د باب(ن) نه په معنی د راټولولو په ماد د لف کښې معنی د راټولولوموندلې شی په دې وجه ګور باغ ته الفاف ونیلې شی ځکه چه د دې ښاخونه یو بل پورې اینختلې وی هم د دې نه لفیف مشتق دې ځکه په هغې کښې صحیح حرف په دوه حرف علت کښې راټول وی هم د دې نه لفافه مشتق دې چه په هغې کښې خط راټولولې شی.

حل التركيب: الم نجعل الارض مهادا ۝ والجبال اوتادا ......همزه د پاره د استفهام تقریر لم نجعل فعل سره د فاعل نه الارض معطوف علیه مهدا معطوف علیه واؤ عاطفه الجبال معطوف د الارض اوتاد معطوف د مهادا الارض د خپل معطوف سره یو ځائې کیدلو باندې مفعول اول دې د لم نجعل مهدا دخپل معطوف یوځائې کیدلوباندې مفعول ثانی دې د پاره د لم نجعل لم نجعل د خپل فاعل سره او د دواړو مفعولینو سره جمله فعلیه انشائیه.....وخلقناکم ازواجا....

واؤ عاطفه خلقنا فعل با فاعل کم ضمیر ذوالحال ازواجا حال حال سره د ذوالحال نه مفعول به د خلقنا فعل خلقنا فعل سره د خپل فاعل او مفعول جمله فعلیه خبریه معطوفه شوه....وجعلنا نوکم سباتا....واؤ عاطفه جعلنا فعل نوم مضاف کم ضمیر مضاف الیه مضاف مضاف الیه یو ځائې کیدلو سره مفعول اول د جعلنا او سباتا

مفعول ثانی فعل سره د فاعل او دوارو مفعولینو جمله فعلیه خبریه معطوفه شوه......وجعلنا اللیل لباسا....واؤ عاطفه جعلنا فعل فاعل اللیل مفعول اول لباسا مفعول ثانی فعل سره د فاعل او سره د دوارو مفعولینو جمله فعلیه خبریه معطوفه شوه....وجعلنا النهار معاشا ....واؤ عاطفه جعلنا فعل فاعل النهار مفعول اول معاشا مفعول ثانی فعل سره د فاعل نه او سره د دوارو مفعولینو نه جمله فعلیه معطوفه شوه........وبنینا فوقکم سبعًا شدادًا........واؤ عاطفه بنینا فعل سره د فاعل فوقکم مضاف الیه یوځائې کیدلو سره مفعول فیه د بنینا سبعا موصوف شدادا صفت موصوف او صفت یو ځائې کیدلو سره مفعول به د بنینا فعل بنینا سره د فاعل او مفعول فیه او مفعول به جمله فعلیه خبریه معطوفه شوه.......وجعلنا سراجا وهاجا.....که جعلنا په معنی د خلقنا وی نو ترکیب به داسې وی جعلنا فعل با فاعل سراجا موصوف وهاجا صفت موصوف سره د صفت نه مفعول به جعلنا فعل سره د خپل فاعل نه او مفعول به سره یو ځائې کیدلو باندې جمله فعلیه خبریه شوه.که جعلنا په معنی د صیرنا وی نو ترکیب به دا وی جعلنا فعل با فاعل الشمس مفعول اول محذوف سراجا وهاجا موصوف صفت یو ځائې کیدلو سره مفعول ثانی د جعلنا فعل سره د خپل فاعل او دوارو مفعولینو نه جمله فعلیه خبریه معطوفه....وانزلنا من المعصرات ماء ثجاجا.......واؤ عاطفه انزلنا فعل سره د فاعل من حرف جر المعصرات مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو د انزلنا فعل ماء

ثجاجا موصوف صفت یو ځائې کیدلو سره مفعول بـه دې.....لنخرج به حبا و نباتا....

فائده: لام په دوه قسمه دې.(۱) لام جحد (۲) لام کَی....په دې کښې فرق دا دې چه لام جحد د کان منفی نه پس راځی او دلته لام کَی دې.... لنخرج لام کَی د هغې نه روستو ان مقدر نخرج فعل فاعل بـا حرف جار ضمیر راجع په طرف د ماء مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو په لنخرج فعل پورې حبا معطوف علیه واؤ عاطفه نباتا معطوف اول واؤ عاطفه جنت موصوف الفافا صفت موصوف سره د صفت معطوف معطوف علیه سره د ټولو معطوفاتو نه مفعول بـه د لنخرج فعل فعل سره د فاعل او مفعول به نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره په تقدیر د ان مصدریه مجرور د لام حرف جار جار سره د مجرور نه متعلق شو په انزلنا فعل پورې انزلنا فعل سره د فاعل او مفعول بـه او دواړو متعلقینو جمله فعلیه خبریه معطوفه شوه.

تفسیر:ربط...په تیرو آیتونو کښې د مکې مکرمې د کفارو د سوال جواب او د بعث بعد الموت او د قیامت نه د انکار بیان وو وجه د انکار دا وه چه کفارو دوباره ژوندی کیدل لرې او گران گنړل چه په هغې سره د الله پاک د قدرت انکار لازمیدو په روستو آیتونو کښې الله پاک د خپلو لویو قدرتونو ذکر کولو سره خپل قدرت کامله او د پیدائش عجیب او غریب مناظر بیان فرمائیلی دی چه د هغې نه ثابیتږی چه کوم ذات د داسې عظیم الشان قدرت مالک دې چا چه دومره لویه زمکه جوړه کړه په هغې باندې ئې لوئې لوئې غرونه جوړ کړل لوئې آسمان ئې بغیر د ستنو نه اودرلو هغه ذات د دې وړوکی

شان انسان په دوباره ژوندی کولو باندي قادر نه دي؟يقينا دي پس د کفارو انکار د بعث بعد الموت نه بې بنيـاده دي او الله پاک د خپلو انعاماتو تذکره کولو سره هم کفارو متوجه کوی چه د دي انعاماتو تقاضا دا ده چه تاسو د الله پاک د انعاماتو شکر ادا کړئ چه د هغه د توحيد اقرار اوکړئ پس د الله پاک ارشاد دي:﴿ الم نجعل الارض مهادا﴾ آيا مونږ زمکه د ستاسو د تلو ناستي او ملاستي د پاره د بستري په شان او د درئ په شان نه ده جوړه کړي.کوم ځائي چه کينئ کينئ کوم ځائي چه سملئ سملئ که زمکه د هوا په شان سپکه او د اوبو په شان نرمه او د اور په شان گرمه وه نو تاسو به په دي ځنگه گرځيدلي وئ دا د الله پاک يو لوئي نعمت دي چه په دي کښ کافر او مسلمانان دواړه شريک دی د دي نعمت تقاضا دا ده چه تاسو د هغه شکر ادا کړئ: هغه د توحيد اقرار اوکړئ او دا هم چه کوم ذات دومره لويه زمکه د استوگني ځائي جوړ کړو آيا هغه انسان دوباره نه شی ژوندي کولي؟هغه قادر مطلق ذات داسي کولي شی.﴿ والجبال اوتادا ﴾ چه کله الله پاک زمکه پيدا کړه نو هغه په تالو شوه او خوزيدله نو الله پاک په هغي باندي لوئي لوئي غرونه کيخودل نو هله ساکنه شوه گويا الله پاک په زمکه باندي د غرونو ميخونه ټک وهل چه په هغي سره د دي حرکت کول ساکن شو دا هم د الله پاک نعمت دي او کوم ذات چه دومره لوئي لوئي غرونه پيدا کولي شی هغه انسان لره هم دوباره ژوندي کولي شی په قول د حکماء دا زمکه د ستورو په شان چکر خوری په دي قول سره د الله پاک قدرت نور هم واضح شوچه دچکر لگولوباوجود چاته هم نقصان اونه رسيدو.(حقانی)

﴿ وخلقنکم ازواجا ﴾ مقصد دا دې چه مونږ د زمکې فرش غوړولو سره هغه داسې نه ده پریخودلې بلکه په دې باندې ئې تاسو جوړه جوړه پیدا کړئ چه ستاسو اولاد وی او توالد او تناسل وی تاسو لوئیږئ او خورئ څکئ دا هم د هغه نعمت دې او د هغه د دې قدرت بیان هم دې چه کله د یوې مادې نه په کروړونو جوړې پیدا شوې چه د یو شکل د بل نه مختلف دې آیا هغه ذات دوباره ژوندی کول نه شی کولې؟(حقانی)

﴿ وجعلنا نومکم سباتا ﴾ مقصد دا دې چه الله پاک فرمائی چه مونږ ستاسو د پیدائش نه پس ستاسو د آرام انتظام هم اوکړو داسې چه خوب مو ستاسو د پاره د آرام ذریعه جوړه کړه که غور اوکړې شی نو دا د الله پاک یو لوئې نعمت دې او دې هم مفت کوم چه بادشاه وزیر امیر فقیر ټولو ته یو شان حاصل دې بلکه چه د حالاتو مشاهده اوکړې شی نو معلومیږی چه څنګه غریبانانو ته دا نعمت حاصل دې مالدارانو ته نه دې سره د دې چه د آرام سامان هغوی ته حاصل دې ډیر کرته هغوی د آرام ګولۍ خوری حاصل دا چه کله د انسان اندامونه په کاروبار کښې د مشغولیت د وجې نه ستړی شی نو د دې ستړی والی د لرې کولو د پاره الله پاک د خوب نعمت عطا اوفرمائیلو چه په هغې سره د انسان اندامونه دوباره قوی او تروتازه شی او خوب جبری هم دې یو سړې دا غواړی چه ټوله شپه به کار کوم خو د الله پاک رحمت په هغه باندې خوب جبرا مسلط کړی او دا د خوب والا نعمت که کافر وی که مسلمان ټولو ته یو شان حاصل دې او دا هم ده چه خوب د مرګ په شان دې ګویا انسان د مړ کیدو نه پس

دوباره ژوندي کيږي او په دې سره اشاره ده چه کوم ذات د دې مرګ نه په ژوندی کولو باندې قادر دې هغه په بعث بعد الموت باندې هم قادر دې.(معارف و حقانی)

﴿ وجعلنا الليل لباسا ﴾ مقصد دا دې چه مونږ خوب ستاسو د آرام ذريعه جوړه کړه او د خوب د پاره چه د کومو څيزونو او اسبابو ضرورت وو مثلاً تيارهٔ د شور او غوبل نه کيدل د هغې هم مونږ انتظام اوکړو داسې چه شپه مو ستاسو د پاره جامه جوړه کړه چه د شپې تيارهٔ داسې پټول کوی لکه څنګه چه جامه د انسان بدن پټوی د دې تيارهٔ په وجه انسان کاروبار او شور و غوبل نه شی کولې په دې وجه هغه اودهٔ شی.(معارف)

﴿ وجعلنا النهار معاشـــا ﴾ مقصد دا دې چه د اودهٔ کيدو نه پس مونږ ستاسو د پارهٔ د روزئ د اسبابو انتظام کړې دې چه ستاسو د پاره مو ورځ جوړه کړې ده چه سحر پاسئ نو نمر پرقيږی چه تاسو په رڼرا کښې د خپلې روزئ او معاش انتظام اوکړې شئ که صرف شپه وې نو د روزئ انتظام به ګران وې دا هم د الله پاک يو لوئې انعام دې نو چه کوم ذات ورځ جوړه کړه يا شپه جوړه کړه زمکه او اسمان ئې پيدا کړل هغه په دوباره ژوندی کولو باندې يقينا قادر دې دا هيڅ د عقل نه لرې خبره نه ده.(حقانی وغيره)

﴿ وبنينا فوقكم سبعا شدادا ﴾ په دې آيت کښې هم الله پاک خپل انعام او خپل قدرت کامله بيانوی چه زمونږ څومره کرم دې چه ستاسو د پاره مو مضبوط اووهٔ اسمانونه جوړ کړل چه زمونږ د لوئې قدرت يو لوئې نخښنه ده چه د لوئې زمانې او اوږدې مودې د تيريدو

باوجود نه زوړ شوي دي نه کمزوري شوي دي نه پکښې سورې شوي دي نه پکښې څه کمي راغلې دې نه نقصان نه تر اوسه پورې د چهتونو د قائم ساتلو د پاره مونږ ته د يوې ستنې ضرورت نه دې راغلې د دې نه لوئي قدرت نور څه کيد يشي.

په بنينا باندې اشکال او جواب:

سوال: د بناء لفظ د بنياد د پاره استعماليږي نه د چهت د پاره آسمان خو چهت دې په دې باندې د بنينا لفظ وئيل څنګه صحيح دی؟

جواب: الله پاک په دې سره اشاره فرمائيل غواړی چه آسمان اګر چه چهت دې خو د مضبوطوالی په اعتبار سره د بنياد په شان دې.

(رازی ص:۴۳۱)

﴿ وجعلنا سراجا وهاجــا ﴾ په دې آيت کښې هم د نعمت او قدرت بيان دې چه مونږ ستاسو دپاره پړقيدونکې نمر پيدا کړو چه تاسو د هغه په رنړا کښې د خپلو ضرورتونو د پوره کولو انتظام کولې شئ. که نمر نه وې نو توله به تيارۀ وه نو نمر د الله پاک نعمت دې بيا د هغه قدرت اوګورئ چه هغه په زرګونو ميلو لرې کيدو باوجود تاسو ته تيزه رنړا در رسوی د ورځې نمر د شپې سپوږمۍ تاسو ته تيزه رنړا در رسوی دا د هغه د قدرت نخښې دی د وهاجا نه مراد د رنړا تيز والی او ګرمۍ ته اشاره ده.

﴿ وانزلنا من المعصرات ماء ثجاجا ....لنخرج به حبا و نباتا.......و جنت الفافا.....مقصد دا دې چه مونږ ستاسو د پاره د رزق انتظام اوکړو په دې طريقه چه د اوريخو نه مو باران راښکته کړو د دې باران په ذريعه مو غله راوټوکوله کومه چه ستاسو د خوراک څکاک د پاره

ده او ګیا او اونې بوټی مو پیدا کړل کوم چه ستاسو د څناور د
خوراک په کار راځی او ګور ګور باغونه مو پیدا کړل چه د هغې
میوې تاسو خورئ نو دا د الله پاک یو لوئې انعام دې او د هغه د
کامل قدرت نخښه ده چه یو خو ئې باران په عجیبه طریقې سره نازل
کړو چه واړهٔ واړهٔ څاڅکی بیا لوئې لوئې څاڅکی بیا هم د هغه یو
اوبو په ذریعه ئې مختلف څیزونه پیدا کړل نو داسې قدرت والاذات
ستاسو په دوباره ژوندی کولو هم قادر دې نن ټول خلق د دې څیزونو
نه فائده اخلی یو ورځ به راشی چه صرف د الله پاک فرمانبردار به
ترې فائده اخلی د دې نیکو خلقو اعمال به د جنت په شکل کښې او د
نافرمانو اعمال به د دوزخ په شکل کښې راځی.(حقانی وغیره)

په انزلنا من المعصرات باندې اعتراض:

سوال : دلته الله پاک فرمائی چه مونږ د وریځو نه اوبه نازلې کړې په
بل آیت کښې دی ﴿ وانزلنا من السماء ماء ﴾ چه مونږ د آسمان نه اوبه
نازلې کړې آیا په ظاهر کښې په دواړو آیتونو کښې مخالفت شته؟

جواب : (۱) هیڅ مخالفت نشته ځکه چه اسمان پورته فضاء ته وئیلې
شی نو وریځ ته هم آسمان وئیلې شوې دې باران صرف د وریځ نه
وریږی.(۲) بعض مفسرینو دا جواب کړې دې چه ممکنه ده چه کله د
آسمان نه باران نازلیږی او کله د وریځ نه د انکار هیڅ وجه نشته.

نکته: الله پاک څبا ذکر کړو روستو ئې ترې نباتا او د هغې نه روستو
ئې جنت الفافا د دې وجه دا بیان کړې شوې ده چه د غلې ضرورت
ډیر زیات دې هر سړې د دې محتاج دې په دې وجه ئې دا مخکښې
ذکر کړو په دوئم نمبر د نباتاتو ضرورت وی د میوو او فواکه کوم چه

صرف د خوند د پاره خوړلې شی د غذا په طور نه په دې وجه ئې هغه په آخر کښې ذکر کړو .(رازی)

إِنَّ يَوْمَ ٱلْفَصْلِ كَانَ مِيقَٰتًا ﴿١٧﴾ يَوْمَ يُنفَخُ فِى ٱلصُّورِ فَتَأْتُونَ أَفْوَاجًا ﴿١٨﴾ وَفُتِحَتِ ٱلسَّمَآءُ فَكَانَتْ أَبْوَٰبًا ﴿١٩﴾ وَسُيِّرَتِ ٱلْجِبَالُ فَكَانَتْ سَرَابًا ﴿٢٠﴾

ترجمه: بیشکه د فیصلې ورځ مقرر ده...هغه ورځ چه په شپیلۍ کښې به پوکې اووهلې شی نو تاسو به ډلې ډلې راځئ...او آسمان به پرانستلې شی نو شی به دروازې دروازې...او اسمانونه به روان کړې شی نو شی به ځلیدونکې شګه.

حل المفردات: یوم په معنی د ورځ جمع ئې ایام راځی الفصل مصدر د باب (ض) جدا کول مراد ترې د قیامت ورځ ده په دې ورځ به هم حق د باطل نه جدا شی مومن به د کافر نه جدا شی کان په اصل کښې کون وو د قال د قانون مطابق کان شوه میقاتا صیغه د اسم آله ده معنی ئې ده د وخت معلومولو آله د وعدې وخت دلته به ئې معنی وی مقرر ینفخ د باب (ن) په معنی د پوکی وهل النفاخة د اوبو بلبله صیغه د واحد مذکر غائب مضارع مجهول فی الصور په صور کښې دوه قوله دی: (۱) هغه د ښکر په شکل د اسرافیل علیه السلام په لاس کښې یو څیز دې هغه د الله پاک د حکم انتظار کوی نو په هغې کښې به پوکې وهی ټول عالم به فنا او تباه شی نو زمکې په ټول مخلوق باندې به مرګ راشی دې ته نفخه اولی وئیلې شی بیا به د الله پاک په حکم باندې دوباره صور کښې پوکې وهی نو ټول څیزونه به ژوندی شی او مړی به د قبرونو نه بهر راوځی دې ته نفخه ثانیه وائی.(۲) صور د صورة جمع ده مقصد به دا وی چه کله به دې شکلونو (انسانی بدنونو) کښې

روحونه دوباره پوک وهلې شی (حقانی) تاتون صیغه د جمع مذکر حاضر مضارع معروف از باب (ض) په معنی د راتللو په اصل کښې تاتیون وو په یا باندې ضمه ثقیله وه ما قبل ته ورکړې شوه بیا اجتماع د ساکنینو شوه د یا او واو تر مینځه یا مو اوغورځوله نو تاتون شو افواجا جمع د فوج په معنې د ډلې وفتحت صیغه د واحد مونث غائب ماضی مجهول په معنی د پرانستلو السماء په معنی د آسمان د دې جمع سموات راځی د باب (ن) نه په معنی د اوچتیدلو آسمان ته هم په دې وجه آسمان ونیلې شی چه اوچت دې ابوابا جمع د باب په معنی د دروازې سُیرت صیغه د واحده مونثه غائبه ماضی مجهول از باب(تفعیل) روانول سرابا هغه فراخه میدان کوم چه د ماسپخین په وخت اوبه محسوسیږی حال دا چه په حقیقت کښې هیڅ هم نه وی.

حل الترکیب: ان حرف دې د حروف مشبه بالفعل نه یوم مضاف الفصل مضاف الیه مضاف مضاف الیه یو ځائې کیدلو سره اسم د ان کان فعل د افعال ناقصه نه هو ضمیر پکښې مستتر دې چه راجع دې د یوم الفصل په طرف هغه د کان اسم میقاتا مبدل منه یوم مضاف ینفخ مضارع مجهول هو ضمیر پکښې مستتر نائب فاعل فی حرف جار الصور مجرور جار مجرور یو ځائې کیدلو سره متعلق شو د فعل ینفخ فعل سره د خپل نائب فاعل جمله فعلیه خبریه مضاف الیه شو د یوم د پاره مضاف مضاف الیه یو ځائې کیدلو بدل مبدل منه د بدل سره یو ځائې کیدلو باندې د کان خبر کان د خپل اسم او خبر سره یو ځائې کیدلو باندې جمله فعلیه خبریه خبر شو د پاره د ان .... ان د خپل اسم او خبر سره جمله اسمیه خبریه شوه.

په يوم ينفخ كښې تركيبي احتمالات:

فائده: يوم ينفخ كښې نور هم تركيبي احتمالات دی: (١) د يوم الفصل نه بدل دې. (٢) د يوم الفصل نه عطف بيان دې. (٣) د كان دوئم خبر دې (مظهری اردو) (۴) د اعنی مفعول به دې (املاء ما من به الرحمن)

فتاتون فا فصيحه فا فصيحه هغه ده كومه چه د ماقبل د وضاحت د پاره راځي او دا بيانوی چه په ماقبل كښې شرط محذوف دې (روح) دلته ﴿ اذا نفخ فی الصور ﴾ محذوف دې فتاتونه فعل مضارع واؤ ضمير بارز ذوالحال افواجا حال حال ذوالحال يو ځائې كيدلو سره فاعل د فعل فعل د خپل فاعل سره جمله فعليه خبريه كيدو سره جزا شوه د شرط محذوف شرط د خپلې جزا سره يو ځائې كيدلو باندې جمله شرطيه شوه.

فائده: فتاتون كښې فا عاطفه هم كيديشی بيا به د دې عطف په ينفخ باندې وی.(اعراب القران)

﴿و فتحت السماء فكانت ابوابا... ﴾ واؤ عاطفه فتحت ماضی مجهول السماء نائب فاعل فعل د خپل نائب فاعل سره يو ځائې كيدلو باندې جمله فعليه خبريه كيدو سره معطوف عليه فكانت ابوابا فا عاطفه كانت فعل د افعال ناقصه نه هی ضمير پكښې مستتر چه راجع دې په طرف د السماء د كانت اسم ابوابا ئې خبر كانت د خپل اسم او خبر سره جمله فعليه خبريه معطوف شو د پاره د معطوف عليه معطوف عليه سره د خپل معطوف نه جمله معطوفه شوه.(اعراب القران)

﴿ و سيرت الجبال فكانت سرابا ﴾ واؤ عاطفه سيرت فعل

ماضی مجهول الجبال نائب فاعل فعل د خپل نائب فاعل سره یو خائې کیدلو باندې جمله فعلیه خبریه معطوف علیه فا عاطفه کانت فعل د افعال ناقصه نه هی ضمیر اسم او سرابا ئې خبر کانت سره د خپل اسم او خبر نه جمله فعلیه خبریه معطوفه...معطوف سره د خپل معطوف علیه نه جمله فعلیه معطوفه شوه.

فائده: فکانت ابوابا او فکانت سرابا کښې چه کومه فا ده هغه تفسیریه هم جوړیدلې شی په دې صورة کښې به دا جمله مفسره وی.

تفسیر: ربط د ماقبل سره دا دې چه مخکښې په نهه دلائلو سره د الله پاک قدرتونه ثابت کړې شو چه د هغې نه ثابته شوه چه د الله پاک د پاره د مړو دوباره ژوندی کول او په میدان حشر کښې د حساب او کتاب د پاره جمع کول ګران نه دی بلکه یو ورځ به داسې راشی چه تاسو به قول الله ته پیش کیږئ.د ﴿ ان یوم الفصل کان میقاتا ﴾ سره د هغه ورځې څه حالات بیانیږی او کافرانو به هم سوال کولو چه د قیامت راتلل یقینی دی نو روستو ولې دې اوس ولې نه راځی الله پاک د دې سوال جواب ورکوی چه قیامت خو به راځی ضرور خو د هغې یو وخت مقرر دې کوم چه صرف زمونږ په علم کښې دې نه په هغې کښې تقدیم کیدیشی او نه تاخیر په دې وجه ستاسو زور لګول چه اوس دې راشی غلط دی ځکه چه د هغې د پاره درې څیزونه لازم دی.(۱) چه د روح د بدن سره دوباره تعلق پیدا شی.(۲) د دنیا کارخانه تباه او برباده شی او د کور چهت او فرش او د هغې سامان د رزق او د آرام چه د هغې فائده عامه ده ختمه کړې شی.(۳) تول راتلونکی روحونه د دې جهان نه فائده واخلی.تر څو چه دا کارونه نه وی شوې قیامت به نه راځی.(حقانی)

﴿ یوم ینفخ فی الصور فتاتون افواجــا ﴾ پـه دې کښې د نفخه ثانیه حال بیانیږی مقصد دا دې چه کله اسرافیل علیه السلام په رومبی کرت پوکې ورکړی نو ټول عالم به فنا شی چه کله دوئم کرت پوکې ورکړی نـو خلـق بـه ژونـدی شـی او ډلـې ډلـې بـه د الله پـاک پـه دربـار کښې حاضــریږی د ابوذرغفــاری رضی الله عنه نــه روایــت دې چــه رســول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه کله خلق د قبرونو نه وتلو سره د الله پاک دربار تـه ځی نو د هغوی به درې ډلې وی.(۱) بعـض بـه پـه ډکـه خیټـه بانـدې پـه ښـه جامه کښې په سورلو باندې سوارهٔ راروان وی(۲) بعض به پیـدل منـډې وهی (۳) بعض به په مخونو باندې په رابښکلو راوستلې شی.(معارف)

د بعض مفسرینو قول دې چه د قیامت پـه ورځ بـه ډیرې ډلـې وی د هر نبی امت به ځانله وی بیا به د مومنانو بیلـه ډلـه او د کـافرانو بیله ډله بیـا پـه مومنـانو کښې د نیکـانو بیلـه ډلـه او د ګناهګـارو بیلـه ډله بیا به د نیکانو څو ډلې وی.(معارف و حقانی)

﴿ وفتحت السماء فکانت ابوابا ﴾ پـه دې کښې د نفخـه اولـی حال بیانولې شی چه کله به اسرافیل علیه السلام پـه رومبی کرت پـوکې وهـی نو آسمان به پرانستلې شی او په هغې کښې بـه دروازې دروازې جوړې شی.په ابوابا کښې دوه اقوال دی: (۱) په شپیلۍ وهلو سره به په آسـمان کښې چونـدی پیـدا شـی هـم د دې چونـدو نـه ئـې پـه ابوابـا سره تعبیـر فرمائیلې دې چه کله یو مضبوط چهت راغورځیږی نو د غورځیـدلو نه مخکښې په هغې کښې چوندی پیدا شی.

(۲) چـه کلـه شـپیلۍ اووهلې شـی نـو پـه آسمان کښې بـه ډیـرې دروازې پرانستلې شی د هغه دروازو نه به د ملائکو لښکر راوځی

کوم چه به د زمکې هر څیز فنا او تباه کړی.

﴿ وسیرت الجبال فکانت سـرابا ﴾ مقصد دا دې چه کله شپیلئ اووهلې شی نو غرونه به ذره ذره کیدو سره د شګو د ذراتو په شان الوځی او د زمکې نه به یو صفا هموار میدان جوړ شی چه په هغې باندې به نه یو اونه وی نه څه غر اول به غرونه ذرې ذرې کړې شی بیا به د مالوچو په شان نرم کړې شی بیا به دا ذرات په فضاء کښې د دورې په شان الوخولې شی او هغه غرونه به ختم شی او د غرونو ځایونه به د سراب په شان شی.د سرابا معنی ده ذهاب یعنی تلل وجه تسمیه ئې هم دا ده چه د لرې نه خو اوبو ښکاری چه نزدې ورشې نو هیڅ هم نه وی.(معارف) لکه د لرې نه پرقیدونکې شګې باندې د اوبو ګمان راځی هم دغه شان ګمان به ئې په غرونو باندې وی چه غرونه دی حال دا چه په حقیقت کښې به هغه غرونه نه وی بلکه د شګو ورې ورې موړې به وی.(عثمانی)

إِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتْ مِرْصَادًا ﴿٢١﴾ لِّلطَّاغِينَ مَآبًا ﴿٢٢﴾ لَّابِثِينَ فِيهَآ أَحْقَابًا ﴿٢٣﴾ لَّا يَذُوقُونَ فِيهَا بَرْدًا وَلَا شَرَابًا ﴿٢٤﴾ إِلَّا حَمِيمًا وَغَسَّاقًا ﴿٢٥﴾ جَزَآءً وِفَاقًا ﴿٢٦﴾

ترجمه: بیشکه دوزخ مورچه ده....د سرکشو خلقو د پاره استوګنه.... درنګ تیرونکې به وی په هغې کښې ډیر عمر....نه به څکی دا سرکش په جهنم کښې نه یخوالې او نه اوبه....مګر خوټکیدلې اوبه او بهیدونکې پیپ....دا جزاء ده پوره پوره.

حل المفردات: مرصادا ظرف مکان دې کوم ځائې چه په ناسته باندې

انتظار کولې شي د ښکار د نيولو يا په دشمن باندې د حملې کولو د دې جمع مراصيد او مراصد راځي.په اردو کښې دې ته تاک يا گهات وئيلې شي (او په پښتو کښې ورته مورچه وائي) د باب(ن) په مورچه کښې کيناستل او انتظار کول.للطغين جمع مذکر سالم اسم فاعل مفرد د دې الطاغي راځي په معنی په گناهونو کښې د حده تير شوې انسان په اصل کښې طاغيين وو په اوله ياء باندې کسره ثقيله وه هغه مو اوغورځوله نو اجتماع د ساکنينو شوه د دوو ياء ترمينځه اوله ياء مو اوغورځوله نو طاعين شو د باب(ف،س) نه په گناهونو کښې د حد نه تيريدل.مابا اسم ظرف په معنی د واپس کيدو ځائې په اصل کښې ماوب وو د يقال د قانون د لاندې د واؤ فتحه همزه ته ورکولو سره واو په الف سره بدل کړې شو ماب شو د دې جمع مآوب راځي.د باب (ن) نه په معنی د قصد کولو او واپس کيدلو. لبثين جمع مذکر سالم اسم فاعل د باب (س) نه په معنی د پاتې کيدلو (ساعت تيرولو).احقاب جمع ده د دې مفرد يا حقبة دې يا حقب په معنی د اوږدې زمانې کلونه کلونه ...لا يذوقون صيغه د جمع مذکر غائب مضارع معروف منفی اصل کښې لا يذوقون په قاعده د يقول د واؤ ضمه نقل کولو سره ذال ته ورکړې شوه د باب (ن) نه په معنی د څکلو بردا په معنی د يخ والي او خوب د باب (ن،ک) يخيدل او اوده کيدل. ولا شرابا د څکلو څيز جمع ئې اشربة راځي د باب(س) نه.إلا حميما صيغه د صفت مشبه سختې گرمې او خوټکيدلې اوبه جمع د دې حمائم راځي د باب (ن) گرمول....غساقا صيغه د مبالغې ده پيپ او وينه بدبوداره د باب (ض) اوبه غورځيدل.جزاء مصدر د باب (ض) بدله ورکول وفاقا مصدر د باب مفاعله موافق کيدل دلته ئې معنی ده پوره.

حل التركيب: ان حرف دې د حروف مشبه بالفعل نه جهنم د دې اسم كانت فعل د افعال ناقصه نه هی ضمير ئې اسم مرصادا ئې خبر اول لام جار الطغين صيغه د اسم فاعل هم ضمير پكښې مستتر مآبا صيغه د اسم ظرف لبثين صيغه د اسم فاعل هم ضمير په كښې مستتر فيها جار مجرور متعلق په لبثين پورې احقابا مفعول فيه د لبثين لا نافيه يذوقون فعل واو ضمير بارز فاعل بردا معطوف عليه واؤ عاطفه لازائده شرابا معطوف،معطوف عليه د خپل معطوف سره يو ځائې كيدلو باندې مستثنى منه كيدلو سره مبدل منه الاحرف استثناء حميما معطوف عليه واؤ عاطفه غساقا معطوف معطوف سره د معطوف عليه نه مستثنى كيدو سره بدل.مبدل منه(مستثنى منه) سره د خپل بدل (مستثنى) نه مفعول به شو د لا يذوقون فعل.....لا يذوقون فعل سره د خپل فاعل او مفعول به جمله فعليه خبريه كيدو سره حال شو د لبثين د هم ضمير ذوالحال نه ذوالحال سره د خپل حال نه فاعل شو د لبثين اسم فاعل اسم فاعل سره د خپل فاعل او متعلق او مفعول فيه نه شبه جمله كيدو سره حال شو د پاره د الطغين د هم ضمير ذوالحال ذوالحال سره د خپل حال نه شبه جمله كيدو سره مجرور شو د جار جار سره د مجرور نه متعلق شو په مقدم مابا پورې مابا اسم ظرف د خپل متعلق مقدم سره خبر ثانى شو د پاره د كانت كانت سره د خپل اسم او دواړو خبرونو جمله فعليه خبريه كيدو سره خبر شو د ان...ان د خپل اسم او خبر سره جمله اسميه خبريه شوه.(اعراب القران)

جزاء موصوف وفاقا صفت صفت موصوف يو ځائې كيدلو سره مفعول مطلق شو د فعل محذوف ﴿ جوزوا ﴾ يا ﴿ جزينا ﴾ فعل

سره د خپل فاعل او مفعول مطلق نه جمله فعلیه خبریه شوه.

تفسیر: اوس د نفخه ثانیه حالات بیان فرمائی کوم چه به په دربار الهی کښې د پیش کیدلو نه پس ښکاره کیږی د ټولو نه اول به د دې خلقو حالات کومو چه په دنیا کښې دا ورخ هیره کړې وه او په شهواتو او خوندونو باندې مئین کیدو سره د الله پاک نه باغیان شوی وو اوس د هغوی د پاره د الله پاک د دربار نه څه حکم کیږی نو وې فرمائیل:﴿ ان جهنم کانت مرصادا ﴾ (حقانی)

مرصادا......هغه ځائې چه په کوم ځائې کښې ناسته کولو سره د چا لار اوسارلې شی یا انتظار اوکړې شی او دلته د جهنم نه مراد پل صراط دې دلته به ثواب ورکونکې او سزا ورکونکې ملائک انتظار کوی د دوزخ خلق به د دوزخ ملائک نیسی او د جنت خلق به د جنت ملائک نیسی او خپل مقام ته به ئې رسوی.

للطغین مابا........دا د کانت خبر ثانی دې د دواړو جملو معنی دا شوه چه پل صراط(جهنم) خو د هر نیک او بد د دواړو د پاره انتظار گاه ده ټول به په دې باندې تیریږی.او د طاغین د پاره مستقر او استوگنه ده د طاغی معنی د حد نه تیریدونکې سرکشی او نافرمانی کولو والادا هله کیدیشی چه کله هغه د ایمان نه اوځی په دې وجه د طاغین نه مراد به دلته کفار وی او دا هم احتمال دې چه د دې نه مراد هغه بدې عقیدې والا ډله او د مسلمانانو فرقې وی کوم چه د قرآن او سنت د حدود نه وتلې دی اگر چه صرف کفر ئې نه دې اختیار کړې لکه روافض خوارجاو معتزله وغیره.(معارف)

د احقاباً په تفسیرکښې اقوال:

لبثین فیها احقابـــا........ یعنی کفار خلق بـه پـه دوزخ کښ اوږده زمانه اوسیږی.اوږدې زمانې ته حقب وئیلې شی پـه مقـدار کښ ئې څو اقوال دی: (۱) ابـن جریر د علی رضی الله عنه نـه د دې مقـدار اتیـا کالـه نقـل کړې دې او هر کـال د دولـسو میاشـتو او هـر میاشـت د دیرشـو ورځـو او هـره ورځـو د زورو کـالو نـو داسـې د دوه کـروړو او اتـهٔ اتیـا لکهه کلونو به یو حقب وی.(۲)ابوهریره،ابن عمر او ابـن عبـاس رضی الله عنهم د دې مقـدار اویـا کلونـه مقرر کړې دې بـاقی حـساب هـم هغـه دې پـه مسند بزار کښ د ابن عمر رضی الله عنهما نـه مرفوعـا نقـل دی ﴿ **لا یخرج احدکم من النار حتی یمکث فیه احقابا والحقب بضع و ثمانونه سنة کل ســـنة ثلث مائة و ستون یوما مما تعدون**﴾ پـه دې حدیث کښ اګـر چـه د ذکـر کـړې شـوې آیـت تفـسیر نـشته خـو د حقـب د معنـې بیـان دې او څـو صحابه کرامو رضی الله عنهم چه د ورځې مقدار زر کالـه بیـان کـړې دې کـه هغـه ئـې هـم د رسـول الله ﷺ نـه اوریـدلې وی نـو د حدیث پـه روایـاتو کښ تعارض پیدا شو په وخت د تعارض پـه یو څیز باندې جزم او یقـین خـو نه شی کیدلې خو دومره خبره په دواړو روایتونو کښ مـشترک ده چـه حقـب حقبـة د ډیـرې اوږدې زمـانې نـوم دې پـه دې وجـه صـاحب د بیضاوی د احقابا تفسیر پـه ﴿ **دهـــور متتابعـــة** ﴾ سـره کـړې ده یعنـی پرلپسې ډیرې زمانې.(معارف)

دوزخ ته په همیشه داخلیدو باندې اشکال: د حقـب مقـدار کـه هـر څـومره اوږد شی بهر حال هغه محدود او متناهی دې د دې نه معلومیږی چه د دې محدود مودې نه پس کفار اهـل جهنم بـه هـم د جهـنم نـه راوځـی

حال دا چه دا د قران کريم د نورو نصوصو ښکاره خلاف ده چه په هغې کښې لفظ د ﴿ خلدين فيها ابدا ﴾ راغلي دي او په دې وجه د امت په دې باندې اجماع ده چه نه به جهنم فنا کيږي او نه به کفار چرته د جهنم نه اوځي.

سدي رحمه الله د مره بن عبدالله رضي الله عنه نه نقل کړي دي چه کفارو اهل جهنم ته که د دې خبر ورکړې شي چه د هغوی قيام به په دوزخ کښې د دنيا د کانړو په مقدار وی نو هغوی به په دې باندې هم خوشحاله شي چه بالاخر کانړي که د اربوبو کهربونو په تعداد کښې هم وی نو بيا هم محدود او متناهي دي بهر حال يوځل خو وتل دي او که اهل جنت ته هم دا خبر ورکړې شي چه د دنيا په مقدار د کانړو برابر ستاسو په جنت کښې قيام دې بيا به ويستلي شئ نو غمژن او پريشانه به شي چه هر څومره موده ده مګر د دې جنت نه به ويستلي کيږي.(معارف)

جواب: په دې آيت کښې د لفظ ﴿ احقابا ﴾ نه چه کوم مفهوم په پوهه کښې راځي چه د څو احقابو نه پس به کفار دوزخيان دوزخ نه ويستلي شي.د ټولو نصوصو او د اجماع امت خلاف ده په دې وجه به دامفهوم غيرمعتبر وی ځکه چه په دې ايت کښې د دې ښکاره تصريح خو شته نه چه د احقاب نه پس به څه کيږي صرف دومره ذکر دې که د احقاب مودې په مقدار به هغوی په دوزخ کښې اوسيږي د دې نه دا نه لازميږي چه د احقاب نه پس به په دوزخ کښې نه اوسيږي يا به دا خلق د دې نه ويستلي شي.په دې وجه حسن بصري رحمه الله د دې په تفسير کښې فرمائي چه په دې آيت کښې الله پاک د دوزخيانو دپاره د دوزخ

میعاد نه دي مقرر کړې چه د هغې نه پس د هغوی وتل اوګنړلې شی بلکه مراد دا دي چه کله یو حقب تیر شی نو دوئم به شروع شی چه هغه تیر شی نو دریم به شروع شی الی اخره تر دې چه ابدالاباد به دا سلسله جاری وی.

او سعید بن جبیر رحمه الله نه هم دا تفسیر روایت کړې شوې دې چه د احقاب نه مراد هغه زمانه ده چه د هغې ختمیدل نشته بلکه یو حقبه به ختمیږی نو دویمه به شروع کیږی چه دویمه ختمیږی نو دریمه به شروع کیږی هم دا سلسله به د ابد پورې جاری وی.(معارف)

﴿ لا یذوقون فیها بردا ولا شرابا ﴾ بیا به په دې دوزخ کښې څه وی هلته به دې بدبختو ته هیڅ یخوالې نه ملاویږی نه یخې اوبه نه کور نه جامه نه خوراک نه هوا په دې کښې به هیڅ یخ څیز د هغوی سترګو مخې ته نه وی.بعض علماء فرمائی ﴿ بردا ﴾ نه مراد خوب دې په لغت دعربو کښې د برد اطلاق په خوب باندې هم کیږی چه په دې مصیبت کښې به هغوی ته خوب نه راځی د استعارې په طور ئې اوفرمائیل چه د څکلو څیز به ورته نه ملاویږی یعنی د استعارې په طور د څکلو د څیز نه ملاویدلو سره ئې دا بیان کړه چه لږ غوندې یخ والې به هم ورته نه ملاویږی د زره برابر څه نه د بدن نه دسترګو نه دغوږونو لفظ لره عام ساتل غوره دی او د شرابا نه مراد اوبه دی چه نور خو څه چه کوم دنیا کښې یخ څیز دې یعنی اوبه کومې چه په قیدی هم څکولې شی هلته به هغوی ته دا هم نه نصیب کیږی بلکه د هغې په بدل کښې به ورته حمیم او غساق ورکولې شی چه مخ ته ئې نزدې کړی نو او به سوزی او دا په دې وجه چه دا به د هغوی پوره پوره

بدله وی ظلم به نه وی مونږ به عدل او انصاف کوو ناحقه سړا به نه ورکووشهوت او د مال او جاه اور کوم چه په زړه کښې بليدو هم دا هغه اور دې.(حقانی وغيره)

إِنَّهُمْ كَانُوا۟ لَا يَرْجُونَ حِسَابًا ﴿٢٧﴾ وَكَذَّبُوا۟ بِـَٔايَـٰتِنَا كِذَّابًا ﴿٢٨﴾ وَكُلَّ شَىْءٍ أَحْصَيْنَـٰهُ كِتَـٰبًا ﴿٢٩﴾ فَذُوقُوا۟ فَلَن نَّزِيدَكُمْ إِلَّا عَذَابًا ﴿٣٠﴾

ترجمه: دې خلقو به د حساب اميد نه ساتلو...او تکذيب به ئې کولو زمونږ د ايتونو په تکذيب کولو سره...او هر يو څيز لره مونږ په ليکلو سره راګير کړې دې...پس اوڅکئ پس نه به زياتوو مونږ ستاسو د پاره مګر عذاب.

حل المفردات: لايرجون صيغه د جمع مذکر مضارع معروف از باب (ن) معنی اميد کول په اصل کښې لايرجوون وو په واؤ باندې ضمه ثقيله وه هغه مو اوغورځوله بيا اجتماع د ساکنينو راغله په مابين د دوو واونو کښې يو واؤ مو اوغورځولو.حسابامصدر از باب (ن) شمير کول.وکذبوا صيغه د جمع مذکر غائب ماضی معلوم از باب تفعيل معنی دروغژن کول.ايتنا جمع ده مفرد ئې اية دې په معنی د نخښې سره.و کل شئ جمع د دې اشياء راځی په معنی د څيز.احصيناه صيغه د جمع متکلم ماضی معروف از باب افعال په معنی د شمير کولو محفوظ کول،يادول.کتابا جمع ئې کتب ده د باب(ن) په معنی د ليکلو.فذوقوا صيغه د جمع مذکر حاضر امر معروف د باب(ن) په معنی د څکلو په اصل کښې اذوقوا د واؤ ضمه نقل کولو سره ذال ته ورکړې شوه د يقول د قانون مطابق همزه وصلی ساقطه شوه.فلن

نزید کم نزید صیغه د جمع متکلم نفی تاکید د باب(ض) زیاتول په اصل کښې نزیِد وو د یا کسره نقل کولو سره زا ته ورکړې شوه د یبیع او یقول د قانون مطابق، عذابا تکلیف او سزا د مشقت باعث څیز د دې جمع اعذبة ده.

حل الترکیب: ان حرف دې د حروف مشبه بالفعل نه هم ضمیرئې اسم کانوا فعل دې د افعال ناقصه نه واؤ ضمیر بارز ئې اسم لا نافیه یرجون فعل واؤ ضمیر بارز راجع دې په طرف د الطاغین فاعل حسابا مفعول به فعل سره د خپل فاعل او مفعول به نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره معطوف علیه ....وکذبوا بایتنا کذابا......واؤ عاطفه کذبوا فعل ضمیر بارز فاعل بایتنا جار مجرو یو ځائې کیدلو سره متعلق شو په کذبوا فعل پورې کذابا مفعول مطلق فعل د خپل فاعل متعلق او مفعول مطلق سره جمله فعلیه خبریه معطوف معطوف علیه سره د خپل معطوف نه خبر شو د کانوا کانوا سره د خپل اسم او خبر نه خبر شو د ان...........ان سره د خپل اسم او خبر نه جمله اسمیه خبریه شوه.

وکل شی احصینه کتابا...واؤ عاطفه یا استینافیه کل شئ مضاف مضاف الیه یو ځائې کیدلو سره مفعول به د احصینا فعل محذوف... احصینا فعل سره د فاعل ه ضمیر ذوالحال کتاب په معنی د مکتوبا سره حال حال سره د ذوالحال نه مفعول به د پاره د احصینا فعل سره د خپل فاعل او مفعول به نه جمله فعلیه خبریه کیدوسره تفسیرشو دمفسر، مفسرد خپل تفسیرسره جمله تفسیریه شوه.

فائده: کتابا د احصینا د پاره مفعول مطلق هم جوړیدې شی په دې

صورت کښې به احصینا په معنی د کتبنا وی.فذوقوا فا سببیه یا نتیجیه ذوقوا فعل سره د فاعل ...فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه انشائیه کیدو سره معطوف علیه.فلن نزیدکم الا عذابا...فا عاطفه لن نافیه د پاره د تاکید نزید فعل سره د فاعل کم ضمیر مفعول به شنیا مستنی منه محذوف الاحرف استثنی عذابا مستثنی مستثنی منه د مستثنی سره یو ځائې کیدو باندې مفعول به ثانی د نزید فعل ...فعل سره د فاعل او د دوارو مفعول به سره جمله فعلیه خبریه کیدو سره معطوف ...معطوف علیه سره د معطوف علیه نه جمله فعلیه معطوفه شوه

تفسیر: ﴿ انهم کانوا لا یرجون حسابا و کذبوا بایتنا کذابا ﴾ په دې آیتونو کښې الله پاک سبب د جزا او سزا بیانوی چه هغوی ته به دا سزا په دې وجه ورکولې شی چه دې خلقوبه دحساب کتاب امید نه ساتلو هغوی ته دا خطره نه وه چه زمونږ د عمل به څه حساب هم اخستلې کیږی د بعث بعد الموت نه به ئې هم انکار کولو هم په دې وجه به ئې د الله پاک حدود په خاطر کښې نه راوستل نتیجه دا شوه چه د هغوی ژوندونږد الله پاک د نافرمانو او د هغه د کمونو د مخ اړولو نه ډک شو اوس هغوی ته د هم دې بدعلمۍ سزا ملاویږی آیات عام دی که قرآنی وی یا د قدرت آیتونه د توحید او رسالت ټول دلائل ئې دروغژن کړل او بنه ئې دروغژن کړل چه د حق منکر او په باطل باندې کلک شو د دې نه معلومه شوه چه په فساد کښې د حده تیر شوې وو په دې وجه د ﴿ جزاء وفاقا ﴾ مستحق شو.(حقانی)

﴿ وکل شئ احصینه کتابا ﴾ دا ئې د جزاء وفاقا علت بیان

فرمائیلو چه مونږ چونکه هر څیز په لوح محفوظ یا عمل نامه کښ محفوظ ساتلي دي او لیکلي مو دي په دې وجه مونږ ته د هغوی د هر عمل خبر دې پس مونږ به هغوی ته د هغوی د عملونو مطابق پوره پوره سزا ورکوو او مونږ به هغوی ته وایو چه د خپلو بدو عملونو سزا اوڅکئ مونږ به ستاسو سزا نوره هم زیاتوو په دې کښ به کله هم کمې نه کوو.

إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ مَفَازًا ﴿٣١﴾ حَدَآئِقَ وَأَعْنَـٰبًا ﴿٣٢﴾ وَكَوَاعِبَ أَتْرَابًا ﴿٣٣﴾ وَكَأْسًا دِهَاقًا ﴿٣٤﴾ لَّا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا وَلَا كِذَّٰبًا ﴿٣٥﴾ جَزَآءً مِّن رَّبِّكَ عَطَآءً حِسَابًا ﴿٣٦﴾ رَّبِّ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ٱلرَّحْمَـٰنِ لَا يَمْلِكُونَ مِنْهُ خِطَابًا ﴿٣٧﴾

ترجمه: بیشکه د پرهیزګارو د پاره کامیابی ده...باغونه او انګور... او خوانې یو شان عمر والا جینکۍ...او جامونه ډک ډک....نه به اوری په هغې کښ نه فضول خبره او نه دورغ ...دا بدله ستا د رب د طرفه ورکړه پوره پوره (یا د حساب سره) ...کوم چه رب دې د آسمانونو او د زمکې او د هغه څیزونو کوم چه د دې دواړو ترمینځه دی چه ډیر مهربانه دې نه به قادریږی خلق د هغه سره په خبروکولو باندې.

حل المفردات: متقین صیغه د جمع مذکر سالم په اصل کښ موتقیین وو د اتغد د قانون مطابق واؤ په تاء سره بدل شو تاء په تاء کښ مدغم کړې شوه نو متقیین شو په یاء باندې کسره ثقیله وه اوغورځولې شوه نو اجتماع د ساکنینو شوه د دوو یاء ګانو تر مینځه چه یو یاء

اوغورځولي شوه نو متقين شو د باب افتعال نه په معنى د ويريدلو او پرهيز كولو. مفازا يا مصدر ميمى دې يا ظرف مكان په اصل كښې مفوزا وو د يقال د قانون مطابق مفازا شو د باب(ن) كاميابيدل. حدائق جمع ده د دې مفرد حديقة په معنى د باغ چه د هغې چارديوارى هم وى او په هغې كښې مختلفې ميوې وى د باب(ض) په معنى د ګيرولو...اعنابا جمع ده د عنب په معنى د انګور.وكواعب جمع د كاعب ده په معنى د هغه پيغلې جينئ چه د هغې سينې اوچتې اوچتې وى د باب (ن) راوچتيدل په كعب كښې د لوړ والى او اوچت والى معنى ده كعبة الله ته كعبه ځكه وائى چه د ټولو نه اول د زمكې نه هم دا حصه ښكاره شوه.لوړې ګيتې ته هم په دې وجه كعب وائى چه هغه هم لوړه وى.اترابا جمع ده واحد ئې ترب دې(جلالين) په معنى د همزولى د ترب لغوى معنى خاوره همزولى ته ترب په دې وجه وئيلې شو چه هغوى تقريبا په يو وخت كښې خاورې (زمكې) ته راغلل يعنى د مور د خيټې نه راوتل) كاسا پيالئ د دې جمع اكواس راځى دقا معنى ده ډک چه سسيرې د باب (ف) په معنى د ډكيدلو.

لايسمعون.....د باب (س) اوريدل.الرب په معنى د پالونكى هر يو څيز ته د هغه د مزاج مطابق روزى وركولو والاد دې جمع ارباب راځى د دې معنى سردار هم راځى د باب (ن) مالک كيدل... لغوا بيكاره خبره...د مرغو آوازونه د باب (ن،س) غلطى كول بغير د سوچ او پوهې خبره كول. عطاء عطيه كوم څيز چه وركړې شى جمع ئې اعطية د باب (ن) اخستل د باب افعال نه وركول.حسابا د دې دوه معنې كړې شوې دى.١.......كافيــا كـــثيرا..٢..........شمير كول. السموات جمع ئې مفرد دې سماء.لايملكون صيغه د جمع مذكر

غائب مضارع معروف د باب(ض) مالکیدل.خطابا خبري کول د باب(ن) وعظ کول خطبه ورکول.

حل التركيب:ان حرف د حروف مشبه بالفعل نه للمتقين جار مجرور يو ځائي کيدلو سره خبر مقدم د پاره د ان مفازا مبدل منه حد.ائق معطوف عليه واؤ عاطفه اعنابا معطوف عليه واؤ عاطفه کواعب موصوف اترابا موصوف صفت يو ځائي کيدلو سره معطوف عليه واو عاطفه کاسا موصوف دهاقا صفت موصوف صفت يو ځائي کيدلو اسم موخر د پاره د ان ... ان د خپل اسم او خبر سره جمله اسميه خبريه شوه.لا يسمعون فعل واؤ ضمير بارز راجع په طرف د متقين فاعل فی جار ها ضمير مجرور راجع په طرف ته جنت مجرور جار مجرور يو ځائي کيدلو سره متعلق شو د لا يسمعون لغوا معطوف عليه واؤ عاطفه لازائده کذابا معطوف معطوف سره د معطوف عليه نه مفعول به شو د لا يسمعون فعل...فعل سره د فاعل او مفعول به نه جمله فعليه خبريه شوه.

فائده: لا يسمعون....يا خو جمله مستانفه ده يا د متقين د ضمير نه حال دي...جزاء مبدل منه عطاء موصوف حسابا ئي صفت موصوف صفت سره يو ځائي کيدو باندي بدل،مبدل منه سره د خپل بدل نه موصوف من جار رب مجرور مضاف کاف ضمير مضاف اليه مضاف سره د مضاف اليه نه مبدل منه رب مضاف السموات معطوف عليه واؤ عاطفه الارض معطوف اول واؤ عاطفه ماموصوله بين ظرف مضاف هما ضمير مضاف اليه مضاف سره د مضاف اليه نه مفعول فيه شو د فعل محذوف ثبت د پاره ثبت فعل سره د هو

ضمیر فاعل او مفعول فیه نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره صله شوه د ما موصوله موصول صله یو ځائې کیدو سره معطوف ثانی شو، معطوف علیه سره د خپلو دواړو معطوفاتو نه مضاف الیه شو د رب مضاف مضاف سره د خپل مضاف الیه نه بدل اول شو...الرحمن بدل ثانی ‹دا احتمال هم شته چه الرحمن صفت وی د رب السموات د پاره› ربک مبدل منه د خپلو دواړو بدلو سره مجرور دې د پاره د من جاره جار سره د مجرور نه متعلق دې د کائنا کوم چه صفت دې د جزاء موصوف موصوف سره د خپل صفت نه مفعول مطلق دې د فعل محذوف جزی یعنی ﴿ جزاهم الله جزاء ﴾ فعل سره د خپل فاعل او مفعول مطلق نه جمله فعلیه خبریه شوه. لا یملکون منه خطابا لانافیه یملکون فعل ضمیر بارز فاعل منه ار مجرور متعلق د یملکون پورې خطابا مفعول به فغل سره د فاعل او متعلق او مفعول به نه جمله فعلیه خبریه شوه.

تفسیر: ربط: مخکښې د کفارو فجارو د سزا بیان وو اوس د هغوی په مقابله کښې د مومنانو متقیانو د ثواب او د جنت او د انعام تذکره ده.(معارف) پس فرمائی ﴿ ان للمتقین ﴾ یعنی ضروری ده چه متقیانو ته به هلته کامیابی ملاویږی هغوی ته به د عذاب نه خلاصې او هر قسمه انعامات ملاویږی چه په هغې کښې یو څو دا دی:حدائق مقصد دا دې چه د خوراک او د سیل د پاره به هر قسمه باغونه وی اعنابا خصوصا انګور به وی د دې ذکر ئې په خصوصیت سره ځکه اوکړو چه د انګورو ډیرې فائدې دی د خوراک کار هم ورکوی او د دې سورې هم ډیر مزیدار وی بیا به په دې باغ کښې چه یو خوا ته د

خوراک انتظام وی او بل خوا ملګرې نه وی نو بیا هم مزه نه وی نو وې فرمائیل ﴿ وکواعب اترابا ﴾ چه ښکلې جینکئ به وی چه همزولې به وی او د هغوی خاوندان به هم ځوانان وی ځکه انسان خپلو همزولو ته ډیر شوق لری او هم هلته د هغه زړه آزادیږی او خوانه ښځه کله هم د بوډا سړی نه د صحبت مزه نه شی موندلې په دې وجه ئې اترابا اوفرمائیل چه دا جنتیان به هم ځوانان وی چه د هغې په وجه به ئې خوندونه کمال ته رسیدلې وی.(حقانی)

د جینئ عمر به شپاړس کاله او د سړی عمر به درې دیرش کاله وی(روح المعانی) بیا چه دا هر څهٔ وی او په زړه باندې پرده وی او د دې ښځو سره مستی وغیره نه وی نو هم څه مزه نشته په دې وجه ئې اوفرمائیل چه د دې بندوبست به هم کولې شی د شرابو جامونه به روان وی ډکې پیالئ چه د هغې په وجه به په خوشحالئ او سرور کښې هر وخت تازګی پیدا کیږی.

﴿ لا یسمعون فیها لغوا ولا کذابا ﴾ مقصد دا دې چه د شراب سره که هغه خرابیانې پیدا شی کومې چه د دنیا په شرابو کښې پیدا کیږی لکه بې هوشی،د سر درد ،جګړې،بې ځایه خبرې، کنځلې،او دروغ نو دا ټوله مزه به خرابه شی او خوشحالی به د شر باعث اوګرځی د هغه ځائې شراب به د دې خرابیانو نه پاک وی جنتیان به شراب څکلو سره نه بې ځایه خبرې کوی او نه به دروغ وائی او نه به ئې په عقل کښې څه نقصان او کمې راځی بلکه عقل به ئې نور هم صفا کیږی.

﴿ جزآء من ربک عطاء حسابا ﴾ یعنی پورته چه کوم د جنت

د نعمتونو ذکر اوشو هغه د مومنانو د پاره جزا ده د هغوی د رب د طرف نه او لویه ورکړه ده د حسابا دوه معنې کیدیشی:
۱........حسابا کافیا یعنی داسې ورکړه ده چه د هغوی د ضروریاتو د پاره به کافی وافی وی. ۲.........حسابا په معنی د وزن کولو یا مقابله یعنی متقیانو ته به ورکړه د هغوی د اخلاص په حساب کیږی چه څومره ئې اخلاص زیات وی هومره به بدله هم زیاته وی چه څومره اخلاص کم وی هومره به بدله هم کمه وی.لکه په حدیث کښ دی زما صحابی چا چه یو مد د الله په لار کښ ورکړی او بل سړې د احد د غر برابر سرۀ ورکړی برابر کیدې نه شی.

سوال: دې نعمتونو ته ئې ږومبی د عملونو جزا اووې بیا د الله ورکړه په ظاهر کښ په دې دواړو خبرو کښ تعارض دې ځکه چه جزا هغه څیز ته وئیلې شی کوم چه د یو څیز په بدل کښ وی او عطاء هغه ده کوم چه بغیر د څه بدل نه د انعام په طور ورکړې شی؟

جواب: قرآن کریم دا دواړه الفاظ یو ځائې جمع کولو سره دې طرف ته اشاره اوکړه چه جنت ته داخلیدل او د هغې نعمتونه خو د صورت په اعتبار سره صرف د اهل جنت د عملونو جزا ده خو د حقیقت په اعتبار سره هغه خالصه د الله پاک ورکړه ده ځکه چه د انسان عملونه خو د هغه عملونو بدله هم نه شی کیدې کوم چه هغه ته په دنیا کښ ورکړې شوې دی دآخرت د نعمتونوحصول خو صرف د الله پاک فضل او انعام او خالصه ورکړه ده لکه چه د رسول الله ﷺ ارشاد مبارک دې چه هیڅ یو انسان هم د خپل عمل په وجه جنت ته نه شی داخلیدې صحابه کرامو ﷺ عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ تاسو هم؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل او زه هم په خپل عمل سره جنت ته نه شم تلې.(معارف)

﴿ رب السموات والارض ﴾ دا انعام د هغه چا د طرف نه
دي څوک چه د زمکو او آسمانونو او د هغې د دننه څيزونو پالنه
کونکي دي که هر څيز ته غور سره اوکتلې شی نو د هغه د قدرت پته
لګی د اونو پاڼې د زمکې نه خوراک، ګلونه چه ډير زيات ښکلی دی
چه د هغې په نقل کولو کښې لوئې لوئې کاريګر حيران دی. الرحمن....
د دويم صفت بيان ئې اوفرمائيلو چه دا نعمتونه د رحمان ذات د
طرف نه دی چه د هغه د رحمت هيڅ حساب نشته دومره نعمتونه دی
چه د هغې چا ته هم حق نشته. لا يملكون منه خطابا....او څوک هم د
خپل استحقاق د وجې نه هغه ته څه نه شی وئيلې چا ته ئې چه څه هم
ورکړل د هغه فضل دې که چا ته ئې ورنکړل هغه نه شی وئيلې چه ما
ته دې ولې رانکړل؟(حقانی) لا يملكون....د دې جملې تعلق د جـزاء
من ربک سره هم کيدېشی معنی به ئې دا وی چا ته چه څه درجه
ورکړی په هغې کښې به هيڅ څوک خبرې نه شی کولې فلانی ته کم
فلانی ته زيات ولې ورکړې شو؟او که دا خانله جمله اوګنړلې شی نو
مطلب به دا وی چه په محشر کښې به چا ته هم د الله پاک د مرضئ نه
بغير د خبرو کولو اختيار نه وی او دا اجازت به د حشر په بعض
ځايونو کښې وی په بعضو کښې به نه وی.

يَوْمَ يَقُومُ ٱلرُّوحُ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ صَفًّا ۖ لَّا يَتَكَلَّمُونَ إِلَّا مَنْ أَذِنَ
لَهُ ٱلرَّحْمَٰنُ وَقَالَ صَوَابًا ﴿٣٨﴾ ذَٰلِكَ ٱلْيَوْمُ ٱلْحَقُّ ۖ فَمَن شَآءَ ٱتَّخَذَ إِلَىٰ
رَبِّهِۦ مَـَٔابًا ﴿٣٩﴾ إِنَّآ أَنذَرْنَٰكُمْ عَذَابًا قَرِيبًا يَوْمَ يَنظُرُ ٱلْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ

يَدَاهُ وَيَقُولُ ٱلْكَافِرُ يَٰلَيْتَنِى كُنتُ تُرَٰبًا ﴿٤٠﴾

ترجمه: په کومه ورځ چه به اودریږي جبرائیل علیه السلام او ټول ملائک صفونه صفونه نو نه به شي کولې خبرې هیڅ څوک مګر هغه چه رحمن ذات ورته اجازت اوکړي او اووائي کلمه حقه...دا ورځ حقه ده پس چه څوک غواړي نو د خپل رب سره دې د استوګنې ځائې تیار کړي...یقینا تاسو مونږ اویرولئ د نزدې عذاب نه په هغه ورځ چه او به وینی سړې هغه عمل کوم چه د هغه لاسونو مخکښ لیږلي وی او او به وائی کافر کاش چه زه خاورې وې.

حل المفردات: یقوم صیغه د واحد مذکر غائب مضارع معروف په اصل کښ یقوُم وو د باب (ن) په معنی د اودریدلو...الروح مراد ترې جبرائیل علیه السلام دې جمع ئې ارواح راځی.الملائکة په معنی د فرشتو چه جمع ده د دې مفرد ملک راځی.

فائده: ملک د دې جمع ملائک راځی ملک په کسرې د لام سره بادشاه د دې جمع ملوک راځی.ملک(بادشاهی) د دې جمع ممالک راځی.ملک د یو څیز مالک کیدل د دې جمع املاک راځی.صفا مصدر دې د باب(ن) په معنی د صف تړلو.لا یتکلمون صیغه د جمع مذکر غائب مضارع معزوف منفی د باب تفعل نه په معنی د خبرو کولو.اذن صیغه د واحد مذکر غائب ماضی معروف د باب (س) نه په معنی د اجازت ورکولو.صوابا صحیح روغ مصدر دې د باب (ن) نه د غشی په صحیح نخښنه لګیدل.الحق رښتیا یقین الحق الثابت المتحقق (روح المعانی) شاء صیغه د واحد مذکر غائب فعل ماضی په اصل کښ شئ په قانون د قال او شاء سره د باب (ف) په معنی د غوښتلو.اتخذ

صیغه د واحد مذکر غائب فعل ماضی معروف د باب افتعال نه په معنی د جوړولو په اصل کښې ائتخذ وو همزه مو خلاف القیاس په تاء کښې بدله کړه او تاء مو په تاء کښې مدغم کړه اندرنکم صیغه د جمع متکلم ماضی معروف د باب افعال نه په معنی د ویرولو. قریبا صیغه د صفت مشبه د باب(ک) نه په معنی د نزدې کیدلو. ینظر صیغه د واحد مذکر غائب د مضارع معروف د باب (ن) نه په معنی د کتلو. المرء سړې د دې جمع نه رآخی المرءة یا امرءة په معنی د ښځې. قدمت صیغه د واحده مونثه غائبه ماضی معروف د باب تفعیل نه په معنی د وړاندې کولو. یده تثنیه ده نون د تثنیه د اضافت د وجې نه غورځیدلې دې معنی ئې ده دوه لاسونه جمع ئې الایدی راځی. الکافر صیغه د اسم فاعل د الله پاک د نعمتونو ناشکری کونکې جمع ئې کافرون او کفار راځی د باب (ن) په معنی د پټولو.

فائده: ماده د کفر کښې معنی د پټولو وی کافر ته کافر په دې وجه وئیلې شی ځکه چه هغه هم د الله پاک د نعمتونو ناشکری کولو سره هغه پټوی تیرې شپې ته کافر وئیلې شی ځکه چه هغه څیزونه پټ کړی زمیندار ته هم کافر وئیلې شی په دې وجه چه هغه هم دانې په زمکې کښې پټوی سمندر ته هم کافر وئیلې شی ځکه چه هغه هم ډیر څیزونه پټ کړې وی (مصباح اللغات) ترابا جمع د اتربة د باب (س) په معنی د محتاج کیدلو.

حل الترکیب: یوم مضاف یقوم فعل الروح معطوف علیه واؤ عاطفه الملائکة معطوف، معطوف سره د معطوف علیه نه ذوالحال صفا ترې حال د صافین په معنی کیدلو سره حال او ذوالحال یو ځائې

کیدو سره فاعل د فعل د پاره،فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره مضاف الیه د مضاف مضاف سره د مضاف الیه نه مفعول فیه د پاره د ﴿ لا یتکلمون الا من اذن له الرحمن وقال صوابا ﴾ فعل واؤ ضمیر بارز مبدل منه الاحرف استثناء من موصوله اذن فعل لام حرف جاره ضمیر راجع دي په طرف د من مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو په اذن فعل پورې الرحمن فاعل فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره معطوف علیه واؤ عاطفه قال فعل هو ضمیر راجع په طرف د من فاعل صوابا صفت دې د موصوف محذوف چه قولا دې موصوف صفت یو ځائې کیدو سره مفعول مطلق دې د قال فعل فعل سره د خپل فاعل او مفعول مطلق نه جمله فعلیه کیدو سره معطوف،معطوف علیه د معطوف سره یو ځائې کیدو باندې جمله فعلیه خبریه کیدو سره صله شوه د پاره د من موصوله موصول او صله یو ځائې کیدو سره بدل شو د پاره د یتکلمون د ضمیر مبدل منه نه مبدل منه سره د بدل نه فالع شو د پاره د فعل فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه خبریه شوه.

فائده: په لا یتکلمون کښې دوه احتماله دی یا دا جمله مستانفه ده یا د ما قبل الروح والملائکة نه حال دې.﴿ ذلک الیوم الحق فمن شاء اتخذ الی ربه مابا ﴾ ذلک اسم اشاره مبتدا الیوم موصوف الحق ئې صفت موصوف سره د صفت نه خبر شو د مبتدا مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه،فا فصیحیه یا نتیجیه من شرطیه مبتدا شاء فعل هو ضمیر فاعل رضاء الله مضاف مضاف الیه مفعول به محذوف فعل سره د فاعل او مفعول به نه شرط اتخذ فعل هو ضمیر

پکښې فاعل الى حرف جار ربه مضاف مضاف اليه مجرور الى جار او ربه مجرور متعلق شو په مابا مفعول فيه د اتخذ فعل پورې فعل سره د فاعل سره د متعلق او سره د مفعول فيه خپل نه جمله فعليه کيدو سره جزا شوه د پاره د شرط شرط سره د جزا نه خبر دې د پاره د من مبتدا مبتدا او خبر يو ځائې کيدو سره جزا ده د پاره د شرط محذوف چه﴿ اذا كان الامر كذلك ﴾ شرط او جزا يو ځائې کيدو سره جمله شرطيه شوه.

﴿ انا انذرنكم عذابا قريبا ﴾ ان حرف د حروف مشبه بالفعل نا ضمير اسم انذرنا فعل سره د فاعل كم ضمير مفعول به عذابا موصوف قريبا صفت اول.

﴿يوم ينظر المرء ما قدمت يده و يقول الكافر يليتني كنت ترابا ﴾ يوم مضاف ينظر فعل المرء فاعل ما موصوله قدمت فعل يده مركب اضافى كيدو سره فاعل فعل سره د فاعل نه جمله كيدو سره صله شوه د پاره د موصول موصول صله يو ځائې کيدو سره مفعول به شو د پاره د ينظر فعل فعل سره د فاعل او مفعول به سره جمله فعليه خبريه کيدو سره معطوف عليه،واؤ عاطفه يقول فعل الكافر فاعل فعل فاعل يو ځائې کيدو سره قول دپاره د تنبيه........ يا تاسفيه حرف ندا....ليت حرف دې د حروف مشبه بالفعل نه....نون وقايه يا ضمير متكلم د ليت اسم كنت فعل د افعال ناقصه نه تا ضمير بارز ئې اسم ترابا ئې خبركنت سره د خپل اسم او خبر نه خبر شو د پاره د ليت ليت سره د خپل اسم او خبر نه جمله انشائيه کيدو سره مقوله شوه د پاره د قول مقوله او قول يو ځائې کيدو سره جمله

فعلیه خبریه کیدو سره معطوف شو معطوف سره د معطوف علیه نه مضاف الیه شو د پاره د مضاف یوم مضاف مضاف الیه یو ځائې کیدو سره مفعول فیه شو د پاره د ثابتا ثابتا صیغه د صفت اسم فاعل سره د فاعل او مفعول فیه نه صفت ثانی شنوم د پاره د عذابا موصوف سره د دواړو صفتونو مفعول ثانی شو د پاره د انذرنا فعل فعل سره د فاعل او د دواړو مفعول به جمله فعلیه خبریه کیدو سره خبر شو د ان...ان سره د خپل اسم او خبر نه جمله اسمیه خبریه شوه.

تفسیر: په مخکښې آیت کښې ئې اوفرمائیل چه خلق به د الله پاک سره د خبرو کولو همت او طاقت نه لری مخکښې هم د دې تفصیل بیانیږی چه دا به هغه ورځ وی په کومه ورځ چه جبرائیل علیه السلام او نور ملائک د صفونو په شکل اودریږی د الله سبحانه و تعالی د عظمت او هیبت او جلال د وجې نه د هغوی زړونه به رپیږی د غرمې وخت به وی د چا به جرات نه وی چه خبرې اوکړې شی او....که الله پاک چا ته د ... اجازت ورکړی نو هغه به وائی خو د هغه د پاره به هم ضروری وی چه په ادب سره صرف بامقصده او صحیح خبره اوکړی د اخوا دیخوا خبرو کولو اجازت به نه وی.(حقانی)

فائده: د روح نه مراد جبرائیل علیه السلام دې دهغوی مستقل ذکر د هغوی د عظمت او شان د وجې نه دې یا د روح نه مراد د الله پاک عظیم الشان لښکر دې کوم چه د ملائکو نه علاوه دې د هغوی خپې لاسونه دی خو هغوی نه انسانان دی نه ملائک سوا د دې نه چه څو اقوال په سورة القدر کښې راروان دی.

﴿ ذلک الیوم الحق ﴾ په دې آیت کریمه کښې الله پاک د مخکښې

مضمون خلاصه بیان فرمائی چه زمونږ د آیتونو او قدرتونو نه ثابته شوه چه انسان به دوباره ژوندي کولې شی او قیامت به واقع کیږی پس دا د قیامت ورځ برحق او یقینی ده پس کوم سړي چه د تقوی او نیک عملونه کولو سره خپله استوګنه د الله پاک سره جوړول غواړی نو هغه دي داسې اوکړی مونږ تاسو د خپل نزدې عذاب نه خبر کړی ئې عقلمند انسان د لرې مصیبت هم نزدې ګڼړی په دې وجه ئې ورته نزدې اووې اګر چه په حقیقت کښې لرې دې او مرګ خو ډیر نزدې دې کوم چه د هغه ورځې دروازه ده او دا عذاب به هغه ورځ وی په کومه ورځ چه انسانان خپل عملونه خپلو سترګو ته مخامخ وینی یا خو داسې چه د هغه په لاسونو کښې به عمل نامه ورکړې شی یا داسې چه عملونه به د قیامت په ورځ مجسم او متشکل مخامخ راشی لکه چه په بعض روایاتو کښې دی چه د زکواة نه ورکونکی مال به د مار په شکل کښې راځی او د قربانۍ څاروې به په پل صراط باندې سورلی جوړیږی.(معارف پاره نمبر ۱۵) بیا به کافر بیقراره کیدو سره وائی کاش چه زه خاوره وې زما نه حساب نه وې اخستلې شوې عبدالله بن عمر ﷺ فرمائی چه د قیامت په ورځ به ټوله زمکه هواره او برابره کړې شی بیا به په دې کښې انسانان جنات وحشی او پالتو څناور ټول جمع کړې شی که په دنیا کښې یو څناور په بل باندې ظلم کړې وو مثلا د ښکرو والا بیزې بې ښکرو وهلې وه نو د هغې بدله به اخستلې شی کله چه د دې نه فراغت راشی نو الله پاک به ټولو څناورو ته حکم اوکړی چه تاسو ټول خاورې شئ نو هغوی ټول به خاورې شی هغه وخت به کافر خلق غواړی او وائی به چه ﴿ يليتنى كنت ترابا ﴾ بعض فرمائی چه د کافر د دې قول نه مراد دا دې چه کاش زه په دنیا کښې

خاورې شوې وې خپل ځان مې ختم کړې وې.او د بعضو قول دې چه د خاورې نه مراد شیطان دې کوم وخت چه هغه د بنی آدمعلیہ السلام عزت ته اوګوری نو غواړی به چه کاش زه د خاورې نه جوړ وې.(حقانی)

سورة النازعات مکیة

رکوعاتها: ۲	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	آیاتها: ٤٦

وَالنّٰزِعٰتِ غَرْقًا ﴿١﴾ وَّالنّٰشِطٰتِ نَشْطًا ﴿٢﴾

وَّالسّٰبِحٰتِ سَبْحًا ﴿٣﴾ فَالسّٰبِقٰتِ سَبْقًا ﴿٤﴾

ترجمه: قسم دې په هغه ملائکو چه راوباسی روح د کفارو په سختئ سره.....او قسم دې په هغه ملائکو چه راوباسی روح د مومنانو په نرمئ سره.....او قسم په هغه ملائکو چه لامبو وهونکی دی په لامبو وهلو سره......او قسم په هغه ملائکو چه په تندئ انتظام کونکی دی د حکم(چه تاسو به ضرور ژوندی کولې شئ یا بیشکه قیامت راتلونکې دې)

حل المفردات: واؤ قسمیه.النازعات صیغه د جمع مونث سالم اسم فاعل مفرد ئې نازعة راځی په معنی د راخکلو والاد باب (ض) نه په معنی د راخکلو او راویستلو.والنشطت صیغه د جمع سالم اسم فاعل مفرد ئې ناشطة راځی په معنی د غوټه یا بند پرانستونکې د باب(ض) او په سختئ سره راخکل د باب (س) نه ....تروتازه کیدل نشطا د نشطات مصدر دې.والسبحت صیغه د جمع مونث سالم مفرد ده سابحة په معنی د لامبو وهونکی د باب (ف) نه.سبحا د دې

مصدر دي.فالسبقت صيغه د جمع مونث سالم مفرد ئې سابقة دې په معنى د وړاند تلو والاو تيزه منډه وهونكې د باب(ن،ض) وړاندې كيدل.سبقا د دې مصدر دې فالمدبرات جمع مونث سالم مفرد ئې مدبرة دې په معنى دانتظام كونكى د باب تفعيل نه پوره انتظام كول،غوركول او انجام ته سوچ كول.امرا د باب (ن) په معنى دحكم كول.

حل التركيب: والنزعت غرقا واؤ قسميه جاره النازعات صيغه د اسم فاعل په دې كښې هن ضمير مستتر فاعل غرقا مفعول مطلق من غير لفظه اسم فاعل،سره د فاعل او مفعول مطلق نه صفت د دپاره د موصوف محذوف چه الملائكة دې موصوف سره د صفت نه معطوف عليه....والنشطت نشطا واؤ عاطفه النشطت اسم فاعل په دې كښې ضمير مستتر فاعل نشطا مفعول مطلق اسم فاعل سره د فاعل او مفعول مطلق نه صفت دې د پاره د موصوف محذوف الملائكة موصوف سره د صفت نه معطوف اول....والسبحت سبحا واؤ عاطفه السبحت صيغه د اسم فاعل ضمير مستتر ئې فاعل سبحا مفعول مطلق اسم فاعل سره د فاعل او سره د مفعول مطلق نه صفت شو د پاره د موصوف محذوف الملائكة موصوف سره د صفت نه معطوف ثانى.فالسبقت سبقا فا عاطفه السبقت صيغه د اسم فاعل په دې كښې ضمير فاعل سبقا مفعول مطلق اسم فاعل سره د فاعل او مفعول مطلق نه صفت شو د پاره د موصوف محذوف الملائكة د پاره موصوف سره د صفت نه معطوف ثالث.فالمدبرات امرا فا عاطفه المدبرات صيغه د اسم فاعل په دې كښې ضمير فاعل امرا مفعول به يا د مامورات په معنى كښې كيدو سره حال دې اسم فاعل سره د فاعل او مفعول به يا حال نه صفت دې د پاره د موصوف محذوف

الملائکة موصوف صفت یو ځائې کیدو سره معطوف رابع معطوف علیه سره د ټولو معطوفاتو نه مقسم به کیدو سره مجرور شو د پاره د جار چه واؤ قسمیه ده....جار سره د مجرور نه متعلق شو په اقسم فعل محذوف پورې اقسم فعل سره د فاعل او متعلق نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره قسم ﴿ لتبعثن ﴾ یا ﴿ ان القیمة واقعة ﴾ جواب د قسم محذوف دې،قسم د خپل جواب قسم سره جمله انشائیه شوه.

(اوګورئ جلالین والنزعت الملائکة تنزع ارواح الکفار حاشیه نمبر ۱۵ النزعت صفة لموصوف محذوف کما اشار الیه الشارح بقوله الملائکة).

تنبیر: د سورة نوم: مشهور نوم ئې النزعات دې د دې نه علاوه سورة الساهرة او سورة الطامة ورته هم وئیلې شی.

ربط ۱: سورة النباء کښې د اثبات قیامت مع الدلائل او د قیامت د منکرینو د جزا او سزا بیان وو په دې سورة کښې هم دا مضمون بیانیږی.

ربط ۲: سورة النباء کښې د قیامت بیان وو د دې سورة په شروع کښې د قیامت د ابتدائی خبرو یعنی د مرګ بیان دې ځکه چه د مرګ نه د قیامت شروع اوشی په دې وجه اوئیلې شو چه ﴿ من مات فقد قامت قیامته ﴾ او د مرګ د اجمالی کیفیت بیان وو چه دې ناپوهه خلقو ته معلومه شی چه قیامت لرې نه دې بلکه د هغې ابتدائی خبرې او د هغې اسباب یعنی مرګ ډیر نزدې دې هم په دې وجه الله پاک د دې سورة په شروع کښې د ملائکو هغه پنځه صفات ذکر اوفرمائیل چه د هغې تعلق د انسان د مرګ او د روح د ویستلو سره دې او د دې پنځو صفتونو قسم ئې اوخوړلو چه راتلونکې خبره کلکه او پخه شی.او د

ملائکو قسم کیدیشی چه په دې وجه خوړلې شوې وی چه نن دا د عـالم په نظام کښې دخل لری او د قیامت په ورځ چه کله د مـادی اسبابو ټولې ختمې شی. غیر معمولی حالات او واقعات به مخې ته راځی په دې واقعاتو کښې به فرشتې په کار راځی.

﴿ والنزعت غرقا ﴾ قسم دې په هغه ملائکو چه په غوټه وهلو سره روح راوباسی د دې نه هغه ملائک مراد دی کوم چه د کافرانو روح راوباسی چونکه د کافر روح د آخرت د مصیبتونو نه په ویریدو سره د هغه په بدن کښې د پټیدلو کوشش کوی په دې وجه ملائک د هغه په بدن کښې ننوځی او په سختئ سره راخکلو سره د هغه روح راوباسی چه په هغې سره هغه ته سخت تکلیف محسوسیږی د دې تکلیف نه روحانی تکلیف مراد دې ضروری نه ده چه هغه سخته لیدونکو ته محسوس شی ډیر کرته کتلې شی چه د کافر روح په ظاهره کښې په آسانتیا سره اوځی خو دا آسانی زمونږ د لیدوپه اعتبار وی د هغه روح ته چه کوم تکلیف وی د الله پاک نه سوا چا ته هم نه دې معلوم د دې تکلیف نه مراد روحانی سختی او تکلیف دې چه هغه مونږ نه شو لیدلې.

﴿ والنشطت نشطا ﴾ قسم دې په هغه ملائکو کومې چه غوټه پرانستونکی دی.د دې نه مراد هغه ملائک دی کومې چه د مومن روح اوباسی مقصد دا دې چه ملائک د مومن روح په آسانتیا او ډیر سهولت سره قبض کوی سختی نه کوی ځکه چه د مومن د روح مخې ته د برزخ ثوابونه او نعمتونه وی په دې وجه زر د هغې طرف ته وتل غواړی ځنګه چه هواو په یو ځیز کښې بنده وی یا اوبه په یو ځیز کښې

بندې وی پورته سر او بند پرانستلې شی نو هغه په ډیرې آسانتیا سره اوخی هم دغه شان د مومن روخ اوخی دلته هم د آسانتیا نه مراد روحانی آسانتیا ده په ظاهره کله کله مرګ مومن ته په سختئ سره راخی خو هغه ته روحانی سکون او اطمینان وی.

﴿ والسبحت سبحا ﴾ قسم په هغه ملائکو چه کومې لامبو وهونکی دی د دې نه مراد هغه ملائک دی کومې چه د کفارو او مومنانو د روح د قبض کولو نه پس هغه د آسمان په طرف اوړی ګویا هغوی لامبو وهونکی دی لکه یو سړې په دریاب کښې لامبو وهی نو د هغه مخې ته نه څۀ پرده وی نه غر په آسانتیا سره منزل مقصود ته اورسی هم دغه شان ملائک هم په تیزئ او آسانتیا سره منزل مقصود ته رسی.

﴿ فالمدبرات امر ﴾ د ملائکو آخری کار دا وی چه د الله پاک د حکم انتظام کوی کوم روح ته چه آرام ورکول وی د راحت اسباب ورکوی کوم روح ته چه تکلیف ورکول وی ملائک د هغه د پاره د عذاب د اسبابو انتظام کوی.(معارف)

فائده: د بعضو مفسرینو قول دې چه د نازعات نه ستوری مراد دی مقصد به هغه ستوری وی کومې چه خپل ځان راکاږی په ډوبیدو سره به اشاره وی د قدرت طرف ته چه کوم ذات ستورو لره د ډوبیدو نه پس دوباره روښانه او راخیژولې شی هغه تاسو هم دوباره ژوندی کولې شی او د ناشطات نه مراد به هم ستوری وی معنی به دا وی چه کوم ستوری تلونکی دی السابحات مقصد به دا وی هغه ستوری کوم چه په خپله دائره کښې لامبو وهونکی دی فالسبقت مقصد به دا

وی هغه ستوری کوم چه د یو بل نه مخکښ کیدونکی دی
فالمدبرات دا د ملائکو صفت دي د ستورو نه(مظهری اردو)

سوال: د غیر الله قسم خوراک خو جائز نه دي الله پاک دلته په خپله د غیر الله قسم خوړلي دي د دي څه وجه ده؟

جواب: (۱) دا حکم د مخلوق د پاره دي خپله د الله پاک ذات د څه حکم او قانون پابند نه دي مخلوق ئي د غیر الله د قسم خوړلو نه په دي وجه منع کړل چه چرته د قسم خوړلو والا هغه څيز داسي لوئي او نه ګنړی لکه څنګه چه الله پاک لوئي ګنړی او په الله کښ دا احتمال نشته چه هغه یو مخلوق لوئي اوګنړی.(۲)دلته مضاف محذوف دي اصل عبارت داسي دي ﴿رب النزعت﴾ د روح راخکونکو فرشتو په رب قسم نو دا د غیر الله قسم نه شو.

د قبر د ثواب او عذاب ثبوت: (۱) د فرعونیانو په باره کښ ئي ﴿النار یعرضون علیها غدوا و عشیا﴾ فرمائیلي دي.(۲) د دي آیتونو نه د ملائکو روح قبض کول انتظام د جنت او جهنم کول وغیره نه د عذاب او ثواب رسول ثابت شو.دا ثواب او عذاب د قبر به په برزخ کښ وی د حشر ثواب او عذاب د دي نه پس دي په احادیث صحیحه کښ ئي تفصیل ذکر دي.

يَوْمَ تَرْجُفُ ٱلرَّاجِفَةُ ﴿٦﴾ تَتْبَعُهَا ٱلرَّادِفَةُ ﴿٧﴾ قُلُوبٌ يَوْمَئِذٍ
وَاجِفَةٌ ﴿٨﴾ أَبْصَٰرُهَا خَٰشِعَةٌ ﴿٩﴾ يَقُولُونَ أَءِنَّا لَمَرْدُودُونَ فِي ٱلْحَافِرَةِ
﴿١٠﴾ أَءِذَا كُنَّا عِظَٰمًا نَّخِرَةً ﴿١١﴾ قَالُواْ تِلْكَ إِذًا كَرَّةٌ خَاسِرَةٌ ﴿١٢﴾ فَإِنَّمَا هِيَ
زَجْرَةٌ وَٰحِدَةٌ ﴿١٣﴾ فَإِذَا هُم بِٱلسَّاهِرَةِ ﴿١٤﴾

ترجمه: په کومه ورځ چه اورپیږي رپیدونکې.....راځی به هغې پسې روستو راتلونکې.....څومره زړونه به هغه ورځ درزیږي..... سترګې به ئې ښکته وي......دا کفار وائي آیا مونږ به واپس کولې شو په رومبی حالت کښې پس له دې چه مونږ به زاړهٔ هډوکی شو (یعنی دوباره به ژوندی کولې شو؟) اووئیل هغوی دا واپس کیدل خو دی د نقصان والا.....پس هغه خو یو چغه ده پس ناځاپه به هغوی په میدان کښې وي.

حل المفردات: ترجف صیغه د واحد مونث غائب مضارع معروف د باب(ن) رپیدل، الراجفة اسم فاعل واحد مونث اسم فاعل واحده مونثه معنی رپیدلو والا مراد ترې نفخه اولی ده.تتبعها صیغه د واحد مونث غائبه مضارع معروف د باب(س) روستو راتلل تابع ته نحویانو په دې وجه تابع اووې چه ځکه چه هغه په متبوع پسې روستو راځی تابع نوکر ته وئیلې شی ځکه هغه به مالک پسې روستو ځی. الرادفة صیغه د واحد مونثه اسم فاعل په معنی د روستو راتلونکی مراد ترې نفخه ثانیه ده د باب(ن،س) په معنی د روستو کیدلو یا روستو سوریدلو د سورلئ والانه روستو ناست ته ردیف وائی.قلوب جمع ده مفرد ئې قلب دې معنی ئې زړه د باب (ض) اوختل راوختل. زړه ته په دې وجه قلب وائی چه دا التیه دې پورته طرف ته زوړند دې.هر وخت اوړی راوړی په یو حال باندې نه وي.واجفة صیغه د واحد مونث اسم فاعل په معنی د حرکت والاد باب (ض) د زړه حرکت کول.ابصار جمع ده د بصر په معنی د سترګې.خاشعة صیغه د واحده مونثه اسم فاعل په معنی د ښکته کیدو والاد باب(ف)عاجزی کول ښکته کیدل.لمردودون صیغه د جمع مذکر سالم اسم مفعول په معنی

د واپس کولې به شي د باب(ن) واپس کول.الحافرة صيغه د واحده مونثه اسم فاعل معنی رومبي حالت د باب(ض) په معنی د کنده کنستل.عظاما جمع ده مفرد ئې عظم دې په معنی د هډوکی.نخرة په معنی د رژيدلو ذره ذره....د باب(س) رژيدل ذره ذره کيدل.کرة واپس کيدل د باب(ن) واپس کيدل.خاسرة صيغه د واحده مونثه اسم فاعل د باب(س) نقصان اوچتول.زجرة معنی هيبت ناک آواز د باب(ن) په معنی د رټلو.الساهرة معنی ئې هواره زمکه ده د ميدان نه مراد د قيامت ميدان دې د باب (س) بيداريدل د قيامت په ورځ د سختې ويرې د وجې نه د سړی خوب ختم شی هغه به بيدار وی په دې وجه د محشر د ميدان نوم الساهرة کيخودلې شو.

حل الترکيب: يوم مضاف ترجف فعل الراجفة ذوالحال.تتبعها الرادفة...تتبع فعل ها ضمير راجع دې په طرف د الراجفة هغه مفعول به الرادفة فاعل فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعليه خبريه کيدو سره حال شو د پاره د الراجفة نه ذوالحال سره د حال نه فاعل شوفعل سره دفاعل نه جمله فعليه خبريه کيدوسره مضاف اليه د يوم مضاف....مضاف سره د مضاف اليه نه مفعول فيه کيدو سره جواب د قسم د پاره د ﴿ لتبعثن ﴾ يا د ﴿ اذكر ﴾ فعل محذوف د پاره.

﴿ قلوب يومئذ واجفة.........ابصارها خاشعة ﴾ د دې دوه ترکيبونه کيديشی: (۱)قلوب موصوف يومئذ اصل کښ يوم اذ کان کذا يوم مضاف اذ مضاف اليه کان فعل ناقص هو د هغې اسم کذا ئې خبر کان د خپل اسم او خبر سره جمله فعليه کيدو سره مضاف اليه دې د اذ ظرف مضاف د پاره مضاف سره د مضاف اليه نه بيا

مضاف الیـه دي د پاره د یـوم مـضاف مـضاف سره د مـضاف الیـه نـه مفعـول فیـه مقـدم سـره یـو ځـائي کیـدو بانـدي صـفت شـو د پـاره د موصـوف موصـوف سـره د صـفت نـه مبتـدا شـوه.ابـصار مـضاف هـا ضمیر مضاف الیه مضاف سره د مـضاف الیـه نـه مبتـدا خاشـعة خبـر مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه کیدو سره بیا خبر دي د قلـوب د پاره مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه شوه.(۲)قلوب مبتـدا یـو مئـذ پـه مخـکښې ترکیـب سـره مفعـول فیـه د واجفـة د پـاره واجفـة خبرمبتـدا او خبـر یـو ځـآئي کیـدلو سـره جملـه اسـمیه خبریـه شـوه. ابصارها مضاف مضاف الیه یو ځائي کیدلوسره مبتـدا خاشـعة خبـر مبتدا سره د خبر جمله اسمیه خبریه شوه.یقولون فعـل واؤضـمیر بـارز چه راجع دي د کفارو په طرف فاعل فعل سره د فاعـل نـه قـول همـزه د پـاره د اسـتفهام ان حـرف دحـروف مـشبه بالفعـل نـا ضـمیر د هغـي لمردودون صیغه د اسم مفعول سره خپل فاعل ضـمیر او فـی الحـافرة متعلق سره یو ځائي کیدلو باندي د هغي خبر ان د سره د خپل اسم او خبر جمله انشائیه کیدو سره مقوله شوه د اول قول.

﴿ اذا کنا عظاما نخرة ﴾ همزه دپاره د استفهام انکاری اذا ظرف مضاف الیه کن فعل ناقص نا ضمیر ئي اسم عظامـا موصـوف نخرة ئي صفت موصوف سره د صفت خبر شو د کن....کن سره د خپـل اسـم او خبـر نـه جملـه فعلیـه کیـدو سـره مـضاف الیـه د اذا مـضاف، مضاف سره د مضاف الیه نه مفعول فیه دي د فعل نـرد محـذوف نـرد سره د فعـل او فاعـل نـه جملـه فعلیـه انـشائیه کیـدو سـره مقولـه ثـانی شوه...قول سره د خپلو دوارو مقولو نـه جملـه فعلیـه خبریـه خبـر شـو د

پاره د مبتدا محذوف هم چه په اصل کښ هم يقولون وو مبتدا سره د
خبر نه جمله اسميه خبريه.

﴿ قالو تلک اذا کرة خاسرة ﴾ قالوا فعل واؤ ضمير فاعل
فعل سره د فاعل نه قول تلک اسم اشاره مبتدا په اذا باندې تنوين د
﴿ کان الامر کذلک ﴾ په عوض کښ دې اذا ظرف مضاف کان فعل
ناقص الامر اسم کذلک خبر کان سره د خپل اسم او خبر نه جمله
فعليه کيدو سره مضاف اليه د اذا د پاره مضاف سره د مضاف اليه
نه مفعول فيه دې د اشير فعل د پاره کوم چه د تلک اسم اشاره نه
فهميږی کرة موصوف خاسرة صفت موصوف سره د صفت نه خبر شو
د پاره د مبتداء مبتداء سره د خبر نه جمله اسميه خبريه کيدو سره
مقوله شوه د پاره د قول قول سره د مقولې نه جمله فعليه خبريه شوه.

فائده: اذا کرة کښ اذا حرف جواب او جزا غير عامله هم
کيديشی په دې صورت کښ د هغې ذکر صرف د تاکيد د پاره
وی.(اعراب القران ص ٣٦٤)

﴿ فانما هي زجرة واحدة ﴾ فا تفريعيه يا تعليليه انما کافه
هی ضمير راجع په طرف د کرة مبتدا زجرة موصوف واحدة ئې صفت
موصوف سره د صفت نه خبر شو د پاره د مبتدا مبتداء سره د خبر نه
جمله اسميه خبريه شوه.

﴿ فاذا هم بالساهرة ﴾ فا فصيحيه(اعراب القران٣٦٨)اذا
مفاجاتيه هم ضمير د مبتدا با جاره الساهرة مجرور جار سره د
مجرور نه متعلق شو د موجودون پورې مبتداء سره د خبر نه جزاء
شوه د پاره د شرط محذوف ﴿ اذا نفخت ﴾ شرط سره د جزا نه جمله

شرطیه شوه.

تفسیر:ربط په مخکښې آیتونو کښې د قیامت د ابتدائی خبرو بیان وو اوس د نفس قیامت او د احوالو بیان دې.

﴿یوم ترجف الراجفة﴾:مقصد دا دې چه یو ورځ به ضرور راځی چه خوزونکې څیز به هر څیز(زمکه غرونه اونې وغیره) اوخوزوی د دې نه اوله نفخه مراد ده هغه وخت به دا حالت وی چه هر څیز به اوېرېږی او آخر به تباه او فنا شی.

﴿ تتبعها رادفة ﴾ بیا به د دې نفخه اولی نه پس بل یو څیز راځی د دې نه نفخه ثانیه مراد ده کومه چه به د نفخه اولی نه څلویښت کاله پس راځی چه د هغې په وجه به ټول انسانان او حیوانات دوباره ژوندی کړې شی او نیغ به د الله پاک په عدالت کښې حاضرېږی.(حقانی)

فائده: د دواړو شپیلو ترمینځه به د څلویښتو کالو فاصله به وی.(۱)حقانی(۲)تفسیر ابن عباس ص ۳۸۰ (۳)تفسیر خازن ص ۳۵۰ ج ٤ (٤)تفسیر رازی ص ٤٥۳ ج ۸ (۵) روح المعانی ص ۲۶ ج ۳۰)

﴿ قلوب یومئذ واجفة....ابصارها خاشعة ﴾ چه کله حاضری اوشی نو د هغوی حالت به دا وی چه د الله پاک د جلال او غضب او د دوزخ د عذاب د وېرې نه به د هغوی زړونه درزېږی او د شرم او د پښیمانتیا د وجې نه به ئې سترګې ښکته وی لکه څنګه چه کله یو مجرم په عدالت کښې پیش کولې شی نو د هغه سترګې ښکته وی.

﴿ یقولون ءانا لمردودون فی الحافرة.......ءاذا کنا عظاما نخرة......قالوا تلک اذا کرة خاسرة ﴾ مقصد دا دې چه د قیامت

په ورځ خو به د هغه کفارو حال دا وی خو په دنیا کښې د هغوی د تکبر او غرور دا حال دې چه کله هغوی ته د قیامت خبر ورکولې شی نو هغوی د ټوقو په وجه وائی چه آیا کله چه مونږ زاړهٔ هډوکی شو او ذره ذره شو نو ړومبی حالت ته به بیا واپس کولې شو دا د هغوی په ناقص عقل کښې ګرانه خبره وه په دې وجه ئې د الله پاک د قدرت نه خارج ګڼړله او وئیل به ئې که داسې اوشو نو بیا خو به مونږ ډیر نقصان اوچت کړو خکه مونږ خو د هغې د پاره هیڅ تیارې نه دې کړې دا خبرې به کفارو د ټوقو په طور کولې او وئیل به ئې چه دا بالکل ګرانه او ناممکنه ده.

یو تفسیر دا کړې شوې دې چه د خاسرة مطلب دا دې چه هغه ژوند به د نقصان وی یعنی دومره موده پس یو اندام یو ځائې بل اندام بل ځائې یعنی انسان به کامل الاعضاء نه وی بلکه څه اندامونه به کم وی د چا به ګوتې نه وی د چا به سترګې نه وی وغیره.(حقانی)

﴿ فانما هي زجرة واحدة.........فاذا هم بالساهرة ﴾ د دې ځائې نه الله پاک د کفارو د مخکښې فضول خبرې جواب ورکوی چه زمونږ د پاره دوباره ژوندی کول هیڅ ګران او ناممکن نه دی صرف یوه چغه به اوخی (نفخه ثانیه ترې مراد ده) او فورا به د بدن اندامونه راجمع شی بدن به تیار شی هغه وخت به د روحونو تعلق د بدنونو سره پیدا شی نو ژوندی به اودریږی لکه چه اودهٔ راپاسولې شوې وی او خپله به د الله پاک په دربار کښې د حساب او کتاب د پاره جمع شی.(حقانی)

هَلْ أَتَىٰكَ حَدِيثُ مُوسَىٰٓ ﴿١٥﴾ إِذْ نَادَىٰهُ رَبُّهُۥ بِٱلْوَادِ ٱلْمُقَدَّسِ طُوًى ﴿١٦﴾ ٱذْهَبْ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ إِنَّهُۥ طَغَىٰ ﴿١٧﴾ فَقُلْ هَل لَّكَ إِلَىٰٓ أَن تَزَكَّىٰ ﴿١٨﴾ وَأَهْدِيَكَ إِلَىٰ رَبِّكَ فَتَخْشَىٰ ﴿١٩﴾ فَأَرَىٰهُ ٱلْءَايَةَ ٱلْكُبْرَىٰ ﴿٢٠﴾ فَكَذَّبَ وَعَصَىٰ ﴿٢١﴾ ثُمَّ أَدْبَرَ يَسْعَىٰ ﴿٢٢﴾ فَحَشَرَ فَنَادَىٰ ﴿٢٣﴾ فَقَالَ أَنَا۠ رَبُّكُمُ ٱلْأَعْلَىٰ ﴿٢٤﴾ فَأَخَذَهُ ٱللَّهُ نَكَالَ ٱلْءَاخِرَةِ وَٱلْأُولَىٰٓ ﴿٢٥﴾ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّمَن يَخْشَىٰٓ ﴿٢٦﴾

ترجمه: آیا راغلې دې تا ته خبر د حال د موسی علیه السلام ....کله چه آواز اوکړو هغه ته رب د هغه په پاک میدان طوی کښې...لاړ شه فرعون ته بیشکه هغه سرکشه شوی دی....پس اووایه هغه ته آیا ته پاکیدل غواړې(د کفر او شرک نه).....او ښودنه اوکړم تا ته ستا د رب په طرف چه ته اوویریږې.....پس هغه ته ئې لویه نخښه(معجزه) اوښودله .....پس هغه تکذیب اوکړو او نافرمانی ئې اوکړه....بیا ئې شا کړه او په تیزئ لاړو.....پس خلق ئې راجمع کړل او آواز ئې اوکړو.....پس وې وئیل زه ستاسو لوئې رب یم....پس اونیولو الله پاک هغه په عذاب د آخرت او دنیا دواړو کښې.....بیشکه په دې کښې عبرت دې د هغه چا د پاره چه ویریږدی(د الله پاک د عذاب نه).

حل المفردات: اتک اتی صیغه د واحد مذکر غائب د باب(ض) په معنی د راتلو....حدیث صفت مشبه په معنی د قصې یا خبر یا خبرې....نادی صیغه د واحد مذکر غائب ماضی معروف په اصل

کښې نادیَ وو په قانون د قال سره نادی شو د باب مفاعله نه په معنی د آواز کولو راغوښتلو...بالواد وادی د غرونو یا د یرکو ترمینځه ښکته ځائې د دې جمع اودیة راځی د باب (ض) نه په معنی د ه بهیدل....المقدس صیغه د اسم مفعول د باب تفعیل نه(تفعیل) په معنی د مبارک کیدل.طوی د هغه وادئ نوم کوم چه په کوه طور کښې واقع دې.اذهب.....امر حاضر معلوم د باب(ف) نه په معنی د تلو....فرعون د مصر مشهور ظالم بادشاه د هغه نوم ولید بن مصعب بن ریان وو او د هغه عمر د څلور سوه (۴۰۰) کالو نه زیات وو.(معالم التنزیل سورة البقرة ع ۶) طغی په اصل کښې طغیَ وو د قال قانون سره طغی شو.صیغه د واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم د باب (ف) نه په معنی د سرکشي کولو د حد نه تیریدل....تزکی.....په اصل کښې تتزکی وو په قانون د تاء مضارعت یو تا حذف کړې شوه د باب تفعل نه په معنی نه دصحیح کیدل،پاکیدل.....اهدیک صیغه د واحد متکلم مضارع معلوم د باب(ض) په معنی د رهنمائی کولو.فتخشی واحد مذکر مخاطب بحث مضارع معلوم د باب (س) ویریدل په اصل کښې تخشیُ وو د قال قانون مطابق تخشی شو....فاراه...صیغه د واحد مذکر غائب ماضی معروف د باب افعال نه په معنی د ښودلو په اصل کښې أرأيُ وو د همزه حرکت نقل کولو سره ماقبل را ته ورکولو سره همزه اوغورزولې شوه په قانون د یسال اَرَیَ شو بیا د قال په قانون سره اری شو.الکبری اسم تفعیل واحده مونثه...فکذب واحد مذکر غائب د باب (تفعیل) په معنی د تکذیب کولو.وعصی په اصل کښې عَصَیَ وو(د قال والا قانون) واحد مذکر غائب ماضی معروف د باب (ض) نافرمانی کول خبره نه منل...ادبر واحد مذکر

غائب ماضي معروف د باب (افعال) په معنی د شاکولو. يسعی واحد مذکر غائب مضارع معروف په اصل کښې يسعیُ وو د باب(ف) کوشش کول. فحشر واحد مذکر غائب ماضي معروف د باب (ن،ض) جمع کول. الاعلی په اصل کښې اعلیٌ وو واحد مذکر اسم تفضيل فاخذه واحد مذکر غائب ماضي معروف د باب (ن) تړل.....نکال... عبرتناکه سزا ورکول د باب (ن) الاخرة واحده مونثه اسم فاعل روستو راتلونکي الاولی واحده مونثه اسم تفضيل...

حل التركيب: ﴿ هل اتک حديث موسی ﴾:هل استفهاميه يا په معنی د قد اتی فعل ک ضمير مفعول به حديث مضاف موسی مضاف اليه مضاف سره د مضاف اليه نه فاعل د پاره د فعل چه اتی دي. فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعليه انشائيه شوه.

﴿ اذ ناداه ربه بالواد المقدس طوی ﴾: اذ ظرفيه مضاف نادی فعل ه ضمير مفعول به رب مرکب اضافي فاعل بالواد با جاره الواد موصوف المقدس صفت موصوف سره د صفت نه مبدل منه او طوی بدل،مبدل منه سره د بدل مجرو د جار جار سره د مجرور نه متعلق شو په نادی فعل پوري فعل سره د فاعل او سره مفعول به او متعلق سره جمله فعليه خبريه کيدو سره مضاف اليه د اذ مضاف مضاف سره د مضاف اليه نه مفعول فيه دي د پاره د حديث(اعراب القران ص ۳۶۶) يا د اذکر محذوف.

﴿ اذهب الی فرعون انه طغی......فقل هل لک الی ان تزکی......واهديک الی ربک فتخشی ﴾ اذهب فعل انت ضمير فاعل الی فرعون جار مجرور يو ځائي کيدو سره متعلق شو په اذهب

فعل پوري فعل سره د فاعل او سره د متعلق نه جمله انشائيه كيدو سره معلل ان حرف د حروف مشبه بالفعل ه ضمير د ان اسم طغى فعل هو ضمير چه راجع دي په طرف د فرعون فاعل فعل سره د فاعل نه جمله فعليه خبريه كيدو سره خبر شو د پاره د ان .....ان سره د خپل اسم او خبر نه جمله اسميه كيدو سره تعليل شو د پاره د معلل معلل سره د خپل تعليل نه معطوف عليه فاء عاطفه قل فعل انت ضمير فاعل هل استفهاميه لام جار كاف مجرور متعلق شو په ثابت پوري نودا خبر مقدم شو رغبة مبتدا موخر محذوف الى حرف جار ان مصدريه تزكى فعل مضارع معروف انت ضمير فاعل فعل سره د فاعل نه معطوف عليه واو عاطفه اهدى فعل سره د فاعل كاف ضمير مفعول به الى جار ربك مركب اضافي مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو په اهدى پوري فعل سره د فاعل نه معطوف عليه فا عاطفه تخشى فعل سره د فاعل فعل سره د فاعل نه جمله فعليه خبريه كيدو سره معطوف معطوف عليه سره د معطوف نه جمله فعليه خبريه كيدو سره بيا معطوف شو د تزكى د پاره معطوف عليه سره د معطوف نه مجرور شو د جار چه الى دي جار سره د مجرور نه متعلق شو په رغبة پوري چه مبتدا موخره ده مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه انشائيه كيدو سره مقوله شوه د قول د پاره قول سره د مقولې نه جمله انشائيه كيدو سره معطوف،معطوف عليه سره د معطوف نه مقوله شوه د قال محذوف د پاره اصل عبارت داسې دي:﴿ فقال اذهب الى فرعــون ﴾ قول سره د خپلې مقولې نه جمله فعليه خبريه شوه.

﴿ فاراه الایة الکبری ﴾ فا عاطفه اری فعل هو ضمیر پکښې مستتر هغه ئې فاعل چه راجع دې په طرف د موسی علیه السلام ه ضمیر مفعول به الایة موصوف الکبری صفت موصوف سره د صفت نه مفعول به شو د پاره د اری فعل فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره معطوف علیه.

﴿ فکذب و عصی ﴾: فا عاطفه کذب فعل هو ضمیر چه راجع دې په طرف د فرعون فاعل فعل سره د فاعل نه معطوف اول واؤ عاطفه عصی فعل هو ضمیر فاعل فعل سره د فاعل نه معطوف ثانی.

﴿ ثم ادبر یسعی ﴾: ثم عاطفه ادبر فعل هو ضمیر پکښې مستتر ذوالحال یسعی فعل هو ضمیر راجع په طرف د فرعون فاعل فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره حال شو د ذوالحال نه حال سره د ذوالحال نه فاعل شو د ادبر فعل د پاره فعل سره د فاعل یو ځائې کیدو سره جمله فعلیه خبریه معطوف ثالث.... ﴿فحشر فنادی ﴾: فا عاطفه حشر فعل هو ضمیر فاعل فعل د خپل فاعل سره جمله فعلیه خبریه کیدو سره معطوف رابع فا عاطفه نادی فعل هو ضمیر فاعل فعل سره د خپل فاعل نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره معطوف خامس.

﴿ فقال انا ربکم الاعلی فاخذه الله نکال الاخرة والاولی ﴾: فا عاطفه قال فعل هو ضمیر فاعل فعل سره د فاعل جمله فعلیه خبریه کیدو سره قول شو انا مبتدا ربکم مرکب اضافی موصوف الاعلی ئې صفت موصوف سره د صفت نه خبر شو د پاره د مبتدا مبتدا سره د خبر نه جمله خبریه کیدو سره مقوله شوه د پاهر د قول

قول سره د خپلې مقولې نه جمله فعليه خبريه كيدو سره معطوف سادس فا عاطفه اخذ فعل هو ضمير مفعول به لفظ الله فاعل نكال مضاف الاخرة مضاف اليه معطوف عليه واؤ عاطفه الاولى معطوف له دې د پاره د اخذ يا مفعول مطلق دې په دې صورت كښې به اخذ هم په معنى د نكل وى اخذ فعل سره د فاعل او مفعول به او مفعول له يا مفعول مطلق نه جمله فعليه خبريه كيدو سره معطوف سابع معطوف عليه سره د ټولو معطوفاتو نه جمله معطوفه شوه.

﴿ ان فى ذلك لعبرة لمـن يخـشى ﴾ ان حرف د حروف مشبه بالفعل فى جار ذلك اسم شاره محلا جار سره د مجرور نه خبر مقدم د پاره د ان لام تاكيديه عبرة اسم موخر لام جاره من موصوله يخشى فعل هو ضمير چه راجع دې په طرف د من هغه فاعل فعل سره د فاعل نه جمله فعليه خبريه كيدو سره صله د موصول چه من دې موصول سره د صلې نه مجرور شو د جار چه لام دې جار سره د مجرور نه متعلق شو په عبرة پورې كوم چه اسم موخر دې ان د خپل اسم او خبر سره جمله اسميه خبريه شوه.

تفسير: ربط: په مخكښې آيتونو كښې د كفارو د تكذيب او د انكار بيان وو چه د هغې په وجه رسول الله ﷺ ته سخت د زړه تكليف رسيدلې وو رسول الله ﷺ به خفه كيدو چه كفار ولې تكذيب كوى الله پاك ورته د خپل جليل القدر نبى موسى كليم الله عليه السلام قصه ذكر فرمائيلو سره تسلى وركوى چه تكذيب او انكار صرف ستاسو نه نۀ دې شوې بلكه هر نبى عليه السلام سره داسې معامله شوې ده د هغه تكذيب كړې شوې دې هغه ته تكليف وركړې شوې دې په دې وجه تاسو پريشانه

کیږئ مه پس ارشاد ئې اوفرمائیلو چه آیا تاسو ته د موسی علیہ السلام قصه نه ده رارسیدلې چه د هغې بیان څه داسې دې ﴿ اذ ناداه ربه بالواد المقدس طوى ﴾ چه کله موسی علیہ السلام ته په یو پاک میدان کښې الله پاک آواز اوکړو پوره تفصیل په سورة طه کښې دې.څه تفصیل ئې داسې دې چه په مصر کښې یو بادشاه فرعون اوسیدلو ډیر ظالم او جابر وو خپل ځان ته به ئې خدائې وئیلو د بنی اسرائیلو نه ئې خپل غلامان جوړ کړې وو نجومیانو هغه ته خبر ورکړو چه نزدې به په بنی اسرائیلو کښې یو هلک پیدا کیږی چه ستا د هلاکت سبب به جوړیږی فرعون حکم ورکړو چه کوم ماشوم هم پیدا شی هغه دې ذبح کړې شی په دې دوران کښې موسی علیہ السلام پیدا شو مور ئې د فرعون د قتل کولو د ویرې نه د الله پاک په حکم هغه په صندوق کښې بندولو سره د نیل دریاب چپو ته حواله کړو.د موسی علیہ السلام خور ته ئې اووې چه صندوق ته ګوره کوم خوا ځی په بهیدلو بهیدلو هغه د فرعون محل ته اورسیدلو.د هغه لور یا نوکرې اولیدو نو ئې نیولو چه وې کتلو نو څه ګوری چه یو ښکلې ماشوم پکښې دې ډیره خوشحاله شوه د فرعون په کور کښې ځوئې نه وو د هغه ښځې آسیه هغه خپل ځوئې جوړ کړو موسی علیہ السلام د خپلې مور د پیو نه پس د فرعون په کور کښې ډیر په ناز باندې پالنه بیا مونده ځوان شو یو ورځ واقعه داسې اوشوه چه هغوی ښهر ته لاړل هلته دوه کسان په جهګړه وو یو د موسی علیہ السلام د قوم وو او بل د فرعون د قوم بنی اسرائیلی د موسی علیہ السلام نه مدد اوغوښتلو هغه رومبی خو فرعونی په ژبې سره منع کړو خو هغه منع نه شو نو موسی علیہ السلام هغه ته مُوکه ورکړه نو هغه مړ شو موسی علیہ السلام د

یو بنی اسرائیلي په مشوره (چه هغه ته د فرعون د شورئ پته لګیدلې وه) د ویرې نه مصر نه مدین ته لاړو. هلته یو کوهی ته اورسیدلو خلقو خپلو ګډو بیزو ته اوبه ورکولې نږدې دوه جینکو خپل کنډک اودرولې وو موسی علیه السلام ته هغوی نه تپوس اوکړو تاسو خپلو بیزو ته اوبه ولې نه ورکوئ؟ هغوی اووې مونږ زنانه یو سړی چه کله لاړ شی بیا به مونږ خپلو بیزو ته اوبه ورکوو موسی علیه السلام په هغوی باندې رحم کولو سره د هغوی بیزو ته اوبه ورکړې جینکۍ واپس لاړې او خپل پلار ته شعیب علیه السلام ته ئې د دې ځوان د خدمت په باره کښې اووې شعیب علیه السلام خپله لور لیږلو سره موسی علیه السلام راوغوښتلو موسی علیه السلام د دوډۍ خوراک نه پس ټوله قصه بیان کړه شعیب علیه السلام ما ته تسلی راکړه او د خپلې لور نکاح ئې د هغوی سره اوکړه خو دا شرط ئې کیخودلو چه اتۀ کاله به ته هم زما سره اوسیږې که لس کاله پاتې شوې نو دا به ستا په خوشحالۍ باندې موقوف وی موسی علیه السلام دا موده پوره کولو سره د شعیب علیه السلام نه اجازت طلب کړو چه اوس زه خپل وطن مصر ته تلل غواړم اته لس کاله شوی دی د خلقو نه به د مرګ قصه هیره شوې وی نو اجازت اخستلو سره سره د خپل کور والا هغوی واپس تشریف راوړلو سخته یخنۍ وه د شپې وخت وو کله چه کوه طور ته راورسیدل نو لار ترې هیره شوه بچی ئې هلته ایسار کړل او وې وئیل چه مخامخ اور ښکاری زه هلته ځم. اور راوړم یا به د لار تپوس اوکړم. هلته چه راورسیدل نو حیران شو چه هغه اور نه وو بلکه یو تجلی وه او د الله پاک نور وو چه یو اونه ئې ګیره کړې وه د هغې نه آواز راغلو: ﴿یموسی انی انا الله﴾ بیا الله پاک اوفرمائیل موسی علیه السلام ستا په لاس کښې څه دی جواب ئې ورکړو همسا ده وې فرمائیل دا په

زمکې اوغورځوه. موسی علیه السلام ویشتله نو مار ترې جوړ شو. موسی علیه السلام د ویرې نه اوتختیدلو وې فرمائیل دا راونیسه نو دا بـه دوبـاره لرګې شي او وې فرمائیـل خپـل ښـې لاس پـه تـرخ کښې داخـل کـړه او بیـا ئـې راوباسه نو موسی علیه السلام هم داسې اوکړل نو هغـه د نمـر پـه شـان روښـانه وو. چه بیا ئې واپس کړو نو د ړومبی پـه شـان شـو. موسـی علیه السلام تـه نبـوت او دوه غټې معجزې ورکړې شوې. ﴿ اذ ناداه ربه بالواد المقدس طوی ﴾ کښې هم دې واقعې طرف ته اشاره ده.

﴿ اذهب الی فرعون انه طغی ﴾ دوه معجزې ورکولـو نـه پـس ئې اوفرمائیـل چـه تـه د مـصر باشـاه فرعـون تـه لاړ شـه ځکـه چـه هغـه سرکـشه شـوې دې. د خـدایئ دعـوی کـوی. خلقـو تـه تکلیفونـه ورکوي. ډیر زیـات بـدکار دې. پـس د یـو روایـت مطابق موسـی علیه السلام د خپـل کـور خلق هـم هلتـه پریخـودل او لاړو. (معـارف ص۵۹۲ ج ٤) پـه بـل روایت کښې دی چه خپل کور والائې هم ځان سره کړل او مصر تـه روان شـو (قـصص القـران ۳۹۷ ج۱) ظـاهره دا ده چـه دویـم روایـت صـحیح دې. هکذا قال شیخی مفتی صاحب دامت برکاتهم.

﴿ فقل هل لک الی ان تزکـی ﴾ او هغـه فرعـون تـه ورشـه او ورتـه اوایـه چـه آیـا سـتا شـوق شـته چـه تـه د روحـانی او جـسمانی نجاستونو نه پاک شې. ستا بد اخلاق ختم شی. ﴿ و اهدیک الی ربک فتخشی ﴾ او زه تا ته ستـا د رب طرف تـه رهنمائی اوکړم چه تـه هغـه اوپیژنې او د هغـه نـه اویریږې. او د هغـه د ویرې د وجې نـه صـحیح شې. موسی علیه السلام د الله پاک پیغـام اخستلو سره فرعون تـه لاړو. او هغـه ته ئې د الله پاک رب العزت پیغام واورولو فرعون د موسی علیه السلام نه د

نبوت معجزه طلب کړه.

﴿ فاراه الاية الكبرى ﴾ موسى عليه السلام ورته ډيره لويه نخښه اوښودله.د راجح قول مطابق هغه دا وه چه خپله يو همسا په زمکه باندي اوغورځوله نو هغه ډير لوئي مار جوړ شو فرعون او د هغه درباريان د ويرې د وجې نه اوتختيدل او د هغې باوجود ئې هم ايمان رانوړلو بلکه ﴿ فكذب و عصى ﴾ هغه تکذيب اوکړو او د الله پاک د حکم نافرمانی ئې اوکړه بلکه د خلقو د دهوکه کولو د پاره ئې هغوی ته هم اوئيل چه دا خو ډير لوئي جادو دې او اوس زه هم جادوګر راوغواړم او مقابله کوم هغوی به دۀ ته ماتې ورکوی.﴿ ثم ادبر يسعى فحشر فنادى ﴾ بيا د هغه ځآئي نه لاړو د موسى عليه السلام خلاف ئې سازشرنه شول بيا ئې خلق جمع کړل د هغوی مخکښې ئې تقرير اوکړو او وې وئيل زه ستاسو اعلى رب يم زما نه سيوا هيڅ څوک نشته پس د جادوګرو د موسى عليه السلام سره مقابله اوشوه هغوی خپلې رسئ او همساګانې اوغورځولې نو د هغې نه ماران جوړ شو موسى عليه السلام خپله همسا اوغورځوله نو هغه ډير لوئي مار جوړ شو او هغه ټول څيزونه ئې تير کړل ټولو جادوګرو ايمان راوړلو خو فرغون بدبخته بيا هم او نه منله.﴿ فاخذه الله نكال الاخرة والاولى ﴾ نو جبار او قهار ذات الله سبحانه و تعالى هغه اونيولو او هغه ته ئې د دنيا او آخرت عبرتناکه سزا ورکړه او ورکوی به په دنيا کښې ئې دا سزا ورکړه چه فرعون او د هغه لښکر ئې په قلزم درياب کښې غرق کړل او د هغه بدن ئې بهر راوغورځولو چه د خلقو د پاره د عبرت سبب شی دا د فرعون بدن اوسه پورې په مصر کښې محفوظ دې.

فائده: په واپسئ باندې چه کله موسی علیه السلام بنی اسرائیل د خان سره راوستل نو د قلزم په دریاب کښې دولس لارې جوړې شوې چه په هغې باندې هم هغه وخت نمر لګیدلې وو بیا کله هم نه دې لګیدلې.

﴿ان فی ذالک لعبرة لمن یخشی﴾ په دې واقعه کښې د الله پاک نه ویریدونکی انسان د پاره عبرت او نصیحت دې چه د انبیاء علیهم السلام ارشادات صحیح وی د هغوی د مقابلې کولو والاانجام ډیر بد وی هغوی د سزانه نه شی بچ کیدې.اې نبی کریم ﷺ ستاسو د مخالفینو به هم آخر هم دا انجام وی په دې وجه تاسو پریشانه کیږئ مه بلکه تسلیساتئ.

ءَأَنتُمْ أَشَدُّ خَلْقًا أَمِ ٱلسَّمَآءُ ۚ بَنَىٰهَا ﴿٢٧﴾ رَفَعَ سَمْكَهَا فَسَوَّىٰهَا ﴿٢٨﴾ وَأَغْطَشَ لَيْلَهَا وَأَخْرَجَ ضُحَىٰهَا ﴿٢٩﴾ وَٱلْأَرْضَ بَعْدَ ذَٰلِكَ دَحَىٰهَآ ﴿٣٠﴾ أَخْرَجَ مِنْهَا مَآءَهَا وَمَرْعَىٰهَا ﴿٣١﴾ وَٱلْجِبَالَ أَرْسَىٰهَا ﴿٣٢﴾ مَتَٰعًا لَّكُمْ وَلِأَنْعَٰمِكُمْ ﴿٣٣﴾

ترجمه: آیا ستاسو پیدا کول سخت دی یا د اسمان؟هغه ذات هغه جوړ کړې دې.....اوچت ئې کړو چهت د هغه پس برابر ئې کړو....او تیارهٔ ئې کړه شپه د هغه او راو ئې ویستله رڼا د هغه....او زمکه ئې د هغې نه پس خوره کړه.....راو ئې ویستلې د هغې نه اوبه او ګیا....او غرونه ئې ښخ کړل.....ستاسو او ستاسو د څارو د فائدې د پاره.

حل المفردات: اشد :اسم تفضیل په اصل کښې اشداد د باب(ض،ن) په معنی د ټړلو مضبوط کولو.بنها:واحد مذکر غائب ماضی معروف

په اصل کښې بنی په معنی د جوړولو تعمیر کولو. رفع واحد مذکر غائب ماضی معروف د باب (ف) په معنی د اوچتولو. سمکها: په معنی د چهت (ن) اوچتول. سوها: واحد مذکر غائب ماضی معروف د باب (تفعیل) په معنی د برابرولو او صحیح کولو په اصل کښې سوی. اغطش: واحد مذکر غائب ماضی معروف د باب (افعال) تیاره کول. اخرج واحد مذکر غائب د باب افعال نه په معنی د راویستلو. ضحها: رنړا هغه وخت چه نمر خیژی د باب (ن) په معنی د رنړا لګیدلو نمر راختلو. دحها واحد مذکر غائب ماضی معروف د باب (ف) په معنی د خورولو په اصل کښې دحیَ وو. و مرغها مصدر میمی دې په معنی د ګیا یا ظرف مکان دې په معنی د چراګاه د باب (ف) د څاروو ګیا خوړل. ولانعامکم جمع ده د دې مفرد نعم راځی په معنی د څاروی ارسها واحد مذکر غائب ماضی معروف د باب افعال په معنی د ښخولو ایساریدل په اصل کښې ارسي د قال قاعدې سره ارسی شو.

حل الترکیب: ﴿ ءانتم اشد خلقا ام السمآء بنـــها ﴾ همزه استفهامیه انتم مبتدا اشد اسم تفضیل هو ضمیر مبتدا مبهم ممیز خلقا تمیز ممیز سره د تمیز نه فاعل اشد اسم تفضیل سره د فاعل نه خبر شو د پاره د مبتدا مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه انشائیه کیدو سره معطوف علیه ام عاطفه السمآء مبتداء اشد خلقا خبر محذوف مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه انشائیه کیدو سره معطوف، معطوف علیه سره د خپل معطوف نه جمله معطوفه شوه. بنها فعل هو ضمیر راجع دې په طرف د الله هغه فاعل ها ضمیر راجع په طرف د السماء مفعول به فعل سره د فاعل او سره د مفعول به خپل نه جمله فعلیه خبریه

کيدو سره مبدل منه.....﴿رفع سمکها﴾: رفع فعل هو ضمير راجع په طرف د الله د هغه فاعل سمکها مضاف مضاف اليه يو خائې کيدو سره مفعول به شو د رفع فعل فعل سره د فاعل او سره د خپل مفعول به نه جمله فعليه خبريه کيدو سره معطوف اول...﴿واغطش ليلها﴾ واؤ عاطفه اغطش فعل هو ضمير فاعل ليل مضاف ها ضمير راجع په طرف د السماء مضاف اليه مضاف سره د مضاف اليه نه مفعول به د پاره د اغطش فعل فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعليه خبريه کيدو سره معطوف ثاني،﴿واخرج ضحها﴾: واؤ عاطفه اخرج فعل هو ضمير فاعل ضحها مضاف مضاف اليه يو خائې کيدو سره م مفعول به،فعل سره د فاعل او سره د مفعول به خپل جمله فعليه خبريه کيدو سره معطوف ثالث...﴿والارض بعد ذلک دحها ﴾ واؤ عاطفه الارض مفعول به دې دپاره د فعل محذوف دحی.....دحی فعل هو ضمير فاعل بعد مضاف ذلک اسم اشاره محلا مجرور مضاف اليه مضاف سره د مضاف اليه نه مفعول فيه دې د حل فعل محذوف سره د خپل فاعل مفعول فيه او مفعول به نه جمله فعليه خبريه کيدو سره مفسر مفسر د خپل مفسر سره جمله خبريه معطوف رابع ....معطوف عليه سره د ټولو معطوفاتو جمله فعليه خبريه کيدو سره بدل د پاره د بنها مبدل منه......مبدل منه سره د خپل بدل نه يا خو جمله مفسره ده چه د ام السمآء او اشد خلقا تفسير کوی يا حال دې د السمآء د خبر محذوف اشد د ضمير نه.(اعراب القران ص ۳۶۹)

﴿ اخرج منها ماءها و مرعها ﴾ اخرج فعل هو ضمير راجع په طرف د الله هغه ئې فاعل من حرف جار ها ضمير راجع په طرف د

الارض مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو په اخرج فعل پورې ماءها مضاف مضاف اليه يو ځائې كيدو سره معطوف عليه واؤ عاطفه مرعها مرعى مضاف ها ضمير راجع په طرف د الارض هغه مضاف اليه مضاف سره د مضاف اليه معطوف معطوف عليه سره د خپل معطوف نه مفعول به شو د اخرج فعل فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعليه خبريه كيدو سره معطوف عليه...﴿ والجبال ارسها ﴾ واؤ عاطفه الجبال مفعول به دې د ارسى فعل محذوف د پاره ارسى فعل هو صمير راجع په طرف د الله هغه فاعل ها ضمير راجع په طرف د الجبال مفعول به فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعليه خبريه كيدو سره مفسر ارسى فعل هو ضمير فاعل ها ضمير مفعول به فعل سره د فعل او مفعول به نه جمله فعليه خبريه كيدو سره مفسر ارسى فعل هو ضمير فاعل ها ضمير مفعول به فعل سره د فاعل او مفعول به نه تفسير شو دپاره د مفسر مفسر د خپل تفسير سره يو ځائې كيدو نه معطوف شو.

﴿متاعا لكم ولانعامكم ﴾ متاعا مفعول له دې د اخرج فعل د پاره د ارسى د پاره لام جار كم ضمير مجرور، جار سره د مجرور معطوف عليه واؤ عاطفه لام جار انعام مضاف كم ضمير مضاف اليه مضاف سره د مضاف اليه نه مجرور د پاره د جار جار سره د مجرور نه معطوف معطوف سره د معطوف عليه نه متعلق شو په متاعا مصدر پورې كوم چه مفعول له دې د اخرج وغيره اخرج د خپل فعل ارسى او مفعول له نه جمله فعليه خبريه معطوفه شوه.

فائده: په اعراب القرآن كښې فرمائيلې شوى دى چه متاعا مفعول

مطلق دې د متعناکم د پاره ای متعناکم تمتیعا (۲) دا هم احتمال دې چه متاعا مفعول له شی د فعل محذوف د پاره یعنی ﴿ فعل ذلک متاعا لکم ﴾ (جلالین ص ۴۸۹ ج ۲)

تفسیر:ربط: دلته بیا واپسی ده اصل مضمون طرف ته یعنی د قدرت په دلائلو سره اثبات د حشر او نشر او د منکرینو د شبه جواب چه دوباره ژوندی کیدل ناممکن او گران دی.

﴿ ءانتم اشد خلقا ام السمآء بنها ﴾ مقصد دا دې چه تاسو لږ د عقل نه کار اخستلو او سوچ کولو سره د بیان کړئ چه آیا ستاسو دوباره ژوندی کول گران کار دې یا د دې دومره لوئې آسمان د عدم نه وجود ته راوستل گران دی جواب ښکاره دې چه دا لوئې آسمان پیدا کول گران دی نو کوم قادر مطلق چه دا دومره لوئې آسمان جوړ کړو هغه ئې اوچت کړو بغیر د ستنو نه ئې قائم کړو. آیا هغه ذات د دې وړوکی انسان په دوباره ژوندی کولو باندې قادر نه دې؟ بلکه په طریق اولی قادر دې خصوصا چه هر هم دا انسان هغه مخکښې هم پیدا کړې دې د دې نه انکار کول سوا د کم عقلتیا نه نور هیڅ نه دی. (حقانی وغیره)

﴿ رفع سمکها فسوها ﴾ په دې آیتونو کښې د آسمان د پیدا کولو د کیفیت بیان دې چه څنگه ئې آسمان جوړ کړو د هغه چهت ئې ډیر اوچت کړو بیا ئې بغیر د ستنو او بغیر د څه دیوال نه هغه بالکل برابر کړو. او صحیح ئې جوړ کړو چرته هم لاندې باندې نشته بالکل هوار دې چرته پکښې څه جوړ یا پیوند نشته او نمر سپوږمۍ ستوری وغیره څیزونه ئې پیدا کړل. ﴿ واغطش لیلها واخرج ضحها ﴾ مقصد

دا دي چه الله پاک شپه تیارهٔ جوړه کړه چه په هغې کښ آرام اوکړې شئ او ورځ ئې روښانه جوړه کړه چه رزق پکښ طلب کړې شئ تفصیل په سورهٔ نباء کښ تیر شوې دي.

سوال: ﴿ اغطش لیلها و اخرج ضحها ﴾ : کښ شپه او ورځ د آسمان طرف ته ولې منسوب کړې شوې دی؟

جواب: ځکه چه شپه د نمر په غروب کیدو باندې وی او ورځ د نمر په راختلو باندې او د نمر تعلق د آسمان سره دې په دې وجه د شپې او ورځې نسبت هم آسمان ته اوکړې شو(بیان القران) ﴿ والارض بعد ذلک دحها ﴾ مقصد دادې چه د آسمان د پیدا کولو نه پس ئې زمکه خوره کړه.

﴿ اخرج منها ماءها و مرعها ... والجبال ارسها ... متاعا لکم ولانعامکم ﴾ بیا ئې په زمکه کښ د اوبو چینې پیدا کړې ګیا ئې پیدا کړه او مضبوط غرونه ئې جوړ کړل چه په زمکه کښ حرکت پیدا نه شی دا هر څه ئې ستاسو او ستاسو د څارو د فائده د پاره اوکړل نو کوم ذات چه دا څیزونه پیدا کولې شی یقین اوکړئ تاسو هم دوباره ژوندی کولې شی.

سوال: د دې آیتونو نه معلومه شوه چه آسمان مخکښ جوړ کړې شوې دې او زمکه روستو په نورو آیتونو مثلا :﴿ هو الذی خلق لکم ما فی الارض جمیعا ثم استوی الی السماء ﴾ نه معلومیږی چه زمکه مخکښ او آسمان روستو جوړ کړې شوې دې په ظاهر کښ په آیتونو کښ مخالفت دې؟

جواب: هیڅ مخالفت نشته ځکه کوم ځائې چه دا خبره کړې شوې ده چه زمکه مخکښ پیدا کړې شوې ده آسمان روستو نو د هغې نه مراد

د زمکې ماده ده چه هغه مخکښې پيدا کړې شوه کومه چه په ګول شکل يعني د فټ بال په شکل وه بيا د آسمان ماده پيدا کړې شوه خو کله چه د خورولو وخت راغلو نو ړومبی آسمان خور کړې شو روستو زمکه لکه چه دلته ذکر دی والارض بعد ذلک دحها لهذا په آيتونو کښې هيڅ مخالفت نشته.

فائده: تهانوي رحمه الله په بيان القران کښې داسې ذکر فرمائيلی دی چه اول د زمکی ماده جوړه شوه او تر اوسه د هغې موجوده شکل نه وو جوړ شوې چه هم په دې حالت کښې د آسمان ماده جوړه شوه کوم چه د دخان يعنی د لوګی په شکل وه د دې نه پس زمکه په موجوده هيئت باندې خوره کړې شوه بيا په دې باندې غرونه او اونې وغيره پيدا کړې شوې بيا د آسمان د لوګی والاو بهيدونکې مادې نه اووۀ آسمانونه جوړ کړې شو.(بيان القران سورة البقرة ع ٣)

فَإِذَا جَآءَتِ ٱلطَّآمَّةُ ٱلْكُبْرَىٰ ﴿٣٤﴾ يَوْمَ يَتَذَكَّرُ ٱلْإِنسَٰنُ مَا سَعَىٰ ﴿٣٥﴾ وَبُرِّزَتِ ٱلْجَحِيمُ لِمَن يَرَىٰ ﴿٣٦﴾ فَأَمَّا مَن طَغَىٰ ﴿٣٧﴾ وَءَاثَرَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا ﴿٣٨﴾ فَإِنَّ ٱلْجَحِيمَ هِىَ ٱلْمَأْوَىٰ ﴿٣٩﴾ وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِۦ وَنَهَى ٱلنَّفْسَ عَنِ ٱلْهَوَىٰ ﴿٤٠﴾ فَإِنَّ ٱلْجَنَّةَ هِىَ ٱلْمَأْوَىٰ ﴿٤١﴾

ترجمه: پس هر کله چه راشی لوئې مصيبت(حادثه)..... په هغه ورځ باندې به انسان خپل کړی کارونه يادوی.....او دوزخ به ښکاره کړې شی د هغه چا د پاره چه ګوری.....پس چا چه سرکشی اوکړه. او د دنيا ژوند ته ئې ترجيح ورکړه...... پس دوزخ د هغه ځائې دې. او

ځوک چه خپل رب ته د اودریدو نه اویریدو او خپل نفس ئې د خواهشاتو نه منع کړو.....پس جنت د هغه ځائې دې.

حل المفردات: جاءت واحد مونثه غائبه ماضی معروف د باب(ض) نه راتلل په اصل کښ جَيَئَت وو په قانون د قال جاءت شو. الطامة واحده مونثه اسم فاعل په اصل کښ طامِمَة وو معنی هغه مصیبت چه د برداشت کولو نه وی د باب (ن) نه زیاتیدل، ډکیدل، غالب کیدل... سمندر ته طتم وئیلې شی ځکه هغه په هر ځیز باندې غالب کیږی. طامة نه څه مراد دې؟په دې باره کښ دوه اقوال دی.(۱)نفخه ثانیه مراد ده چه د هغې نه پس به حشر او نشر وی.(۲) قیامت ترې مراد دې کوم چه داسې حادثه ده چه په ټولو حادثو باندې غالبه ده د ټولو نه لوئې مصیبت دې. یتذکر واحد مذکر غائب مضارع معروف د باب (تفعل) یادول. سعی واحد مذکر غائب ماضی معروف په اصل کښ سعې وو د باب (ف) نه کوشش کول...برزت واحد مونثه غائبه مجهول د باب (تفعیل) ښکاره کول...الجحیم د دوزخ یو نوم د باب(ک)د اور شغلې کول یری واحد مذکر غائب ماضی معروف د باب (ف) نه کتل په اصل کښ یرءی وو د یسئل او د قال قانون ورته متوجه شوې دې. واثر واحد مذکر غائب ماضی معروف د باب (افعال) ترجیح ورکول فضیلت ورکول په اصل کښ اء ثر وو په قانون د ایمان اثر شو. الدنیا واحد مونثه اسم تفضیل د باب (ن) په معنی د نزدې کیدلو دنیا هم د آخرت په نسبت نزدې ده د باب (س) بیکاره کیدل او ردی کیدل دنیا په نسبت د آخرت بیکاره او ردی ده. ماوی واحد مذکر غائب ماضی معروف د باب(س) ویره کول په اصل کښ خوف وو. مقام واحد مذکر اسم ظرف په اصل کښ مقوم وو په قانون د

یقال مقام شو د اودریدلو خائي نهی واحد مذکر غائب ماضي معروف په اصل کښې نهی وو د باب (ف) منع کول بندول النهوی خواهش د باب (س) محبت کول خواهش کول.

حل التركيب: ﴿ فاذا جاءت الطآمة الكبرى....يوم يتذكر الانسان ما سعى ﴾ فا عاطفه یا نتیجیه اذا ظرفیه په معنی د شرط جاءت فعل الطامة موصوف الکبری صفت موصوف سره د صفت نه مبدل منه یوم مضاف یتذکر فعل الانسان فاعل فعل سره د فاعل نه صله شوه ما موصوله یا په تاویل د مصدر سره مفعول به موصول سره د صله مفعول به شو د پاره د یتذکر فعل فعل سره د فاعل او سره د مفعول به جمله فعلیه خبریه کیدو سره معطوف علیه ﴿ وبرزت الجحيم لمن يرى ﴾ واؤ عاطفه برزت فعل الجحیم نائب فاعل لام جار من موصول یری فعل هو ضمیر فاعل فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره صله شوه د پاره د موصول ....موصول سره د صله نه مجرور شو د جار جار سره د مجرور نه متعلق شو په برزت فعل پوري فعل سره د نائب فاعل او سره د متعلق خپل نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره معطوف معطوف علیه سره د معطوف نه مضاف الیه شو د پاره د مضاف یوم مضاف سره د مضاف الیه نه بدل شو د پاره د مبدل منه....مبدل منه سره د بدل نه فاعل شو د پاره د جاءت فعل جاءت فعل سره د خپل فاعل نه شرط دي.

﴿ فاما من طغى....وآثر الحيوة الدنيا....فان الجحيم هي الماوى ﴾ فاجزائیه اما شرطیه من موصوله طغی فعل هو ضمیر راجع دي په طرف د من فاعل هغه فاعل فعل سره د فاعل نه معطوف علیه

واؤ عاطفه اثر فعل هو ضمیر فاعل الحیوة موصوف الدنیا صفت موصوف سره د صفت نه مفعول به فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره معطوف، معطوف علیه سره د معطوف نه جمله فعلیه کیدو سره صله شوه د پاره د من موصوله موصول سره د صلې نه مبتدا متضمن معنې د شرط لره فا جزائیه ان حرف د حروف مشبه بالفعل نه الجحیم د ان اسم هی مبتدا الماوی خبر مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه کیدو سره خبر دې د پاره د ان ان سره د خپل اسم او خبر نه جمله اسمیه خبریه کیدو سره خبر قائمقام د جزا، شرط سره د خپلې جزا جمله شرطیه کیدو سره معطوف علیه.

﴿ واما من خاف مقام ربه و نهی النفس عن الهــوی ....فــان الجنة هی الماوی ﴾ واؤ عاطفه اما شرطیه من موصوله خاف فعل هو ضمیر راجع په طرف د من فاعل مقام مضاف رب مضاف ه ضمیر راجع په طرف د من مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه مضاف الیه شو د پاره د مقام مضاف، مضاف سره د مضاف الیه مفعول فیه فعل سره د فاعل او سره د مفعول فیه معطوف علیه واؤ عاطفه نهی فعل هو ضمیر فاعل النفس مفعول به عن حرف جار الهوی مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو په نهی فعل پورې فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه معطوف معطوف علیه او معطوف یو ځائې کیدلو سره صله شوه د من موصوه موصول سره د صله نه مبتدا متضمن معنی د شرط لره فاجزائیه ان حرف د حروف مشبه بالفعل نه الجنة اسم هی مبتدا ماوی خبر مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه

خبريه كيدو سره خبر شو د پاره د ان.ان سره د اسم او خبر نه جزا،
شرط د خپلې جزا سره جمله شرطيه كيدو سره معطوف،معطوف
عليه د خپل معطوف سره جمله معطوفه كيدو سره جزا ده.فاذا جاءت
شرط د خپلې جزاء سره جمله شرطيه شوه.

فائده: (۱) دا هم احتمال دې چه ﴿فاذا جاءت الطامة الكبرى﴾ شرط
دپاره جزا محذوف وى يعنى ﴿انقسم الناس على قسمين﴾ په دې
صورت كښې به ﴿فاما من طغى﴾ ځائله جمله وى او فاء به استينافيه وى.

فائده(۲) ﴿يوم يتذكر الانسان﴾ كښې دا هم احتمال دې چه دا د اذا نه
بدل شى.(جلالين ص ٤٨٩ ج ۲)

تفسير: په مخكښې آيتونو كښې د قدرت دلائل بيانولو سره الله پاک
بعث بعد الموت (دوباره ژوندى كيدل) ثابت كړل اوس دلته نه د بعث
نه پس واقعات او د قيامت د ورځې سختى او د اعمالو مخكښې تنه
راتلو او د اهل جنت او د اهل دوزخ د دواړو د ځايونو بيان دې او په
آخر كښې د اهل جنت او اهل دوزخ د خاص خاص نخښو بيان دې.

﴿فاذا جاءت الطآمة الكبرى﴾ مقصد دا دې چه كله ډير
لوئې مصيبت(قيامت) راشى نو هغه ورځ به هر انسان خپل عمل
يادوى چه هغه به ترې د ډيرې مودې د تيريدلو د وجې نه هير شوې
وى چه كله عمل نامه د هغه مخې ته پيش كړې شى نو هغه ته په كتلو
سره به هغه ته خپل عملونه ياديږى.﴿و برزت الجحيم لمن يرى﴾ او
دوزخ به د هر سړى مخې ته ښكاره كړې شى مومن او كافر دواړه به
ئې وينى تول به ئې وينى (حقانى) ﴿فاما من طغى وآثر الحيوة الدنيا﴾

ربط: اوس ئې د اهل دوزخ او اهل جنت خاص علامات د ضابطې په طور بيان کړی دی چه په هغې سره انسان په دنيا کښې هم فيصله کولې شی چه زما استوګنه په جنت کښې ده يا په دوزخ کښې پس اصل ضابطه په دوزخ يا په جنت کښې د استوګنې هم هغه ده کومه چه په دې آيتونو کښې ذکر کړې شوې ده... او د يو دوزخی د چا په شفاعت سره د الله پاک په خپل رحمت د دوزخ نه ويستل او جنت ته رسول لکه چه په رواياتو او آيتونو کښې راغلی دی يو استثنائی حکم دې رومبی د اهل دوزخ خاص علامات بيان کړې شو هغه دوه دی:

(۱) طغيان: يعنی د الله پاک او د هغه د رسول ﷺ د احکامو د پابندئ په ځائې سرکشی کول. (۲) د دنيا ژوند ته په آخرت باندې ترجيح او فضيلت ورکول يعنی کله چه داسې څه کار مخې ته راشی چه د هغې په اختيارولو سره په دنيا کښې خو ارام او مزه ملاويږی خو په آخرت کښې په هغې باندې عذاب مقرر دې هغه وخت هغه د دنيا ژوند ته ترجيح ورکولو سره د آخرت فکر هير کړی کوم سړې چه په دنيا کښې په دې دوه مصيبتونو اخته دې د هغه د پاره ئې اوفرمائيل

﴿ فان الجحيم هى الماوى ﴾ يعنی دوزخ د هغه استوګنه ده. (معارف)

﴿ واما من خاف مقام ربه و نهى النفس عن الهـوى ﴾ د اهل جنت دوه علامات دی: (۱) يو دا چه کوم سړې په دنيا کښې د خپل هر عمل او هر کار په وخت ويريږی چه ما ته يو ورځ د الله پاک مخې ته اودريدل دی او د دې عملونو حساب ورکول دی. (۲) چا چه خپل نفس په قابو کښې اوساتلو د ناجائزه خواهشاتو نه ئې هغه منع کړو چا چه په دنيا کښې دا دواړه صفتونه حاصل کړل هغه ته دا زيری دې:

﴿فان الجنة هى الماوى﴾ په ذکر کړې شوې آيتونو کښې ئې د جنت د استوګنې د پاره دوه شرطونه لګولې دى خو که غور اوکړې شى نو دا د نتيجې په اعتبار يو شرط دې ځکه چه رومبى شرط د الله په دربار کښې د جواب ورکولو ويره ده دويم شرط نفس لره د خواهش نه بندول دى او په حقيقت کښې د الله پاک ويره نفس لره د خواهش د تابعدارئ نه د بندولو ځيز دې.(معارف)

يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلسَّاعَةِ أَيَّانَ مُرْسَىٰهَا ﴿٤٢﴾ فِيمَ أَنتَ مِن ذِكْرَىٰهَآ ﴿٤٣﴾ إِلَىٰ رَبِّكَ مُنتَهَىٰهَآ ﴿٤٤﴾ إِنَّمَآ أَنتَ مُنذِرُ مَن يَخْشَىٰهَا ﴿٤٥﴾ كَأَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَهَا لَمْ يَلْبَثُوٓا۟ إِلَّا عَشِيَّةً أَوْ ضُحَىٰهَا ﴿٤٦﴾

ترجمه: تپوس کوى تاسو نه دا د مکې کفار د قيامت په باره کښې چه کله به قيام د هغې.....تاسو د هغې د ذکر نه په څه حال کښې يئ؟ ......ستا د رب طرف ته ده د هغې انتها....بيشکه تاسو صرف ويره ورکونکى يئ هغه چا ته چه د قيامت نه ويرېږى.....دا کفار چه په کومه ورځ هغه اووينى نو ګويا چه دوى وخت نه دې تير کړې په دنيا کښې مګر يو ماښام يا د هغه ماښام سحر.

حل المفردات: يسئلونک جمع مذکر غائب مضارع معروف د باب (ف) سوال کول...تپوس کول...الساعة وخت جمع ئې ساعات راځى مزاد ترې قيامت دې.ايان ظرف زمان متضمن معنى د استفهام لره مبنى دې په فتحې سره.مرسها په دې کښې دوه احتماله دى (۱) مصدر ميمى (۲) ظرف زمان په اصل کښې مرسى وو د قال والاقانون د لاندې مرسان شو بيا د التقاء ساکنين والاقانون د لاندې مرسا شو چه معنى

به ئې وی راتلل يا د راتلو وخت د باب (ن) اودريدل، قائميدل. ثابتيدل.فيم په اصل کښې فيما وو ما استفهاميه د ای شئ په معنی کښې ده ذکری اسم دې منتهی (۱) په معنی د انتها مصدر ميمی دې (۲) ظرف مکان په معنی د آخری حد (۳) ظرف زمان آخری وخت د باب افتعال په معنی د انتها ته رسيدلو يا اودريدلو.منذر واحد مذکر اسم فاعل د باب افعال نه ويرول.يرون جمع مذکر غائب مضارع معروف په اصل کښې يرءيون وو لم يلبثوا جمع مذکر غائب نفی جحد بلم د باب (س) په معنی د اودريدلو.عشية مابشام جمع عشيات عشايا ده.

حل التركيب: ﴿ يسئلونک عن الساعة ايان مرسها ﴾ يسئلون فعل واؤ ضمير بارز راجع په طرف د کفار د هغې فاعل کاف ضمير مفعول به عن حرف جار الساعة مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو په يسئلونه فعل پورې ايان ظرف زمان متضمن معنې د استفهام لره خبر مقدم مرسها مضاف مضاف اليه يو ځائې کيدو سره مبتدا موخر مبتدا موخر سره د خبر مقدم نه جمله اسميه انشائيه کيدو سره محلا منصوب مفعول فيه دې د يسئلون فعل د پاره فعل سره د فاعل د مفعول به او مفعول فيه نه جمله فعليه خبريه شوه.

﴿ فيم انت ﴾ فی حرف جار ما استفهاميه مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو په ثابت پورې ثابت صيغه د اسم فاعل سره د خپل متعلق نه خبر مقدم ﴿ من ذکرها ﴾ من جار ذکرها مضاف مضاف اليه مجرور جار سره د مجرور نه متعلق ثابت خبر مقدم پورې انت مبتدا موخر، مبتدا خبر يوځائې کيدو سره جمله اسميه

انشائیه شوه.

﴿الی ربک منتهها﴾ الی حرف جار ربک مضاف مضاف الیه یو ځائې کیدو سره مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو په ثابت پورې نو دا خبر مقدم شو منتهها مضاف مضاف الیه یو ځائې کیدو سره مبتدا موخر مبتدا موخر سره د خپل خبر مقدم نه جمله اسمیه خبریه شوه.

﴿انما انت منذر من یخشها﴾ انما کافه انت مبتدا منذر مضاف من موصوله یخشها یخشی فعل هو ضمیر فاعل ها ضمیر مفعول به فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره صله د موصول موصول سره د صله نه مضاف الیه د مضاف منذر د پاره مضاف سره د مضاف الیه نه خبر شو د پاره د مبتدا مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه شوه. ﴿کانهم یوم یرونها لم یلبثوا الا عشیة او ضحها﴾ کانهم ...کان حرف د حروف مشبه بالفعل هم ضمیر اسم یوم مضاف یرونها فعل واو ضمیر بارز فاعل ها ضمیر مفعول به بیًا جمله فعلیه خبریه کیدو سره مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه مفعول فیه مقدم شو د پاره د لم یلبثوا .....لم یلبثوا فعل واؤ ضمیر بارز فاعل الاحرف استثنائیه دلته زائده ده عشیة معطوف علیه و عاطفه ضحها مضاف مضاف الیه یو ځائې کیدو سره معطوف، معطوف علیه سره د معطوف نه مفعول فیه دې د پاره د لم یلبثوا فعل سره د فاعل او د دواړو مفعول فیه سره جمله فعلیه خبریه کیدو سره خبر شو د پاره د کان....کان سره د خپل اسم او خبر نه جمله اسمیه خبریه شوه.

تفسیر: چه کله به کافرانو ته د قیامت احوال او د هغې سختې بیانیدلې او د هغې د جزا او سزا ذکر به کیدلو نو زر به هغوی تپوس اوکړو چه د قیامت راتلو وخت راته اوښایه چه هر کله د هغې راتلل یقینی دی نو یقینا د هغې به څه وخت مقرر وی دا د هغوی د کم عقلتوب تپوس دې دا داسې سوال دې لکه یو طبیب مریض ته اووائی د هلاکونکې مرض دې علاج نې او کړه ګینې مړ به شې نو مریض اووائی کله به مرم؟حال دا چه هغه له علاج کول پکار وو بهر حال رسول الله ﷺ به په کثرت سره د جبرائیل علیه السلام او د الله پاک نه د قیامت د وخت په باره کښې تپوس کولو الله پاک فرمائی چه کفار تاسو نه د قیامت د وخت په باره کښې تپوس کوی او تاسو هم دا په کثرت سره ذکر کوئ ﴿ فیم انت من ذکرها ﴾ خو تاسو په څیز کښې پرانه یئ د قیامت په ذکر کښې ولې پراته یئ تاسو بار بار د هغې ذکر مه کوئ ځکه چه د څه مصلحت په وجه مونږ د هغې وخت پټ کړې دې اول په دې وجه د دې تاسو ذکر مه کوئ چه د واقع کیدو نه مخکښې به دا رښتینې نه منې او پس د واقع کیدو نه به څه تدبیر لاس ته نه راځی او دویم په دې وجه چه ﴿ الی ربک منتهها ﴾ د قیامت د علم انتها صرف د الله پاک طرف ته ده که اخودلې شی غلط خلق به وائی ښه د زړه نه شهوتونه پوره کړئ لا قیامت ته وخت شته ﴿ انما انت منذر من یخشها ﴾ مقصد دا دې چه تاسو د قیامت د وخت د بیان دپاره نه یئ لیږلې شوې بلکه تاسو د قیامت د سختو حالاتو او د مصیبتونو نه د ویرې ورکولو د پاره لیږلې شوی یئ چه تاسو د ټولو د پاره منذر یئ خو تاسو اهل خشیت (هغه خلق چه ویریږی) ته ویره

ورکړئ څکه استفاده هم هغوی کوی.

﴿ كانهم يوم يرونها ﴾ مقصد دا دي چه کفار اوس خو شور کوی چه قیامت ولې نه راځی؟زر ئې راولـه خو کله چه راشی او هغه کفار د هغې هیبت ناک حالات او د همیشوالی عذاب اووینی نو بیا به د دنیا ژوند یاد ساتی او هغه وخت به داسې محسوسوی ګویا چه په دنیا کښې صرف د مابنام په وخت یا د سحر په وخت پاتې شوې وو د دنیا ژوند به ورته ډیر کم ښکاره شی.

سورة العبس مكية

ركوعها ١	بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ	اياتها ٤٢

عَبَسَ وَتَوَلَّىٰٓ ﴿١﴾ أَن جَآءَهُ ٱلۡأَعۡمَىٰ ﴿٢﴾ وَمَا يُدۡرِيكَ لَعَلَّهُۥ يَزَّكَّىٰٓ ﴿٣﴾ أَوۡ
يَذَّكَّرُ فَتَنفَعَهُ ٱلذِّكۡرَىٰٓ ﴿٤﴾ أَمَّا مَنِ ٱسۡتَغۡنَىٰ ﴿٥﴾ فَأَنتَ لَهُۥ تَصَدَّىٰ ﴿٦﴾
وَمَا عَلَيۡكَ أَلَّا يَزَّكَّىٰ ﴿٧﴾ وَأَمَّا مَن جَآءَكَ يَسۡعَىٰ ﴿٨﴾ وَهُوَ يَخۡشَىٰ ﴿٩﴾
فَأَنتَ عَنۡهُ تَلَهَّىٰ ﴿١٠﴾

ترجمه: رسول الله ﷺ تندي(مبارک) تریو کړو او مخ(مبارک) ئې واړولو....په دې وجه چه راغلو هغوی ته یو ړوند(انسان یعنی عبدالله بن ام مکتوم ؓ).....او تاسو ته څهٔ خبر کیدیشی هغه ځان پاک کړې وې.....یا ئې نصیحت حاصل کړې وې او نصیحت هغه ته فائده ورکړې وې.....پس هر هغه څوک چه بې پرواه دې....پس تاسو په هغه پسې شوی یئ.....او په تاسو هیڅ ګناه نشته چه هغه پاک نشي....او

څوک چه راغلل تاسو ته په منډه......او هغه د الله پاک نه ویریږي نو تاسو د هغه نه غافل شئ (پس داسې مه کوئ)

حل المفردات: عبس واحد مذکر غائب ماضی معروف د باب (ض) تندې تریو کول. تولی واحد مذکر غائب ماضی معروف په اصل کښې تولی وو د باب تفعل نه اعراض کول، پریخودل. الاعمی معنی ړوند د دې جمع عمیان راځی د باب (س) ړندیدل. یدریک په اصل کښې یدری واحد مذکر غائب معروف د باب افعال نه خبرول... یزکی واحد مذکر غائب مضارع معروف په اصل کښې یتزکی وو تاء مو په زاء سره بدله کړه زاء مو په زاء کښې مدغم کړه په قانون د اطهر او اثاقل د باب (افعل) پاکیدل ښکلې کیدل. یذکر واحد مذکر غائب مضارع معروف په اصل کښې یتذکر په تیر قانون سره یذکر شو په معنی د سوچ کولو یادولو نصحیت حاصلولو. فتنفعه تنفع واحده مونثه غائبه مضارع معروف د باب (ف) نفع ورکول. استغنی واحد مذکر غائب ماضی معروف په اصل کښې استغنی وو د باب (استفعال) نه بې پرواه کیدل. تصدی واحد مذکر حاضر مضارع معروف د باب (تفعل) په اصل کښې تتصدی و د باب تفعل یو تاء حذف کړې شوې چه معنی ئې ده "وریسې کیدل" یو معاملې ته متوجه کیدل... تلهی واحد مذکر حاضر مضارع معروف د باب (تفعل) په اصل کښې تتلهی وو په معنی د هیرولو، غافل کیدلو، بې پرواه کیدلو.

حل الترکیب: ﴿ عبس و تولی .... ان جاءه الاعمی ﴾ عبس فعل هو ضمیر پکښې مستتر چه راجع دې په طرف د رسول الله ﷺ هغه فاعل فعل سره د فاعل نه معطوف علیه و عاطفه تولی فعل هو ضمیر

فاعل ان مصدريه جاء فعل ه ضمير مفعول به الاعمى فاعل فعل سره د فاعل او سره د مفعول به خپل نه جمله فعليه خبريه كيدو سره په تاويل د مصدر باندې مفعول له شو د پاره د تولى يا عبس فعل سره د فاعل او سره د مفعول له نه معطوف معطوف عليه سره د خپل معطوف نه جمله معطوفه شوه... ﴿ وما يدريك ﴾ واؤ عاطفه ما استفهاميه په معنى د اى شئ مبتدا يدرى خبر فعل هو ضمير فاعل كاف ضمير مفعول به اول ﴿ لعله يزكى.....او يذكر فتنفعه الذكرى﴾ لعل حرف دې د حروف مشبه بالفعل ه ضمير اسم يزكى فعل هو ضمير راجع په طرف د اعمى فاعل فعل د خپل فاعل سره جمله، معطوف عليه او عاطفه يذكر فعل هو ضمير ئې فاعل فعل سره د خپل فاعل نه جمله كيدو سره معطوف، معطوف عليه سره : خپل معطوف نه جمله معطوفه كيدو سره خبر شو د لعل د پاره، لعل د خپل اسم او خبر سره جمله انشائيه كيدو سره تمنى(لعل اگر چه د ترجي دپاره راځي خو دلته : تمنى دپاره دې) فا سببيه تنفع فعل ه ضمير مفعول به الذكرى فاعل فعل د خپل فاعل او مفعول به سره جواب د تمنى به تمنى او جواب د تمنى مفعول به ثاني دې د پاره د يدريک يدريک فعل سره د خپل فاعل او دواړو مفعولينو سره جمله فعليه خبريه كيدو سره خبر شو د پاره د مبتدا مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه انشائيه شوه.

فائده: فتنفعه كښ فا سببيه ده او د تمنى په جواب كښ ده په دې وجه د هغې نه روستو ان مصدريه مقدر دې او تنفع فعل مضارع ته نصب وركوى.

﴿ اما من استغنی فانت له تصدی ﴾ اما شرطیه من موصوله
ستغنی فعل هو ضمیر راجع دي په طرف د من هغه ئي فاعل فعل د
فاعل فاعل سره صله شوه د پاره د موصول، موصول سره د صله نه
مبتدا متضمن معنې د شرط لره فا جزائیه انت مبتدا لام جاره ه
ضمیر مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو په تصدی فعل پوري
انت ضمیر ذوالحال. ﴿ وما علیک الا یزکـــی ﴾ واؤ حالیه ما مشبه
بلیس علی حرف جار کاف ضمیر مجرور جار سره د مجرور نه متعلق
شو په ﴿ باس ﴾ مصدر پورې نو دا خبر مقدم شو ان مصدریه لا نافیه
یزکی فعل هو ضمیر ئي فاعل فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه خبریه
کیدو سره خبر دې د انت ضمیر ذوالحال نه ذوالحال سره د حال نه
فاعل سو د تصدی فعل پوري فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه کیدو
سره خبر دې د انت ضمیر ذوالحال نه ذوالحال سره د حال فاعل شو د
تصدی فعل پورې فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه کیدو سره خبر دې
دپاره د انت مبتدا مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه خبر کیدو
سره خبر شو قائم مقام د جزا مبتدا سره د خبرجمله اسمیه خبریه شوه.

﴿ و اما من جاءک یسعی .... وهو یخشی ..... فانت عنه
تلهی ﴾ واؤ عاطفه اما شرطیه من موصوله جاء فعل هو ضمیر
ذوالحال کاف ضمیر مفعول به یسعی فعل هو ضمیر ذوالحال واؤ
حالیه هو ضمیر مبتدا یخشی فعل هو ضمیر فاعل فعل سره د فاعل
نه جمله فعلیه کیدو سره خبر شو د مبتدا مبتدا سره د خبر نه جمله
اسمیه خبریه کیدو سره حال دې دپاره د یسعی د هو ضمیر ذوالحال
نه ذوالحال سره د حال نه فاعل دې د یسعی فعل ...فعل سره د فاعل

نه جمله فعلیه خبریه کیدوسره حال دي د جاء د هو ضمیر نه ذوالحال سره د حال نه فاعل دي د جاء فعل سره د فاعل او مفعول به نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره صله شوه د پاره د من موصوله موصول سره د صله نه مبتدا متضمن معنی د شرط لره(اعراب القران ص ۳۷۶) فا جزائیه انت مبتدا عن جاره ه ضمیر مجرور جار مجرور متعلق شو په تلهی پورې تلهی فعل انت ضمیر فاعل فعل سره د خپل فاعل نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره، خبر دي دپاره د مبتدا مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه خبر شو قائم مقام د جزاء مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه شوه.

تفسیر: د دې سورة مشهور نوم عبس دې د دې نه علاوه د دې نوم سورة الصاخة او سورة مسفرة دې.

ربط: (۱) مخکښې سورة کښې د قیامت د مضمون ذکر وو د دې سورة اهم مضمون هم د قیامت اثبات دې کوم چه په آخر کښې ذکر کړې شوې دې او په دې کښې د کافر د پاره د سخت عذاب وعید دې د سورة په مینځ کښې ﴿ قتل الانسان ﴾ نه د عذاب د سخت والی وجه (یعنی د کافر د ناشکرئ) ذکر دې داسې د سخت کافر انسان د هدایت د پاره به رسول الله ﷺ ډیر زیات کوششونه بلکه مشقت او تکلیف اختیار فرمائیلو د سورة د شروع په آیتونو کښې رسول الله ﷺ ته د محبت په انداز عتاب کړې شوې دې چه تاسو د هغوی د هدایت د پاره دومره تکلیف ولې اوچتوئ چه په هغوی کښې د ایمان طلب نشته او ستاسو د خبرې منلو د پاره تیار نه دی نو تاسو دومره ولې حریص یئ منافقانو ته د توجه کولو په ځائې طلب کونکو او

مخلصانو ته توجه اوکړئ.

(۲) ﴿ انما انت منذر من يخشها ﴾ کښې د رسول الله ﷺ د نبوت منصب ذکر کړې شوې دې يعنی انذار هغه سړی ته په چا کښې چه د الله پاک ويره وی په دې سورة کښې د دې منصب په پريخودلو يا غفلت باندې عتاب کړې شوې دې (۳) په سورة النازعات کښې د فرعون متکبر د سرکشئ او د نافرمانئ بيان وو په دې سورة کښې د يو نابينا طالب حق د عاجزئ او تواضع بيان دې (۴) په تيرسورة کښې د الله پاک د انعاماتو ذکر وو ﴿ اخرج منها ماءها ﴾ په دې سورة کښې هم د نعمتونو ذکر دې ﴿ فلينظر الانسان الى طعامه ﴾ (۵) په تير سورة کښې د تخليق ارض و سماء بيان وو په دې سورة کښې د انسان د تخليق (پيدائش) بيان دې ﴿ من ای شئ خلقه ﴾ (۲) لفظی ربط هم په دواړو سورتونو کښې موجود دې په ړومبی سورة کښې دی ﴿ هل لک الى ان تزکی ﴾ دلته دی ﴿ لعله يزکی ﴾ په ړومبی سورة کښې دی ﴿ انما انت منذر من يخشها ﴾ دلته دی ﴿ اما من جاءک يسعی وهو يخشی ﴾ په ړومبی سورة کښې دی ﴿ فاذا جآءت الطامة الکبری ﴾ په دې سورت کښې دی ﴿ فاذا جآءت الصاخة ﴾ .

شان نزول: يو کرت رسول الله ﷺ د قريش مکه سردارانو ابوجهل، عتبه، شيبه، ابی بن خلف، اميه بن خلف، وليد بن مغيره او عباس بن عبدالمطلب ته د اسلام دعوت ورکولو او د هغوی سره ئې ډيرې اهمې خبرې کولې چه ناڅاپه يو ړوند صحابی چه د هغه نوم عبدالله بن ام مکتوم دې تشريف راوړو په دې وجه چه نابينا وو په دې وجه

هغوی تـه معلومـه نـه وه چـه رسـول الله ﷺ د قریـشو سـردارانو سـره خبرې کوی د راتلو سره ئې آوازونه ورکول شروع کړل ﴿ یــا رســـول الله ﷺ اقرء نی و علمنی مما علمک الله ﴾ (یه ما اولولئ او ما ته تعلیم راکړئ د هغې نه چه الله پاک تاسو ته خودلې دی)دا خبریـه ئې بـار بـار کوله دا خبره د رسول الله ﷺ خوښه نه شوه په خائې د دې چه هغوی تـه ئې څـه جواب ورکړې وې د هغوی نه ئې مخ مبارک واړولـو او د کفارو سره ئې خبرې جاری اوساتلې چه کله هغوی د خبرو کولو نـه فـارغ شـو او اودریـدل کـور تـه تلل هغـه وخت پـه هغوی بانـدې وحی نازله شوه او په هغوی باندې عتـاب اوکړې شـو چه تاسـو پـه دې وجـه تندې مبارک تریو کړو چه یو ړوند تاسو ته د صادق طلب سـره د علـم د تندې ماتولو د پاره راغلو او تاسو پـه دې کـافرانو پسې شـوی یئ د هغوی په هدایت پسې لګیدلی یئ کوم چه بې پرواه دی د هغـوی د دین اسلام سره هیڅ شوق نشته د دې نه پس بـه رسول الله ﷺ د ابـن مکتوم رضی الله عنه ډیر اکرام فرمائیلو کلـه چه بـه هم راتلو رسـول الله ﷺ بـه فرمائیل:﴿ مرحبا لمن عاتبنی فیه ربی ﴾ او فرمائیـل بـه ئې ﴿ هل لــک حاجة ﴾ دوه کرته رسول الله ﷺ هغه خپل نائب جوړ کړو خپلـه بـه ئې د غزوې د پاره تـشریف یوړلـو د بعضو روایاتو مطابق عبد الله بـن ام مکتوم رضی الله عنه په جنګ قادسیه کښې شـهید شـو(دا جنګ د عمـر رضی الله عنه پـه دور خلافت کښې شوې وو)

﴿ عبس و تولی ان جاءه الاعمــی ﴾ مقصد دا دې چه رسـول الله ﷺ ته عتاب ورکړې کیږی چه تندې مبارک تریو کړو او یـو ړونـد مسکین انسان چه پـه صادق طلب سره حاضر شو د هغـه نـه ئې مـخ

مبارک وارولو د رسول الله ﷺ د دې مخ اړولو او ناخوښې څو وجې کیدیشی...(۱) رسول الله ﷺ خیال اوفرمائیلو چه عبد الله په ما ځان قربانونکې او مخلص صحابی دې هر وخت حاضریدونکې دې که د هغه د سوال جواب فی الحال ورنکړې شی نو بیا هم دین ته څه نقصان نشته روستو به ورکړې شی خو که د کفارو نه اعراض اوکړې شی نو هغوی به لاړ شی چه د هغې په وجه به د ایمان نه محروم شی او په دې وخت کښې هغوی د رسول الله ﷺ خبرې په توجه سره اوریدلې او د ایمان راوړلو امید وو په دې وجه رسول الله ﷺ اعراض اوکړو.(۲) رسول الله ﷺ دا خیال اوفرمائیلو چه کفر او شرک په ظاهر کښې غټ ګناهونه دی د دې ازاله مقدم ده په نسبت د یو دینی مسئلې د کومې چه عبدالله بن ام مکتوم رضی الله عنه تپوس کول غواړی په دې وجه ئې اعراض اوفرمائیلو.(۳) د عبدالله بن ام مکتوم رضی الله عنه بار بار تپوس کول او زور لګول د مجلس د آدابو خلاف وو په دې وجه رسول الله ﷺ د خبرداری ورکولو د پاره د ادب ور زده کولو د پاره اعراض اوکړو.خو د الله پاک د رسول الله ﷺ دا اعراض خوښ نه شو په دې وجه ئې عتاب او تنبیه اوفرمائیله وجه د عتاب دا وه چه په ظاهر خو رسول الله ﷺ د شرک او کفر د ختمولو د پاره کوشش کوی چه ډیره اهم خبره وه خو څوک چه مخاطب وو په هغوی کښې طلب نه وو هغوی منکر وو او ابن ام مکتوم رضی الله عنه صادق طالب وو په جواب ورکولو کښې د هغه فائده یقینی وه او د کفارو سره د خبرو فائده او د هغې فائده غیر یقینی بلکه وهمی وه یقینی له په وهمی باندې مقدم کیدل پکار دی د دې مثال داسې دې لکه چه یو ډاکټر ته دوه مریضان راشی یو د هیضې والا او دویم د زکام نو د هیضې والامرض

خطرناک دي په دې وجه به د هغه علاج مقدم وی د نزلې او زکام به روستو وی خو که د هیضې والا مریض د علاج د سر نه طالب هم نه وی بلکه انکار کوی نو ډاکټر به د هغه علاج نه کوی بلکه د زکام والا مریض علاج به کوی هم دغه شان د کفارو مرض شرک او کفر سخت د هغه علاج مخکښې کیدل پکار وو خو کفار د علاج طالبان نه وو په دې وجه په رسول الله ﷺ عتاب اوکړې شو او عبد الله بن ام مکتوم رضی الله عنه د علاج په طلب کښې راغلې وو په دې وجه د هغوی طرف ته د توجه کولو حکم ورکړې شو د خطاب د صیغې په ځائې د غائب صیغه راوړلو سره ئې د هغوی د احترام لحاظ اوساتلو او دا ابهام ئې ښکاره کړو لکه چه دا کار بل چا کړې وی یعنی د هغوی د شان مناسب نه وو او د الاعمی نه ئې اشاره اوکړه چه هغه معذور وو د اعتراض قابل نه وو.پس معلومه شوه که د معذور سره خبره د مجلس د آدابو خلاف اوشی نو د عتاب قابله به نه وی.

فائده: ان ابن مکتوم وهو ابن خال خدیجة و اسمه عمرو بن قیس بن زائدة وام مکتوم کنیة امه و اسمها عاتقة بنت عبدالله (روح المعانی ص ۳۹)

﴿ وما یدریک لعله یزکی او یذکر فتنفعه الذکری ﴾ مقصد د آیت دا دې چه تاسو ته څه خبر دې چه دا صحابی کومه خبره تپوسی که تاسو هغوی ته تعلیم ورکړې وې نو د هغوی فائده یقینی وه چه هغه به د دې تعلیم په ذریعه د خپل نفس تزکیه کړې وې او خپل نفس به ئې د ظاهری او باطنی هر قسمه ګندګو نه پاکولو سره کمال حاصل کړې وې یا که دومره کمال ئې نه حاصلولو نو څه نه څه نصیحت به ئې حاصل کړې وې د الله پاک عظمت او ویره به ئې هم په

زړه کښې پیدا کیدلـه بهر حال فائده یقینی وه پـه صـیغه د خطاب یدریک کښې د رسول الله ﷺ د زړه ساتنه او اکرام دې که خطاب ترک کړې شوې دې نو شک کیدې شو چه د عمـل د دې طرز ناخوښیدل د ترک خطاب سبب جوړ شو کوم چه به د رسول الله ﷺ د پاره یو ناقابل برداشت غـم وو پـس د غائـب او د مخاطب پـه صـیغه کښې د رسـول الله ﷺ تکریم دې.(معارف)

﴿ لعله یزکی او یذکر فتنفعه الـذکری ﴾ یعنـی تاسو تـه څـه معلومـه ده چـه کـوم صحابی تپوس کولـو د هغې فائـده معلومـه وه تاسو بـه هغوی تـه تعلیم ورکړې وې نو هغه بـه د خپل نفس تزکیـه کړې وې او کمال بـه ئې حاصل کړې وې که دومره نـه وې نو کم ازکم د دې ذکر الله نه به ئې ابتدائی فائده اوچته کړې وې چه پـه هغې سره بـه د هغوی پـه زړه کښې د الله پاک پـه محبت او ویره کښې ترقی شوې وې.

﴿یزکی او یذکر ﴾ د ړومبی معنی پاکیدل او صفا کیـدل او د دویم معنی نصیحت حاصلول او د ذکر نه متاثر کیـدل ړومبې مقام اتقیاء تـه حاصل وی کوم چه خپل نفس د ظاهری او باطنی ګندګئ پاک کړی او بل مقام د دین پـه طریقې پلِتَدِې د تلو ابتـدائی حال دې چه شروع کونکی تـه د الله پاک یاد ورکولې شی چه پـه هغې سره د الله پـاک ویـره او د الله پاک محبت پـه زړه کښې حاضر وی مطلب دا چـه دې صـحابی تـه بـه پـه دې دوه کارونو کښې د یو حاصلیدل یقینی وو اګر چه دواړه بـه هم حاصل شوې وې،

د تبلیغ او تعلیم د پاره یو قرآنی اصول: پـه دې موقع باندې ښـکاره دا ده چـه د رسول الله ﷺ مخې تـه پـه یـو وخت کښې دوه کارونـه رامخې تـه

شو.(۱) مسلمان ته تعليم ورکول او د هغه زړه ساتل (۲)د غير مسلمو د هدايت دپاره هغوی ته توجه.د الله پاک ارشاد دا واضحه کړه چه اول مقدم دې د دويم په وجه باندې په رومبی کښې خلل اچول يا روستو کول صحيح نه دی معلومه شوه چه د مسلمان د تعليم او اصلاح فکر د غير مسلمو په اسلام کښې د داخلولو د فکر نه اهم او مقدم دې.

هدايت: کوم علماء چه غير مسلمو لره د اسلام سره د اشنا کولو او د هغوی د شبهاتو د ختمولو د پاره داسې کارونه کوی چه په هغې سره د مسلمانانو شبهات يا شکايات پيدا کيږی صحيح نه دی بلکه د قرآنی هدايت مطابق د علم اصلاح او د علم حفاظت مقدم ساتل پکار دی.

بے وفا سمجھیں تمھیں اھل حرم اس سے بچو
دیر والے کج ادا کھہ دیں یہ بدنامی بھلی

﴿ اما من استغنی فانت له تصدی وما عليک الا يزکی ﴾
يعنی تاسو دا يقينی فائده پريخودلې ده په يو وهمی او غير يقينی کار پسې شوی ئې او د داسې سړی د هدايت د پاره کوشش کوئ کوم چه ستاسو د دين طالب نه دې ستاسو او ستاسو د دين نه د بې رخی او بې پرواهی کوی حال دا چه که هغه اسلام نه راوړی او د خپل ځان تزکيه نه کوی نو په تاسو باندې هيڅ ګناه نشته دې ځکه چه رسول الله ﷺ په تبليغ کولو سره خپل منصبی فرض پوره کړل.

﴿ واما من جاءک يسعی وهو يخشی فانت عنه تلهی ﴾ خو کوم سړې چه د دين د طلب او علم د پاره په منډه مشتاق کيدو سره راغلې وی او په هغه کښې د الله پاک ويره هم وی تاسو هغه ته توجه نه

ورکوئ حال دا چه هم دا سړي د توجه قابل دي.

په دي آیت کښي په واضحه طریقه رسول الله ﷺ ته هدایت کړي شوي دي چه د مسلمانانو تعلیم او تربیت کولو سره هغوی پاخه مسلمانان جوړول قوئ مومنان جوړول دا غیر مسلمو ته د دعوت ورکولو او په اسلام کښي د داخلولو د فکر نه زیات اهم او مقدم دی.

كَلَّآ إِنَّهَا تَذْكِرَةٌ ﴿١١﴾ فَمَن شَآءَ ذَكَرَهُۥ ﴿١٢﴾ فِى صُحُفٍ مُّكَرَّمَةٍ ﴿١٣﴾
مَّرْفُوعَةٍ مُّطَهَّرَةٍۭ ﴿١٤﴾ بِأَيْدِى سَفَرَةٍ ﴿١٥﴾ كِرَامٍۭ بَرَرَةٍ ﴿١٦﴾ قُتِلَ ٱلْإِنسَٰنُ
مَآ أَكْفَرَهُۥ ﴿١٧﴾ مِنْ أَىِّ شَىْءٍ خَلَقَهُۥ ﴿١٨﴾ مِن نُّطْفَةٍ خَلَقَهُۥ فَقَدَّرَهُۥ ﴿١٩﴾
ثُمَّ ٱلسَّبِيلَ يَسَّرَهُۥ ﴿٢٠﴾ ثُمَّ أَمَاتَهُۥ فَأَقْبَرَهُۥ ﴿٢١﴾ ثُمَّ إِذَا شَآءَ أَنشَرَهُۥ

ترجمه: هر ګز داسي نه ده (داسي مه کوئ) بیشکه دا قرآن کریم نصیحت دي... پس څوک چه غواړی نصیحت دي قبول کړی... په عزتمندو صحیفو کښي لیکلي شوي.... چه د لیکونکو (ملائکو) په لاس کښي دی.... چه نیکان او بزرګان دی..... انسان دي قتل کړي شي څومره ناشکره دي.... د کوم څیز نه پیدا کړي دي الله پاک هغه لره..... د نطفي نه، الله پیدا کړو پس په اندازي سره (ئي پیدا کړو) بیا ئي ورته لار آسانه کړه... بیا ئي وفات کړو پس قبر ته ئي اورسولو... بیا چه کله اوغواړی نو راژوندي به ئي کړی.

حل المفردات: تذکرة مصدر دي د باب تفعیل نه نصیحت کول. ذکره واحد مذکر غائب ماضی معروف د باب (ن) یادول. صحف جمع د صحیفة ده په معنی د لیکلی شوی کاغذ دلته تري مراد لوح محفوظ

دي.مکرمة واحد مونثه اسم مفعول معنی تعظیم کړې شوې. د باب تفعیل نه تعظیم کول.مرفوعة واحده مونثه اسم مفعول اوچته کړې شوې د باب (ف) نه اوچتول مطهرة واحده مونثه اسم مفعول پاکه کړې شوې د باب تفعیل نه پاکول.ایدی جمع ده د ید په معنی د لاس.سفر جمع ده د دې په مفرد کښې دوه احتماله دی (۱) یو سافر په معنی د کاتب یعنی لیکونکې نو مراد به ترې کرام کاتبین وی یا انبیاء یا کاتبان وحی (۲) چه مفرد ئې سفیر وی نو په معنی د قاصد به وی مراد به ترې ملائک انبیاء او د وحی لیکونکی وی او علماء ځکه چه هغوی هم د رسول اللهﷺ او د امت ترمینځه قاصدان دی د باب (ن،ض) پرانستلې کیدل ،ښکاره کیدل.کرام جمع ده د کریم په معنی د معزز.بررة جمع ده د بر په معنی د نیکوکار صیغه د جمع مذکر مکسر د باب (ن،ض) منل،ښه سلوک کول خدمت کول.قتل واحد مذکر غائب ماضی مجهول د باب (ن) په معنی د وژلو.ما اکفره صیغه د تعجب ده.فقدره واحد مذکر غائب ماضی معروف د باب تفعیل په معنی د اندازه کول.السبیل لار د دې جمع سبل راځی یسره واحد مذکر غائب د باب تفعیل نه په معنی د آسانول.اماته واحد مذکر غائب ماضی مَعروف د باب افعال په معنی د مرګ ورکول په اصل کښې اموّت وو په قانون د یقال او بیاع امات شو.اقبره واحد مذکر غائب ماضی معروف د باب افعال نه دفن کول.انشره واحد مذکر غائب د باب افعال نه په معنی د خورول د مړی ژوندی کول.

حل الترکیب: ﴿ کلا انها تذکرة ﴾ کلا حرف ردع ان حرف دې د حروف مشبه بالفعل نه ها ضمیر راجع په طرف د آیات قرآن هغه ئې اسم

تذکرة خبر ان سره د خپل اسم او خبر نه جمله اسمیه خبریه شوه. ﴿فمن شاء ذکره ﴾ فا نتیجیه من شرطیه مبتدا شاء فعل هو ضمیر ئې فاعل فعل د خپل فاعل سره شرط ذکر فعل هو ضمیر راجع په طرف من د هغې فاعل ه ضمیر مفعول به فعل د خپل فاعل او مفعول به سره جزا شوه د پاره د شرط شرط د خپلې جزا سره جمله شرطیه کیدو سره خبر دې د پاره د من مبتدا مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه شوه.

﴿فی صحف مکرمة مرفوعة مطهرة بایدی سفرة کرام بررة قتل الانسان ما اکفره ﴾ فی حرف جار صحف موصوف مکرمة صفت اول مرفوعة صفت ثانی مطهرة صفت ثالث باحرف جار ایدی مضاف سفرة موصوف کرام صفت اول بررة صفت ثانی موصوف سره د دوارو صفتونو سره مضاف الیه شو د پاره د مضاف چه ایدی دې مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور شو د پاره د جار جار سره د مجرور نه ظرف مستقر متعلق شو د کائنة سره صفت رابع د صحف د پاره موصوف سره د دوارو صفتونو نه مجرور شو د پاره د جار، جار سره د مجرور نه ظرف مستقر متعلق شو د کائنة مقدر پورې یا حال دې د انها د ضمیر نه یا صفت د پاره تذکرة یا خبر ثانی دې د پاره د انها په دې صورتونو کښې به ﴿فمن شاء ذکره ﴾ جمله معترضه وی یا خبر دې د پاره د مبتدا محذوف چه هی دې یعنی ﴿هی ....فی صحف ﴾ قتل الانسان قتل فعل الانسان نائب فاعل فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره معنی جمله انشائیه شو (جمله دعائیه ده) (اعراب) ما په معنی د ای شئ مبتدا اکفره اکفر فعل هو ضمیر ئې فاعل ه ضمیر مفعول به فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله

فعلیه خبریه کیدو سره خبر شو د پاره د مبتدا مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه انشائیه معلله کیدو سره د مخکښې جملې د پاره علت شو.﴿من ای شئی خلقه﴾ من حرف جار ای مضاف شئی مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور شو د پاره د جار جار سره د مجرور نه متعلق شو په خلق پورې خلق فعل هو ضمیر پکښې فاعل ه ضمیر مفعول به فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعلیه انشائیه شوه.

﴿من نطفة خلقه﴾ من حرف جار نطفة مجرور جار سره د مجرور نه متعلق مقدم شو د پاره د خلقه خلق فعل هو ضمیر ئې فاعل او ه ضمیر مفعول به فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره معطوف علیه ﴿فقدره﴾ فا عاطفه قدر فعل هو ضمیر ئې فاعل ه ضمیر مفعول به فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره معطوف اول.﴿ثم السبیل یسره﴾ ثم عاطفه السبیل مفعول به د پاره د فعل محذوف یسر دپاره فعل فاعل مفعول یو ځائې کیدو سره مفسر ....یسر فعل هو ضمیر فاعل او ه ضمیر مفعول به فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره تفسیر مفسر سره د تفسیر نه جمله تفسیریه کیدو سره معطوف ثانی.﴿ثم اماته﴾ ثم عاطفه امات فعل هو ضمیر فاعل ه ضمیر مفعول به فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره معطوف ثالث.فاقبره فا عاطفه اقبر فعل هو ضمیر ئې فاعل ه ضمیر مفعول به فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره معطوف رابع.﴿ ثم

اذا شآء انشره ﴾ ثم عاطفه اذا شرطیه شاء فعل هو ضمیر راجع په طرف د الله هغه فاعل انشاره مفعول به محذوف فعل سره د فاعل او سره د مفعول نه شرط شو انشر فعل هو ضمیر ئې فاعل ه ضمیر مفعول به فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جزا شوه د پاره د شرط شرط سره د خپلې جزا نه جمله شرطیه کیدو سره معطوف خامس. معطوف علیه سره د ټولو معطوفاتو نه جمله معطوفه شوه دا هم احتمال دې چه ﴿من نطفة ﴾ عطف بیان شی د ﴿ من ای شئی خلقه ﴾ نه.

تفسیر: ﴿ کلا انما تذکرة فمن شآء ذکره ﴾ په دې آیت کښې الله پاک رسول الله ﷺ په راروان وخت کښې د داسې کار کولو نه منع فرمائی چه بیا داسې بالکل اونکړئ د خپلو مخلصو ملګرو نه بالکل اعراض مه کوئ او د دې منافقانو او مشرکانو ته زیاته توجه مه کوئ ځکه چه قرآن پاک د نصیحت یو څیز دې ستاسو په ذمه صرف د دې تبلیغ دې چه د چا زړه منی هغه دې قبول کړی چه د چا زړه نه غواړی هغه دې نه قبلوی تاسو ته هیڅ نقصان نشته په دې وجه تاسو دومره مشقت او تکلیف مه برداشت کوئ.

﴿ فی صحف مکرمة مرفوعة مطهرة ﴾ په دې آیت کښې د قرآن کریم صفتونه او د هغه اوچته مرتبه بیانیږی چه قرآن کریم په داسې صحیفو کښې محفوظ دې چه د عزت والادی د مکرم نه مراد مقبول او خوښ کړې شوې او هغه صحیفې ډیرې اوچتې مرتبې والا او عالی شان دی او د اوچت مقام والادی ځکه چه لوح محفوظ د عرش نه لاندې دې او هغه صحیفې مقدسې او پاکې دی جنبی او د حیض او

نفاس والازنانه او د بې اودسه سړی د پاره د هغې مسح کول جائز نه دی.﴿ بايدى سفرة كرام بررة ﴾ مقصد دا دې چه صحيفې د داسې ليكونكو په لاسونو كښې دی چه مكرم دی نيكان دی د دې نه مراد ملائک دی يا انبياء كرام يا كاتبين وحی(د وحی ليكونكی صحابه كرامؓ) كه سفرة سفير په معنی د قاصد وی نو بيا پكښې علماء هم داخل دی څكه چه هغوی هم د رسول اللهﷺ او د باقی امت په مينځ كښې په منزله د قاصد او سفير دی دا ټول صفتونه د قرآن مجيد د الله پاک د طرفه كيدو باندې دلالت كوی.

﴿ قتل الانسان ما اكفره من ای شئ خلقه ﴾ په دې آيت كښې د كفارو د قرآن كريم نه د نصيحت نه اخستلو په وجه د هغوی بدی بيان كړې شوې ده.او چونكه د انكار وجه تكبر او غرور ده نو الله پاک كافر ته د هغه د اصل بيانولو سره خپل حيثيت بيان فرمائی چه ستا اصل خو د ګنده اوبو يو قطره ده او د انعاماتو ذكر هم دې كوم نې چه د پيدائش نه واخله تر د مرګه پورې جاری كړی دی په دې وجه نې اوفرمائيل چه انسان دې الله پا ک هلاک كړی(جمله بددعائيه) دا انسان څومره ناشكره دې چه الله پاک پرې څومره انعامات كړی دی بيا هم په هغه باندې ايمان نه راوړی اې انسانه لږ خواوښايه ته د څه څيز نه پيدا كړې شوې نې او چونكه جواب معلوم وو نو په دې وجه نې خپله جواب اوكړو چه ته د اوبو د يو ګنده قطرې نه جوړ كړې شوې نې.بيا د مختلفو تصرفاتو نه پس الله پاک پيدا كړې او په خاص اندازې سره او په لوئې حكمت نې جوړ كړې د هغه قد او قامت او بدن او شكل اندامونه جوړونه بندونه ستركې پوزه غوږونه نې په

يو خاص اندازې سره جوړ کړل که لږ د دې خلاف اوشي نو د انسان شکل به خراب شي.د قدره يو تفسير دا هم کړې شوې دې چه الله پاک انسان پيدا کړو او د هغه اندازه ئې مقرر کړه چه څومره عمر به ئې وی مال به ئې څومره وی رزق به ورته څومره ملاويږی څه څه عمل به کوی نيک بخت به وی که بدبخته.(معارف)

﴿ ثم السبيل يسره ﴾ يعنی الله پاک د انسان پيدائش په خپل حکمت بالغه سره د مور په خيټه کښې په درې تيرو کښې داسې په محفوظ مقام کښې اوفرمائيلو چه د چا په خيټه کښې دا هر څه کيږی هغې ته هم د دې تخليق کيفيت نه دې معلوم بيا ژوندې د ټولو اندامونو او اعضاء باندې پوره انسان چه کوم ځائې جوړ شوې دې د هغه ځائې نه هغه ته دنيا ته د راتلو لار سره د تنګ والی نه الله پاک په خپل قدرت کامله سره آسانه کړه چه د ځلور پنځه پونډه وزنی بدن صحيح او سلامت راځی او مور ته هم خاص نقصان نه رسی ﴿فتبارک الله احسن الخالقين ﴾ (معارف)

﴿ ثم اماته فاقبره ﴾ د انسان د پيدائش د ابتداء د بيان نه پس د هغه انتها مرګ او قبر دې دا ئې هم په انعاماتو کښې شمير کړو د دې نه معلومه شوه چه د انسان مرګ په حقيقت کښې هيڅ مصيبت نه دې بلکه صرف نعمت دې په حديث شريف کښې دی چه ﴿ تحفة المومن الموت ﴾ او په دې کښې د مجموعی عالم په اعتبار سره ډير حکمتونه دی فاقبره معنی ده بيا ئې په قبر کښې داخل کړو دا هم يو انعام دې چه انسان د عامو ځناورو په شان الله پاک نه دې کړې چه مړ شو نو هم هلته اوسوزيدو يا روست شو بلکه په غسل او کفن ورکولو سره په

احترام سره په قبر کښې کیخودلې شی.(معارف)

مسئله: د دې آیت نه معلومه شوه چه د مړی دفن کول واجب دی.

﴿ ثم اذا شآء انشره ﴾ کله چه د الله پاک مرضی وی هغه به انسان دوباره ژوندې کوی.بیا به حساب او کتاب وی د دې ټولو انعاماتو تقاضا دا وه چه انسان شکریه ادا کړی او د توحید اقرار اوکړی خو هغوی داسې اونکړل.

﴿ كَلَّا لَمَّا يَقْضِ مَآ أَمَرَهُۥ ۝٢٣ فَلْيَنظُرِ ٱلْإِنسَـٰنُ إِلَىٰ طَعَامِهِۦٓ ۝٢٤ أَنَّا صَبَبْنَا ٱلْمَآءَ صَبًّا ۝٢٥ ثُمَّ شَقَقْنَا ٱلْأَرْضَ شَقًّا ۝٢٦ فَأَنۢبَتْنَا فِيهَا حَبًّا ۝٢٧ وَعِنَبًا وَقَضْبًا ۝٢٨ وَزَيْتُونًا وَنَخْلًا ۝٢٩ وَحَدَآئِقَ غُلْبًا ۝٣٠ وَفَـٰكِهَةً وَأَبًّا ۝٣١ مَّتَـٰعًا لَّكُمْ وَلِأَنْعَـٰمِكُمْ ۝٣٢ ﴾

ترجمه: هر گز داسې نه ده(انسان شکریه ادا نه کړه) تراوسه نه دې پوره کړې دې انسان هغه حکم کوم چه الله پاک هغه ته کړې دې پس پکار ده چه انسان خپل خوراک ته اوګوری بیشکه مونږ راورولې دی اوبه په راورولو سره بیا اوڅیرله مونږ زمکه په څیرلو سره پس راوټوکول مونږ د دې نه دانې او انګور او ترکاری او زیتون او کهجورې او ګور ګور باغونه او میوې او ګیا ستاسو او ستاسو د څارو د فائدې د پاره.

حل المفردات: لما یقض واحد مذکر غائب مضارع معروف د باب (ض) پوره کول په اصل کښې یقضی وو لما حرف جازم داخلیدلو په وجه د آخر نه یاء اوغورځیدله په قانون د لم یخش او لم یرم. فلینظر

واحد مذکر غائب امر غائب معروف د باب (ن) کتل.
طعامه خوړل د دې جمع اطعمة راځی د باب (س) خوراک.
صببنا جمع متکلم ماضی معروف د باب (ن) په معنی د اړولو صبا مصدر. شققنا جمع متکلم ماضی معروف د باب (ن)څیرل شلول مصدر مشقة سخت کیدل په تکلیف کښې اچول. فانبتنا جمع متکلم ماضی معروف د باب افعال نه په معنی د ټوکولو قضبا ترکاری ساګ د باب (ض) پریکول سبزۍ ته قضب اووئیلې شو ځکه چه هغه هم پریکولو سره پخولې شی او خوړلې شی غلبا په معنی د ګور ګور دا جمع ده مفرد ئې غلباء دې د باب (ض) نه غالب کیدل. ابا اوچې یا لوندې ګیا ته وئیلې شی د باب (ن) په معنی د شوق کول.
حل الترکیب: ﴿ کلا لما یقض ما امره ﴾ کلا حرف ردع لما حرف جازمه یقض فعل هوضمیر چه راجع دې په طرف د انسان هغه ئې فاعل ما موصوله امر فعل هو ضمیر پکښې دې هغه ئې فاعل او ه ضمیر مفعول به فعل سره د فاعل او سره د مفعول به جمله فعلیه خبریه شو. ﴿ فلینظر الانسان الی طعامه ﴾ فا تفسیریه ینظر فعل الانسان فاعل الی حرف جاره طعامه مضاف مضاف الیه یو ځائې کیدو سره مبدل منه. ﴿ انا صببنا المآء صبا ﴾ ان حرف دې د حروف مشبه بالفعل نه نا ضمیر ئې اسم صببنا فعل او فاعل الماء مفعول به صبا مفعول مطلق فعل سره د فاعل او سره د مفعول به او مفعول مطلق نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره معطوف علیه.
﴿ ثم شققنا الارض شقا ﴾ ثم عاطفه شققنا فعل او فاعل الارض مفعول به شقا مفعول مطلق فعل سره د فاعل او سره د مفعول

به او مفعول مطلق نه جمله فعليه خبريه كيدو سره معطوف اول.فانبتنا فا عاطفه انبتنا فعل او فاعل في جار ها ضمير مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو په انبتنا فعل پورې حبا معطوف عليه واؤ عاطفه عنبا معطوف اول و قضبا معطوف ثاني و زيتونا معطوف ثالث و نخلا معطوف رابع و حدائق غلبا موصوف صفت يو ځائې كيدو سره معطوف خامس و فاكهة معطوف سادس و ابا معطوف سابع،معطوف عليه سره د ټولو معطوفاتو نه مفعول به شو د پاره د انبتنا فعل متاعا مفعول له د پاره د انبتنا فعل لام جاره كم مجرور جار سره د مجرور نه معطوف عليه واؤ عاطفه (لام جاره) انعامكم مضاف مضاف اليه مجرور جار سره د مجرور نه معطوف شو د پاره د معطوف عليه معطوف عليه سره د معطوف نه متعلق شو په متاعا پورې كوم چه مفعول له دې د پاره د انبتنا فعل انبتنا فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعليه خبريه كيدو سره معطوف ثاني شو د پاره د صببنا صببنا د خپلو د دوارو معطوفو سره خبر دې د ان ان سره د خپل اسم او خبر نه جمله اسميه خبريه كيدو سره بدل الاشتمال دې طعامه مبدل منه سره د بدل نه مجرور شو د پاره د جار چه الى دې جار سره د مجرور نه متعلق شو په فلينظر فعل پورې فعل سره د فاعل او متعلق نه جمله فعليه خبريه شوه.

فائده: د متاعالكم نور تركيبونه په سورة النازعات كښې تيرشوى دى هلته ئې اوګورئ.

تفسير:ربط: په مخكښې آيتونو كښې د انسان د پيدائش د ابتداء او انتهاء ذكر وو او د هغې نه مقصد بيانول د انعاماتو او د الله پاک د

قدرت د دلائلو وو چه د هغې تعلق خپله د انسان د ذات او پیدائش سره دې د دې انعاماتو د ذکر کولو نه پس په دې آیت کښې منکر انسان ته خبرداری ورکړې شوې دې چه د دې انعاماتو تقاضا دا ده چه انسان په هغې کښې غور کولو سره په الله پاک باندې ایمان راوړې وې او د هغه د احکاماتو تعمیل ئې کړې وې خو دې بدنصیبه داسې اونکړل پس فرمائی ﴿ کلا لما یقض ما امره ﴾ هر ګز نه ده داسې انسان پوره نه کړو هغه حکم کوم چه الله پاک هغه ته کړې وو. نه ئې د توحید اقرار اوکړو او نه د رسالت نه د قیامت حال دا چه کوم دلائل او انعامات ذکر کړې شوې دی د هر یو تقاضا هم دا ده چه انسان شکر کړې وې او د توحید اقرار ئې کړې وې.

﴿ فلینظر الانسان الی طعامه ﴾ د دې ځائې نه د هغه انعاماتو ذکر دې کوم چه د انسانی پیدائش د ابتداء او انتهاء د مینځ په زمانه کښې په انسان باندې جاری وی مقصد دا چه انسان دې په خپل خوراک کښې سوچ اوکړی دا نمړئ کومه چه هغه خوله کښې اچوی هغه مونږ د هغه د پاره څنګه تیاره کړه. ﴿ انا صببنا المآء صبا ﴾ د ټولو نه اول مونږ اوریځې راوچتې کړې په اوریځو کښې مو اوبه واچولې اوبه مو په عجیبه انداز باندې په زمکه راورولې آیا د الله پاک نه سوا داسې ذات شته کوم چه په دې باندې قادر وی. ﴿ ثم شققنا الارض شقا ﴾ بیا مونږ په زمکه کښې د اوبو د څکلو استعداد کیخودلو او زمکه مو نرمه جوړه کړه او هغه مو اوشیرله.

﴿ فانبتنا فیها حبا و عنبا و قضبا ﴾ د شیرلو نه پس مو د دې نه مختلف شیزونه پیدا کړل مثلاً حبا غله غنم، اوربشې، باجره، جوار

وغيره او انګور مو پيدا کړل کوم چه د خوند او د خوراک د دواړو فائده ورکوی او د دې نه مختلف قسمه شربتونه تيارولې شی. وقضبا او د خوراک نه پس مختلفې سبزيانې کومې چه د پرې کولو او بغير د پرې کولو نه خوړلې شی لکه مولئ، ګازره، ټيپر، پياز، بادرنګ، اوګه، هندوانه او خربوزه وغيره. وزيتونا او زيتون مو پيدا کړل کوم چه د خوراک د پاره هم استعمالولې شی په سر کښې هم لګولې شی د علاج د پاره هم کار کوی او د دې لرګې هم ډير مفيد دې. ونخلا کهجوره مو پيدا کړه چه هغه تازه يا اوچولو سره پوره کال خوړلې شی د دې نه سرکه او مختلف شربتونه جوړلې شی. ﴿ وحدائق غلبـا ﴾ او ګور ګور باغونه ئې هم پيدا کړې دی چه په هغې کښې مختلف قسمونه ميوې او ګلونه وی چه د هغې سورې ډير مزيدار وی ميوې ئې ډيرې خوندورې وی مثلا سيب، انار، خورمانړی، بادام. ﴿وفاكهة﴾ د دې نه علاوه نورې غوزان او ځنګلی ميوې مثلا پيلو (دمسواک وونه) وغيره. ﴿ وابا ﴾ او وابښه او ګيا مو پيدا کړه. ﴿ متاعـا لكـم ولانعـامكم ﴾ دا ټول څيزونه ستاسو د فائدې د پاره دی او ستاسو د څاروو د پاره ئې پيدا کړې دی او بيا څاروی ستاسو د فائدې د پاره دی چه د هغې پئ څکئ او د هغې غوښه خورئ او د هغې د څرمنو نه پيزار جوړوئ جامې جوړوئ او د هغې د ويښتو نه مزيدار قسمونه شالونه جوړ کړئ دا ټولې د الله پاک د قدرت کامله نمونې دی نو کوم ذات چه د يو څاڅکی نه په زرګونو څيزونه جوړ کړل هغه تاسو هم دوباره ژوندی کولې شی او دا ټول انعامات دی د دې تقاضا دا ده چه د منعم(چا چه انعام کړې دې يعنی الله پاک) شکر

ادا کړې شی او شکر هم دا دې چه هغه وحده لاشریک اومنلې شی او د هغه په احکاماتو باندې عمل اوکړې شی.

فَإِذَا جَآءَتِ ٱلصَّآخَّةُ ﴿٣٣﴾ يَوْمَ يَفِرُّ ٱلْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ ﴿٣٤﴾ وَأُمِّهِۦ وَأَبِيهِ ﴿٣٥﴾ وَصَٰحِبَتِهِۦ وَبَنِيهِ ﴿٣٦﴾ لِكُلِّ ٱمْرِئٍ مِّنْهُمْ يَوْمَئِذٍ شَأْنٌ يُغْنِيهِ ﴿٣٧﴾ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ مُّسْفِرَةٌ ﴿٣٨﴾ ضَاحِكَةٌ مُّسْتَبْشِرَةٌ ﴿٣٩﴾ وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ عَلَيْهَا غَبَرَةٌ ﴿٤٠﴾ تَرْهَقُهَا قَتَرَةٌ ﴿٤١﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْكَفَرَةُ ٱلْفَجَرَةُ ﴿٤٢﴾

ترجمه: پس کله چه راشی د غوږونو کڼونکې سخت آواز په کومه ورځ چه به تختی سړې د خپل رور نه او د خپلې مورنه او دخپل پلارنه او د خپلې ښځې نه اود خپلو خامنونه د هر سړی د پاره په هغه ورځ يوحال وی چه هغه به ئې بې پرواه کړې وی په هغه ورځ به ډير مخونه روښانه وی خنديدونکی به وی خوشحاليدونکی به وی او ډيرمخونه به غبار آلود وی او تور والې به پرې خور وی دا خلق کافران بدکرداره دی.

حل المفردات: الصاخة: واحد مونثه اسم فاعل په اصل کښ صاخخة وو په معنی د سخت آواز کوم چه غوږونه کاڼه کړی مراد ترې دويمه نفخه ده د باب (ن) نه د آواز غوږونو لره کڼول. يفر واحد مذکر غائب مضارع معروف د باب (ض) نه په معنی د تختيدلو المرة په معنی د سړی جمع ئې رجال ده او مرءون هم اوريدلې شوې دې. (مصباح ص ۸۱۳) اخيه رور تثنيه ئې اخوان جمع ئې اخوة وامه مور جمع ئې امهات ده. ابيه جمع ئې اباء. صاحبته ښځه صاحبات ئې جمع ده. بنيه خامن اولاد. .شان حال اهم معامله جمع ئې شئون ده يغنيه واحد مذکر

غائب مضارع معروف په اصل کښې يغنى د باب افعال نه بې پرواه کول لرې کول فائده ورکول.وجوه جمع ده مفرد ئې وجه ده مسفرة واحده مونثه اسم فاعل د باب افعال نه روښانه کيدل ضاحکة واحده مونثه اسم فاعل خنديدونکې د باب (س).مستبشرة واحده مونثه اسم فاعل د باب استفعال خوشحاليدل.

غبرة غبار(ګرد) د باب (ن) په دوړه وغيره ککړيدل.ترهقها واحده مونثه غائبه مضارع معروف د باب (س) نه خوريدل،قترة توروالې او ګرد.

قترة او غبرة کښې فرق: قترة اوچتيدونکې دوړه چه په هغې کښې په اوچتيدلو باندې د اوبو ګډون اوشى غبرة د لاندې والا دوړه.الکفرة جمع ده مفرد ئې کافر دې.الفجرة جمع ده د دې مفرد فاجر دې.

(اعراب القرآن)

حل التركيب: ﴿ فاذا جآء الصآخة .... نه تر........وصاحبته و بنيه ﴾ پورې ....فا تفسيريه يا عاطفه اذا شرطيه جاءت فعل الصاخة مبدل منه يوم مضاف يفر فعل المرء فاعل من حرف جار اخيه مضاف مضاف اليه معطوف عليه واؤ عاطفه امه مضاف مضاف اليه معطوف اول واؤ عاطفه ابيه مضاف مضاف اليه معطوف ثانى واؤ عاطفه صاحبته مضاف مضاف اليه معطوف ثالث واؤ عاطفه بنيه مضاف مضاف اليه معطوف رابع معطوف سره د ټولو معطوفاتو نه مجرور شو د پاره د من جاره جار سره د مجرور نه متعلق شو په يفر فعل پورې فعل سره د فاعل او سره د متعلق خپل نه جمله فعليه خبريه کيدو سره مضاف اليه شو د پاره د يوم مضاف مضاف سره د

مضاف اليه نه بدل دي د الصاخة نه مبدل منه سره د بدل نه فاعل دي د پاره د جاءت فعل فعل سره د فاعل شرط د پاره د جزاء محذوف يعنی ﴿ اشتغل كل واحد بنفسه ﴾ بيا شرط او جزاء يو ځاني كيدو سره جمله شرطيه شوه.

فائده: دا هم احتمال دي چه يوم د اذا نه بدل شی يا مفعول فيه شی د پاره د فعل محذوف اعنی د پاره.﴿ لكل امرئ منهم يومئذ شان يغنيه ﴾ لام جار كل مضاف امرئ موصوف من جاره هم مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو په كائن مقدر پوري كائن صيغه د اسم فاعل سره د فاعل او متعلق نه صفت شو د پاره د موصوف موصوف سره د صفت نه مضاف اليه شو د پاره د كل مضاف، مضاف سره د مضاف اليه نه مجرور شو د پاره د جار چه لام دي جار سره د مجرور نه ظرف مستقر حاصل پوري متعلق كيدو سره خبر مقدم شو د پاره يوم مضاف اذ كوم چه په اصل كښ اذ كان كذا وو مضاف اليه مضاف سره د مضاف اليه نه مفعول فيه شو د پاره د يغنيه فعل شان موصوف يغنی فعل هو ضمير راجع په طرف د شان فاعل ه ضمير راجع په طرف د امرئ مفعول به فعل سره د فاعل او سره مفعول به نه جمله فعليه خبريه كيدو سره صفت شو د پاره د موصوف موصوف سره د صفت نه مبتداء موخره شوه مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه خبريه شوه.﴿ وجوه يومئذ مسفرة ضاحكة مستبشرة ﴾ وجوه مبتداء يومئذ په شان د مخكښ تركيب مفعول فيه دي د پاره د مسفرة مسفرة خبر اول ضاحكة خبر ثانی مستبشرة خبر ثالث مبتدا سره د دري وارو خبرونو جمله اسميه خبريه كيدو سره معطوف عليه.

﴿ وجوه يومئذ عليها غبرة ترهقها قتـرة ﴾ واؤ عاطفـه وجوه مبتدا يوم مضاف اذ مضاف اليه مضاف سره دمضاف اليه نه مفعول فيه دي د پاره د ترهقها على جار ها ضمير مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو په كائنة مقدر پورې نو دا خبر مقدم شو غبرة مبتدا موخر مبتدا سره د خبر جمله اسميه كيدو سره خبر اول دې دپاره د وجوه.ترهق فعل ها ضمير راجع په طرف د وجوه مفعول به قترة فاعل فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعليه خبريه كيدو سره خبر ثانى دې د دپاره د وجوه مبتدا سره د دواړو خبرونو جمله اسميه خبريه كيدو سره معطوف معطوف عليه د خپل معطوف سره جمله معطوفه شوه.

فائده: دا هم احتمال دې چه ترهقها جمله فعليه كيدو سره صفت وى دپاره د غبرة.

﴿ اولئک هم الكفرة الفجرة ﴾ اولئک اسم اشاره مبتدا هم ضمير مبتدا الكفرة خبر اول الفجرة خبر ثانى مبتدا سره د دواړو خبرونو نه جمله اسميه خبريه كيدو سره بيا خبر دې د پاره د مبتدا مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه خبريه شوه.

تفسير: د الله پاک د قدرت د دلائلو د بيانولو نه پس د اصل مضمون بيان دې يعنى قيامت او د هغې د احوالو او اهوالو(يعنى سختو) ذكر دې د نصيحت قبلونكو د پاره زيرې او د نه قبلونكو د پاره د سخت عذاب وعيد دې.

﴿ فاذا جآءت الصاخة ﴾ : مقصد دا دې چه اوس خو تاسو زما ناشكرى كوئ چه كله غوړونه كړونكې سخت آواز راشى د دې نه

مراد نفخه ثانیه او د قیامت شور مراد دي نو په هغه ورځ به تاسو ته د خپلې ناشکرۍ مزه معلومه شي.

﴿یوم یفر المرء من اخیه و امه و ابیه و صاحبته و بنیه﴾ د قیامت د ورځې د ویرې بیان دي چه د قیامت ورځ به داسې سخته او هیبت ناکه وي چه هر انسان به په خپل فکر وي د نفسی نفسی عالم به وي چا ته به هم د بل خبر نه وي د خپل رور نه به اوتختی د خپلې مهربانې مور نه به اوتختی د خپل شفیق پلار نه به هم سترګې واړوي او د خپل شفقت او پرورش خیال به هم ورته نه راځي. او خپله ښځه چه د خپل کور او مال خزانه کونکې ئې جوړه کړې وه چه څۀ به هم ملاویدل حلال او حرام هغه به ئې د هغې مخې ته کیخودل د دې د غیرت د پاره به ځان وژلو ته تیار شو هغه ئې د مینې ځائې او په هر غم شریکه ګڼرله نن به د هغې په لیدو لرې اوتختی او د خپلو خوږو ځآمنو نه به هم سترګې واړوي په دې کښې ئې د ادنی نه اعلی ته په ترتیب سره بیان فرمائیلې دي.﴿لکل امرئ منهم یومئذ شان یغنیه﴾ دا جمله د مخکښې مضمون علت بیانوی مقصد دا دي چه د قیامت په ورځ به داسې ولې کیږي د یو بل نه به ولې تختی وجه دا ده چه په دغه ورځ به هر انسان په داسې حالت کښې وي چه هغه ته به د خپل حالت نه علاوه د چا پته هم نه وي بس خپل فکر به ورسره وي. دا د حساب کتاب نه مخکښې حال دي بیا به حساب کتاب شروع شي د رسول الله ﷺ په شفاعت باندې بیا به ﴿وجوه یومئذ مسفرة ضاحکة مستبشرة﴾ ډیر مخونه به روښانه وي د جنت په زیری باندې به خوشحاله وي خاندی به.

﴿ وجوه يومئذ عليها غبرة ﴾ او په ډيرو مخونو باندې به ګرد وی او د خپلو بدو عملونو ليدو سره به د هغوی په مخونو باندې تور والې خور شی دا به هغه خلق وی چه کافران هم وو او بد کرداره هم.

سورة التكوير مكية

ركوعها ١	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	اياتها ٢٩

﴿ إِذَا ٱلشَّمْسُ كُوِّرَتْ ۝١ وَإِذَا ٱلنُّجُومُ ٱنكَدَرَتْ ۝٢ وَإِذَا ٱلْجِبَالُ سُيِّرَتْ ۝٣ وَإِذَا ٱلْعِشَارُ عُطِّلَتْ ۝٤ وَإِذَا ٱلْوُحُوشُ حُشِرَتْ ۝٥ وَإِذَا ٱلْبِحَارُ سُجِّرَتْ ۝٦ وَإِذَا ٱلنُّفُوسُ زُوِّجَتْ ۝٧ وَإِذَا ٱلْمَوْءُۥدَةُ سُئِلَتْ ۝٨ بِأَىِّ ذَنۢبٍ قُتِلَتْ ۝٩ وَإِذَا ٱلصُّحُفُ نُشِرَتْ ۝١٠ وَإِذَا ٱلسَّمَآءُ كُشِطَتْ ۝١١ وَإِذَا ٱلْجَحِيمُ سُعِّرَتْ ۝١٢ وَإِذَا ٱلْجَنَّةُ أُزْلِفَتْ ۝١٣ عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّآ أَحْضَرَتْ ۝١٤

ترجمه: کله چه نمر تور کړې شی...او کله چه ستوری په ماتيدلو سره راوغورځيږی....او کله چه غرونه روان کړې شی....او کله چه د لسو مياشتو بلاربې اوښې پريخودلې شی.....او کله چه ځناور راجمع کړې شی.....او کله چه سمندر بل کړې شی......او کله چه خلق يو ځائې کړې شی....او کله چه د ژوندې دفن کړې شوې زنانه نه تپوس اوکړې شی....چه هغه په څه ګناه باندې قتل کړې شوه....او کله چه عمل نامې پرانستلې شی....او کله چه آسمان پرانستلې شی.....او

کلـه چـه دوزخ ښـه ګـرم کـړې شـي....او کلـه چـه جنـت نـزدې کـړې شي.....پوهه به شي هر يو نفس هغـه څيز کوم(عمل)چه هغه حاضر کړې وي.

حل المفردات: الشمس نمر د دې جمع شموس ده د باب(ن) بندول لرې ساتل انکار کول نمر ته په دې وجه شمس وئيلې شي چه دې هم انسان خپـل ځـان تـه د کتلـو نـه بندوي.کـورت واحده مونثـه غائبـه ماضي مجهول د باب تفعيل نه بې نوره کول.النجوم جمع ده د نجم پـه معنی د ستوري د بـاب(ن) پـه معنـی ښکاره کولـو. انکـدرت واحده مونثه غائبه ماضي معروف د باب انفعال نه ماتيدلو سره راپريوتل.نوستلې کيـدل....العشار جمع ده د العشرآء په معنـی د لسو مياشتو بلاربه اوښـه.عطلت واحده مونثـه غائبـه ماضي مجهول د بـاب تفعيـل پـه معنی د بيکاره پريخودلو.تعطيلات چهتيانې هم د دې باب نه دی ځکـه چـه د چهتـۍ پـه ورځ انسان بيکـاره ناست وي کـار او لوستل وغيـره پريـږدي.الوحوش جمع ده د وحش پـه معنـی د ځنګلي ځناور کوم چه د انسان په ليدو باندې اوتختی د باب(ض) د ويرې د وجې نه تختيدل،ويره،ځانله کيدل.البحار جمع ده د بحر پـه معنـی د سمندر. سجرت واحده مونثـه غائبـه ماضي مجهول د بـاب تفعيـل اور بلـول. النفـوس جمـع د نفس ده پـه معنـی د روح،ذات.زوجـت واحـده مونثـه غائبـه ماضي مجهـول د بـاب تفعيـل نـه پـه معنـی د يـو ځـائې کولـو الموءودة واحده مونثه اسم مفعول په معنی د ژونده ښخه کړې شوې ماشومه د بـاب (ض) نـه پـه معنـی د جينـۍ ژونـدۍ ښـخول...سئلت واحده مونثه غائبه ماضي مجهول د باب (ف) سوال کول.ذنب ګناه د دې جمع ذنوب راځي.قتلت واحده مونثه غائبه ماضي مجهول د بـاب

بـه او مفعـول مطلـق نـه جملـه فعلیـه خبریـه کیـدو سـره معطـوف اول.فانبتنا فا عاطفه انبتنا فعل او فاعل فی جار ها ضمیر مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو په انبتنا فعل پوره حبا معطوف علیه واؤ عاطفه عنبا معطوف اول و قضبا معطوف ثانی و زیتونا معطوف ثالث و نخلا معطوف رابع و حدائق غلبا موصوف صفت یو ځائي کیدو سره معطوف خامس و فاکهة معطوف سادس و ابا معطوف سابع،معطوف علیه سره د ټولو معطوفاتو نه مفعول به شو د پاره د انبتنا فعل متاعا مفعول له د پاره د انبتنا فعل لام جاره کم مجرور جار سره د مجرور نه معطوف علیه واؤ عاطفه (لام جاره) انعامکم مضاف مضاف الیه مجرور جار سره د مجرور نه معطوف شو د پاره د معطوف علیه معطوف علیه سره د معطوف نه متعلق شو په متاعا پوره کوم چه مفعول له دې د پاره د انبتنا فعل انبتنا فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره معطوف ثانی شو د پاره د صببنا صببنا د خپلو د دواړو معطوفو سره خبر دې د ان ان سره د خپل اسم او خبر نه جمله اسمیه خبریه کیدو سره بدل الاشتمال دې طعامه مبدل منه سره د بدل نه مجرور شو د پاره د جار چه الی دې جار سره د مجرور نه متعلق شو په فلینظر فعل پوره فعل سره د فاعل او متعلق نه جمله فعلیه خبریه شوه.

فائده: د متاعالکم نور ترکیبونه په سورة النازعات کښې تیرشوی دی هلته ئې اوګورئ.

تفسیر:ربط: په مخکښې آیتونو کښې د انسان د پیدائش د ابتداء او انتهاء ذکر وو او د هغې نه مقصد بیانول د انعاماتو او د الله پاک د

قدرت د دلائلو وو چه د هغې تعلق خپله د انسان د ذات او پیدائش سره دې د دې انعاماتو د ذکر کولو نه پس په دې آیت کښې منکر انسان ته خبرداری ورکړې شوې دې چه د دې انعاماتو تقاضا دا ده چه انسان په هغې کښې غور کولو سره په الله پاک باندې ایمان راوړې وې او د هغه د احکاماتو تعمیل نې کړې وې خو دې بدنصیبه داسې اونکړل پس فرمائی ﴿ کلا لما یقض مـا امـره ﴾ هر گز نه ده داسې انسان پوره نه کړو هغه حکم کوم چه الله پاک هغه ته کړې وو نه نې د توحید اقرار اوکړو او نه د رسالت نه د قیامت حال دا چه کوم دلائل او انعامات ذکر کړې شوې دی د هر یو تقاضا هم دا ده چه انسان شکر کړې وې او د توحید اقرار نې کړې وې.

﴿ فلینظر الانسان الی طعامه ﴾ د دې ځائې نه د هغه انعاماتو ذکر دې کوم چه د انسانی پیدائش د ابتداء او انتهاء د مینځ په زمانه کښې په انسان باندې جاری وی مقصد دا چه انسان دې په خپل خوراک کښې سوچ اوکړی دا نمړئ کومه چه هغه خوله کښې اچوی هغه مونږ د هغه د پاره څنګه تیاره کړه.﴿ انا صبینا المآء صـبـا ﴾ د ټولو نه اول مونږ اوریخې راوچتې کړې په اوریخو کښې مو اوبو واچولې اوبو مو په عجیبه انداز باندې په زمکه راوورولې آیا د الله پاک نه سوا داسې ذات شته کوم چه په دې باندې قادر وی.﴿ ثم شـقـقنا الارض شقا﴾ بیا مونږ په زمکه کښې د اوبو د څکلو استعداد کیخودلو او زمکه مو نرمه جوړه کړه او هغه مو اوڅیرله.

﴿ فاانبتنا فیها حبا و عنبا و قضبا ﴾ د څیرلو نه پس مو د دې نه مختلف څیزونه پیدا کړل مثلا حبا غله غنم،اوریشې،باجره،جوار

وغیره او انگور مو پیدا کړل کوم چه د خوند او د خوراک د دواړو
فائده ورکوی او د دې نه مختلف قسمه شربتونه تیارولې شی.
وقضبا او د خوراک نه پس مختلفې سبزیانې کومې چه د پرې کولو
او بغیر د پرې کولو نه خوړلې شی لکه مولی، گازره، تیپر، پیاز،
بادرنګ، اوګه، هندوانه او خربوزه وغیره. وزیتونا او زیتون مو پیدا
کړل کوم چه د خوراک د پاره هم استعمالولې شی په سر کښې هم
لګولې شی د علاج د پاره هم کار کوی او د دې لرګې هم ډیر مفید
دې. ونخلا کهجوره مو پیدا کړه چه هغه تازه یا اوچولو سره پوره کال
خوړلې شی د دې نه سرکه او مختلف شربتونه جوړلې شی. ﴿ وحدائق
غلبــا ﴾ او ګور ګور باغونه ئې هم پیدا کړې دی چه په هغې کښې
مختلف قسمونه میوې او ګلونه وی چه د هغې سورې ډیر مزیدار وی
میوې ئې ډیرې خوندورې وی مثلا سیب، انار، خورمانړې. بـ دام
﴿وفاکهة﴾ د دې نه علاوه نورې غوزان او ځنګلی میوې مثلا پیلو
(دمسواک وونه) وغیره. ﴿ وابا ﴾ او وابښه او ګیا مو پیدا کړه. ﴿ متاعــا
لکــم ولانعــامکم ﴾ دا ټول څیزونه ستاسو د فائدې د پاره دی او
ستاسو د څاروو د پاره ئې پیدا کړې دی او بیا څاروی ستاسو د
فائدې د پاره دی چه د هغې پئ څکئ او د هغې غوښه خورئ او د
هغې د څرمنو نه پیزار جوړوئ جامې جوړوئ او د هغې د وېښتو نه
مزیدار قسمونه شالونه جوړ کړئ دا ټولې د الله پاک د قدرت کامله
نمونې دی نو کوم ذات چه د یو څاڅکی نه په زرګونو څیزونه جوړ
کړل هغه تاسو هم دوباره ژوندی کولې شی او دا ټول انعامات دی د
دې تقاضا دا ده چه د منعم (چا چه انعام کړې دې یعنی الله پاک) شکر

غائب مضارع معروف په اصل کښې يغنى د باب افعال نه بې پرواه کول لري کول فائده ورکول.وجوه جمع ده مفرد ئې وجه ده مسفرة واحده مونثه اسم فاعل د باب افعال نه روښانه کيدل ضاحکة واحده مونثه اسم فاعل خنديدونکې د باب (س).مستبشرة واحده مونثه اسم فاعل د باب استفعال خوشحاليدل.

غبرة غبار(گرد) د باب (ن) په دوړه وغيره ککړيدل.ترهقها واحده مونثه غائبه مضارع معروف د باب (س) نه خوريدل،قترة توروالې او گرد.

قترة او غبرة کښې فرق: قترة اوچتيدونکې دوړه چه په هغې کښې په اوچتيدلو باندې د اوبو گډون اوشي غبرة د لاندې والا دوړه.الکفرة جمع ده مفرد ئې کافر دې.الفجرة جمع ده د دې مفرد فاجر دې.

(اعراب القرآن)

حل التركيب: ﴿ فاذا جآء الصآخة .... نه تر........وصاحبته و بنيه ﴾ پورې.....فا تفسيريه يا عاطفه اذا شرطيه جاءت فعل الصاخة مبدل منه يوم مضاف يفر فعل المرء فاعل من حرف جار اخيه مضاف مضاف اليه معطوف عليه واؤ عاطفه امه مضاف مضاف اليه معطوف اول واؤ عاطفه ابيه مضاف مضاف اليه معطوف ثانى واؤ عاطفه صاحبته مضاف مضاف اليه معطوف ثالث واؤ عاطفه بنيه مضاف مضاف اليه معطوف رابع معطوف سره د ټولو معطوفاتو نه مجرور شو د پاره د من جاره جار سره د مجرور نه متعلق شو په يفر فعل پورې فعل سره د فاعل او سره د متعلق خپل نه جمله فعليه خبريه کيدو سره مضاف اليه شو د پاره د يوم مضاف مضاف سره د

مضاف الیه نه بدل دې د الصاخة نه مبدل منه سره د بدل نه فاعل دې د پاره د جاءت فعل فعل سره د فاعل شرط د پاره د جزاء محذوف یعنی ﴿ اشتغل کل واحد بنفسه ﴾ بیا شرط او جزاء یو ځائې کیدو سره جمله شرطیه شوه.

فائده: دا هم احتمال دې چه یوم د اذا نه بدل شي یا مفعول فیه شي د پاره د فعل محذوف اعني د پاره، ﴿ لکل امرئ منهم یومئذ شان یغنیه ﴾ لام جار کل مضاف امرئ موصوف من جاره هم مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو په کائن مقدر پورې کائن صیغه د اسم فاعل سره د فاعل او متعلق نه صفت شو د پاره د موصوف موصوف سره د صفت نه مضاف الیه شو د پاره د کل مضاف، مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور شو د پاره د جار چه لام دې جار سره د مجرور نه ظرف مستقر حاصل پورې متعلق کیدو سره خبر مقدم شو د پاره یوم مضاف اذ کوم چه په اصل کښې اذ کان کذا وو مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه مفعول فیه شو د پاره د یغنیه فعل شان موصوف یغنی فعل هو ضمیر راجع په طرف د شان فاعل ه ضمیر راجع په طرف د امرئ مفعول به فعل سره د فاعل او سره مفعول به نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره صفت شو د پاره د موصوف موصوف سره د صفت نه مبتداء موخره شوه مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه شوه. ﴿ وجوه یومئذ مسفرة ضاحکة مستبشرة ﴾ وجوه مبتداء یومئذ په شان د مخکښې ترکیب مفعول فیه دې د پاره د مسفرة مسفرة خبر اول ضاحکة خبر ثاني مستبشرة خبر ثالث مبتدا سره د درې وارو خبرونو جمله اسمیه خبریه کیدو سره معطوف علیه.

﴿ وجوه يومئذ عليها غبرة ترهقها قتـرة ﴾ واؤ عاطفه وجوه مبتدا يوم مضاف اذ مضاف اليه مضاف سره دمضاف اليه نه مفعول فيه دې د پاره د ترهقها على جار ها ضمير مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو په كائنة مقدر پورې نو دا خبر مقدم شو غبرة مبتدا موخر مبتدا سره د خبر جمله اسميه كيدو سره خبر اول دې دپاره د وجوه.ترهق فعل ها ضمير راجع په طرف د وجوه مفعول به قترة فاعل فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعليه خبريه كيدو سره خبر ثانی دې د دپاره د وجوه مبتدا سره د دواړو خبرونو جمله اسميه خبريه كيدو سره معطوف معطوف عليه د خپل معطوف سره جمله معطوفه شوه.

فائده: دا هم احتمال دې چه ترهقها جمله فعليه كيدو سره صفت وی دپاره د غبرة.

﴿ اولئک هم الكفرة الفجرة ﴾ اولئک اسم اشاره مبتدا هم ضمير مبتدا الكفرة خبر اول الفجرة خبر ثانی مبتدا سره د دواړو خبرونو نه جمله اسميه خبريه كيدو سره بيا خبر دې د پاره د مبتدا مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه خبريه شوه.

تفسير: د الله پاک د قدرت د دلائلو د بيانولو نه پس د اصل مضمون بيان دې يعنی قيامت او د هغې د احوالو او اهوالو(يعنی سختو) ذكر دې د نصيحت قبلونكو د پاره زيرې او د نه قبلونكو د پاره د سخت عذاب وعيد دې.

﴿ فاذا جآءت الصاخة ﴾ : مقصد دا دې چه اوس خو تاسو زما ناشكری كوئ چه كله غوږونه كړونكې سخت آواز راشی د دې نه

مراد نفخه ثانیه او د قیامت شور مراد دې نو په هغه ورځ به تاسو ته د خپلې ناشکرئ مزه معلومه شی.

﴿یوم یفر المرء من اخیه و امه و ابیه و صاحبته و بنیه﴾ د قیامت د ورځې د ویرې بیان دې چه د قیامت ورځ به داسې سخته او هیبت ناکه وی چه هر انسان به په خپل فکر وی د نفسی نفسی عالم به وی چا ته به هم د بل خبر نه وی د خپل رور نه به اوتختی د خپلې مهربانې مور نه به اوتختی د خپل شفیق پلار نه به هم سترګې واړوی او د خپل شفقت او پرورش خیال به هم ورته نه راځی. او خپله ښځه چه د خپل کور او مال خزانه کونکې ئې جوړه کړې وه چه څۀ به هم ملاویدل حلال او حرام هغه به ئې د هغې مخې ته کیخودل د دې د غیرت د پاره به ځان وژلو ته تیار شو هغه ئې د مینې ځائې او په هر غم شریکه ګڼړله نن به د هغې په لیدو لرې اوتختی او د خپلو خوږو ځامنو نه به هم سترګې واړوی په دې کښې ئې د ادنی نه اعلی ته په ترتیب سره بیان فرمائیلې دې. ﴿لکل امرئ منهم یومئذ شان یغنیه﴾ دا جمله د مخکښې مضمون علت بیانوی مقصد دا دې چه د قیامت په ورځ به داسې ولې کیږی د یو بل نه به ولې تختی وجه دا ده چه په دغه ورځ به هر انسان په داسې حالت کښې وی چه هغه ته به د خپل حالت نه علاوه د چا پته هم نه وی بس خپل فکر به ورسره وی. دا د حساب کتاب نه مخکښې حال دې بیا به حساب کتاب شروع شی د رسول الله ﷺ په شفاعت باندې بیا به ﴿وجوه یومئذ مسفرة ضاحکة مستبشرة﴾ ډیر مخونه به روښانه وی د جنت په زیری باندې به خوشحاله وی خاندی به.

﴿ وجوه يومئذ عليها غبرة ﴾ او په ډيرو مخونو باندې به ګرد وي او د خپلو بدو عملونو ليدو سره به د هغوی په مخونو باندې تور والي خور شي دا به هغه خلق وي چه کافران هم وو او بدکرداره هم.

سورة التكوير مكية

ركوعها ۱	بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ	اياتها ۲۹

﴿ إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ ۝١ وَإِذَا النُّجُومُ انكَدَرَتْ ۝٢ وَإِذَا الْجِبَالُ سُيِّرَتْ ۝٣ وَإِذَا الْعِشَارُ عُطِّلَتْ ۝٤ وَإِذَا الْوُحُوشُ حُشِرَتْ ۝٥ وَإِذَا الْبِحَارُ سُجِّرَتْ ۝٦ وَإِذَا النُّفُوسُ زُوِّجَتْ ۝٧ وَإِذَا الْمَوْءُودَةُ سُئِلَتْ ۝٨ بِأَيِّ ذَنبٍ قُتِلَتْ ۝٩ وَإِذَا الصُّحُفُ نُشِرَتْ ۝١٠ وَإِذَا السَّمَاءُ كُشِطَتْ ۝١١ وَإِذَا الْجَحِيمُ سُعِّرَتْ ۝١٢ وَإِذَا الْجَنَّةُ أُزْلِفَتْ ۝١٣ عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا أَحْضَرَتْ ۝١٤

ترجمه: کله چه نمر تور کړې شي...او کله چه ستوری په ماتيدلو سره راوغورځيږي....او کله چه غرونه روان کړې شي....او کله چه د لسو مياشتو بلاربې اوښې پريخودلې شي.....او کله چه ځناور راجمع کړې شي.....او کله چه سمندر بل کړې شي......او کله چه خلق يو ځائې کړې شي....او کله چه د ژوندې دفن کړې شوې زنانه نه تپوس اوکړې شي....چه هغه په څه ګناه باندې قتل کړې شوه....او کله چه عمل نامې پرانستلې شي....او کله چه آسمان پرانستلې شي.....او

کله چه دوزخ بنه گرم کړې شي....او کله چه جنت نزدې کړې شي.... پوهه به شي هر يو نفس هغه څيز کوم(عمل)چه هغه حاضر کړې وي.

حل المفردات: الشمس نمر د دې جمع شموس ده د باب(ن) بندول لرې بساتل انکار کول نمر ته په دې وجه شمس وئيلې شي چه دې هم انسان خپل ځان ته د کتلو نه بندوي. کورت واحده مونثه غائبه ماضي مجهول د باب تفعيل نه بې نوره کول. النجوم جمع ده د نجم په معنی د ستوري د باب(ن) په معنی ښکاره کولو. انکدرت واحده مونثه غائبه ماضي معروف د باب انفعال نه ماتيدلو سره راپريوتل. نوستلې کيدل....العشار جمع ده د العشرآء په معنی د لسو مياشتو بلاربه اوښه. عطلت واحده مونثه غائبه ماضي مجهول د باب تفعيل په معنی د بيکاره پريخودلو. تعطيلات چهتياني هم د دې باب نه دي ځکه چه د چهتئ په ورځ انسان بيکاره ناست وي کار او لوستل وغيره پريږدي. الوحوش جمع ده د وحش په معنی د ځنګلي ځناور کوم چه د انسان په ليدو باندې اوتختي د باب(ض) د ويرې د وجې نه تختيدل، ويره، ځانله کيدل البحار جمع ده د بحر په معنی د سمندر. سجرت واحده مونثه غائبه ماضي مجهول د باب تفعيل اور بلول. النفوس جمع د نفس ده په معنی د روح، ذات. زوجت واحده مونثه غائبه ماضي مجهول د باب تفعيل نه په معنی د يو ځائې کولو الموءودة واحده مونثه اسم مفعول په معنی د ژونده ښخه کړې شوې ماشومه د باب (ض) نه په معنی د جينئ ژوندئ ښخول...سئلت واحده مونثه غائبه ماضي مجهول د باب (ف) سوال کول. ذنب ګناه د دې جمع ذنوب راځي. قتلت واحده مونثه غائبه ماضي مجهول د باب

(ن) وزل. نشرت واحده مونثه غائبه ماضی مجهول د باب (ن) ژوندی کول خورول، کشطت واحده مونثه غائبه ماضی مجهول د باب (ض) نه په معنی د پټ کړې شوی څيز ښکاره کولو، څرمن ویستل. سعرت واحده مونثه غائبه ماضی مجهول د باب تفعیل د اور تیزول. ازلفت واحد مونثه غائبه ماضی مجهول د باب افعال نزدې کول. احضرت واحده مونثه غائبه ماضی معروف د باب افعال نه په معنی د حاضرولو.

حل التركيب: ﴿ اذا الشمس كورت ﴾ اذا شرطیه الشمس فاعل د پاره د فعل محذوف كورت فعل سره د فاعل نه مفسر كورت فعل هی ضمير نائب فاعل فعل سره د نائب فاعل نه مفسر ... مفسَر سره د مفسِر نه معطوف علیه. ﴿ واذا النجوم انكدرت ﴾ اذا شرطیه النجوم فاعل د پاره د فعل محذوف انكدرت فعل سره د فاعل نه مفسر انكدرت فاعل هی ضمير پكښې دې هغه ئې فاعل فعل سره د فاعل نه مفسِر.... مفسَر سره د مفسِر نه معطوف اول.... باقی د ټولو جملو هم دغه تركيب دې تر د ﴿ اذا الجنة ازلفت ﴾ پورې.

﴿ بای ذنب قتلت ﴾ با حرف جار ای مضاف ذنب مضاف اليه مضاف سره د مضاف اليه نه مجرو شو د پاره د با جاره جار سره د مجرور نه متعلق شو په قتلت پورې قتلت فعل سره د نائب فاعل او مُتعلق نه جمله فعلیه خبريه كيدو سره محلا منصوب مفعول ثانی شو د پاره د سئلت معطوف علیه سره د ټولو معطوفاتو نه شرط.

﴿ علمت نفس ما احضرت ﴾ عملت فعل نفس فاعل ما موصوله احضرت فعل هی ضمير ئې فاعل فعل سره د فاعل نه جمله

فعليه خبريه كيدو سره صله شوه د پاره د موصول چه ما ده.موصول سره د صلې نه مفعول به شو د پاره د احضرت فعل فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جزا شوه د پاره د شرط شرط سره د جزا نه جمله شرطيه شوه.

تفسير: مشهور نوم ئې سورة التكوير دې د دې نه علاوه ئې دوه نومونه نور هم دی سورة كورت او سورة اذا الشمس كورت.

ربط: د مخكښې سورة په آخر كښې د قيامت احول او اهوال ذكر كړې شو په دې سورة كښې هم د قيامت د واقعاتو ذكر دې.

حديث: عبدالله بن عمر ﷺ فرمائی چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو كوم انسان چه د قيامت منظر په خپلو ستركو سره كتل غواړی هغه دې ﴿ اذا الشمس كورت ﴾ او ﴿ اذا السمآء انفطرت ﴾ او ﴿ اذا السمآء انشقت ﴾ اولولی په دې كښې الله پاک د قيامت د ستركو ليدلې حال بيانوی.

﴿ علمت نفس ﴾ پورې ئې د قيامت ټولې دولس نخښې بيان ذكر فرمائيلی دی په دې كښې به ړومبی شپږ نخښې د ړومبئ شپيلئ په وخت ښكاره كيږی او د آخری شپږو ښكاره كيدل به د دويمې شپيلئ په وخت كيږی.(معارف)

﴿ اذا الشمس كورت ﴾ په دې شپږو واقعاتو كښې د ټولو نه لويه حادثه د نمر بې نوره كيدل دی د كورت معنی ده بيكاره كيدل په هغه ورځ د نمر رڼړا لاړه شی د كورت په معنی كښې دوه اقوال دی.(۱)مفسر قرآن عبدالله بن عباس ﷺ د كورت تفسير فرمائی په اظلمت سره(يعنی تيارهٔ به شی)د هغه رڼړا به ختمه شی ابی بن

کعب ﷺ فرمائی چه خلق به په بازارونو کښې مشغول وی او یو دم به د نمر رڼرا لاړه شی.(۲) بعض مفسرینو د کورت معنی په راغورځولو سره کړې ده بیا به مقصد دا وی چه نمر به سمندر ته اوغورځولي شی په ظاهر کښې په دواړو معنو کښې هیڅ تعارض او مخالفت نشته تطبیق ورکیدلې شی چه اول به نمر بې نوره کړې شی روستو به بیا سمندر ته اوغورځولي شی.(معارف)

سوال: رسول الله ﷺ فرمائی چه د قیامت په ورځ به نمر بې نوره کړې شی او په دوزخ کښې به واچولي شی د دې آیت نه ثابتیږی چه په سمندر کښې به اچولي شی په ظاهر کښې په دواړو کښې تعارض دې؟

جواب: هیڅ تعارض نشته مطابقت کیدیشی داسې چه اول نمر بې نوره کړې شی بیا به سمندر ته اوغورځولي شی چه د هغې په وجه به سمندر ګرمیدلو سره د دوزخ اور جوړ شی بهر حال د نمر بې نوره کیدل به ډیره لویه حادثه وی ځکه چه د ټولې دنیا نظام او مدار هم د دې نمر په رڼرا قائم دې چه کله د نمر رڼرا ختمه شی نو د دنیا نظام به تباه او برباد شی.(معارف)

﴿ واذا النجوم انکدرت ﴾ دویمه حادثه به دا وی چه د نمر سره سره به ستوری هم په ماتیدلو باندې په سمندر کښې اوغورځیږی او د آسمان نه به ستوری د باران په شان راغورځیږی.

﴿ واذا الجبال سیرت ﴾ چه کله د نمر او ستورو دا حال وی نو بیا به د زمکې مخ هم د تباهئ نه بچ نه شی او دریمه حادثه به دا ښکاره کیږی چه غرونو کوم چه د زمکې د پاره میخونه وو هغه به د ویخ نه ویستلې شی او زره زره کولو سره به په فضاء کښې والوزولې

شی. ﴿ واذا العشار عطلت ﴾ څلورمه حادثه به دا وی چه کله د نمر او ستورو او د مضبوطو غرونو دا حشر وی نو د انسان به ډیر بد حالت وی په خپل فکر کښې به وی د مال او جائیداد به هیڅ پرواه نه وی تر دې چه اوښه کوم چه د عربو په خوښو مالونو کښې شمیرلې شی خاص کر چه کله هغه بلاربه وی او لنګون ته نزدې وی نو د هغې ډیر خیال ساتلې شی او عرب د هغې په لکئ پورې اینختلې وی په دغه ورځ به هغه اوښې هم بغیر د شپونکو او حفاظت کونکو نه پریخودلې شی د هغوی د حال تپوس به نه وی. ﴿ واذا الوحوش حشرت ﴾ پنځمه حادثه به دا وی چه هغه وحشی ځناور کوم د انسان په لیدو سره تختی او د یو بل نه هم ځان ساتی او بیل بیل نه اوسیږی په دغه ورځ د شپیلئ په وخت به په هغوی باندې داسې ویره راشی چه ټول ځناور به ځنګلونه او غرونه پریږدی او د پناه اخستلو د پاره به آبادئ ته راشی او یو ځائې به شی. (حقانی) ﴿ واذا البحار سجرت ﴾ شپږمه حادثه به دا وی چه سمندر کښې به اور بل کړې شی د سجرت په معنی کښې د مفسرینو اقوال... (۱) بعض مفسرینو د بلولو دا مطلب بیان کړې دې چه په سمندر کښې به جوش او طوفان راشی چه کله زمکه خوزی غرونه الوخی نو آیا سمندر به څنګه خاموش پاتې شی په هغې کښې به چپې او او جوش راخی په اوچه حصه د زمکې باندې باندې به خور شی او په انسانانو او حیواناتو کښې به اوچت او لوئې لوئې څیزونه ډوب کړی. (۲) بعض مفسرینو د بلولو مقصد دا بیان کړې دې چه د سمندر نه به اور جوړ شی. (۳) بعض مفسرینو د ګډوډ کیدلو معنی دا کړې ده چه کله سمندر په خپل مینځ کښې ګډوډ کړې شی

خوړې او ترخې اوبه يو ځائې کړې شي.دواړه معنی صحيح دی ځکه چه اول خو به تپول سمندرونه يوځائې کړې شی بيا به په هغې کښې ستوری او نمر اچولو سره هغې ته اور ورته کړې شي.(مظهری)

﴿ واذا النفوس زوجت ﴾ د دويمې شپيلۍ د وهلو نه پس په واقعاتو کښې به يو واقعه دا وی چه کله خلق په ميدان حشر کښې جمع شی نو د هغوی به مختلفې حصې او ډلې جوړې کړې شی د مومنانو ځانله او د کفارو ځانله بيا به په هغوی کښې د درجو په اعتبار سره څو ډلې او جماعتونه وی مثلا علماء يو ځائې کښې مجاهدين يو ځائې کښې صدقه کونکی يو ځائې کښې وغيره.درې لوئې ډلې به د قيامت په ورځ درې وی.(۱)سابقين اولين (۲)اصحاب اليمين (۳) اصحاب الشمال اولنی دوه به کاميابې وی آخری ډله به د کفارو فجارو وی.(معارف)

﴿ واذا الموءودة سئلت ﴾ بله واقعه د قيامت په ورځ به د ژوندې ښخې کړې شوې جينۍ نه تپوس کولې شی چه وايه ته په څه جرم کښې قتل کړې شوې د جاهليت په زمانه کښې دا رسم وو چه د خوم پيدا کيدو د شرم يا لوړې او غريبۍ د ويرې نه به ئې خپله لور ژوندۍ ښخوله او دا ناکاره جرم به داسې پټ کيدلو چه سوا د جينۍ د مور او دائی نه به چا ته هم خبر نه کيدو نو الله پاک دا خبره خصوصی طور سره ذکر فرمائی چه د قيامت په ورځ کله د الله پاک عدالت د عدل او انصاف د قيام د پاره اولګولې شی نو هغه عدالت به داسې ظلمونه هم مخې ته راوړی چه په دنيا کښې په هغه ظلمونو باندې څوک هم ګواه او د تپوس کولو والانه وو او هغه په پټه د ظلم ښکار

شوي وه.په دې وجه د قيامت په ورځ به ترې تپوس کولې شی چه وايه ته په څه جرم کښې قتل کړې شوې وې؟د ماشومې نه به تپوس په دې وجه کولې شی چه هغه پوره پوره فرياد د الله پاک رب العزت په درباره کښې پيش کړې شی او د هغې د قاتلانو نه بدل واخستلې شی دا هم مراد کيدشی چه د هغې جينۍ نه به د هغې د قاتلانو په باره کښې تپوس کولې شی چه تاسو دا په څۀ جرم کښې وژلې وه.(معارف)

مسائل: (۱)د ماشومانو ژوندی دفن کول سخته ګناه او لوئې ظلم دې او د څلور مياشتو نه روستو د حمل ساقط کول هم په دې حکم کښې دی ځکه په څلورمه مياشت په حمل کښې روح واچولې شی هغه د ژوندی په حکم کښې وی.(۲) د څلورو مياشتو نه مخکښې د حمل ساقط کول هم بغير د اضطراری حالت نه حرام دی خو د رومبی صورت په نسبت کم دی ځکه چه په دې حالت کښې د يو ژوندی انسان ښکاره قتل نه دې.(۳)يو داسې صورت اختيارول چه په هغې سره حمل نه اودريږی لکه نن صبا چه د اولاد د بندولو د پاره په سوونو صورتونه موجود دی دې ته هم رسول اللهﷺ واد خفی يعنی په پټه باندې ژوندی لره دفن کول وئيلې دی.(معارف)

حکم العزل: په بعض رواياتو کښې عزل يعنی داسې تدبير کول چه نطفه رحم ته لاړه نه شی په دې باندې د رسول اللهﷺ نه خاموشی يا د ممانعت نه کيدل نقل دی هغه د ضرورت د موقع سره مخصوص دی هغه داسې چه د هميشه د پاره د نسل د قطع کيدو صورت جوړنه شی د داسې دوايانو استعمال چه په هغې سره د اولاد د نسل سلسله بنده شی لکه نن صبا بعض دوايانو سره د دې شرعا اجازت نشته.

﴿ واذا الصحف نشرت ﴾ دریمه حادثه به دا وی چه د انسان عمل نامه به مخامخ کیخودلې شی هغه ته به اووئیلې شی چه دا اولوله.﴿ واذا السمآء کشطت ﴾ څلورمه حادثه به دا وی چه آسمان به پرانستلې شی څنګه چه د حلال کړې شوی څاروی څرمن ویستلې شی نو د هغه غوښه او دننه اندامونه په نظر راځی هم دغه شان به د آسمان دا څرمن اوویستلې شی نو پورتنی څیزونه جنت د الله پاک عرش به په نظر راشی ظاهره دا ده چه دا حالت به د رومبئ شپیلئ په وخت وی.(حقانی)﴿ واذا الجحیم سعرت ﴾ چه کله دوزخ ښه ګرم کړې شی مقصد دا دې چه دوزخ د مخکښ نه ګرم وو خو کله چه د جزا وخت راشی نو د الله پاک د غضب شغله به دا نور هم تیز کړی او د انتقام اور به دا نور هم تیز کړی نو بیا خو به دا نور هم جوش وهی د هغه د جوش او شغلو آوازونه به تر لرې لرې اوریدې شی(اعاذنا الله) (حقانی)﴿ واذا الجنة ازلفت﴾ په دغه ورځ به جنت مومنانو ته نزدې کړې شی چه په هغې کښې داخل شی.

﴿ علمت نفس ما احضرت ﴾ مقصد دا دې چه کله د قیامت دا احوال پیښ شی نو هغه وخت به هر انسان پوهه شی چه هغه د ځان سره څه سامان راوړې دې د هغه نیک او بد اعمال به ټول د هغه مخې ته راشی هغه هغې لره په خپله عمل نامه کښې لیکلې شوې بیا مومی که هغه اعمال په صحیفو کښې لیکلې شوې وی یا په څه خاص شکل کښې شکل ورکړې شوې چه نیک اعمال د جنت د نعمتونو په صورت کښې او بد اعمال د دوزخ د لړمانانو او مارانو په شکل کښې د زکواة نه ورکونکی مال به د مار په شکل کښې راځی او د قربانئ والا

ځاروي به په پل صراط باندې د سورلۍ کار ورکوي.
(معارف پ۱۵ آیت۹۱)

فَلَآ أُقۡسِمُ بِٱلۡخُنَّسِ ۝١٥ ٱلۡجَوَارِ ٱلۡكُنَّسِ ۝١٦ وَٱلَّيۡلِ إِذَا عَسۡعَسَ ۝١٧ وَٱلصُّبۡحِ إِذَا تَنَفَّسَ ۝١٨ إِنَّهُۥ لَقَوۡلُ رَسُولٖ كَرِيمٖ ۝١٩ ذِي قُوَّةٍ عِندَ ذِي ٱلۡعَرۡشِ مَكِينٖ ۝٢٠ مُّطَاعٖ ثَمَّ أَمِينٖ ۝٢١

ترجمه: پس قسم خورم زه په هغه روستو کیدونکو ستورو باندې کوم چه نیغ روان وی کوم چه پټیدونکی دی او قسم دې په شپه باندې چه کله هغه خوره شی او قسم دې په سحر چه کله هغه روښانه شی بیشکه دا قرآن کریم خبره ده د یو استاذی(جبرائیل علیه السلام) چه عزتمند دې او دعرش د مالک په نزد د مرتبې والا دې چه د هغه فرمانبرداری کولې شی(په آسمانونو کښې) او امانت دار هم دې.

حل المفردات: اقسم واحد متکلم مضارع معروف د باب افعال نه قسم خوړل بالخنس:جمع مکسر مفرد ئې خانس یا خانسته د باب (ن،ض) روستو کیدل ځانله کیدل.الجوار جمع د الجاریة په معنی د تلونکی په اصل کښې الجواری وو په یا باندې ضمه ثقیله وه، اوغورځولې شوه بیا اجتماع د ساکنینو شوه د یا او د الکنس د لام ترمینځه یا ساقطه شوه د باب(ض) جاری کیدل تلل د باب(ض) د هوسۍ خپل ځائې ته داخلیدل.پټیدل.عسعس واحد مذکر غائب ماضی معروف د باب فعلله نه د شپې تیریدل د شپې تیاره کیدل یا خوریدل.الصبح د ورځې د شروع حصه یعنی سحر جمع ئې اصباح ده تنفس واحد مذکر غائب ماضی معروف د باب تفعل نه ساه اخستل

د ورخې روښانه کيدل.رسول په معنی د ليږلی شوی د دې جمع رسل راځی.کريم صفت مشبه د باب (ک) نه په معنی د معزز.مکين واحد مذکر صفت مشبه د باب (ک) د مرتبې خاوند کيدل مطاع واحد مذکر اسم مفعول از (افعال) په اصل کښ مطوع او مطيع (اجوف واوی يا اجوف يائی)فرمانبردار کيدل فرمانبرداری کول.امين صفت مشبه د باب(ک) امانت دار کيدل د دې جمع امناء ده.

حل الترکيب: ﴿ فلا اقسم بالخنس الجوار الكنس والليل اذا عسعس ﴾ فا تفريعيه يا استينافيه لا زائده اقسم فعل با فاعل با حرف جار النجوم موصوف محذوف الخنس صفت اول الجوار صفت ثانی الكنس صفت ثالث موصوف سره د درې واړو صفتونو مجرور شو د جار جار سره د مجرور نه متعلق شو په اقسم فعل پورې اقسم فعل سره د فاعل او متعلق نه قسم شو،واؤ قسميه جار الليل مجرور جار سره د مجرور نه متعلق په اقسم پورې اذا مضاف عسعس فعل هو ضمير ئې فاعل فعل سره د فاعل نه جمله فعليه خبظيه کيدو سره مضاف اليه د اذا شو،مضاف مضاف اليه يو ځائې کيدو سره مفعول فيه دې د اقسم فعل د پاره فعل سره د فاعل نه قسم... ﴿ والصبح اذا تنفس ﴾ واؤ قسميه جاره الصبح مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو په اقسم محذوف پورې اذا ظرف مضاف تنفس فعل هو ضمير فاعل فعل سره د فاعل نه جمله فعليه کيدو سره مضاف اليه شو د پاره مضاف سره د مضاف اليه نه مفعول فيه شو د پاره د اقسم فعل فعل سره د فاعل او مفعول فيه نه قسم.... ﴿ انه لقول رسول كريم ذی قوة عند ذی العرش مكين ﴾ ان حرف دې د حروف مشبه بالفعل نه ه

ضمیر راجع په طرف د قرآن هغه د دي اسم لام تاکید یه قول مضاف رسول موصوف کریم صفت اول ذی قوة مضاف مضاف الیه یو ځائې کیدو سره صفت ثانی عند مضاف ذی العرش مضاف مضاف الیه یو ځائې کیدو سره مضاف الیه د پاره د عند بیا مضاف مضاف الیه یو ځائې کیدو سره مفعول فیه دي د پاره د مکین او مکین صفت ثالث دي او مطاع صفت رابع دي ثم اسم اشاره د پاره د مکان د مطاع مفعول فیه دي امین صفت خامس رسول موصوف د خپلو ټولو صفاتو سره مضاف الیه شو د پاره د قول مضاف سره د مضاف الیه خبر شو د ان د پاره ان د خپل اسم او خبر سره د درې واړه قسمونو جواب شو، قسم سره د جواب قسم نه جمله قسمیه شوه.

تفسیر:ربط: د قیامت احوال او د هغې هیبتونه بیانولو نه پس الله پاک په یو څو ستورو باندې قسم اوخوړلو په دې خبره باندې چه قرآن کریم حق دي په حفاظت سره د الله پاک د طرفه رالیږلې شوې دي او په کوم ذات چه رالیږلې شوې دي هغه ډیره لویه هستی ده د وحی والائې مخکښې پیژندلو په دې وجه د دې په حق کیدو کښې د چا هم شک نشته.(معارف)

﴿ فلا اقسم بالخنس الجوار الكنس ﴾ د دې درې واړو صفتونو تعلق د ستورو سره دي او د ستورو نه پنځه ستوری مراد دی.(۱) مشتری (۲) مریخ (۳) زهره (۴) عطارد (۵) زحل...دې پنځو ستورو ته خمسه متحیره وائې د دوی ډیر عجیب او غریب او حیرانونکې حالت دي کله دوی د مشرق نه مغرب طرف ته نیغ روان وی په دې اعتبار سره دوی ته الجوار وئیلې شی بیا په تلو تلو سره اودریږی د

دوی حرکت بند شی بیا دوی اولته تلل شروع کړي د مشرق نه واپس
مغرب طرف ته په دې اعتبار سره دوی ته الخنس وائی کله کله دوی
په تلو تلو کښې پټ شی په دې اعتبار سره دوی ته الکنس وئیلې شی د
دې ستورو په آسمان کښې داسې تلل راتلل د الله پاک د قدرت عجیب
او غریب دلیل دې ذ الله مقصود د دې حرکاتو نه دا دې چه د الله پاک
د قدرت مشاهده اوکړي او ایمان راوړي.(مظهری،معارف)

﴿ والليل اذا عسعس ﴾ عسعس معنی ئې ده د شپې راتلل
او خوریدل هم راخی او د شپې او تلو او ختمیدلو ته هم وائی او دا
دواړه د الله پاک قدرت لره ښکاره کوی چه د رڼا نه پس په تولـه دنیا
کښې تیارهٔ خوره شوه بیا تیاره راغونډه شوه او د هغې نه په مزه مزه
رڼا راوتله.﴿ والصبح اذا تنفس ﴾ د سحر رڼا کیدل د قدرت په
ننبنخو کښې یوه نخښنه ده د دې ټولو څیزونو د قسم خوړلو نه پس ئې
اوفرمائیل ﴿ انه لقول رسول کریم ﴾ چه دا قرآن کریم کوم چه د سحر
په شان رڼا خوروی رسول الله ﷺ دا په خپله نه دې جوړ کړې بلکه دا
د یو معزز استاذی جبرائیل علیه السلام په ژبه مبارکه دوی ته رارسیدلې دې
دا د الله پاک کلام دې او جبرائیل علیه السلام په رسول الله ﷺ باندې وحی
راوړی هغوی ته ئې اوروی نو بیا ئې رسول الله ﷺ د اوریدلو نه پس
خلقو ته اوروی پس حکیم الامت رحمه الله دا ترجمه کړې ده چه د قرآن کلام
دې د یو معزز فرشتې راوړلې شوې.

﴿ ذی قوة عند ذی العرش مکین مطاع ثم امین ﴾ په دې
آیتونو کښې د جبرائیل علیه السلام څو صفتونه بیان کړې شوې دی.

(۱) ډیره عزتمنده فرشته ده د الله پاک او د رسولانو علیهم السلام

ترمينځـه واسـطه ده.(۲)ذي قـوة د زبردسـت طاقـت مالـک دي لکـه
څنګه چه الله پاک فرمائي:﴿ قال الله: علمه شديد القوى ﴾ چا چه د
قوم عاد او د قوم ثمود کلي په لړ وخت لاندي باندي کړل په لړ وخت
کښ د زمکي نه آسمان ته او د آسمان نـه زمکي تـه رسي.(۳) ﴿ عنـد
ذى العرش مكين ﴾ د الله رب العزت په نزد د هغـه لويـه مرتبـه ده هغه
ته د الله پاک په دربار کښ رسائي حاصله ده.(۴)﴿ مطاع ثم امين ﴾ په
آسمان کښ هغـه سردار دي باقي ملائـک د هغـه د فرمـان لانـدي دي
جبرائيل عليه السلام چه څه حکم هم کوي باقي ملائـک ئـي تابعداري کوي
لکـه پـه ليلـة المعـراج کښ د دروازو پرانستلو پـه وخـت(۵) امـين يـو
صفت دا دي چه امانت دار دي کوم حکم چه هغه ته د الله پاک د طرف
نه ورکړي شي هم هغه حکم رسول الله ﷺ ته رسوي په هغي کښ هيڅ
کمي بيشي نه کوي پس کله چه د قرآن کريم راوړونکي ملائـک ذ دي
صـفتونو مالکـان دي نـو د قـرآن پـاک د الله پـاک د طـرف تـه کيـدل د
شک او شبهي نه ډير اوچت دي.(مظهري،معارف)

وَمَا صَاحِبُكُم بِمَجْنُونٍ ﴿٢٢﴾ وَلَقَدْ رَءَاهُ بِٱلْأُفُقِ ٱلْمُبِينِ ﴿٢٣﴾ وَمَا هُوَ
عَلَى ٱلْغَيْبِ بِضَنِينٍ ﴿٢٤﴾ وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَيْطَٰنٍ رَّجِيمٍ ﴿٢٥﴾ فَأَيْنَ
تَذْهَبُونَ ﴿٢٦﴾ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعَٰلَمِينَ ﴿٢٧﴾ لِمَن شَآءَ مِنكُمْ أَن يَسْتَقِيمَ
﴿٢٨﴾ وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٢٩﴾

ترجمه: او نـه دي ستاسو ملګري(محمـد ﷺ) ليـوني....او پـه تحقيـق
سره ليـدلي دي(رسـول الله ﷺ) هغـه (جبرائيـل عليه السلام) پـه فراخـه غـاړه د

آسمان.....او نه دي دا (رسولﷺ) د غيبو په خبرو باندې بخل کونکې او نه دې دا قرآن کريم د شيطان رټلي شوی کلام پس تاسو کوم خوا روان ئې نه دې دا قرآن مګر نصيحت د پاره د عالم يعنی د هغه سړی د پاره چه په نيغه لاره تلل غواړی او تاسو هيڅ هم نه شئ غوښتلې تر څو چه الله پاک چه د ټول مخلوق پالونکې دی نه وی غوښتلې.

حل المفردات: صاحب ملګرې جمع ئې صاحبون يا اصحاب راځی. مجنون واحد مذکر اسم مفعول په معنی د پاګل د باب (ن) ليونې کيدل پټيدل، راه واحد مذکر غائب ماضی معروف د باب(ف) په معنی د ليدلو. الافق غاړه د دې جمع آفاق راځی. المبين واحد مذکر اسم فاعل په اصل کښ مبين وو په يا باندې کسره ثقيله وه هغه مو په نقل کولو سره با ته ورکړه المبين شو د باب افعال نه ښکاره کول واضح کول ښکاره کيدل او واضح کيدل. بضنين واحد مذکر صفت مشبه بخل کونکې د باب (ض،ن) بخل کول. شيطن هر سرکش او نافرمان د يو جمع ئې شياطين راځی د باب (ن) په معنی د مخالفت کولو لرې کولو. رجيم واحد مذکر صفت مشبه مردود او ملعون د باب(ن) لعنت کول. العلمين جمع ده مفرد ئې عالم دې د الله پاک نه سوا هر څيز ته عالم وائی بيا د عالم ډير اقسام دی انسانان، ملائک، پيريان، حيوانات، اوښې وغيره ﴿ ان يستقيم ﴾ واحد مذکر غائب مضارع معروف د باب (استفعال) نيغيدل په اصل کښ يستقوم وو د واؤ کسره مو نقل کولو سره کاف ته ورکړه بيا واؤ ماقبل مکسور هغه مو په ياء سره بدل کړو په قانون د ميزان. تشآءون جمع مذکر حاضر مضارع معروف د باب (ف) غوښتل په اصل کښ تشيئون وو د

یاء د فتحه نقل کولو سره شین ته ورکړې شوه او یاء مو په الف سره بدل کړې شو په قانون د یقال یخاف.

حل التركيب: ﴿ وما صاحبكم بمجنون ﴾:واؤ عاطفه ما مشبه بلیس صاحب مضاف کم مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه اسم با زائده مجنون مجرور لفظا منصوب محلا خبر د ما ،ما سره د خپل اسم او خبر نه جمله اسمیه خبریه شوه معطوف اول.﴿ ولقد راه بالافق المبين ﴾ واؤ عاطفه لام تاکیدیه قد د پاره د تحقیق رای فعل هو ضمیر راجع په طرف د محمد ﷺ هغه ئې فاعل ه ضمیر راجع په طرف د جبرائیل علیہ السلام د هغه مفعول به باء حرف جار الافق موصوف المبین صفت موصوف سره د صفت نه مجرور شو د پاره د جار جار سره د مجرور نه متعلق شو د رای فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره معطوف ثانی شو.

﴿ وما هو علي الغيب بضنين ﴾ واؤ عاطفه ما مشبه بلیس هو ضمیر راجع په طرف د محمد ﷺ هغه اسم علی خرف جاره الغیب مجرور مجرور سره د جار نه متعلق شو په ضنین پورې با حرف جاره زائده ضنین مجرور لفظا منصوب محلا د ما مشبه بلیس خبر ما سره د خپل اسم او خبر نه جمله اسمیه خبریه کیدو سره معطوف ثالث.﴿ وما هو بقول شيطن رجيم ﴾ واؤ عاطفه ما مشبه بلیس هو ضمیر راجع په طرف د قرآن هغه ئې اسم با حرف جار زائده قول مضاف شیطان موصوف رجیم صفت موصوف سره د صفت نه مضاف الیه شو د پاره د مضاف چه قول دې مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور لفظا او منصوب محلا خبر شو د پاره د پاره د ما

مشبه بليس ما سره د خپل اسم او خبر نه جمله اسميه خبريه كيدو سره معطوف رابع. ﴿ فاين تذهبون ﴾ فاء عاطفه اين استفهاميه ظرف مكان مبهم منصوب محلا مفعول فيه د پاره د تذهبون تذهبون فعل او فاعل فعل سره د فاعل او مفعول فيه مقدم سره يو ځائي كيدو باندې معطوف خامس دا ټول معطوفات يو ځائي كيدو سره د هغوى عطف دي په جواب قسم ﴿ انه لقول رسول كريم ﴾ باندې ﴿ ان هو الا ذكر للعالمين لمن شآء منكم ان يستقيم و ما تشآءون الا ان يشآء الله رب العالمين ﴾ ان نافيه هو ضمير راجع په طرف د قرآن مبتدا الا حرف استثناء زائده د پاره د حصر لام جار العالمين مبدل منه لام جاره من موصوله شاء فعل هو ضمير راجع دي په طرف د من هغه ئي فاعل منكم جار مجرور متعلق شو په شاء پورې چه ان مصدريه دي يستقيم فعل هو ضمير فاعل،فعل سره د فاعل نه جمله فعليه خبريه كيدو سره صله شوه د پاره د من موصوله موصول سره د صلې نه مجرور شو د پاره د جار،جار سره د مجرور نه بدل شو د پاره د مبدل منه مبدل منه سره د بدل مجرور شو د پاره د لام جاره جار سره د مجرور نه متعلق شو په ذكر پورې چه خبر دي د هو ضمير مبتداء مبتداء سره د خبر نه جمله اسميه خبريه شوه.﴿ وما تشآءون الا ان يشآء الله رب العالمين ﴾ واؤ عاطفه ما نافيه تشآءون فعل واؤ ضمير بارز فاعل الاحرف استثناء ان مصدريه يشاء فعل لفظ الله موصوف يا مبدل منه رب العالمين مضاف مضاف اليه يو ځائي كيدو سره يا صفت دي او يا بدل موصوف سره د صفت نه يا مبدل منه سره د بدل نه فاعل شو د پاره د يشاء فعل فعل سره د فاعل نه جمله فعليه

خبریه کیدو سره په تاویل د مصدر مستثنی مفرغ کیدو سره مفعول به شو، تشآءون فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعلیه خبریه شوه.

تفسیر: مخکښې صداقت د قرآن کریم بیان شو اوس د رسول الله ﷺ د صداقت بیان دې په بل عنوان سره مخکښې د وحی د راوړونکو د صفتونو ذکر وو اوس د هغه ذات د اوصافو بیان دې په چا چه وحی نازله کړې شوه. ﴿ وما صاحبکم بمجنون ﴾ د کفارو د بیهوده اعتراض جواب دې چه کله به رسول الله ﷺ د مکې کفارو ته د غیبو خبرونه او د قیامت احوال او د خپل نبوت متعلق وئیل نو کفارو به وئیل (نعوذ بالله) دا لیونې شوې دې د دې جواب دا دې چه رسول الله ﷺ د ماشوم توب نه تر خوانۍ پورې دوی سره اوسیدلې دې دوی ښه پوهیږی چه رسول الله ﷺ لیونې نه دې بلکه ستاسو یقین دې چه ډیر لوئې عقل والا او پوهه دې په دې وجه د هغه په رښتینی کیدو کښې هیڅ شک نشته. (مظهری)

﴿ ولقد راه بالافق المبین ﴾ د کفارو د دویم اعتراض جواب دې چه محمد ﷺ فرمائی چه ما ته جبرائیل علیه السلام د الله پاک استاذې د الله پاک کلام راوړی آیا محمد ﷺ جبرائیل علیه السلام لیدلې دې کیدیشی چه هغه جبرائیل علیه السلام نه وی یو شیطن هغه ته راخی او دا کلام ورې اوروی او خی د هغوی د شک جواب دا دې چه محمد ﷺ د وحی راوړونکی استاذی جبرائیل علیه السلام نه ښه واقف دې ځکه چه رسول الله ﷺ هغه په خپل اصلی شکل او صورت کښې د آسمان په مشرقی فراخه او واضحه غاړه باندې اولیدو ډیر د عظمت او د جلال صورت

وو پوره غاړه ئې ګیره کړې وه لکه په سورة نجم کښ دی ﴿ وهو بالافق الاعلى ﴾

﴿ وما هو على الغيب بضنين ﴾ د دریم اعتراض جواب دې کفارو به د رسول الله ﷺ په باره کښ وئیل چه رسول الله ﷺ کاهن دې کاهن هغه وی کوم چه د جناتو وغیره په ذریعه د غیب د څه خبرونو خبر ورکوی نه د آخرت حالات بیانولې شی نه د قیامت او جنت او جهنم حالات بیانولې شی نه د تیرو پیغمبرانو احوال بیانولې شی نه راتلونکی خطرناک حالات بیانوی صرف په دنیاوی معاملاتو کښ پیښیدونکی واقعات بې تکه بیانولې شی هغه هم داسې چه یو به رښتینې وی او سل به غلط وی د خپل طرف نه به ئې ورسره یو ځائې کړی او د رسول الله ﷺ خبرې داسې نه دی کومه خبره چه رسول الله ﷺ کوی هغه د رنړا ورځې په شان رښتینې وی په دې وجه رسول الله ﷺ کاهن نه دې بلکه د الله پاک رښتینې نبی دې. ﴿ وما هو بقول شيطن رجيم ﴾ دا د دې کفارو د یو بل اعتراض جواب دې هغوی وائی چه قرآن کریم د الله پاک کلام نه دې بلکه د شیطان کلام دې کوم چه محمد ﷺ ته راتلو سره هغوی ته اوروی الله پاک جواب ورکوی چه دا د شیطان مردود کلام نه دې ځکه چه په دې کښ خو د توحید او د رسالت او د قیامت بیان دې او د ښه کارونو ترغیب دې مثلا مونځ، صدقات، صله رحمی، عبادت، عفت، صداقت، رحم دلی، د صبر او حلم تلقین او د بدو کارونو بدی بیانه شوې ده لکه غلا، ډاکه، زنا، شراب، ظلم، تکبر وغیره د شیطان د دې کارونو سره څه کار په دې وجه ثابته شوه چه دا د شیطن کلام نه دې بلکه د الله رب

العزت کلام دې.(حقانی)

﴿ فاین تذهبون ﴾ نو تاسو کوم خوا تـه روان یئ په نیغه لار باندې ولې نه ځئ د گناه او د دوزخ په لار ولې ځئ ربنتیا اوپیژنئ د صداقت اقرار اوکړئ.

﴿ ان هو الا ذکر للعلمین ﴾ دا قرآن کریم د خپلو مضامینو او د خپلو خوبیانو او د خپل روحانی تـاثیر پـه وجـه د ټول جهان والاد پـاره نـصیحت او هـدایت دې پـه دې وجـه د دهٔ نـه نـصیحت حاصـل کړئ.﴿ لمن شآء منکم ان یستقیم ﴾ مقصد دا دې چه هسې قرآن پاک د ټولو جهانونو د پاره نصیحت دې خو د دې نه به فائده هغه انسان اوچتوی کوم چه د خپلې اصلاح اراده اوکړی د خپلو روحانی او نفسانی مرضونو علاج کول غواړی.د چا چه اراده نشته نو د قرآن پاک نه به د هغه اصلاح ځنګه اوشی.﴿ عن ابی هریرة ﷺ لمـن شـآء منکم ان یـستقیم ﴾ د نزول په وخت ابوجهل ته اووې چه مونږ ته اختیار ملاؤ شو نو ﴿ وما تشآءون ﴾ نازل شو.﴿ وما تـشآءون الا ان یشآء الله رب العالمین ﴾ مقصد دا دې چه د خپلې اصلاح او برابریدلو اراده هم هغه سړې کولې شی چا ته چه الله پاک اوغواړی الله پاک توفیق ورکړی د انسان په طاقت کښې نشته انسان د قضاء او د قدرت په زنځیرونو تړلې شوې دې په دې وجه د الله پاک په اراده او توفیق باندې هر څه کیدیشی.(مظهری)

سورة الانفطار مکیة

ایاتها ۱۹	بسم الله الرحمن الرحیم	رکوعها ۱

إِذَا ٱلسَّمَآءُ ٱنفَطَرَتْ ۝١ وَإِذَا ٱلْكَوَاكِبُ ٱنتَثَرَتْ ۝٢
وَإِذَا ٱلْبِحَارُ فُجِّرَتْ ۝٣ وَإِذَا ٱلْقُبُورُ بُعْثِرَتْ ۝٤
عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ وَأَخَّرَتْ ۝٥

ترجمه: کله چه آسمان اوشلیږی او کله چه ستوری اونوستلې شی او کله چه سمندر اوبهیولې شی او کله چه قبرونه پرانستلې شی نو پوهه به شی هر نفس په هغه څیز کوم ئې چه مخکښ اولیږو او کوم ئې چه روستو پریخودلو.

حل المفردات: انفطرت واحده مونثه غائبه ماضی معروف د ،
انفعال شلیدل.الکواکب جمع ده د کوکب په معنی د ،
انتثرت واحده مونثه غائبه ماضی معروف د باب افتـ
راغورځیدل نوستلې کیدل.فجرت واحده مونثه غائـ
باب تفعیل نه په معنی د بهیول،القبور جمع ده د
مونثه غائبه ماضی مجهول د باب فعلله نه پرا
مونثه غائبه ماضی معروف د باب تفیعل نه رو

حل الترکیب: ﴿ اذا السمآء انفطرت ﴾ اذا شرط
د فعل محذوف انفطرت فعل سره د فاعل نه
ضمیر ئې فاعل فعل سره د فاعل نه مفسر

معطوف علیه.

﴿ واذ الكواكب انتثرت ﴾ پـه مثـل د ﴿ اذا السمآء انفطرت﴾ کیدو سره معطوف اول.﴿ واذا البحـار فجـرت﴾ پـه مثـل د ﴿ اذا السمآء انفطرت﴾ کیدو سره معطوف ثانی ﴿ واذ القبور بعثرت ﴾ په مثل د ﴿ اذا السمآء انفطرت﴾ کیـدو سـره معطوف ثالث....معطوف علیه سره د ټولو معطوفاتو نه شـرط.﴿ علمت نفـس مـا قـدمت و اخرت ﴾ علمت فعل نفس فاعل ما موصوله قدمت فعل هی ضمیر راجع په طرف د نفس هغه ئې فاعل ه ضمیر محذوف مفعول به فعل سره د فاعل او سره د مفعول بـه نـه معطوف علیـه واؤ عـاطفـه آخرت فعل هی ضمیر اخرت فعل هی ضمیر ئې فاعـل فعـل سـره د فاعـل نـه معطـوف...معطـوف سـره د معطوف علیـه نـه صـلـه شـوه د پـاره د موصول....موصول سره د صله مفعول به شو د پاره د علمت فعل فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جزاء شوه د پاره د شرط شرط سره د جزاء نه جمله شرطیه شوه.

تعلیر: د دې سورة مشهور نوم سورة الانفطار دې د دې دوه نومونه نور دی.(۱) سورة انفطرت (۲) سورة المنفطرة....

ربط:....په مخکښې سورة کښې د قیامت د احوالو او د اهوالو ذکر وو پـه دې سـورة کښې هـم د قیامـت د احوالـو او د اهوالـو ذکـر دې او پـه مینځ کښې په غفلت باندې خبرداري دې.

﴿ اذا السمآء انفطرت ﴾ د قیامـت پـه واقعـاتو کښې یـو واقعـه بـه دا وی چـه آسـمان بـه اوشـلیږی پـه سـورة النبـاء کښې اوونیلـي شـو

﴿وفتحت السمآء فكانت ابوابا﴾ او په سورة كورت كښې اوفرمائيلي شو چه ﴿اذا السمآء كشطت﴾ د دې ټولو مقصد يو دې چه دا موجوده آسمان به د رومبئ شپيلئ په وخت شليږي ټکړې ټکړې به شی د دې په ځائې به يو بل آسمان جوړ کړې شی کوم چه به هميشه وی ﴿واذا الكواكب انتثرت﴾ مقصد دا دې چه کله اسمان اوشليږی نو په هغه پورې چه کوم ستوری دی هغه به هم راوغورځيږی، او به نوستلي شی د دې مفهوم بعينه د ﴿واذ النجوم انكدرت﴾ دې.

﴿واذا البحار فجرت﴾ او کله چه سمندر اوبهيولې شی مقصد دا دې چه خوږ او تريخ سمندر به خپل مينځ کښې يو ځائې کړې شی او بيا به دا اوخوټيږی جوش به وهی پوره تفصيل په ﴿واذا البحار سجرت﴾ کښې تير شوې دې دا درې واړه حادثات به د رومبئ شپيلئ په وخت وی ﴿واذا القبور بعثرت﴾ دا واقعه به د دويمې شپيلئ په وخت وی چه کله قبرونه اوسپړدلې شی او لاندې باندې کړې شی او د هغې نه مړی راوځی او په ميدان حشر کښې د حساب د پاره جمع کيږی واقعات ډير د ويرې وو نو د عظمت شان په وجه ئې ټول په لفظ د اذا سره ذکر اوفرمائيل:﴿علمت نفس ما قدمت و اخرت﴾ نو هر يو نفس به ښه پوهه شی چه هغه مخکښې څه ليږلې دی او روستو ئې څه پريخې دی.

د ﴿قدمت و اخرت﴾ مختلف مطلبونه بيان کړې شوې دی: (۱) د ما قدمت نه مراد په دې باندې عمل کول دی او د ما اخرت نه مراد د عمل پريخودل دی نو په قيامت کښې به هر سړې پوهه

شی چه په نیک او بد کار کښې ئې څۀ اوکړل او څۀ ئې پریخودل.(۲) د
ما قدمت نه مراد هغه عملونه دی کوم چه هغه پخپله کړي وی که
نیک وی او که بد او د اخرت نه مراد هغه عمل دې کوم چه ئې خپله
نه دی کړي خو د هغې رسم ئې پریخودلې دې که نیک عمل وو نو
ثواب به ورته ملاویږی او که بد وو نه بدی به لیکلې کیږی.

حدیث: د رسول اللهﷺ ارشاد دې چا چه په اسلام کښې څه ښه سنت او
طریقه جاری کړه د هغې ثواب به هغه ته همیشه ملاویږی او چا چه یو
بد رسم او د گناه کار جاری کړو نو تر څو چه خلق په هغه غلط کار
کښې اخته وی نو د هغې گناه به د هغه د پاره هم لیکلې کیږی(معارف)
(۳) د ما قدمت نه مراد کوم چه ئې په اول عمر کښې کړی دی او د ما
اخرت نه مراد کوم چه ئې په آخر عمر کښې کړی دی.(۴) د ما قدمت نه
مراد نیک او بد اعمال دی او د ما اخرت نه مراد هغه مال دولت دې
کوم چه هغه پریخودلې وو.(حقانی)

يَٰٓأَيُّهَا ٱلْإِنسَٰنُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ ٱلْكَرِيمِ ۝٦ ٱلَّذِى خَلَقَكَ
فَسَوَّىٰكَ فَعَدَلَكَ ۝٧ فِىٓ أَىِّ صُورَةٍ مَّا شَآءَ رَكَّبَكَ ۝٨

ترجمه: اې انسانه! ته د خپل کریم رب په باره کښې څه څیز په دهوکه
کښې واچولې....هغه ذات چه ته ئې پیدا کړې بیا ئې برابر کړې او
درست ئې کړې....بیا ئې چه څنگه اوغوښتل هغه شان ئې ستا
صورت جوړ کړو.

حل المفردات: غر واحد مذکر غائب ماضی معروف د باب (ن) دهوکه
ورکول په هیره کښې اچول.فعدلک واحد مذکر غائب ماضی معروف

د باب (ض) برابری کول صورة د دې جمع صور راخی رکبک واحد مذکرغائب ماضی معروف د باب تفعیل نه ترکیب ورکول یو خائې کول
حل التركيب:﴿ يا ايها الانسان ما غرك بربك الكريم الذى خلقك فسواك فعدلك ﴾ يا حرف ندا قائم مقام د ادعو. ادعو فعل سره د فاعل ايها مضاف مضاف اليه يو خائې كيدو سره موصوف الانسان ئې صفت موصوف سره د صفت نه منادى ما استفهاميه په معنى د اى شئ مبتدا غر فعل هو ضمير راجع په طرف د ما هغه ئې فاعل كاف ضمير مفعول به با حرف جار ربك مضاف مضاف اليه يو خائې كيدو سره موصوف الكريم صفت اول الذى اسم موصول خلق فعل هو ضمير راجع په طرف د الذى هغه فاعل ك ضمير مفعول به فعل سره د فاعل او سره د مفعول به معطوف اول فا عاطفه عدل فعل هو ضمير ئې فاعل ک ضمير مفعول به فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه معطوف ثانى معطوف عليه سره د دواړه معطوفاتو نه صله شوه د پاره د موصول موصول سره د صله نه صفت ثانى شو د پاره د موصوف، موصوف سره د صفتينو نه مجرور شو د پاره د جار جار سره د مجرور نه متعلق شو په غر فعل پورې فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعليه خبريه كيدو سره خبر شو د پاره د مبتدا مبتدا سره د خبر نه جواب ندا منادى سره د جواب ندا نه جمله ندائيه انشائيه شوه.﴿ فى اى صورة ما شآء ركبك ﴾ فى حرف جار اى مضاف صورة موصوف ما زائده شاء فعل هو ضمير فاعل فعل سره د فاعل نه جمله فعليه خبريه كيدو سره صفت شو د پاره د موصوف موصوف سره د صفت نه مضاف اليه شو د پاره د مضاف

چه ای دي.مضاف سره د مضاف اليه نه مجرور شو د پاره د جار جار سره د مجرور نه متعلق شو په ركب فعل پورې ركب فعل هو ضمير فاعل كاف ضمير مفعول به فعل سره د فاعل او سره د مفعول به او متعلق نه جمله فعليه خبريه مفسره شوه.دا جمله د فعدلک تفسير دې.

تفسیر:﴿ يا ايها الانسان ما غرک بربک الكريم ﴾ د قيامت د احوالو د ذكر كولو نه پس د انسان غفلت او غرور ذكر فرمائى چه كله د قيامت واقع كيدل يقينى دى او انسان به د خپل هر څيز حساب وركوى نو انسانه ته ولې د غفلت په خوب كښې پروت ئې ته څيز په غرور كښې واچولې ته د خپل رب نافرمانى كوې ته كوم څيز په هيره او دهوكه كښې اچولې ئې ته د خپل رب د توحيد اقرار نه كوې سره د دې چه د هغه رب په تا باندې ډير احسانات دى.(معارف ملخصا)

سوال: د الانسان نه څهٔ مراد دې؟

جواب: (۱) عطاءرحمه الله فرمائى چه دا آيت د وليد بن مغيره په حق كښې دى.(۲) كلبى او مقاتل فرمائى چه دا د ابن الاسد كلده بن اسيد كافر په باره كښې دې هغه د رسول الله ﷺ گستاخى كړې وه خو الله پاک هغه ته په دنيا كښې سزا ورنكړه نو هغه نور هم مغرور شو نو بيا دا آيت نازل شو (۳)نور علماء رحمهم الله فرمائى چه كافر او گناهگار مومنانو ته شامل دې (حقانى) الكريم د دې صفت په ذكر كولو كښې د دې جواب ته اشاره ده چه د انسان په هيره كولو او په دهوكه كښې د پريوتلو سبب د الله پاک كريم كيدل دى چه هغه په خپل لطف او كرم سره انسان ته فورا سزا نه وركوى بلكه د هغه په رزق او دنياوى راحتونو كښې هيڅ كمې نه راځى لطف او كرم د هغه د دهوكې او

غرور سبب جوړ شو حال دا چه لږ د عقل نه ئې کار اخستلې وې نو دا لطف او کرم به د غرور د سبب جوړيدلو په ځائې نور هم د خپل کريم رب د احساناتو شکر گزار کيدلو سره په اطاعت کښې د لگيدو سبب کيدل پکار وو(معارف) مخکښې د الله پاک د کرم بيان دې:﴿ الـذى خلقک فسوک ﴾ هغه ذات ته پيدا کړې دا هم د هغه کرم دې او الله صرف پيدا نه کړې بلکه د انسان د بدن اندامونه ئې په خاص مناسبت سره صحيح جوړ کړلو اندام ته ئې د هغه مناسب ځائې ورکړو د هر اندام حالت اوږدوالې او پلن والې ئې په تناسب سره جوړ کړو﴿ فعـدلک ﴾ مقصد دا دې چه الله پاک انسان پيدا کړو د هغه اندامونه ئې مناسب جوړ کړل بيا ئې د هغه په طبيعت کښې اعتدال پيدا کړو او د هر اندام په جوړيدلو کښې ئې د هغه د طبيعت لحاظ اوساتلو چا ته چه د گرمئ ضرورت وو هغه ئې گرم جوړ کړو او په چا کښې چه د رطوبت(يخ والى) ضرورت وو په هغه کښې ئې رطوبت کيخودلو.(معارف)

﴿ فى اى صورة ما شـآء ركبـک ﴾ د تخليق او تسويه او تعديل نه پس چه کله د شکل او صورت د جوړولو وخت راغلو نو الله پاک چه څنگه اوغوښتل د هغه صورت ئې جوړ کړو څوک ئې سړې جوړ کړو څوک ئې ښځه څوک ئې ښکلې جوړ کړو نو څوک ئې بدرنگ او بدشکله د داسې قدير او کريم ذات د قدرت تقاضا دا وه چه انسان د هغه د توحيد اقرار او د هغه د احکامو فرمانبرداری کړې وې خو انسان د هغه نافرمانی کولو سره په ډيره لويه دهوکه کښې دې.(معارف ملخصا)

كَلَّا بَلْ تُكَذِّبُونَ بِالدِّينِ ﴿٩﴾ وَإِنَّ عَلَيْكُمْ لَحَافِظِينَ ﴿١٠﴾ كِرَامًا كَاتِبِينَ ﴿١١﴾ يَعْلَمُونَ مَا تَفْعَلُونَ ﴿١٢﴾ إِنَّ الْأَبْرَارَ لَفِي نَعِيمٍ ﴿١٣﴾ وَإِنَّ الْفُجَّارَ لَفِي جَحِيمٍ ﴿١٤﴾ يَصْلَوْنَهَا يَوْمَ الدِّينِ ﴿١٥﴾ وَمَا هُمْ عَنْهَا بِغَائِبِينَ ﴿١٦﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا يَوْمُ الدِّينِ ﴿١٧﴾ ثُمَّ مَا أَدْرَاكَ مَا يَوْمُ الدِّينِ ﴿١٨﴾ يَوْمَ لَا تَمْلِكُ نَفْسٌ لِنَفْسٍ شَيْئًا وَالْأَمْرُ يَوْمَئِذٍ لِلَّهِ ﴿١٩﴾

ترجمه: هر گز داسې نه ده بلکه تاسو دروغ وايئ د جزا ورځې ته...او بيشکه په تاسو باندې نگرانی کونکې(ملائک) مقرر دی...چه عزتمندې دی ليکونکی دی(ستاسو عملونو لره) پوهيږی په هغه عملونو چه تاسو ئې کوئ...بيشکه نيکان خلق په نعمتونو کښې دی...او گناهگاران په اور کښې...داخليږی به دې دوزخ ته د جزا په ورځ....او نه به وی دوی د هغې نه غائب کيدونکی....او تا ته څه پته ده چه د جزا ورځ څه ده؟...او بيا تا ته څۀ پته ده چه د جزا ورځ څه ده؟...چه په هغه ورځ به اختيار نه لری يو نفس د بل نفس د پاره د هيڅ څيز او حکم به خاص وی د الله پاک د پاره.

حل المفردات: تکذبون جمع مذکر حاضر مضارع معروف د باب تفعيل نه دروغژن کول.حفظين جمع مذکر سالم اسم فاعل د باب (س) حفاظت کول يادول...کاتبين جمع مذکر سالم اسم فاعل د باب (ن) ليکل الابرار جمع ده د بار...نعيم صفت مشبه دې د باب (ن،ف، س) خوشحاليدل.د باب (ک) نه...الفجار جمع د فاجر ده په معنی د گنهگار يصلونها جمع مذکر غائب الف د اجتماع ساکنين د وجې نه

ساقط شو په قانون د قال یصلون شو د باب (س) په اور کښې سیزل، سوزیدل،د اور گرمی برداشت کول.غائبین..جمع مذکر اسم فاعل په اصل کښې غائبین په قانون د الف فاعل یا په همزه کښې بدله شوه د باب (ض) غائب کیدل.

حل الترکیب:﴿ کلا بل تکذبون بالدین ﴾ کلا حرف ردع بل د پاره د اعراض تکذبون فعل واؤ ضمیر بارز ذوالحال باء حرف جار الدین مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو په تکذبون پورې.

﴿ وان علیکم لحفظین کراما کاتبین یعلمون ما تفعلون ﴾ واؤ حالیه ان حرف دې د حروف مشبه بالفعل علیکم جار مجرور یو ځائې کیدو سره متعلق شو په ثابت پورې نو دا شو خبر مقدم لام تاکیدیه حافظین موصوف کراما صفت اول کاتبین صفت ثانی یعلمون فعل واؤ ضمیر بارز فاعل ما موصوله تفعلون فعل با فاعل فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره صله شوه د پاره د موصول،موصول سره د صلې نه مفعول به شو د پاره د یعلمون فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره صفت ثالث شو د پاره د حافظین موصوف...موصوف سره د درې وارو صفتونو نه اسم موخر شو،اسم موخر سره د خبر مقدم نه جمله اسمیه خبریه کیدو سره حال شو د تکذبون د ضمیر ذوالحال نه ذوالحال سره د حال نه فاعل شوفعل سره د فاعل نه جمله فعلیه خبریه شوه.﴿ ان الابرار لفی نعیم ﴾ ان حرف د حروف مشبه بالفعل،الابرار اسم لام تاکیدیه فی جار نعیم مجرور جار سره د مجرور نه ظرف مستقر متعلق شو په کائنون پورې خبر شو د پاره د ان...ان سره د خپل اسم او

خبر نه جمله اسمیه خبریه کیدو سره معطوف علیه.﴿ وان الفجار لفی جحیم ﴾ ترکیب ئې په مثل د ﴿ان الابرار لفی نعیم ﴾ دې نو دا معطوف شو،معطوف علیه سره د معطوف نه جمله معطوفه شوه.

﴿ یصلونها یوم الدین ﴾ یصلون با ضمیر بارز فعل سره د فاعل ها ضمیر مفعول به یوم الدین مضاف مضاف الیه یو ځائې کیدو سره مفعول فیه فعل سره د فاعل او سره د مفعول به او مفعول فیه نه جمله فعلیه مستانفه ده یا د جحیم صفت دې یا د لفی جحیم د متعلق د کائنون د ضمیر نه حال دې.

﴿ وما هم عنها بغائبین ﴾ واؤ عاطفه ما مشبه بلیس هم ضمیر اسم عن حرف جاره ها ضمیر مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو په غائبین پورې او غائبین خبر دې د ما مشبه بلیس،ما سره د خپل اسم او خبر نه جمله اسمیه خبریه مستانفه شوه،یا واؤ حالیه دې او د جملې یصلون د ضمیر نه حال دې.

﴿وما ادراک یوم الدین ﴾ واؤ عاطفه ما استفهامیه مبتدا ادری فعل هو ضمیر فاعل کاف ضمیر مفعول به اول ﴿ ما یوم الدین﴾ ما استفهامیه مبتدا یوم مضاف الدین مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه خبر شو د پاره د مبتداء،،،مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه انشائیه کیدو سره مفعول به ثانی دې فعل سره د فاعل او سره د دوارو مفعولینو نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره خبر دې د پاره د مبتداء مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه انشائیه معطوف علیه.﴿ ثم ما ادراک ما یوم الدین ﴾ ثم عاطفه باقی ترکیب د مخکښې په شان دې معطوف علیه سره د معطوف نه جمله معطوفه شوه.

﴿يوم لا تملک نفس لنفس شيئا﴾ يوم مضاف لانافيه تملک فعل نفس فاعل لام جار نفس مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو په تملک پورې شيئا مفعول به د پاره د تملک فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعليه خبريه کيدو سره محلا مجرور مضاف اليه شو د پاره د يوم مضاف سره د مضاف اليه نه مفعول فيه شو د پاره د ﴿اذکروا﴾ فعل محذوف د پاره فعل سره د فاعل او سره د مفعول فيه نه جمله فعليه انشائيه شوه. ﴿والامر يومئذ لله﴾ واؤ عاطفه الامر مبتدا لله جار مجرور يو ځائي کيدو سره ظرف مستقر متعلق شو په ثابت پورې خبر شو د پاره د مبتدا او يومئذ په شان د مخکښې ترکيب مفعول فيه د پاره د ثابت...مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه خبريه شوه.

تفسير:﴿کلا بل تکذبون بالدين﴾ په مخکښې آيتونو کښې د الله پاک د نعمتونو بيان وو چه د هغې تقاضا دا وه چه انسان د الله پاک شکر ادا کولې خو د انسان کردار دا دې چه هغه هر گز د الله پاک شکر اد نه کړو غرور او تکبر ئې پرينخودلو بلکه په غرور او تکبر کښې دومره مخکښې شو چه د جزا او سزا او د بدلې ورځې ته هم دروغ وائی که د بدلې او د جزاء او سزا قائل وې نو د دې خبرې عقيده به ئې ساتله چه ما ته به د خپلو عملونو بدله ملاويږی نو غرور او تکبر به ئې نه کولو.

﴿وان عليکم لحفظين کراما کاتبين يعلمون ما تفعلون﴾

مقصد دا دې چه د کفارو د الله پاک د آيتونو تکذيب کول او د هغوی نورې بدعملئ او بد کردارونه ټول محفوظ کيږی زمونږ ملائک په هغوی باندې مقرر دی کوم چه هر وخت د هغوی نگرانی کوی او هغه

ملائک هم معزز دی او څۀ چه تاسو نیک یا بد کوئ هغه لیکی او څه هم چه تاسو کوئ هغې لره پيژنی.

﴿ ان الابرار لفی نعيم وان الفجار لفی جحيم يصلونها يوم الدين ﴾ مقصد دا دې چه هر کله ستاسو علمونه ليکلې کيږی نو د قيامت په ورځ به دا ټول عملونه پيش کيږی چه په هغې کښې به ستاسو تکذيب شرک و کفر او نورې ټولې بد عملئ موجود وی نو تاسو ته به جزا او د هغې بدله ملاويږی کومه چه دا ده چه نيکان خلق به د هميشوالی په نعمت کښې وی په جنت او اوچت جنت کښې به وی او بد خلق به دوزخ ته ځی.

﴿ وماهم عنها بغائبين ﴾ د دې دوه تفسيرونه کړې شوې دی:(۱) د قيامت په ورځ به په دوزخ کښې اچولې شی حيلې بهانې به نې نه چليږی (۲)نه به د هغې نه غائب کيږی لکه څنګه چه په دنيا کښې لکه په ديوال اوريدل، يا رشوت ئې ورکړو وغيره.(حقانی) د دوزخ نه به ځکه نه شی غائب کيدلې ځکه چه د دوی د پاره د هميشوالی د عذاب حکم دې.

سوال: معتزله وائی چه د دې آيت نه ثابته شوه چه مسلمان ګناهګار به هميشه په دوزخ کښې وی ځکه چه هغوی فاجران دی؟

جواب: ستاسو عقيده قطعی ده او د الفاظو دلالت په عموم باندې ظنی دې پس د دې ثبوت بيکاره دې.(حقانی)﴿ وما ادراک ما يوم الدين ثم ما ادراک ما يوم الدين ﴾ تاسو ته څۀ خبر دې چه د جزا ورځ څومره سخته ده.بيا ئې په تکرار سره اوفرمائيل په دې تکرار سره د قيامت ورځ او د جزاسخت والې بيانول دی چه د قيامت ورځ دومره

سخته ده چه تاسو ته هم د هغي د حقیقت علم نشته ﴿یوم لا تملک نفس لنفس شیئا﴾ په دې آیت کریمه د جزا د شدت یو جهلک بیان کړې شوې دې هغه به داسې سخته ورځ وی چه په هغه ورځ به هیڅ یو نفس د بل نفس هیڅ اونکړې شی هغه ته به هیڅ نفع ورنکړې شی.

﴿والامر یومئذ لله﴾ په دغه ورځ بانديې به صرف د الله پاک حکم چلیږی د هغه د اجازت نه بغیر به هیڅ څوک حرکت اونکړې شی په خلاف د دنیا چه دلته د غیر الله حکم چلیږی مثلاً د حاکم حکم په رعایا باندې د مالک په نوکر باندې د خاوند په ښځه باندې د استاد په شاگرد باندې د قیامت ورځ به داسې نه وی.

فائده: د دې نه نفی د شفاعت نه کیږی ځکه چه د چا شفاعت به هم د هغه په خپل اختیار نه وی تر څو چه الله پاک چا ته د شفاعت اجازت ورنکړی په دې وجه د اصل حکم مالک الله پاک دې چه هم هغه په خپل فضل او کرم سره د شفاعت اجازت ورکوی او بیا شفاعت قبول کړی نو دا هم د هغه حکم دې.(معارف)

سورة المطففین مکیة

ایاتها ۳۶	بسم الله الرحمن الرحيم	رکوعها ۱

وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِينَ ۝١ الَّذِينَ إِذَا اكْتَالُوا عَلَى النَّاسِ يَسْتَوْفُونَ
۝٢ وَإِذَا كَالُوهُمْ أَو وَّزَنُوهُمْ يُخْسِرُونَ ۝٣ أَلَا يَظُنُّ أُولَٰئِكَ أَنَّهُم
مَّبْعُوثُونَ ۝٤ لِيَوْمٍ عَظِيمٍ ۝٥ يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ ۝٦

ترجمــه: هلاکت دې د هغـه چـا د پـاره چـه پـه نـاپ تـول کښې کمې کوی....هغه خلق چه کله په تول یو څیز اخلی نو پوره اخلی....او کله چه په ناپ ورکوی یا په تول ورکوی نو کمې کوی....آیـا دا خلق گمان نه کوی چه دوی به پورته کولې شی(د قبرونو نه) د هغه لوئې ورځ د پاره په کومه ورځ چه به خلق رب العالمین ته ولاړ وی.

حـل المفـردات: ویـل پـه معنی د لـوئې خـراب والـی هلاکـت د عـذاب سخت والې دا مصدر دې او کلمه د وعید ده د بعض مفسرینو په نزد د دوزخ د یوې کندې نوم دې.المطففین جمع مذکر سالم اسم فاعل د باب تفعیل نه پـه نـاپ تـول کښې کمې کـول.اکتـالو جمـع مـذکر غـائب ماضی معلوم د باب افتعال نه پـه تـول اخسـتل.پـه اصـل کښې اکتیلوا وو په قانون د قـال اکتـالوا شـو.یستوفون جمع مـذکر غـائب مضـارع معلوم د باب استفعال نه پوره حق اخستل پـه اصـل کښې یسـتوفیون وو د یا ضمه نقل کولـو سره فـا تـه ورکړې شـوه د اجتمـاع سـاکنین د وجـې نـه یـاء اوغورځیدلـه یستوفون شـو.کـالوا جمـع مـذکر غـائب ماضی معلوم د باب (ض) نه په تول ورکول پـه اصـل کښې کیلـوا وو پـه قانون د قال کالوا شو.وزنوا جمع مذکر غائب ماضی معروف د باب (ض) پـه معنـی د وزن کولـو سره ورکول. یخسـرون جمـع مـذکر غـائب مضارع معروف د باب افعال نه کم ورکول.یظن واحد مـذکر غـائب فعل مضارع معلوم د بـاب(ن) گمـان کـول.مبعوثون جمـع مـذکر سـالم اسم مفعول د باب (س) نه د خوب نه بیداریدل.

حـل الترکیـب: ویـل مبتـدا لام جـاره المطففیـن موصـوف الـذی اسم موصول اذا شرطیه اکتالوا فعل او فاعـل علی حرف جار پـه معنـی د

من الناس مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو په اكتالوا فعل پوري فعل سره د فاعل او سره د متعلق نه شرط... يستوفون فعل سره د فاعل نه جزا شرط سره د جزا نه جمله شرطيه معطوف عليه... واذا كالوهم الاية ...په اصل كښ كالوا لهم وو تركيب به ئي داسې وى واؤ عاطفه اذا شرطيه كالوا فعل سره د فاعل هم مفعول به فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه معطوف عليه او عاطفه وزنوا فعل سره د فاعل هم مفعول به فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه معطوف،معطوف عليه سره د معطوف نه شرط يخسرون فعل سره د فاعل فعل سره د فاعل نه جزا شرط سره د جزا نه جمله شرطيه كيدو سره معطوف،معطوف عليه سره د معطوف نه صله شوه د الذين موصول د پاره موصول سره د صله نه صفت دې د پاره د المطففين موصوف سره د صفت نه مجرور شو د پاره د جار جار سره د مجرور نه متعلق په ثابت پوري كيدو سره خبر شو د پاره د مبتدا ،مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه خبريه شوه.

﴿ الا يظن اولئك انهم مبعوثون....ليوم عظيم ﴾ همزه استفهاميه لانافيه يظن فعل اولئك اسم اشاره مرفوع محلا ئې فاعل ان حرف د حروف مشبه بالفعل نه هم ضمير ئې اسم مبعوثون صيغه د صفت هم ضمير په كښ مستتر دې هغه نائب فاعل لام جاره يوم موصوف عظيم صفت موصوف سره د صفت نه مجرور شو د پاره د جار جار سره د مجرور نه متعلق شو په مبعوثون پوري.

﴿يوم يقوم الناس لرب العالمين ﴾ يوم ظرف مضاف يقوم الناس فعل الناس فاعل لام جار رب مضاف العالمين مضاف اليه

مضاف سره د مضاف اليه نه مجرور شو د پاره جار جار سره د مجرور نه متعلق شو په يقوم فعل پورې يقوم فعل سره د فاعل او سره د متعلق نه جمله فعليه خبريه كيدو سره مجرور محلا مضاف اليه شو د پاره د يوم مضاف مضاف سره د مضاف اليه نه مفعول فيه شو د پاره د مبعوثون يا د اعنى فعل محذوف يا دا بدل دې د ليوم عظيم نه (اعراب القران) فعل سره د فاعل او سره د مفعول فيه جمله فعليه خبريه شوه يا صيغه د اسم مفعول...مبعوثون د خپل فاعل او متعلق او مفعول فيه سره خبر دې د ان...ان د خپل اسم او خبر سره قائم مقام د دوه مفعول د پاره د يظن.....فعل د خپل فاعل او د دواړه مفعولينو سره جمله فعليه انشائيه شوه.

سوال: ويل نكره ده دې لره مبتدا جوړول صحيح نه دى خكه مبتدا نكره نه شي جوړيدې؟

جواب: (۱) نكره كله كله مبتدا جوړيږى كله چه په كښ تخصيص اوكړې شي لكه سلام عليك او دا هم د سلام عليك په شان دې دلته تنوين د پاره د تعظيم دې گويا اصل عبارت داسې وو.ويل عظيم.(۲) ويل د دوزخ نوم دې نو په دې كښ علميت دې پس دا معرفه ده د دې مبتدا جوړيدل صحيح دى.(رازى سورة مرسلات)

تفسير: د سورة نوم سورة المطففين او سورة التطفيف دې عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمائى چه دا سورة مكى دې او ابن عباس رضي الله عنهما او قتاده رحمه الله او امام ضحاك رحمه الله وغيره فرمائى چه دا سورة مدنى دې صرف اتۀ آيتونه مكى دى.

لفظى ربط: (۱) په تير سورة كښ ﴿ كلا بل تكذبون بالدين ﴾ دلته

﴿ويل يومئذ للمكذبين﴾ (۲) په تير سورة كښ ﴿ان الابرار لفى نعيم﴾ او په دې سورة كښ هم ﴿ان الابرار لفى نعيم﴾ (۳) په تير سورة ﴿ان عليكم لحفظين﴾ او په دې كښ دى ﴿وما ارسلوا عليهم حفظين﴾

معنوي ربط: په مخكښ سورة كښ د قيامت احوال او د هغې د جزا او سزا بيان وو په دې سورة كښ هم دا مضمون راروان دې خو د سورة په شروع كښ په ناپ تول كښ د عدل كولو حكم وركولې شي مناسبت واضح دې څنګه چه الله پاک عادل دې د اعمالو په جزا كښ او هغه به عدل او انصاف كوى نو تاسو له هم په ناپ تول كښ عدل كول پكار دى.

شان نزول: د ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې چه د رسول الله ﷺ د هجرت د كولو نه پس په مدينه منوره كښ د ټولو نه اول دا سورة نازل شو وجه دا وه چه په اهل مدينه كښ دا مرض وو چه كله به ئې هم د چا سره معامله كوله نو كه سودا اخستل به وو نو پوره پوره ناپ تول به ئې كولو او كه وركول به وو نو په هغې كښ به ئې كمې او غلا كوله كله چه دا سورة نازل شو نو اهل مدينه د خپل دې عادت نه قلار شو او داسې قلار شو چه ترننه ورځې پورې د مدينې اهل په ناپ تول پوره كولو كښ مشهور او معروف دى.(معارف)

﴿ويل للمطففين﴾ : مقصد دا دې چه كوم خلق په ناپ تول كښ كمى كولو سره د نورو خلقو حق خورى د هغوى د پاره هلاكت او د دوزخ عذاب دې داسې سرى مطفف وئيلې شى او دا كار حرام دې.

فائده: اګر چه تطفيف په ناپ تول كښ كمى كولو ته وائى خو مفسرينو ليكلى دى چه حقدار ته د هغه د حق نه كم وركول تطفيف

دي که په هغې کښې ناپ تول وی او که نه وی چونکه عام طور د معاملاتو لین دین په دې دوه طریقو سره کیږی هم د دې په ذریعه سره ونیلې شی چه د حقدار حق ادا شو یا نه په دې وجه په قرآن او حدیث خصوصا هم د دې ذکر دې خو مقصد په دې وعید سره دا دې چه هر حقدار ته د هغه حق پوره ادا کړې شی په هغې کښې کمې اونکړې شی که د هغه تعلق د کیل او وزن سره وی یا د عدد (شمار) سره یا د بل څه طریقې سره تول تطفیف حرام دې که هغه تطفیف په حقوق الله کښې وی مثلا په مانځه کښې کمې کول په اودس کښې کمې کول یا حقوق العباد کښې وی مثلا د مزدور ملازم چه د څومره وخت معاهده اوکړی په هغې کښې د وخت غلا کول په وخت کښې دننه په کار کښې سستی کول دا ټول په تطفیف کښې داخل دی او بیا عوام خو څه اهل علم هم غفلت کوی او د خپل ملازمت په فرائضو کښې کمی کولو ته گناه نه وائی.(معارف)

حدیث :د رسول الله ﷺ ارشاد مبارک دې چه کوم خلق په ناپ تول کښې کمې کوی الله پاک هغوی په قحط کښې اخته کوی په بل حدیث کښې دی چه رزق ئې کموی د رزق د کمولو څو صورتونه دی.(۱) د رزق د کیدو سره ئې د بیمارئ د وجې نه شی خوړلې.(۲)د ضرورت څیزونه ورک شی (۳) د ضرورت څیزونه د ضرورت باوجود دومره گران شی چه اخستل ئې سخت شی(معارف) ﴿ الذین اذا اکتالوا الایة﴾ په دې آیت کښې د هغوی د خیانت او د مکر او فریب ذکر دې چه د خپلې فائدې سوچ کوی او نورو ته د نقصان ورکولو کوشش کوی.

﴿ الا یظن اولئک انهم مبعوثون ﴾ : په دې کښې هم هغوی ته

سخت وعيد دي چه آيا هغوی خيال نه کوی چه يو ورخ به هغوی د رب العالمين مخې ته اودريدلو سره د خپلو عملونو ناپ تول هم کوی د هغوی د دې خيانت حساب به هم اخستلې شی بيا به الله رب العزت ته څه جواب ورکوی.

كَلَّآ إِنَّ كِتَـٰبَ ٱلْفُجَّارِ لَفِى سِجِّينٍ ﴿٧﴾ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا سِجِّينٌ ﴿٨﴾ كِتَـٰبٌ مَّرْقُومٌ ﴿٩﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿١٠﴾ ٱلَّذِينَ يُكَذِّبُونَ بِيَوْمِ ٱلدِّينِ ﴿١١﴾ وَمَا يُكَذِّبُ بِهِۦٓ إِلَّا كُلُّ مُعْتَدٍ أَثِيمٍ ﴿١٢﴾ إِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِ ءَايَـٰتُنَا قَالَ أَسَـٰطِيرُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٣﴾

ترجمه: هر گز داسې نه ده بيشکه د بد کردارو عمل نامې په سجين کښ دی....او تا ته څۀ پته ده چه سجين څه څيز دې؟....يو کتاب دې ليکلې شوې....هلاکت دې په دغه ورځ د پاره د تکذيب کونکو.... هغه کسان چه د جزا د ورځې تکذيب کوی....او تکذيب نه کوی د هغې ورځ مگر هغه چه د حد نه تير گناهگار وی....کله چه په هغه باندې زمونږ آيتونه څوک لوستلې شی نو وائی چه دا قيصې دی د پخوانو خلقو.

حل المفردات: فجار جمع ده د فاجر.سجين صيغه د مبالغې ده په معنی د (۱)قيد خانه چه ډيره تنگه وی.(۲) دائمی قيد خانه (قاموس) مرقوم واحد مذکر اسم مفعول په معنی د ليکلی شوی مهر لگولې شوې نمبر لگولې شوې د باب (ن) په معنی د ليکلو په کتاب باندې نقطې لگول.معتد واحد مذکر اسم فاعل په اصل کښ معتدی وو په

یاء باندې ضمه ثقیله وه اوغورځولې شوه اجتماع د ساکنینو راغله د یا او نون د تنوین ترمینځه یا ېو اوغورځوله معتد شو د باب افتعال نه په معنی د حد نه تیریدل، ظلم کول. اثیم واحد مذکر صفت مشبه د باب(س) گناه کول جمع د دې اثماء ده، تتلی واحده مونثه غائبه مضارع مجهول په اصل کښې تتلیُ وو د قال قانون پرې اولگیدو د باب (ن) تلاوت کول، لوستل. اساطیر جمع ده د اسطورة یا اسطار یا اسطر په معنی د قیصې بې سنده خبرې.(مظهری)

حل الترکیب:﴿ کلا ان کتاب الفجار لفی سجین ﴾ کلا حرف ردع ان حرف د حروف مشبه بالفعل نه کتاب مضاف الفجار مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه اسم د ان لام تاکیدیه فی حرف جار سجین مجرور جار سره د مجرور نه په ثابت پورې متعلق کیدو سره خبر شو د ان د پاره ان سره د خپل اسم او خبر نه جمله اسمیه خبریه شوه. ﴿ وما ادراک ما سجین ﴾ واؤ عاطفه ما بمعنی ای شیئ مبتدا ادری فعل هو ضمیر پکښې فاعل کاف ضمیر مفعول به اول. ﴿ ما سجین ﴾ ما بمعنی ای شیئ مبتدا سجین مبدل منه. ﴿ کتاب مرقوم ﴾ کتاب موصوف مرقوم صفت موصوف سره د صفت نه بدل مبدل منه سره د بدل نه خبر دې د ما د پاره مبتدا سره د خبر نه جمله انشائیه کیدو سره مفعول ثانی دې د ادراک د پاره ادراک فعل سره د فاعل او سره د دواړه مفعولینو جمله انشائیه شوه.

فائده: دا هم احتمال دې چه ﴿ کتاب مرقوم ﴾ خبر وی د مبتدا محذوف هو د پاره.

﴿ ویل یومئذ للمکذبین...الذین یکذبون بیوم الدین ﴾ ویل

مبتدا يوم ظرف مضاف اذ مضاف اليه مضاف سره د مضاف اليه نه مفعول فيه د پاره د مكذبين.لام جاره المكذبين موصوف الذين موصول يكذبون فعل فاعل با جار يوم مضاف الدين مضاف اليه مضاف سره د مضاف اليه نه مجرور د جار جار سره د مجرور نه متعلق شو په يكذبون فعل پورې فعل سره د فاعل او سره د متعلق نه جمله فعليه خبريه صله شوه د پاره د موصول ،موصول سره د صلې نه صفت شو د پاره د موصوف موصوف سره د صفت نه مجرور د پاره د جار جار سره د مجرور نه متعلق په ثابت پورې كيدو سره خبر شو د پاره د مبتدا مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه خبريه شوه.

﴿وما يكذب به الا كل معتد اثيم﴾ واؤ عاطفه يا حاليه يا استينافيه ما نافيه يكذب فعل باحرف جار ه ضمير مجرور جار سره د مجرور نه متعلق دې په يكذب فعل پورې الاحرف استثناء زائده د پاره د حصر(اعراب القران) كل مضاف موصوف محذوف معتد صفت ... ثيم صفت ثانی موصوف سره د خپلو صفتينو نه مضاف اليه شو د پاره د مضاف مضاف سره د مضاف اليه نه فاعل شو د پاره د يكذب فعل...فعل سره د فاعل نه جمله فعليه خبريه شوه.﴿ اذا تتلى عليه ايتنا قال اساطير الاولين ﴾ اذا شرطيه تتلى فعل على حرف جار ه ضمير مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو په تتلى فعل پورې آيات مضاف نا ضمير مضاف اليه مضاف سره د مضاف اليه نه نائب فاعل فعل سره د نائب فاعل نه شرط شو...قال فعل هو ضمير ئي فاعل فعل سره د فاعل نه قول اساطير مضاف الاولين مضاف اليه مضاف سره د مضاف اليه خبر دې د پاره د مبتدا محذوف چه

هی دي مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه خبريه کيدو سره مقوله شوه د قول قول سره د مقولې نه جزاء شوه د پاره د شرط شرط سره د جزا نه جمله شرطيه شوه.

تفسیر:ربط: په مخکښې آيتونو کښې ﴿ يوم يقوم الناس ﴾ کښې د قيامت په ورځ د الله پاک په دربار کښې د اودريدلو او د نيکئ بدئ د سزا موندلو ذکر وو اوس د دې ځائې نه د نيکو بدو د حالاتو بيان دې کوم چه به د مرګ نه پس د اعمالو مطابق هغوی ته پيښيږی.

﴿ کلا ان کتاب الفجار لفی سجين ﴾ د کلا دوه معنی کيديشی.(۱)د حقا په معنی کښې وی په دې صورت کښې به دا د ما بعد والا کلام د تاکيد د پاره وی مقصد به دا وی چه پخه او يقينی خبره ده چه د کفارو عمل نامې په سجين کښې محفوظې دی.(۲) کلا د پاره د ردع يعنی د مخکښې کلام نه انکار چه کله الله پاک اوفرمائيل ﴿ يوم يقوم الناس لرب العالمين ﴾ خلق به دوباره ژوندی کيدلو سره د رب مخې ته اودريږی د خپلو عملونو بدله به بيا مومی نو کفارو به د دې جزا او سزا نه انکار کولو په کلا سره الله پاک د هغوی په انکار باندې تنبيه ورکوی چه هر ګز ستاسو دا انکار صحيح نه دې ستاسو د هر عمل حساب به اخستلې شی ځکه د کفارو او ګناهګارو اعمال په سجين کښې محفوظ دی او سجين يو ليکلې شوې رجسټر دې چه په هغې باندې مهر لګولې شوې دې په هغې کښې اعمال محفوظ دی په هغې کښې کمې بيشې نه شی کيدې

تحقيق د سجين: سجين د سجن نه دې په معنی د قيدخانې چه د دوزخ يو خاص طبقه ده کومه چه د اومې زمکې نه لاندې ده کوم چه تيارۀ او

تنگ او د غم نه ډک ځائې دې کوم ځائې چه د درد او غم نه سوا هيڅ نشته کوم ځائې چه قسمه قسم تکليفونه ماران او لړمانان دی د کافر د مرګ نه پس د هغه روح هم په دې سجين کښې بندولې شی او هم په دې ځائې کښې د هغه اعمال پوره طريقې سره محفوظ وی او د اعمالو والا رجسټر هم کيخودلې شوې دې څنګه چه د قيد ځائې د انچارج سره د ټولو قيديانو نومونه او نخښې محفوظې وی. ﴿ كِتَابٌ مَرْقُومٌ ﴾ مقصد به دا وی چه سجين د هغه کتاب مرقوم (مهر لګولې شوې رجسټر) د ايخودلو ځائې دې دا مقصد نه دې چه سجين خپله د هغه کتاب مرقوم نوم دې ځکه سجين خو قيد ځانه ده خو په هغې کښې د کفارو اعمال نامې کيخودلې شوې دی د سجين په مقابله کښې عليين دې کوم چه په اووم آسمان کښې د عرش الهی نه لاندې دې کوم ځائې کښې چه د مومنانو ارواح ډير په آرام او خوشحالئ سره اوسيږی مقام عليين په پوره عالم کښې د مزو او خوشحالو ځائې دې.

مقام د جنت او دوزخ: د ذکر کړې شوې تفسر نه معلومه شوه چه دوزخ په زمکه کښې دې او جنت په آسمان کښې دې بيهقی د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه هم داسې روايت کړې دې.

د معاذ بن جبل رضی الله عنه نه روايت دې چه د رسول الله ﷺ نه د ﴿ وَجِايْءَ يَوْمَئِذٍ بِجَهَنَّمَ ﴾ (چه کله دوزخ راوړلې شی) تفسير اوتپوسلو چه دوزخ به د چرته نه راوستلې شی نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه د اوومې زمکې نه به راوستلې شی د دې ټولو رواياتو نه معلوميږی چه دوزخ د اوومې زمکې نه لاندې دې هم د هغه ځائې نه به بلولې شی او

تول سمندر او دریابونه به بلولو سره په اور یعنی دوزخ کښ شاملولې شی.(معارف)

﴿ وما ادراک ما سجین ﴾ دا استفهام د دې سجین د عظمت او د هیبت د بیانولو دپاره دې چه څومره د هیبت او خطرناک ځائې دې کوم ځائې چه د آرام هیڅ څیز نشته.﴿ کتاب مرقوم ﴾ د ماقبل د استفهام جواب دې چه سجین د کفارو او فاسقانو عمل نامې کومې چه مهر لګولې شوې دی د هغې ځائې دې کوم ځائې چه دا محفوظې دی د مرقوم دوه معنې دی لیکلې شوې،مهر کړې شوې.دلته دویمه معنی مراد ده.

﴿ ویل یومئذ للمکذبین ﴾ مقصد دا دې چه هغه ورځ په کومه چه به منکرین او مکذبین او بدکاره خلق په سجین کښ داخلیږی هغه به د هغوی د پاره د لوئې بربادئ او تباهئ ورځ وی.﴿ الـذین یکذبون بیوم الدین ﴾ دا د مکذبینو د تکذیب بیان دې یعنی هغه خلق کوم چه د بدلې او د قیامت انکار کوی چونکه هغوی د قیامت او د حساب او کتاب منکر دی په دې وجه ښه په لوئې زړه باندې سرکشی او بدکاری کوی.﴿ وما یکذب به الا کل معتد اثـیم ﴾ هم د دې ماقبل آیت وضاحت دې چه د جزا د ورځ انکار هم هغه سړې کوی کوم جاهل وی چه په جهالت او د خپل پلار نیکهٔ په تابعدارئ کښ د حد نه تیر شوې وی تر دې چه الله پاک په دوباره پیدا کولو هم قادر نه ګنړی لکه د عربو بت پرست چه وو اوس د یورپ عیش خوښونکی خلق هم دغه شان،د جزا د ورځې انکار هغه سړې کوی کوم چه اثیم وی اثیم هغه دې کوم چه د خپل نفس په خواهشاتو پسې روان شی

﴿اذا تتلی علیه ایتنا قال اساطیر الاولین ﴾ مقصد دا دي چه د قیامت او د جزا د ورځي انکار هم هغه سړي کوی کوم چه ډیر زیات سرکش دي کله چه زمونږ آیتونه په هغه باندي تلاوت کولي شی خصوصا هغه په کوم کښی چه د جزا د حالت بیان دي نو هغه د تکبر او خپل کم عقلتیا او نالائق توب د وجي نه وائی چه دا خو د خانه جوړي کړي شوي قیصي دی دا څهٔ کلام الله خو نه دي.(مظهری،حقانی)

كَلَّا ۖ بَلْ ۜ رَانَ عَلَىٰ قُلُوبِهِم مَّا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿١٤﴾ كَلَّا إِنَّهُمْ عَن رَّبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّمَحْجُوبُونَ ﴿١٥﴾ ثُمَّ إِنَّهُمْ لَصَالُوا الْجَحِيمِ ﴿١٦﴾ ثُمَّ يُقَالُ هَٰذَا الَّذِي كُنتُم بِهِ تُكَذِّبُونَ ﴿١٧﴾ كَلَّا إِنَّ كِتَابَ الْأَبْرَارِ لَفِي عِلِّيِّينَ ﴿١٨﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا عِلِّيُّونَ ﴿١٩﴾ كِتَابٌ مَّرْقُومٌ ﴿٢٠﴾ يَشْهَدُهُ الْمُقَرَّبُونَ ﴿٢١﴾

ترجمه: هر گز داسي نه ده بلکه د دوی په زړونو باندي زنګ لګیدلي دي د هغه کارونو چه دوی کړی دی...هر گز نه شی کیدي دوی به د خپل رب نه هغه ورځ په پرده کښی وی.....بیا به دوی خامخا دوزخ ته داخلیږی....بیا به اوونیلي شی دا هم هغه څیز دي چه تاسو به ئي تکذیب کولو...هر گز داسي نه ده بیشکه د نیکانو عمل نامي په علیین کښی دی.....او تا ته څه پته ده چه علیین څهٔ څیز دي؟...یو کتاب دي لیکلي شوي....حاضریږی هغي ته مقرب ملائک.

حل المفردات: ران واحد مذکر غائب ماضی معلوم په اصل کښی رین وو(قال والاقانون) د باب (ض) نه غالب کیدل زنګ کیدل.یکسبون

جمع مذکر غائب مضارع معروف د باب (ض) کسب کول مال یا علم حاصلول. محجوبون جمع مذکر سالم اسم مفعول په معنی د بند کړې شوی د باب (ن) بندول یا پټول. لصالوا جمع مذکر اسم فاعل په اصل کښې صالیون وو د یا ضمه نقل کولو سره لام ته ورکولو باندې مو یا د اجتماع ساکنین په وجه اوغورځوله صالون شو بیا نون په وجه د اضافت اوغورځولې شو د باب (س) نه د اور ګرمی برداشت کول په اور کښې سوزیدل یا داخلیدل. علیین عند البعض دا جمع ده مفرد ئې نه راځی او د بعضو په نزد ئې مفرد علو دې فراء نحوی وائی چه دا لفظ د جمع په وزن باندې دې خو د دې هیڅ مفرد نشته دا یو خاص مقام دې کوم ځائې چه د مومنانو روحونه وی. یشهد واحد مذکر غائب مضارع معروف د باب (س) حاضریدل المقربون جمع مذکر سالم اسم مفعول د باب تفعیل نه په معنی د نزدې کولو.

حل الترکیب: ﴿ کلا بل ران علی قلوبهم ما کانو یکسبون ﴾ کلا حرف ردع بل حرف عطف د پاره د اعراض ران فعل علی حرف جار قلوبهم مضاف مضاف الیه یو ځائې کیدو سره مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو په ران فعل پورې ما موصوله کانوا فعل د افعال ناقصه نه واؤ ضمیر بارز ئې اسم یکسبون فعل واؤ ضمیر بارز فاعل، فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره محلا منصوب خبر شو د کانوا د پاره کانو سره د خپل اسم او خبر نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره صله شو د پاره د موصول موصول سره د صلې نه فاعل شو د ران فعل د پاره فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه خبریه شوه.

﴿ کلا انهم عن ربهم یومئذ لمحجوبون ﴾ کلا حرف ردع ان حرف

د حروف مشبه بالفعل هم ضمير ئي اسم عن حرف جار رب مضاف هم مضاف اليه مضاف سره د مضاف اليه نه مجزور شو د پاره د جار جار سره د مجرور نه متعلق شو په محجوبون پورې يوم مضاف اذ چه په اصل کښې ﴿ اذ يقوم الناس ﴾ وو مضاف اليه مضاف سره د مضاف اليه نه مفعول فيه شو د پاره د محجوبون چه صيغه د صفت دے هم ضمير ئې نائب فاعل صيغه د صفت سره د نائب فاعل جمله فعليه خبريه کيدو سره خبر دې د پاره د ان ... ان سره د خپل اسم او خبر نه جمله اسميه خبريه شوه.

﴿ ثم انهم لصالوا الجحيم ﴾ ثم حرف عطف ان حرف د حروف مشبه بالفعل نه هم ضمير اسم د ان د پاره لام تاکيد يه صالوا مضاف الجحيم مضاف اليه مضاف سره د مضاف اليه خبر شو د پاره د ان، ان سره د خپل اسم او خبر نه جمله اسميه خبريه شوه. ﴿ ثم يقال هذا الذى کنتم به تکذبون ﴾ ثم حرف عطف يقال فعل هو ضمير په کښې مستتر هغه نائب فاعل فعل سره د نائب فاعل نه قول شو.... هذا مبتدا الذى اسم موصول کنتم فعل د افعال ناقصه نه تم ضمير بارز ئې اسم به جار مجرور يو ځائې کيدلو سره متعلق شو په تکذبون فعل پورې تکذبون فعل او فاعل فعل سره د فاعل نه جمله فعليه خبريه کيدو سره خبر شو د پاره د کنتم کنتم سره د خپل اسم او خبر نه جمله فعليه خبريه کيدو سره صله شوه د پاره د موصول موصول سره د صله خبر شو د پاره د مبتدا مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه خبريه کيدو سره مقوله شوه د پاره د قول، قول سره د مقولې نه جمله فعليه خبريه شوه.

﴿ کلا ان کتب الابرار لفی علیین ... وما ادراک ما علیون ﴾ د دې جملې ترکیب د په شان د ﴿ کلا ان کتب الفجار لفی سجین .... وما ادراک ما سجین ﴾ پشان دې هلته دې اوکتلې شی. ﴿ کتب مرقوم .... یشهده المقربون ﴾ کتاب موصوف مرقوم صفت اول. یشهد فعل ه ضمیر مفعول به المقربون فاعل فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره صفت ثانی شو د پاره د کتاب موصوف موصوف سره د دواړو صفتونو خبر دې د پاره د مبتدا محذوف چه هو دې یا بدل دې د علیون نه یا عطف بیان دې، مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه شوه.

تفسیر: ﴿ کلا بل ران علی قلوبهم ما کانوا یکسبون ﴾ کلا حرف ردع د پاره د زجر او توبیخ راغې، په مخکښې آیتونو کښې د کفارو د تکذیب او د انکار بیان وو په کلا سره په دې باندې زجر او خبرداري دې چه د هغوی تکذیب او انکار بالکل صحیح نه دې او د هغوی دا تکذیب د څه دلیل یا عقل او فهم په بنیاد نه دې بلکه د دې وجه دا ده چه د الله پاک د نافرمانئ او د گناهونو په وجه د هغوی زړونه زنگ شوی دی څنگه چه زنگ اوسپنه خوړلو سره ختمه کړی هم دغه شان د گناهونو زنگ د هغوی د زړونو نه هغه نورانیت او صلاحیت ختم کړي دې چه د هغې په وجه هغوی د اسلام په دولت سره مشرف شوي وې او په حق او باطل کښې ئې فرق کړې وې او دا صلاحیت او استعداد الله پاک د هر انسان په فطرت کښې ږدی هم د دې آیت په تفسیر کښې د ابوهریره ﷺ د حدیث ذکر کول مناسب دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه کله یو مومن بنده گناه کوی نو د هغه په زړه باندې تور

داغ اولګی که هغه توبه اوکړه او پښیمانه کیدو سره ئې مخکښ توبه اوکړه او خپل عمل ئې صحیح کړو نو هغه تور داغ ختم شی او زړه په خپل اصلی حالت باندې منور شی او که هغه توبه اونکړه بلکه په خپلو ګناهونو کښ ئې نور هم زیاتې اوکړو نو دا تور والې د هغه په ټول زړه باندې خور شی د هغه نوم ران دې کوم چه په دې آیت کښ ذکر کړې شوې دې (معارف) ﴿ کلا انهم عن ربهم یومئذ لمحجوبون ﴾ په کلا کښ دوه احتماله دی (۱) په معنی د حقا (۲) او ردع کول د هغوی په انکار باندې بیا دوباره زجر او خبرداري دې چه د هغوی دا انکار بالکل صحیح نه دې بلکه د هغوی د انکار تکذیب او بد عملونو به دا سزا ورکولې شی چه د قیامت په ورځ باندې به دا کفار او فجار د الله پاک د دیدار او د باری تعالی د ذات د زیارت نه محروم شی ځکه چه په دنیا کښ دې خلقو حق او نه پیژندلو په دې وجه د زیارت قابل نه دی د دې آیت نه معلومه شوه چه مومنانو او متقیانو ته به د الله پاک دیدار نصیب کیږی لکه څنګه چه په احادیثو کښ د دې تصریح ده.

فائده: بعض اکابرین فرمائی چه هر انسان فطرة د الله پاک په محبت باندې مجبور دې په دې وجه د دنیا کفار او مشرکین که هر څومره په کفر او شرک کښ اخته وی او د الله پاک د ذات متعلق غلطه عقیده ساتی خو دومره خبره په ټولو کښ مشترکه ده چه د الله پاک محبت د ټولو په زړونو کښ وی د خپلې خپلې عقیدې مطابق د هغه خواهش او رضا د پاره عبادتونه کوی لاره غلطه شی په دې وجه منزل مقصود ته نه شی رسیدلې.

وجه د استدلال: که کفارو ته د الله پاک د زیارت شوق نه وې نو د

هغوی په سزا کښې به دا نه وئیلې کیدل چه د زیارت نه به محروم وی
ځکه چه کوم سړې د چا د زیارت طالب نه وی بلکه د هغه نه نفرت
کوی نو د هغه د پاره دا هیڅ سزا نه ده چه د زیارت نه محروم کړې
شی.(معارف)

﴿ثم انهم لصالوا الجحیم﴾ مقصد دا دې چه د زیارت نه د
محروم کیدو نه پس به هغوی ته دا سزا ورکولې شی چه په دوزخ کښې
به داخلولې شی.﴿ ثم یقال هذا الذی کنتم به تکذبون ﴾ مقصد دا دې
چه په دوزخ کښې د داخلولو نه پس به د هغوی د شرمولو د پاره وئیلې
شی چه دا هم هغه عذاب دې هم هغه دوزخ دې چه تاسو به ئې
تکذیب کولو اوس مو یقین راغلو که نه؟

﴿ کلا ان کتاب الابرار لفی علیین ﴾ په کلا کښې دواړه
احتمالات دی (۱) په معنی د حقا (۲) د پاره د ردع ځکه چه کفارو به
مومنانو ته وئیل ستاسو د عملونو هیڅ فائده نشته تاسو ته به هیڅ
بدله نه ملاویږی دا بیکاره دی الله پاک د هغوی په انکار باندې زجر
او زورنه ورکوی چه ستاسو دا انکار بالکل صحیح نه دې بلکه
مومنانو ته به د هغوی د نیک عملونو بدل ملاویږی.ځکه چه د
مومنانو عمل نامې په علیین کښې محفوظې دی کوم علیین چه په
اووم آسمان کښې د عرش الهی نه لاندې واقع دې کوم ځائې کښې چه د
مومنانو روحونه اوسیږی.﴿ وما ادراک ما علیون ﴾ استفهام د
علیون د شان او عظمت د ښکاره کولو د پاره دې.﴿ کتب مرقوم ﴾
جواب د استفهام دې چه هغه علیون د مهر کړی شوی رجستر د
ایخودلو ځائې دې.

﴿ يشهده المقربــون ﴾ په دې آيت کښ دوه تفسيرونه کړې شوى دى.⁽¹⁾ په بيـان القران کښ د دې تفسير داسې کړې شوې دې چه مقرب ملائـک ورتـه پـه شـوق ګـورى او دا د مـومن د پـاره لـوئې کرامت دې لکه چه په روح المعـانى کښ د عبـد بـن حميـد پـه تخريج بانـدې د کعـب رضي الله عنه روايـت دې چـه کلـه ملائـک د مـومن روح قـبض کولو سره يوسى نو د هر آسمان مقرب ملائک د هغه سره شى تـر دې چه اووم آسمان ته رسيدلو سره دې روح تـه ګـورى بيـا فرشـتې عـرض کوى چه مونږ د دهٔ عمل نامه ګورو.پس هغه عمل نامـه پرانسـتلو سـره خودلې شى.⁽²⁾ د شهود معنى حاضريدل ه ضمير د عليـون پـه طـرف راجع شو او د مقربون نه مراد که اولياء او نيکـان وى نـو مقصـد بـه دا وى چه دې مقام عليين ته د نيکانو او اولياء کرامو ارواح حاضريږى.

سوال: د ذکر کړې شوى آيتونو نـه معلوميږى چه د مومنـانو ارواح پـه عليـين کښ دى او د بعـض احـاديثو نـه واضـحه ده چـه د مومنــانو روحونه په جنت کښ دى ⁽¹⁾ د عبـد الله بـن مسـعود رضي الله عنه نـه روايـت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه د شهيدانو روحونه د الله پـاک پـه نـزد د شنو مرغـانو پـه ججـورو کښ وى کـومې چـه د جنـت پـه دريـابونو باندې کوم خوا تلـل غـواړى سـيل کـوى او د عـرش د لاتـدې قنديلونـه لګيـدلې دى هلتـه د هغـوى قيـام وى. ⁽²⁾ د کعـب بـن مالـک رضي الله عنه نـه روايـت دې چـه رسـول الله ﷺ اوفرمـائيـل د مومنـانو روحونـه د يـو مارغـهٔ پـه شـکل د جنت د اونو سره اويزانـد وى د قيامـت پـه ورځ بـه خپلو خپلو بدنونو ته واپس شى.⁽³⁾ په سورة ياسين کښ دى ﴿ قيــل ادخل الجنة ﴾ د دې نه مراد حبيب نجار رحمه الله دې هغـه تـه اووئيلې شـو

چه جنت ته داخل شه د دې ټولو روایاتو نه معلومه شوه چه د مومنانو ارواح په جنت کښې دی او د دې آیت نه معلومیږی چه د مومنانو روحونه په علیین کښې دی. هم دغه شان د آیت نه معلومیږی چه د کفارو ارواح په سجین کښې دی او په بعض احادیثو کښې راځی چه د کفارو ارواح دوزخ ته غورځولې شی په ظاهره په دې کښې تعارض دې؟

جواب: هیڅ تعارض نشته ځکه چه علیین هم د جنت یو حصه ده کوم ځائې چه د مومنانو د روحونو مستقل قیام وی خو هغوی ته د جنت د نورو حصو د سیل کولو هم اجازت وی لکه چه د احادیثو نه معلومه شوې ده پس هیڅ تعارض نشته پس دا وئیل هم صحیح دی چه ارواح په علیین کښې دی او دا وئیل هم صحیح دی چه ارواح په جنت کښې دی هم دغه شان سجین هم د دوزخ یو حصه ده نو دا وئیل هم صحیح دی چه د کفارو ارواح په سجین کښې اوسیږی او دا هم صحیح ده چه په دوزخ کښې اوسیږی.

سوال: د بعض احادیثو نه معلومیږی چه د مومنانو او د کفارو روحونه د هغوی په قبرونو کښې دی لکه د براء بن عازب ﷺ په روایت کړې شوی اوږد حدیث کښې راغلی دی د مومنانو متعلق الله پاک فرمائی زما د بنده عمل نامه په علیین کښې اولیکئ او دا د زمکې طرف ته واپس کړئ ځکه چه دې ما هم د زمکې نه پیدا کړې دې او د مرګ نه پس ئې هم دې ته واپس کوم او هم د دې نه به ئې دوباره راوباسم د حکم مطابق د هغه روح د هغه په بدن کښې داخل کړې شی نو د دې حدیث نه ثابته شوه چه روحونه په قبر کښې وی او د آیتونو نه ثابتیږی چه په علیین او سجین کښې وی نو په دې کښې

تعارض او مخالفت واضح دي.(مظهری)

جواب: مولانا قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله دا جواب ورکړي دي چه د مرګ نه پس د روحونو اصل مقام خو په عليين او سجين کښې وی خو د دې روح څۀ نه څۀ رابطه او تعلق د مړی سره وی چه د هغې په وجه هغې خوشحالي او تکليف محسوسوی د منکر نکير د سوال جواب ورکوی که څوک سلام اوکړی نو جواب ورکوی د دې مثال داسې دې لکه نمر د زمکې نه په زرګونو ميله لرې دې خو د هغه اثر يعنی رڼرا او ګرمی زمکې ته رارسيږی هم دغه شان اګر چه روح د مړی نه په کروړونو ميله لرې دې خو د هغې اثر مړی ته رارسيږی او دا د الله پاک د قدرت مخکښې هيڅ بعيده خبره نه ده خو مړی ته هغه ژوند حاصل نه وی.کوم چه د دنيا خلقو ته حاصل دې بلکه د هغه ژوند زمونږ نه مختلف دې هغې ته عالم برزخ وئيلې شی کوم چه د عالم دنيا او عالم آخرت ترمينځه دي.(مظهری)

﴿ إِنَّ ٱلْأَبْرَارَ لَفِى نَعِيمٍ ﴿٢٢﴾ عَلَى ٱلْأَرَآئِكِ يَنظُرُونَ ﴿٢٣﴾ تَعْرِفُ فِى وُجُوهِهِمْ نَضْرَةَ ٱلنَّعِيمِ ﴿٢٤﴾ يُسْقَوْنَ مِن رَّحِيقٍ مَّخْتُومٍ ﴿٢٥﴾ خِتَٰمُهُۥ مِسْكٌ ۚ وَفِى ذَٰلِكَ فَلْيَتَنَافَسِ ٱلْمُتَنَٰفِسُونَ ﴿٢٦﴾ وَمِزَاجُهُۥ مِن تَسْنِيمٍ ﴿٢٧﴾ عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا ٱلْمُقَرَّبُونَ ﴿٢٨﴾ ﴾

ترجمه: بيشکه نيکان خلق به په نعمتونو کښې وی....په تختونو باندې به ناست وی اوګوری به...ته به پيژنې د هغوی په مخونو باندې تازګی د نعمتونو....څکولې به شی په هغوی باندې مهر کړې

شوې شراب...چه مهر ئې مشک دی،او د دې د پاره دې حرص
اوکړی حرص کونکی...او په دې شرابو کښ د تسنیم ګډون دې...
هغه یو چینه ده چه د الله مقرب بندګان به د هغې نه څکی
حل المفردات: الارائک جمع ده اریکة ده ډولی او ښکلې تخت چه د
هغې په څلورو واړو طرفونو باندې قیمتی پردې زوړندې کړې شوې
وی په هغې کښ ناوې کینولې شی په اردو کښ ورته مسهری وائی...
تعرف واحد مذکر حاضر مضارع معروف د باب (ض) پیژندل نضرة
تازګی ښکلا د باب (س،ک،ن) نه ښکلې کیدل یسقون جمع مذکر
غائب مضارع مجهول په اصل کښ یسقیون وو (په قانون د قال)
یسقون د باب (ض) نه څکول...رحیق خالص شراب مختوم واحد
مذکر اسم مفعول د باب (ض) نه مهر لګولې شوې ختام هر هغه څیز
چه په هغې سره مهر اولګولې شی جمع ئې ختم فلیتنافس واحد
مذکر امر غائب د باب تفاعل نه حرص کول خواهش کول
المتنافسون جمع مذکر سالم اسم فاعل تسنیم د باب تفعیل نه
مصدر دې په معنی د اوچتولو سنام د اوښ قوب ته وائی هغه هم
اوچت وی سنام د غرڅوکې ته هم وائی دلته ترې د جنت یو چینه مراد
ده چه د هغې اوبه د ټولو اوبو نه اعلی دی
حل التركيب: ﴿ ان الابرار لفی نعیم ﴾ ان حرف د حروف مشبه بالفعل
نه ابرار ئې اسم (لام تاکیدیه) فی جار نعیم مجرور جار سره د مجرور
نه متعلق شو په کائنون پورې کائنون صیغه د صفت اسم فاعل هم
ضمیر ذوالحال ﴿ علی الارائک ینظرون ....تعرف فی وجوههم نضرة
النعیم ﴾ علی حرف جار ارائک مجرور جار سره د مجرور نه متعلق

شو په ينظرون پورې ينظرون فعل واؤ ضمير فاعل فعل سره د فاعل نه جمله فعليه خبريه كيدو سره حال دې د كائنون د هم ضمير ذوالحال نه ذوالحال سره د حال نه فاعل د كائنون د پاره صيغه د صفت سره د خپل فاعل نه شبه جمله كيدو سره خبر شو د ان ... ان د خپل اسم او خبر سره جمله اسميه خبريه شوه دا هم احتمال دې چه ﴿علی الارئک ينظرون ﴾ جمله مستانفه وی تعرف فعل انت ضمير ئې فاعل فی حرف جار وجوه مضاف هم ضمير مضاف اليه مضاف سره د مضاف اليه نه مجرور شو د پاره د فی حرف جار، ، ،جار سره د مجرور نه متعلق شو په تعرف فعل پورې تعرف فعل سره د فاعل او سره د متعلق نه جمله فعليه خبريه شوه.﴿ يسقون من رحيق مختـوم ﴾ يسقون فعل واؤ ضمير بارز راجع په طرف د ابرار نائب فاعل من حرف جار رحيق موصوف مختوم صفت اول ختام مضاف ه مضاف اليه مضاف سره د مضاف اليه نه مبتدا مسک ئې خبر مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه خبريه كيدو سره صفت ثانی موصوف سره د دواړو صفتونو مجرور شو د پاره د جار جار سره د مجرور نه متعلق شو په يسقون فعل پورې فعل سره د فاعل او سره د متعلق نه جمله فعليه خبريه شوه.

﴿ وفی ذلک فليتنافس المتنافسون ﴾ واؤ عاطفه فی حرف جار ذلک مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو په فليتنافس پورې فا عاطفه يتنافس فعل المتنافسون فاعل فعل سره د فاعل نه جمله فعليه خبريه شوه.﴿ ومزاجه من تسنيم ﴾ واؤ عاطفه مزاج مضاف ه مضاف اليه مضاف سره د مضاف اليه نه مبتدا شو د پاره د من حرف

جار تسنیم ذوالحال عینا موصوف یشرب فعل با جرف جار ه مجرور
جار سره د مجرور نه متعلق شو په یشرب پوري المقربون ئې فاعل
فعل سره د فاعل او سره د متعلق نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره
صفت شو د موصوف، موصوف سره د صفت نه حال شو د پاره د
ذوالحال ذوالحال سره د حال نه مجرور شو د پاره د جار، جار سره د
مجرور نه ظرف مستقر متعلق شو په کائن پوري نو خبر واقع شو د
پاره د مبتدا....مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه شو.

فائده: په عینا کښې نور هم ترکیبی احتمالات دی: ۱........مفعول به دې د اعنی فعل محذوف د پاره ۲........مفعول به دې د یسقون د پاره ۳........د امدح فعل مفعول به دې ۴ ......تسنیم مصدر دې چه عینا ته نصب ورکوی (اعراب القران)

تفسیر: د ابرار د نعتمونو بیان دې کوم چه به هغوی ته په آخرت کښې ورکړې کیږی ﴿ ان الابرار لفی نعیم ﴾ مقصد دا دې چه ابرار خلق به په نعمتونو کښې وی په عیش او آرام کښې به وی غوره مکان، باغ، نهرونه، پاکې جامې، حورې غلمان، سورلۍ، خادمان، د زړه خوښې خوراکونه خوشحالی د همیشه د پاره، تول نعمتونه به هلته موجود وی چه نه به د چا سترګو لیدلې وی نه به غوږونو اوریدلې وی او نه به ئې د داسې نعمتونو خیال راغلې وی. ﴿ علی الارئک ینظـــرون ﴾ مقصد دا دې چه هغوی به د بادشاهت په تخت باندې کینولې شی هغه به معمولی تخت نه وی بلکه په جواهراتو سره به مزین وی د هغې نه یو خوا بل خوا به د ریښمو پردې لګیدلې وی هغه به هیڅ څوک نه شی لیدلې خو هغه به دننه ناستې سره د بهر هر څیز وینی په

دې وجه ئې د ينظرون مفعول محذوف کړو چه د هغې په باره کښ د مفسرينو ډير اقوال دی.

۱.........د جنت نعمتونه به وينی ۲........خپل دشمنان به په دوزخ کښ په سوزيدلو باندې وينی ۳.......خپل رب به وينی امام رازی په تفسير کبير کښ آخری قول غوره کړې دې. ﴿ تعرف فی وجوههم نضرة النعيم ﴾ مقصد دا دې چه د هغوی د مخونو نه به د نعمتونو تازګی او ښکلا او حسن و جمال ښکاره وی د ښوارلسمې د سپوږمئ په شان به د هغوی مخونه روحانه او پړقيدونکی وی هغوی به د دوزخيانو په حال ليدو باندې نه غمژن کيږی (حقانی)

﴿ يسقون من رحيق مختوم ﴾ مقصد دا دې چه هغوی ته به خالص شراب پيش کولې شی چه په هغې سره به نه تريخ والې وی نه بوئې او نه د سر درد نه بې هوشی نه ستومانی بلکه په هغې سره به خوشحالی حاصليږی. ﴿ ختامه مسک ﴾ بيا به په هغې باندې مهر لګولې شوې وی هغه به د مشکو وی چه د هغوی خوشبوئې به په شرابو کښ ګډ وی چه په هغې سره به ئې مزه زياته شی او مشک به په هغې کښ ګرمی هم پيدا کوی په دې سره به هغه زر هضم شی بعض مفسرين د ختام دا تفسير کوی چه د دې شرابو اختتام به په مشکو باندې وی يعنی يو خوشبو دار څيز به ورکولې شی چه هغه به د هغوی په خولې کښ د مشکو په شان خوشبوئی پيدا کړی لکه څنګه چه د خوراک نه پس لاچی ورکولې شی.(حقانی،مظهری)

﴿ فليتنافس المتنافسون ﴾ مقصد دا دې چه نن تاسو د دنيا د څيزونو طرف ته رغبت کوئ دا ناقص او فانی نعمتونه دی که ملاؤ

نه شي نو د فکر خبره نه ده د دې حرص مه کوئ اصل خو د جنت نعمتونه دي که حرص کوئ نو د هغه نعمتونو حرص اوکړئ د تنافس معنی ده د څو کسانو د يو مرغوب او محبوب څيز د حصول د پاره وړاندې کيدل د يو بل نه مخکښې د حاصلولو کوشش کول.(معارف)

﴿ و مزاجه من تسنيم ﴾ د ابرار د نعتمونو د بيان نه پس اوس د مقربينو د نعمتونو ذکر فرمائی د آيت مقصد دا دې چه د دنيا په شرابو کښې اوبه ګډولې شي د جنت په شرابو کښې به تسنيم ګډولو سره ورکولې شي کوم چه ډير د اعلی او قيمتي چينې اوبه دي.

د تسنيم معنی: ۱.....اوچتوالي دا هم د اوچتې مرتبې چينه ده. ۲......بعض مفسرين ئې د نوم وجه دا بيانوی چه دا د پورته نه لاندې پريوتونکې اوبه دی د پورته نه به په جنتيانو راپريوځي د هغوی لوښی به ډک شی﴿ عينا يشرب بها المقربون ﴾ د دې خائې نه د تسنيم تعارف دې چه دا يو چينه ده چه د هغې نه به مقرب خلق څکل کوی د دې نه د مقربينو شان معلوم شو چه هغوی ته به خالص تسنيم ملاويږی او د ابرارو په شرابو کښې به ګډولې شی.(حقانی)

إِنَّ ٱلَّذِينَ أَجْرَمُوا۟ كَانُوا۟ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ يَضْحَكُونَ ﴿٢٩﴾ وَإِذَا مَرُّوا۟ بِهِمْ يَتَغَامَزُونَ ﴿٣٠﴾ وَإِذَا ٱنقَلَبُوٓا۟ إِلَىٰٓ أَهْلِهِمُ ٱنقَلَبُوا۟ فَكِهِينَ ﴿٣١﴾ وَإِذَا رَأَوْهُمْ قَالُوٓا۟ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ لَضَآلُّونَ ﴿٣٢﴾ وَمَآ أُرْسِلُوا۟ عَلَيْهِمْ حَٰفِظِينَ ﴿٣٣﴾ فَٱلْيَوْمَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مِنَ ٱلْكُفَّارِ يَضْحَكُونَ ﴿٣٤﴾ عَلَى ٱلْأَرَآئِكِ يَنظُرُونَ ﴿٣٥﴾ هَلْ ثُوِّبَ ٱلْكُفَّارُ مَا كَانُوا۟ يَفْعَلُونَ ﴿٣٦﴾

ترجمه: بیشکه هغه کسان چه مجرمان دی هغوی به په مومنانو پسې خندا کوله...او چه کله به په دوی راتیریدل نو یو بل ته به ئې سترګې وهلې.....او کله چه به خپل اهل ته واپس کیدل نو خوشحاله به واپس کیدل.....او کله به ئې چه دا مومنان لیدل نو ویل به ئې دا خلق ګمراهان دی.....حال دا چه دا کافر په هغوی باندې نګرانی کونکی نه دی لیږلې شوې.....پس نن ورځ به مومنان په کفارو باندې خاندی..... په تختونو به ناست وی او ګوری به.....یقینا ورکړې شوه کفارو ته بدله د هغه عمل چه هغوی به کولو.

حل المفردات: اجرموا جمع مذکر غائب ماضی معروف د باب افعال نه ګناه کول یضحکون جمع مذکر غائب مضارع معروف د باب (س) خندل مروا جمع مذکر غائب ماضی معروف په اصل کښې مررروا وو د باب (ن) تیریدل. یتغامزون جمع مذکرمضارع معروف د باب (تفاعل) په سترګو سره یو بل ته اشاره کول،انقلبوا جمع مذکر غائب ماضی معروف د باب (انفعال) واپس کیدل. فکهین جمع مذکر صفت مشبه د باب (س) خوشحاله کیدل. لضالون جمع مذکر سالم اسم فاعل په اصل کښې ضاللون وو د باب (س،ض) ګمراه کیدل. ارسلوا جمع مذکر غائب ماضی مجهول د باب (افعال) لیږل ثوب واحد مذکر ماضی مجهول د باب (تفعیل) بدله موندل.

حل الترکیب:﴿ ان الذین اجرموا کانوا من الذین امنو یضحکون ﴾ ان حرف د حروف مشبه بالفعل نه الذین اسم موصول اجرموا فعل ضمیر بارز فاعل فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره صله شوه دپاره د موصول موصول سره د صله نه اسم شو د ان...کانوا فعل

د افعـال ناقـصه نـه ضـمیر بـارز ئـې اسـم مـن جـار الـذین اسـم موصـول امنوا فعل هم ضمیر فاعل فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره صله شوه د پاره د موصول موصول سره د صله نه مجرور شو د پاره د جار جار سره د مجرور نه متعلق شو په یضحکون پورې یضحکون فعل ضمیر بارز پکښې فاعل فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره خبر شو د پاره د کانوا....کانوا سره د خپل اسم او خبر نه جمله اسمیه جمله فعلیه خبریه کیدو سره خبر شو د ان....ان سره د خپل اسم او خبر نه جمله اسمیه خبریه کیدو سره معطوف علیه.....﴿ واذا مروا بهم یتغامزون ﴾ واؤ عاطفه اذا شرطیه مروا فعل ضمیر بارز فاعل با حرف جار هم مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو په مروا فعل پورې فعل سره د فاعل نه شرط یتغامزون فعل ضمیر بارز فاعل فعل سره د فاعل نه جزا شرط سره د جزا نه جمله شرطیه کیدو سره معطوف اول ﴿ واذا انقلبوا الی اهلهم انقلبوا فکهین ﴾ واؤ عاطفه اذا شرطیه انقلبوا فعل ضمیر بارز پکښې فاعل الی حرف جار اهل مضاف هم مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور شو د پاره د جار،جار سره د مجرور نه متعلق شو په انقلبوا فعل پورې انقلبوا فعل سره د فاعل او متعلق نه شرط...انقلبوا فعل ضمیر بارز فاعل ذوالحال فکهین حال ذوالحال سره د حال نه فاعل شو د پاره د انقلبوا فعل سره د فاعل نه جزا شرط سره د جزا نه جمله شرطیه معطوف ثانی.....﴿ واذا راؤهم قالوا ان هؤلاء لضالون.....وما ارسلوا علیهم حفظین﴾ واؤ عاطفه راؤ فعل ضمیر بارز فاعل هم ضمیر مفصل مفعول به فعل سره د فاعل او سره د

مفعول به نه شرط شو. قالوا فعل ضمیر بارز ذوالحال ان حرف د حروف مشبه بالفعل هولاء اسم اشاره اسم شو د ان د پاره لام تاکیدیه ضالون خبر شو ان د خپل اسم او خبر سره جمله اسمیه خبریه کیدو سره مقوله شوه د پاره د قول ﴿وما ارسلوا علیهم حفظین﴾ واؤ حالیه ما نافیه ارسلوا فعل ضمیر بارز ذوالحال علی حرف جار هم ضمیر مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو په ارسلوا پوري حفظین حال ذوالحال سره د حال نه نائب فاعل شو د ارسلو فعل فعل سره د نائب فاعل نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره حال دي د قالوا د ضمیر بارز نه ذوالحال سره د حال نه فاعل دي د قالوا د پاره قالوا فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه کیدو سره قول، قول سره د مقولي نه جزا شوه د پاره د شرط، شرط سره د جزا نه جمله شرطیه کیدو سره معطوف ثالث معطوف علیه سره د ټولو معطوفاتو جمله معطوفه شوه ﴿فالیوم اللذین امنوا من الکفار یضحکون﴾ فا عاطفه د پاره د تفریع الیوم مفعول فیه مقدم د پاره د یضحکون الذین اسم موصول امنو فعل ضمیر بارز فاعل فعل سره د فاعل نه صله شوه د پاره د موصول. موصول سره د صله نه مبتدا ...من حرف جار الکفار مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو په یضحکون پوري یضحکون فعل ضمیر بارز ذوالحال ﴿علی الارائک ینظرون﴾ علی حرف جار الارائک مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو په ینظرون فعل پوري ینظرون فعل ضمیر بارز فاعل فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره حال دي د یضحکون د ضمیر ذوالحال نه حال سره د ذوالحال فاعل شو د پاره د فعل فعل سره د فاعل او سره د مفعول فیه مقدم نه

جمله فعلیه خبریه کیدو سره خبر شو د پاره د مبتدا مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه شوه.﴿هل ثوب الکفار ما کانوا یفعلون ﴾ هل استفاهمیه ثوب فعل ماضی مجهول الکفار نائب فاعل ما موصوله کانوا فعل ضمیر بارز ئې اسم یفعلون فعل ضمیر بارز ئې فاعل فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره محلا منصوب خبر شو د پاره د کانوا فعل ناقص کانوا سره د خپل اسم او خبر نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره صله شوه د پاره د موصول موصول سره د صلې نه مفعول به شو د پاره د ثوب فعل فعل سره د نائب فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعلیه انشائیه کیدو سره مقوله شوه د پاره د قول یقولون فعل محذوف یقولون....قول سره د مقوله نه جمله فعلیه خبریه شوه.

تفسیر:ربط: په مخکښې آیتونو کښې د فجار او د ابرار د جزا اخروی خانله خانله بیان وو اوس د دوارو ډلو د مجموعی دنیاوی او اخروی حال بیان دې.

﴿ان الذین اجرموا کانو من الذین امنوا یضحکون ﴾ په دې آیتونو کښې الله پاک د اهل باطل د سلوک او د طرز عمل نقشه راښکلې ده کوم کار چه به هغوی د اهل حق سره کولو چه دا کفار په مومنانو اولیاء الله پورې د ټوقو په انداز خندا او مزاخ کوی د دې آیت نه معلومه شوه چه په چا پورې د استهزاء په انداز خندل او د هغه بې عزتی کول حرام دی.او د کفارو په عادتونو کښې دی.په نورو پورې خندل د یو څو وجو نه صحیح نه دی.

۱ .... خکه چه دا د انسانی اخلاقو او غیرت نه لرې خبره ده

په دې باندې د يو انسان زړه ماتيږي. ۲..........كوم سړي چه په بل پورې خاندي نو هغه يقينا خپل خان غوره او بل كم گڼري دا تكبر دې كوم چه ډيره لويه بيماري ده. ۳..........څوک چه په بل پورې خاندي هغه خپل ځان د دې حالت نه محفوظ گڼري حال دا چه ممكنه ده چه الله پاک هغه هم په دې حالت باندې اخته كړي څنگه چه په حديث كښې دي چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل څوک چه په چا باندې طعن كوي هغه به پخپله هم په هغې كښې اخته كيږي د بزرگانو مشهور مقوله ده ﴿من ضحک ضحک﴾ نن صبا د علماء كرامو سره هم دا معامله كولې شي دنيا دار خلق هغوی سپک گڼري په دې آيت كښې د هغه علماء كرامو د پاره ډيره لويه تسلي ده.(حقاني)

يو شاعر وائي؛

هنسے جانے سے جب تک هم ډرينگے
زمانه هم په هنستا هی رهے گا

فائده: اجرموا نه قريشي كافر ابوجهل،وليد بن مغيره،عاص بن وائل او د هغوی ملگری مراد دی اود امنوا نه مرادعمار، خباب، صهيب، بلال،او د هغوی بې وسه غريبانان مسلمانان ملگری مراد دی رضی الله عنهم اجمعين.(مظهری،خازن)

﴿ واذ مروا بهم يتغامزون ﴾ مقصد دا دې چه كله به مومنان غريبانان د عمار او خباب رضي الله عنهما په شان په هغوی باندې تيريدل نو كفارو به يو بل ته سترگې وهلې مقصد په دې سره د كفارو تحقير او تذليل وو چه اوگورئ دا سړې روان دې كوم چه خپل ځان ته جنتی وائي د جنت وارث وائي زما د پاره حورې دی باغونه دی حال دا چه

پـه دنيـا كښې ئـې دا حالـت دې نـو آيـا پـه آخـرت كښې بـه هغـه د دې انعاماتو مستحق وى.(حقانی)

﴿ واذا انقلبوا الى اهلهم انقلبوا فكهين ﴾ مقصد دا دې چه كله كفار واپس خپل كورونه ته ځى نو هلته هم د مسلمانانو تذكره كوى زړه خوشحالوى چه نن مونږ مسلمانان ډير ذليل كړل.(معارف حقانی)

﴿ واذا راؤهم قالوا ان هولاء لـضالون ﴾ مقصد دا دې چه كفارو به كله مسلمانان ليدل نو وئيل به ئې چه دا خو بـه گمراه كيږى بلكه گمراه شوى دى محمد ﷺ دوى گمراهان كړى دى د پلار نيكهٔ دين پريخودلو سره گډو وډ شوى دى د دنيا مزې ئې پريخودلى دى ډير كم عقل دى.(مظهرى)

﴿ وما ارسلوا عليهم حفظين ﴾ حال دا چه كفار د مومنانو د عملونو د نگرانئ د پاره نه دى ليږلى شوى.

﴿ فاليوم الذين امنوا من الكفار يـضحكون ﴾ مومنان بـه پـه تختونو باندې ناست د الله پاک ديدار كوى او كفار بـه پـه طوقونو او زنځيرونو كښې گير كړې شوى ليدو سره بـه هغـه ورځ مسلمانان پـه كفارو پورې خندا كوى.....ابوصالح رحمه الله فرمائى د دې صورت بـه داسې وى چـه كلـه كفار پـه دوزخ كښې دننـه وى نـو د دوزخ دروازې پرانستلو سره به هغوى ته اووئيلې شى چه اوځئ دروازې پرانستلې شوى دى كفار چـه دروازې پرانستلې اووينى نو د هغې طرف تـه بـه ورمخـكښې شـى مومنـان بـه د هغـوى دا حالـت گـورى كفـار چـه كلـه دروازو تـه راورسيږى نـو يـو دم بـه دروازې بنـدې كـړې شـى داسې حركت به بار بار كيږى او هغه وخت به مومنان په كفارو پورې خاندې

لکه کفارو چه به په دنیا کښې په هغوی پسې خندل.(مظهری)

سورة الانشقاق مكية

ایاتها: ۲۵	بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ	رکوعها: ۱

إِذَا ٱلسَّمَآءُ ٱنشَقَّتْ ﴿١﴾ وَأَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ ﴿٢﴾ وَإِذَا ٱلْأَرْضُ
مُدَّتْ ﴿٣﴾ وَأَلْقَتْ مَا فِيهَا وَتَخَلَّتْ ﴿٤﴾ وَأَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ ﴿٥﴾ يَٰٓأَيُّهَا
ٱلْإِنسَٰنُ إِنَّكَ كَادِحٌ إِلَىٰ رَبِّكَ كَدْحًا فَمُلَٰقِيهِ ﴿٦﴾ فَأَمَّا مَنْ أُوتِىَ كِتَٰبَهُۥ
بِيَمِينِهِۦ ﴿٧﴾ فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا ﴿٨﴾ وَيَنقَلِبُ إِلَىٰٓ أَهْلِهِۦ
مَسْرُورًا ﴿٩﴾ وَأَمَّا مَنْ أُوتِىَ كِتَٰبَهُۥ وَرَآءَ ظَهْرِهِۦ ﴿١٠﴾ فَسَوْفَ يَدْعُوا۟
ثُبُورًا ﴿١١﴾ وَيَصْلَىٰ سَعِيرًا ﴿١٢﴾ إِنَّهُۥ كَانَ فِىٓ أَهْلِهِۦ مَسْرُورًا ﴿١٣﴾ إِنَّهُۥ ظَنَّ
أَن لَّن يَحُورَ ﴿١٤﴾ بَلَىٰٓ إِنَّ رَبَّهُۥ كَانَ بِهِۦ بَصِيرًا ﴿١٥﴾

ترجمه: کله چه آسمان اوشلیږی.....او وا به وری دا آسمان د خپل رب حکم او لائقه ده هغه لره(چه اومنی د خپل رب حکم) او کله چه زمکه خوره کړې شی.....او بهر به راوغورځوی هغه چه په دې کښې دی او خالی به شی.....او وا به وری دا زمکه حکم د رب خپل او لائقه ده هغې لره(چه واوری حکم د رب خپل)....اې انسانه یقینا ته تکلیف اوچتونکې ئې د خپل رب په طرف په تکلیف اوچتولو سره پس ته ملاقات کونکې ئې د هغه سره....پس هغه څوک چه ورکړې شی هغه

ته عمل نامه په ښی لاس... پس زر ده چه هغه سره به حساب اوکړی شی حساب آسان... او واپس به شی خپل اهل ته خوشحاله... او هغه څوک چه ورکړې شی هغه ته د هغه عمل نامه د شا د طرفنه... پس رابلی به هغه مرګ لره... او داخلیږی به اور ته... یقینا دې په خپل اهل کښ خوشحاله وو... د هغه دا ګمان وو چه هغه به بالکل واپس نه شی... ولې نه! بیشکه د هغه رب هغه لره کتونکې دې.

حل المفردات: انشقت واحد مونثه غائبه ماضی معروف په اصل کښ انشققت وو د باب انفعال نه شلیدل... اذنت واحده مونثه غائبه ماضی معروف د باب (س) اوریدل... وحقت واحده مونثه غائبه ماضی مجهول په اصل کښ حققت وو د باب (ن) ثابتیدل واجب کیدل... مدت واحده مونثه غائبه مجهول په اصل کښ مددت وو د باب (ن) نه راخکل... والقت واحده مونثه غائبه ماضی معروف په اصل کښ تخلیت وو په قانون د قال تخلت شو د باب تفعل نه د یو کار د پاره فارغ کیدل... کادح واحد مذکر اسم فاعل د باب (ف) تکلیف اوچتول کوشش کول... فملقیه واحد مذکر اسم فاعل د باب مفاعله نه ملاقات کول اوتی واحد مذکر غائب ماضی مجهول د باب افعال ورکول... یحاسب واحد مذکر غائب مضارع مجهول د باب مفاعله نه حساب اخستل... یسیرا واحد مذکر صفت مشبه د باب (ن،س) آسانیدل مسرور واحد مذکر اسم مفعول د باب (ن) خوشحالیدل ظهر شا جمع د دې اظهر ده... ثبورا هلاکت مراد ترې مرګ دې د باب (ن) هلاکیدل... یصلی واحد مذکر غائب په اصل کښ یصلی وو په اور کښ سوزیدل سعیرا دوزخ لن یحور واحد مذکر غائب نفی تاکید بلن په اصل کښ یحور په قانون د یقول یحور شو د

باب (ن) واپس کیدل.

حل التركيب: ﴿ اذا السمآء انشقت و اذنت لربها و حقت ﴾ اذا شرطيه السمآء فاعل د پاره د فعل محذوف انشقت انشقت فعل هی ضمير ئې فاعل فعل سره د فاعل نه جمله فعليه خبريه مفسَر شو انشقت فعل هی ضمير راجع په طرف د السماء هغه فاعل فعل سره د فاعل نه جمله فعليه خبريه کيدو سره معطوف عليه واؤ عاطفه اذنت فعل هی ضمير راجع په طرف د اسمان هغه ئې فاعل لام جار رب مضاف ها ضمير مضاف اليه مضاف سره د مضاف اليه نه (مجرور شو. د جار، جار سره د مجرور نه) متعلق شو په اذنت فعل پورې فعل سره د فاعل او سره د متعلق نه معطوف اول واؤ عاطفه حقت فعل هی ضمير ئې نائب فاعل فعل سره د خپل نائب فاعل نه معطوف ثانی معطوف عليه سره د دواړو معطوفينو نه مفسِر شو د پاره د مفسَر مفسر سره د مفسِر نه معطوف عليه.

﴿ واذا الارض مدت والقت ما فيها و تخلت و اذنت لربها و حقت ﴾ واؤ عاطفه اذا شرطيه الارض فاعل د پاره د فعل محذوف چه مدت دې فعل سره د فاعل نه مفسِر مدت فعل هی ضمير ئې فاعل فعل سره د فاعل نه معطوف عليه واؤ عاطفه والقت فعل هی ضمير ئې فاعل ما موصوله فی حرف جار ها ضمير مجرور جار سره د مجرور نه متعلق په ثبت پورې کيدو سره صله شوه د پاره د موصول موصول سره د صله نه مفعول به شو د پاره د القت فعل.....فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه معطوف اول شو واؤ عاطفه تخلت فعل هی ضمير ئې فاعل فعل سره د فاعل نه معطوف ثانی واؤ عاطفه

اذنت فعل هی ضمیر ئې فاعل لام حرف جار رب مضاف ها ضمیر مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه متعلق شو په اذنت پورې اذنت فعل سره د خپل فاعل نه معطوف ثالث....واؤ عاطفه حقت فعل هی ضمیر ئې نائب فاعل فعل سره د نائب فاعل نه معطوف رابع ....معطوف علیه سره د ټولو معطوفاتو نه مفسِر شو د پاره د مفسَر.....مفسِر سره د مفسَر نه معطوف شو دپاره د معطوف علیه... معطوف علیه سره د معطوف نه شرط....﴿ بعثتم ﴾ یا ﴿ لقی الانسان عمله ﴾ جزا محذوفه ده شرط سره د جزا نه جمله شرطیه شوه.

﴿یا ایها الانسان انک کادح الی ربک کدحا فملقیـــه ﴾ یا حرف ندا قائم مقام د ادعو ایها موصوف الانسان صفت موصوف سره د صفت نه منادی شوه...ان حرف دې د حروف مشبه بالفعل نه کاف ضمیر اسم کادح صیغه دصفت هو ضمیر فاعل الی حرف جار رب مضاف ک ضمیر مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور شو د پاره د جار جار سره د مجرور نه متعلق شوه په کادح پورې کدحا مفعول مطلق د کادح د پاره کادح صیغه د صفت سره د فاعل او متعلق او مفعول مطلق سره معطوف علیه فا عاطفه ملاقی مضاف ه ضمیر مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه معطوف شو د پاره د معطوف علیه معطوف علیه سره د معطوف نه خبرشو د پاره د ان ....ان سره د خپل اسم او خبرنه جواب ندا شو ندا سره د منادی او جواب ندا نه جمله انشائیه ندائیه شوه....﴿ فاما من اوتـــی کتابه بیمینه فسوف یحاسب حسابا یسیرا و ینقلب الی اهله مسرورا ﴾ فا تفسیریه یا استینافیه(اعراب) اما شرطیه من موصوله اوتی فعل

هو ضمیر نائب فاعل کتاب مضاف ه ضمیر مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه مفعول به شو با حرف جار یمین مضاف ه ضمیر مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه متعلق شو په اوتی پورې اوتی فعل سره د نائب فاعل او سره د متعلق نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره صله شوه د پاره د موصول موصول سره د صله نه مبتدا متضمن معنې د شرط لره فا جزائیه سوف د پاره د استقبال بعید یحاسب فعل هو ضمیر نائب فاعل حسابا موصوف یسیرا صفت سره د موصوف نه مفعول مطلق شو د پاره د یحاسب فعل....فعل سره د نائب فاعل او مفعول مطلق نه معطوف علیه واؤ عاطفه ینقلب فعل هو ضمیر ذوالحال الی حرف جار اهل مضاف ه ضمیر مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور شو د پاره د جار،،،جار سره د مجرور نه متعلق شو په ینقلب فعل پورې مسرورا حال حال سره د ذوالحال نه فاعل شو د پاره د ینقلب ینقلب فعل سره د فاعل نه معطوف شو د پاره د معطوف علیه....معطوف سره د معطوف علیه نه خبر قائم مقام د جزا، مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه کیدو سره معطوف علیه.

﴿و اما من اوتی کتابه ورآء ظهره فسوف یدعوا ثبورا و یصلی سعیرا ﴾ واؤ عاطفه اما شرطیه من موصوله اوتی فعل هو ضمیر نائب فاعل کتاب مضاف ه ضمیر مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه مفعول به شو د پاره د اوتی فعل وراء مضاف ظهر بیا مضاف ه ضمیر مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه بیا مضاف الیه شو د پاره د وراء مضاف ،مضاف سره د مضاف الیه نه مفعول

فيـه دي د پاره د اوتـي فيعـل ...اوتـي فعـل سـره د خپـل نائب فاعـل او مفعول به او مفعول فيه سره صله شوه د پاره د موصول موصول سره د صله نه مبتدا متضمن معني د شرط لره فا جزائيه سوف د پاره د استقبال يدعوا فعل هو ضمير ئې فاعل ثبوا مفعول به فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه معطوف شو.معطوف سره د معطوف عليه نه خبر قائم مقام د جزا مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه كيدو سره معطوف....معطوف عليه سره د معطوف نه جمله معطوفه شوه.

﴿ انه كان في اهله مسرورا ﴾ ان حرف د حروف مشبه بالفعل نه ه ضمير ئې اسم كان فعل د افعال ناقصه نه هو ضمير ئې اسم في جار اهل مضاف ه ضمير مضاف اليه مضاف سره د مضاف اليه نه مجرور شو د پاره د جار جار سره د مجرور نه متعلق شو په مسرورا پورې مسرورا د كان خبر كان د خپل اسم او خبر سره خبر شو د پاره د ان ان د خپل اسم او خبر سره جمله اسميه خبريه معلله شوه ﴿ انه ظن ان لن يحور ﴾ ان حرف د حروف مشبه بالفعل ه ضمير اسم ظن فعل ضمير فاعل ان مخففه من المثقله ه ضمير اسم محذوف لن يحور فعل هو ضمير فاعل فعل سره د فاعل نه جمله فعليه خبريه كيدو سره خبر شو د ان ..... ان د خپل اسم او خبر سره جمله اسميه په تاويل د مصدر كيدو سره قائم مقام د دوه مفعولينو شو د پاره د ظن فعل فعل سره د خپل فاعل او د دواړو مفعولينو جمله فعليه كيدو سره خبرشو دپاره د ان ان دخپل اسم او خبرنه جمله اسميه خبريه معلله شوه.

﴿ بلى ان ربه كان به بـصيرا ﴾ بلى د پاره د اثبات نفي ان حرف د حروف مشبه بالفعل رب مضاف ه مضاف اليه مضاف سره د

مضاف اليه نه اسم شو د ان کان فعل ناقص هم ضمیر اسم بصیرا خبر
کان د خپل اسم او خبر سره جمله اسمیه خبریه کیدو سره خبر شو د
پاره د ان.....ان د خپل اسم او خبر سره جمله اسمیه خبریه معلله شوه.

تفسیر: نوم۱.....سورة انشقاق ۲..... سورة انشقت.

ربط: په تیر سورة کښې د قیامت د احوالو د ابرار او د فجارو د سزا او
جزا بیان وو په دې سورة کښې هم د دې سورة د مضمون بیان دې.﴿ اذ
السمآء انشقت ﴾ د قیامت په احوالو کښې یو حال دا دې چه آسمان
به د دویمې شپیلۍ په وخت اوشلیږی ټکړې ټکړې به شی هم دې
مضمون لره په مختلفو آیتونو کښې په مختلفو الفاظو سره تعبیر کړې
شوې دې چرته ﴿ و فتحت السمآء فکانت ابوابا ﴾ دې او چرته ﴿ واذا
السمآء کشطت ﴾ چرته ﴿ اذا السمآء انفطرت ﴾ چرته ﴿ و یوم تشق
السمآء بالغمام و نزل الملائکة تنزیلا ﴾ آسمان به شلیږی او د هغې نه
به د اوریځې په شکل یو څیز نزول کیږی په هغې کښې به فرشتې وی
﴿ و اذنت لربها و حقت ﴾ د اذن معنی وی اوریدل مقصد دا دې چه
کله آسمان ته حکم اوشی چه اوشلیږه نو هغه به د الله سبحانه و تعالی
دا حکم اوری او اطاعت به کوی ځکه په هغه باندې واجب او لائق ده
چه هغه د الله پاک حکم اومنی او د الله پاک د حکم نه اعراض نه شی
کولې ځکه چه ټول څیزونه د الله پاک د حکم مطابق تلو باندې مجبور
دی چا څه ښه

شعر وئیلې دې.

ذره ذره دهر کا پا بستہ تقدیر ہے
زندگی کے خواب کی جامی یہی تعبیر ہے

﴿واذا الارض مـــدت﴾ د مـد معنـی ده راخکـل اوږدول د جابر ؓ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیـل چـه د قیامت په ورځ باندې به زمکه په راخکلو خوره کړې شی لکـه څنګـه چـه څرمن په راخکلو اوږدولې شی هغه ورځ به د زمکې مقدار د موجوده مقدار نه زیات شی دا به ځکه کولې شی چه ټول خلق اولین او آخرین پـه دې کښې راشی د دې باوجود به هم د یـو سړی پـه حصه کښې دومره زمکه راشی چه په هغې باندې به هغه خپلې دواړه پښې کیخودې شی.

﴿والقت ما فیهـا و تخلـت﴾ مقصد دا دې چه زمکـه بـه اوشلیږی او په هغې کښې چه کوم څیز وی مړی خزانې وغیره هغـه ټول بـه زمکـه بهر راوباسی او خپلـه دننـه حصـه بـه بالکـل فـارغ او خـالی کړی ﴿ واذنت لربها و حقت ﴾ مقصد دا دې چه زمکې تـه کـوم حکم هم کیږی هغه به د هغې اطاعت کوی تفسیر مخکښې تیر شوې دې.

﴿ یاایها الانسان انک کادح الی ربک کدحا فملقیه ﴾ د کدح معنی ده د یو کار د پاره پوره زور او طاقت لګول. او د ﴿ الی ربک ﴾ نه مراد ﴿ الی لقاء ربک ﴾ دې،د ملاقیه ضمیر راجع الله تعالی تـه دې مقصد دا دې چه د انسان د هر سعی او کوشش انتهاء د هغه د رب طـرف تـه کیـدونکې ده پـه دې آیت کښې الله پـاک څـو څیزونـه بیـان فرمـائیلی دی.(۱) دا نـې ارشـاد اوفرمـائیلو چـه هـر انسـان کـه هغـه مسلمان وی او که کافر وی نیک وی که بد وی د هغـه پـه فطرت کښې داخله ده چـه هغـه حرکت اوکړی او یـو څیـز لـره خپـل مقصـد جوړولـو سره د هغه د حاصلولو د پاره پوره محنت او کوشش اوکړی او مشقت برداشت کړی څنګه چه شریف او نیک انسان خپـل معـاش او د ژوند

ضروریات حاصلولو د پاره محنت او مشقت او طاقت صرف کوی او جائز طریقې اختیاروی هم دغه شان ډاکو غل دهوکه باز او بد معاش هم جسمانی او ذهنی مشقت او محنت برداشت کولو سره خپل مقصد حاصلوی خلاصه دا ده چه په دنیا کښې هر سړې که مومن وی که کافر د خپل مقصد د حصول د پاره ښه کوشش او مشقت برداشت کوی. (۲) دویمه خبره ئې دا بیان فرمائیلې ده که یو عقل مند سړې سوچ اوکړی نو د هغه د ټول محنت او مشقت او د کوشش انتهاء او منزل صرف یو څیز دې او هغه دې مرګ هم دې منزل طرف ته هغه غیر شعوری طریقې سره روان دې دا یو داسې حقیقت دې چه د هغې انکار ناممکن دې چه د انسان د هر کوشش او محنت انجام دې مرګ وی په ﴿ الی ربــک ﴾ کښې ئې هم دې طرف ته اشاره فرمائیلې ده.
(۳)دریمه خبره ئې ﴿ فملقیه ﴾ کښې دا بیان اوفرمائیله چه د مرګ نه پس هر انسان له خپل رب ته حاضریدل دی هغه لره د خپلو ټولو اعمالو او حرکاتو حساب ورکول دی دا د عقل او انصاف په رڼا کښې ضروری ده چه نیک او بد ته د هغه د عمل مطابق جزا او سزا ورکړې شی ﴿ ملقیه ﴾ کښې یو احتمال دا هم دې چه ه ضمیر راجع شی د کدح په طرف بیا به مقصد دا وی چه کوم کوشش انسان دلته کوی خپل رب ته رسیدو سره به د هغه کوشش ثمره حاصلوی.(معارف)

﴿ فاما من اوتی کتابه بیمینه ﴾ په دې آیتونو کښې د مومنانو د جزا بیان دې چه مومن ته به خپله عمل نامه په ښی لاس کښې ورکولې شی او د هغه نه به ډیر زیات آسان حساب اخستلې شی بس الله سبحانه و تعالی ته به پیش کولې شی د هغه نیکئ او بدئ کتلو



نه پس به د بدو نه په اعراض کولو سره هغه ته اوونیلي شي چه جنت
ته لاړ شه.﴿ وینقلب الی اهله مسرورا ﴾ مقصد دا دي چه په حساب او
کتاب کښ د کامیابۍ نه پس به ډیر خوشحاله وی خپل اهل ته به
زیري ورکوی په اهل کښ دوه احتماله دی.(۱) یا خو د اهل نه مراد د
جنت حوري دی کومې چه به د هغه اهل وی.(۲) د اهل نه مراد د هغه
اهل و عیال دی کوم چه په دنیا کښ د هغه د کور خلق وو په حساب
کښ د کامیابۍ نه پس به د زیری اورولو د پاره هغوی ته ځی په
تفسیر قرطبی کښ دواړه احتماله بیان کړې شوي دی.

﴿ واما من اوتی کتابه ورآء ظهره ﴾ په دې آیتونو کښ د
کفارو د سزا بیان دې چه د هغوی عمل نامې به هغوی ته د هغوی د
شا نه روستو ورکولې شي نو هغوی به له ویرې نه مرګ او هلاکت ته
چغه اووهی لکه څنګه چه په دنیا کښ مصیبت راشی نو سړې مرګ
رابلی خو اوس خو به مرګ هم نه راځی او هغوی به دوزخ ته داخلولې شي.

سوال: د قرآن پاک آیت دې چه ﴿ و اما من اوتی کتابه بشماله ﴾ چه
کافر ته به عمل نامه په ګس لاس ورکولې شي دلته دی ﴿ ورآء
ظهره ﴾ نو په دواړو کښ تعارض دې.

جواب: (۱) هیڅ تعارض نشته ځکه چه عمل نامه به په ګس لاس
ورکولې شي خو د هغه لاسونه به شاته تړلې شوې وی په دې وجه شاته
به په ګس لاس باندې عمل نامې ورکولې شي. (۲) د هغه ګس لاس به
شا طرف ته ویستلې شي او د شا طرف نه به د هغه په ګس لاس کښ
عمل نامه ورکولې شي.(بیان القران)

﴿ انه کان فی اهله مسرورا ﴾ د کافر د عذاب وجه بیان فرمائی

چه هغه په دنیا کښې په خپل اهل و عیال کښې د آخرت نه بې فکره او خوشحاله اوسیدلو په خلاف د مومنانو چه هغوی ته د عیش او د آرام په وخت هم د آخرت فکر ضرور وو ﴿ انه ظن ان لن یحور ﴾ مقصد دا دې چه هغه هم دا خیال کړې وو چه بس د هغه هم دا د دنیا ژوند دې د مرګ نه پس به دوباره نه ژوندې کیږی په دې وجه ئې د الله پاک بنده نافرمانی اوکړه ﴿ بلی ان ربه کان به بصیرا ﴾ مقصد دا دې چه الله پاک د هغه هر عمل لره په دنیا کښې کتونکې وو په دې وجه د دې عملونو د حساب کتاب اخستلو او جزا او سزا ورکولو د پاره به ئې دوباره ژوندی کوی.

فَلَآ أُقْسِمُ بِٱلشَّفَقِ ﴿١٦﴾ وَٱلَّيْلِ وَمَا وَسَقَ ﴿١٧﴾ وَٱلْقَمَرِ إِذَا ٱتَّسَقَ ﴿١٨﴾ لَتَرْكَبُنَّ طَبَقًا عَن طَبَقٍ ﴿١٩﴾ فَمَا لَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٢٠﴾ وَإِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ ٱلْقُرْءَانُ لَا يَسْجُدُونَ ۩ ﴿٢١﴾ بَلِ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ يُكَذِّبُونَ ﴿٢٢﴾ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يُوعُونَ ﴿٢٣﴾ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٢٤﴾ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍۭ ﴿٢٥﴾

ترجمه: پس قسم دې وی زما په شفق باندې.....او په شپه باندې او په هغه څیزونو چه دا شپه ئې راټول کړی.......او په سپوږمۍ باندې چه کله پوره شی دا سپوږمۍ.....چه خامخا سوریږئ به تاسو یو حال ته د بل حال نه پس......پس په تاسو څه چل شوې دې چه ایمان نه راوړئ... او کله چه په هغوی قرآن لوستلې کیږی نو سجده نه کوی.....بل کفار خلق تکذیب کوی......او الله پاک ښه پوهه دې په هغه څیز چه هغوی

ئې جمع کوی...... پس زیرې ورکړه هغوی ته په دردونکی عذاب......
مګر هغه کسان چه ایمان راوړی او عمل اوکړی په طریقه د رسول ﷺ
نو د هغوی د پاره اجر دې چه نه به کمیږی.

حل المفردات: الشفق د نمر د غورځیدلو نه پس د ماښام سرخئ ته شفق وئیلې شی وسق واحد مذکر غائب ماضی معروف د باب (ض) نه جمع کول راټولول.اتسق واحد مذکر غائب ماضی معروف په اصل کښې اوتسق وو په قانون د اتعد واؤ لره تاء کولو نه پس تاء په تاء کښې مدغم کړې شوه د باب افتعال نه د سپوږمئ پوره کیدل لترکبن جمع کیدل،ډ کیدل جمع مذکر حاضر لام تاکید بانون ثقیله د باب (س) سوریدل طبقا په معنی د حال،درجه،پوړئ، لا یومنون جمع مذکر غائب مضارع معروف د باب افعال لا یسجدون جمع مذکر غائب مضارع معروف په اصل کښې یوعیون وو په یاء باندې ضمه ثقیله وه نقل کولو سره ماقبل ته ورکړې شوه د اجتماع ساکنین د وجې نه یاء اوغورځیدله د باب (افعال) نه جمع کول.یادول،فبشر واحد مذکر حاضر امر معروف د باب (تفعیل) خوشحبری ورکول،ممنون واحد مذکر اسم مفعول د باب (ن) احسان زباتل،کمیدل.

حل الترکیب: ﴿ فلا اقسم بالشفق والليل وما وسق والقمر اذا اتسق لتركبن طبقا عن طبق ﴾ فا فصیحه چه په شرط محذوف باندې دلالت کوی شرط محذوف دا دې ﴿ اذا عرفت هذا ﴾ یا ﴿ اذا کان الامر کذلک ﴾ لازائده اقسم فعل فاعل با جار الشفق معطوف علیه و عاطفه اللیل معطوف اول و عاطفه ما موصوله یا موصوفه یا مصدریه وسق فعل هو ضمیر فاعل فعل سره د فاعل نه صله شوه د

پاره د موصول موصول سره د صله نه معطوف ثانی واؤ عاطفه القمر معطوف ثالث دا ټول معطوفات به يو ځائي کيدو سره مجرور وی د جار ،جار سره د مجرور نه متعلق شو په اقسم فعل پوري اذا ظرفيه اتسق فعل هو ضمير فاعل فعل سره د فاعل نه جمله فعليه خبريه کيدو سره مضاف اليه شو د پاره د مضاف مضاف سره د مضاف اليه نه مفعول فيه شو د اقسم د پاره اقسم فعل سره د فاعل او سره د مفعول فيه نه قسم ﴿ لترکبن ﴾ لام تاکيديه فعل ضمير ترکبن فعل ضمير بارز فاعل طبقا موصوف عن جار په معنى د بعد طبق مجرور جار سره د مجرور نه ظرف مستقر د حاصلا متعق کيدو سره صفت شو د پاره د طبقا موصوف موصوف سره د صفت نه مفعول به د پاره د لترکبن فعل سره د فاعل او مفعول به نه جمله فعليه کيدو سره جواب قسم ،قسم سره د جواب قسم نه جمله قسميه انشائيه شوه.

فائده: دويم دا چه طبقا جار مجرور يو ځائي کيدو سره د لترکبن د فاعل د ضمير نه حال هم کيديشى ﴿ فمالهم لا يومنون ﴾ فا فصيحه ما په معنى د اى شئ مبتدا لام جار هم ذوالحال لا نافيه يومنون فعل واؤ ضمير بارز فاعل فعل سره د فاعل نه يو جمله فعليه خبريه کيدو سره معطوف عليه.

﴿ واذا قرئ عليهم القرآن لا يسجدون ﴾ واؤ عاطفه اذا شرطيه قرئ فعل على جار هم مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو په قرئ پوري القرآن نائب فاعل فعل سره د نائب فاعل نه جمله فعليه خبريه کيدو سره شرط....لا يسجدون فعل واؤ ضمير بارز نى فاعل فعل سره د فاعل نه جزا شرط سره د خپلي جزا نه جمله شرطيه

کیدو سره معطوف،معطوف علیه سره د معطوف نه حال دي د لهم د هم ذ ضمیر نه ذوالحال سره د حال نه مجرور شو د لام جار جار سره د مجرور نه متعلق شو د مانع پوري او دي سره خبر شو د پاره د مبتدا مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه انشائیه کیدو سره جزا شوه د پاره د شرط محذوف ﴿ اذا کان کذلک ﴾ د پاره شرط سره د جزا نه جمله شرطیه شوه.

﴿ بل الذین کفروا یکــذبون ﴾ بـل دپاره د اعـراض الذین موصول کفروا فعل واؤ ضمیر بارز فاعل فعل سره د فاعل نه صله شوه د پاره د موصول موصول سره د صلې نه مبتدا شوه یکذبون فعل واؤ ضمیر بارز فاعل فعل سره د فاعل نه خبر شو د پاره د مبتدا مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه شوه ﴿ والله اعلم بما یوعون ﴾ واؤ عاطفه الله مبتدا اعلم صیغه د اسم تفضیل هو ضمیر فاعل با جاره ما موصوله یوعون فعل واؤ ضمیر فاعل د ضمیر مفعول [illegible] محذوف فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره صله شوه د پاره د موصول موصول سره د صله نه مجرور شو دپاره د جار،جار سره د مجرور نه متعلق شو په اعلم پوري....صیغه د اسم تفضیل د خپل فاعل او متعلق سره خبر شو د پاره د مبتدا مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه شوه.

﴿ فبشرهم بعذاب الیم الا الذین امنوا وعملوا الصلحت هـم اجر غیر ممنون ﴾ فا نتیجیه یا فصیحیه بشر فعل سره د فاعل هم ضمیر مشتنی منه عذاب موصوف الیم صفت موصوف سره د صفت نه مجرور شو د پاره د با جاره جار سره د مجرور نه متعلق شو په بشر

پوري الاحرف استثناء الذين اسم موصول امنو فعل واؤ ضمير فاعل فعل سره د فاعل نه معطوف عليه واؤ عاطفه عملوا فعل واؤ ضمير فاعل الصلحت مفعول به فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه معطوف شو د پاره د معطوف عليه معطوف سره د معطوف عليه نه جمله فعليه خبريه كيدو سره صله شوه د پاره د موصول الذين....صله سره د موصول نه مبتدا لهم جار مجرور خبر مقدم اجر موصوف غير ممنون مضاف مضاف اليه يو ځائي كيدو سره صفت شو موصوف سره د صفت نه مبتدا موخر مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه خبريه كيدو سره خبر شو د پاره د الذين مبتدا سره د خبر جمله اسميه خبريه كيدو سره مستثنى شوه د پاره د هم مستثنى منه.....مستثنى منه سره د مستثنى نه مفعول به دې د پاره د بشر فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعليه انشائيه شوه دا هم احتمال شته كه الا د لكن په معنى شي او دا استثناء به منقطع شي.

تفسير: ﴿ فلا اقسم بالشفق ﴾ په دې آيت كريمه كښې الله پاک د څلورو څيزونو قسم خوړلې دې.(۱)شفق... دا هغه سرخي ده كومه چه د نمر د پريوتلو نه پس د آسمان په غاړو باندې ښكاره كيږي يا د نمر د راختلو په وخت د نمر رڼړا چه په ذراتو باندې پريوځي نو په شروع كښې يو سور رنګ په آسمان باندې ښكاره كيږي (۲)......د شپې قسم ئې اوخوړلو كومه چه د شفق نه پس تولږه دنيا په خپل غيږ كښې واخلي.(۳)....﴿ وما وسق ﴾ د هغه څيزونو قسم ئې اوخوړلو كوم چه شپه جمع كوي د ﴿ وما وسق ﴾ دوه مطلبه دي (۱).....هغه څيزونه كوم چه شپه په خپله تياره كښې راګير كړي خپل ځان كښې ئې دننه

کړی دا مفهوم عام دې د ټولې دنیا څیزونه په دې کښې داخل دی حیوانات او نباتات او جمادات غرونه دریابونه وغیره...(۲)... د ﴿وما وسق﴾ نه هغه څیزونه مراد دی کوم چه د عادت مطابق په رڼا کښې یو خوا بل خوا خوارهٔ شی د کورونو نه اوځی شپه دا ټول خپلو خپلو ځایونو ته راجمع کړی انسان خپلو کورونو ته حیوانات خپلو ځایونو ته مارغان خپلو جالو ته لاړ شی ﴿والقمر اذا اتسق﴾ څلورم قسم ئې د سپوږمئ اوخوړلو چه کله هغه مکمل شی او د هغې پوره رڼا شی او دا د څوارلسمې سپوږمئ وی د دې نه د سپوږمئ مختلفو حالاتو طرف ته هم اشاره ده رومبی د ډیر سپک قوس په شکل کښې وی بیا رو رو زیاتیږی او د هغې په رڼا کښې اضافه کیږی تر دې چه بدر کامل ترې جوړ شی د دې څلور څیزونو د قسم خوړلو نه مقصد د جواب قسم مضمون پخول دی هغه جواب قسم دا دې چه:

﴿لتركبن طبقا عن طبق﴾ مقصد دا دې چه اې انسانانو په تاسو باندې به مختلف حالتونه راځی تاسو به د یوې پوړئ نه پس په بله پوړئ باندې خیژئ همیشه به په یو حال باندې نه ئې د دې نه معلومه شوه چه انسان د خپل تخلیق نه واخله تر د انتهاء قیامت پورې په یو حال باندې نه وی رومبی ماشوم وو بیا ځوان شو بیا د بوډا والی او کمزورئ طرف ته واپس شو آخر دا چه مرګ راګیر کړو بیا قبر هم آخری منزل نه دې هغه انتظار ګاه ده هلته هم مختلف حالات راځی بیا د قبر نه د پاسیدلو نه پس به د مختلفو حالاتو سره مخ کیږی بیا به په آخر کښې آخری منزل مقرر کیږی چه هغه به یا خو ابدی آرام وی او یا به ابدی مصیبت هم د دې حالت طرف ته ئې

اشاره اوفرمائیله ﴿ لترکبن ﴾ کښې ﴿ ان الی ربک الرجعی ﴾ او ﴿ الی ربک المنتهی ﴾ کښې نو انسان له پکار دی چه په دنیا کښې خپل ځان مسافر اوګڼړی او د خپل وطن اصلی د پاره تیارې اوکړی رسول الله ﷺ ارشاد فرمائی ﴿ کن فی الدنیا کانک غریب او غابر سبیل ﴾ (معارف)

﴿ فما لهم لا یومنون ﴾ مقصد دا دې چه د دې روښانه هدایاتو باوجود د هر څه اوریدلو نه باوجود دې غافل او جاهل انسانانو باندې څه چل شوې دې چه دوی د الله پاک په ذات باندې ایمان نه راوړی ﴿ واذ قرئ علیهم القرآن لا یسجدون ﴾ او کله چه د هغوی مخکښې قرآن لوستلې شی چه په هغې کښې واضح هدایات دی نو دا خلق سجده نه کوی د سجدې نه مراد ښکته کیدل دی مقصد دا دې چه د قرآن پاک احکام نه منی بلکه تکبر کوی بلکه ﴿ بل الذین کفروا یکذبون ﴾ په ځائې د سجدې ئې تکذیب کوی ﴿ والله اعلم بما یوعون ﴾ مقصد دا دې چه څه خبرې هغوی په زړونو کښې پټې کړی دی الله پاک ته ښه معلومې دی یعنی تکذیب او د رسول الله ﷺ دشمنی ﴿ فبشرهم بعذاب الیم ﴾ چه کله د هغوی دا حالت دې نو اې نبی ﷺ تاسو هغوی ته د درد ناک عذاب زیرې ورکړئ.

سوال: بشارت هغه خبر ته وائی چه د هغې په اوریدلو باندې مخاطب خوشحاله شی او کافر خو به د عذاب په خبر اوریدو باندې نه خوشحالیږی بلکه پریشانه کیږی به نو د بشر لفظ صحیح نه دې.

جواب: (۱) دلته بشر د مطلق خبر په معنی کښې دې (۲) الله پاک د بشر لفظ د استهزاء د پاره فرمائیلې دې ځکه چه هغوی هم استهزا کوی.

﴿الا الذین امنوا و عملوا الصلحت﴾ مقصد دا دې چه کوم مومنان دی او نیک اعمال کوی الله سبحانه و تعالی به هغوی ته اجر ورکوی کوم چه به ډیر زیات وی الله پاک به په خپل فضل او کرم سره د همیشه د پاره هغوی ته بدله ورکوی.

سوال: ﴿ واذا قرئ علیهم القرآن ﴾ نه معلومیږی چه کله هم قرآن مجید لوستلې کیږی نو سجده کول پکار دی ځکه د کفارو مذمت کړې شوې دې چه هغوی د قرآن د لوستلو په وخت سجده نه کوی حال دا چه اجماع ده چه د قرآن پاک د لوستلو په وخت سجده واجب نه ده بلکه مخصوص آیتونه دی چه هغه اولوستلې شی نو سجده واجب کیږی هغې ته سجده د تلاوت وائی.

جواب: (۱) د سجدې نه مراد خضوع او عاجزی اختیارول دی مقصد دا دې چه کله قرآن پاک لوستلې کیږی نو سرې دې پخپل زړه کښې عاجزی اختیار کړی.(۲) د القرآن نه مراد ټول قرآن نه دې بلکه د قرآن هغه مخصوص آیتونه ترې مراد دی چه په هغې باندې سجده لیکلې شوې ده کوم ته چه آیات سجده وائی که هغه اولوستلې شی نو سجده تلاوت واجب کیږی په اوریدونکی باندې هم واجب کیږی.(معارف)

سورة البروج مکیة

ایاتها:۲۲	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ	رکوعها:۱

وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الْبُرُوْجِ ﴿۱﴾ وَالْيَوْمِ الْمَوْعُوْدِ ﴿۲﴾ وَشَاهِدٍ وَّمَشْهُوْدٍ ﴿۳﴾
قُتِلَ اَصْحٰبُ الْاُخْدُوْدِ ﴿۴﴾ النَّارِ ذَاتِ الْوَقُوْدِ ﴿۵﴾ اِذْ هُمْ عَلَيْهَا قُعُوْدٌ

﴿وَهُمْ عَلَىٰ مَا يَفْعَلُونَ بِالْمُؤْمِنِينَ شُهُودٌ ۝٧ وَمَا نَقَمُوا مِنْهُمْ إِلَّا أَن يُؤْمِنُوا بِاللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ ۝٨ الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ۝٩﴾

ترجمه: قسم دې په آسمان باندې چه د برجونو والا دې....او قسم دې په هغه ورځ چه وعده ئې کړې شوې ده...اوقسم دې په حاضریدونکی او په حاضر کړې شوی....چه قتل کړې شو د خندقونو والا....یعنی د اور والاچه د خشاک والا دې....چه کله هغوی په دغه اور باندې کیناستل....او هغوی په هغه کار چه د مومنانو سره ئې کولو حاضریدونکی وو او بدله وانخستله دې خلقو(اصحاب الاخدود) د هغه مومنانو نه مګر صرف په دې وجه چه هغوی ایمان راوړې دې په الله پاک باندې کوم چه غالب دې او ستائیلې شوې دې...هغه ذات چه خاص د هغه د پاره ده بادشاهی د آسمانونو او د زمکې او بیشکه الله پاک په هر څیز باندې ګواه دې.

حل المفردات: البروج جمع ده د دې مفرد برج راځی معنی ئې مضبوطه قلعه،لوئې محل،ګنبد د باب (ن) شکاره کیدل اوچتیدل قلعه هم بنده وی دلته ترې مراد یا خو محل دې یا لوئې لوئې ستوری.الموعود واحد مذکر اسم مفعول د باب (ض) نه وعده کول. شاهد اسم فاعل مشهود اسم مفعول ...الاخدود ژوره کنده د دې جمع اخادید راځی د باب (ن) زمکه کنستل.النار جمع ئې نیران.الوقود خشاک چه په هغې سره اور بل کړې شی د باب (ض) روښانه کیدل بلیدل.قعود جمع مکسر مفرد ئې قاعد دې د باب (ن) کیناستل.

شهود جمع ده شاهد ده.نقموا جمع مذکر غائب ماضی معروف د باب (ض،س) سزا ورکول بدله اخستل.

حل التركيب: وَالسَّمَاء ذَاتِ الْبُرُوجِ وَالْيَوْمِ الْمَوْعُودِ وَشَاهِدٍ وَمَشْهُودٍ قُتِلَ أَصْحَابُ الْأُخْدُودِ النَّارِ ذَاتِ الْوَقُودِ إِذْ هُمْ عَلَيْهَا قُعُودٌ:

واؤ قسمیه جاره السماء موصوف ذات مضاف البروج مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه صفت شو دپاره د موصوف موصوف سره د صفت نه معطوف علیه واؤ عاطفه الیوم موصوف موعود صفت موصوف سره د صفت نه معطوف اول واؤ عاطفه شاهد مغطوف ثانی و عاطفه مشهود معطوف ثالث معطوف علیه سره د ټولو معطوفاتو نه مجرور شو د پاره د جار جار سره د مجرور نه متعلق شو نه اق سم فعل پورې اقسم فعل فاعل...فعل سره د فاعل نه قسم....قتل فعل اصحاب مضاف الاخدود مبدل منه النار موصوف ذات مضاف الوقود مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه صفت شو د پاره د موصوف موصوف سره د صفت نه بدل الاشتمال مبدل منه سره د بدل نه مضاف الیه شو د پاره د اصحاب مضاف سره د مضاف الیه نه نائب فاعل شو د پاره د قتل اذ ظرفیه مضاف هم ضمیر مبتدا علی حرف جار ها ضمیر مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو په قعود پورې قعود خبر مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه کیدو سره معطوف علیه.

﴿ وهم علی ما یفعلون بالمومنین شهود ﴾ :واؤ عاطفه هم ضمیر مبتدا علی جاره ما موصوله یفعلون فعل واؤ ضمیر بارز فاعل با حرف جار مومنین مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو

په يفعلون پورې يفعلون د خپل فاعل او متعلق سره يوځائې كيدو باندې جمله فعليه خبريه كيدو سره صله شوه د پاره د موصول موصول سره د صله نه مجرور شو د پاره د على جاره جار سره د مجرور نه متعلق شو په شهود پورې شهود خبر دې د پاره د مبتدا چه هم دې مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه خبريه كيدو سره معطوف. معطوف عليه سره د معطوف نه مضاف اليه شو د پاره د اذ مضاف اليه سره د مضاف نه مفعول فيه شو د پاره د قتل فعل سره د نائب فاعل او مفعول فيه جمله فعليه كيدو سره جواب قسم شو.(په اصل كښ لقد قتل وو)قسم سره د جواب قسم نه جمله قسميه انشائيه شوه د بعضو په نزد جواب (ان كفار مكة لعنوا كما لعن اصحاب الاخدود) محذوف دې.

﴿وما نقموا منهم الا ان يومنوا بالله العزيز الحميد الذى لـه ملک السموات والارض﴾ واؤ عاطفه يا حاليه (اعراب) ما نافيه نقموا فعل واؤ ضمير بارز فاعل كن حرف جار هم مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو په نقموا پورې الا استثنائيه ان مصدريه يومنوا فعل واؤ ضمير فاعل با حرف جار الله موصوف العزيز صفت اول الحميد صفت ثانى الذى اسم موصول لام جار ه ضمير مجرور جار سره د مجرور نه په ثابت پورې متعلق كيدو سره خبر مقدم ملک مضاف السموات معطوف اليه واؤ عاطفه الارض معطوف معطوف سره د معطوف عليه نه مضاف اليه شو شو د پاره د ملک مضاف سره د مضاف اليه نه مبتدا موخر مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه كيدو سره صله شوه د پاره د موصول صله سره د موصول نه صفت

ثالث شو د پاره لفظ الله...موصوف سره د ټولو صفتونو نه مجرور شو دپاره د جار...جار سره د مجرور نه متعلق شو په يومنوا پوري فعل سره د فاعل او سره د متعلق نه جمله فعليه خبريه كيدو سره په تاويل د مصدر باندي مستثنى مفرغ كيدو سره مفعول له دي د پاره د نقموا فعل فعل سره د فاعل او سره مفعول له نه جمله فعليه خبريه شوه.﴿ والله على كل شئ شهيد ﴾ واؤ عاطفه الله مبتدا على جار كل مضاف شئ مضاف اليه مضاف سره د مضاف اليه نه مجرور شو د پاره د جار جار سره د مجرور نه متعلق شو مقدم شو د پاره د شهيد شهيد خبرشو دپاره د مبتدا ،مبتداسره د خبرنه جمله اسميه خبريه شوه.

تفسير: نوم سورة البروج.**ربط:** په تير سورة كښ د فريقينو د جزا او سزا بيان وو د مومنانو د پاره وعده د جنت او د كفارو د پاره د عذاب وعيد ذكر وو په دي سورة كښ هم دا مضمون را روان دي.

شان نزول: د دي سورة د نزول سبب دا دي چه په مكه مكرمه كښ كله د نبوت نمر(رسول الله ﷺ) ښكاره شو او د كفر او د شرك تيري ختميدل شروع شوي نو د مكي مالدارانو او سردارانو ته د خپلي سرداري خطره محسوس شوه په دي وجه هغوى رسول الله ﷺ لره د توحيد د دعوت نه د بندولو د پاره ډير حربي استعمال كړي په رسول الله ﷺ باندي ئي لوئي ظلمونه اوكړل.تر ذي چه د رسول الله ﷺ د مرګ څو كرته كوشش اوكړي شو هم دغه شان چه به كوم سړي په اسلام كښ داخليدلو په هغه باندي به هم ظلم كيدلو خصوصا كوم چه به غريب وو يا به د يو كافر غلام وو په هغه باندي خو به د ظلم انتهاء كولي شوه كنځلي وهل په غرمو كښ غورخول كوړي وركول

نیزه په خیته کښ تومبل د مسلمانانو د زنانو بې عزتی کول نو مسلمانانو به راتلو سره رسول الله ﷺ ته د کفارو د ظلمونو شکایت کولو رسول الله ﷺ به هغوی ته تسلی ورکوله چه لږې ورځې صبر اوکړی د دې کفارو طاقت ختمیدونکې دې یو وخت به راشی دوی به ستاسو مخکښ ذلیل او خوار وی په دې اوریدلو باندې به کفارو نور هم زیاتې توقې کولې په دې وجه مسلمانانو ته د تسلئ ورکولو د پاره او متکبرینو ته د خبرداری ورکولو د پاره دا سورة نازل شو چه په هغې کښ د یو ظالم بادشاه د ظلم واقعه ده او د هغه د انجام بیان دې او اشاره ده چه د دې مکې د کفارو انجام به هم هغه شان وی.

قصه د ظالم بادشاه : دا قصه د احادیثو په معتبر کتاب صحیح مسلم ص ۴۱۵ جلد ۲ ذکر کړې شوې ده خلاصه دا ده چه د یمن په ملک کښ یو کافر بادشاه اوسیدلو چه هغه به ځان ته خدائې هم وئیلو د هغه نوم یوسف ذونواس وو د هغه زمانه د رسول الله ﷺ د پیدائش نه اویا کاله مخکښ وه د دې بادشاه سره یو کاهن اوسیدلو کاهن هغه سړې دې کوم چه د شیاطین جنات یا د ستورو په ذریعه د غیبو خبرونه بیانوی چه کله هغه کاهن بوډا شو نو بادشاه ته ئې اووې چه کیدیشی ماته مرګ راشی تاسو یو هوښیار هلک کتلوسره ماته راکړئ چه زه هغه ته دا خپل علم اوښایم پس یو هلک خوښ کړې شو هغه هلک به روزانه د کور نه د علم د زدکړې د پاره کاهن ته ورتلو خوپه لار کښ یو راهب عیسائی پادری اوسیدلو کوم چه د عیسی علیه السلام د دین تابعدار وو او هغه وخت هم دا د عیسی علیه السلام دین حق دین وو هغه راهب ډیر نیک وو د هلک نوم عبدالله بن تامر وو دا هلک چه به کله تلو نو په لار کښ به د دې راهب سره کیناستلو او د دین خبرې

به ني تر اوريدلي په هغه باندې خبرې بنه اولګيدې هغه متاثر کيدو
سره پټ په پټه مسلمان شو يو کرت هلک روان وو نو هغه اوکتل چه
يو شير يا د بعض رواياتو مطابق مار لار بنده کړې وه د الله مخلوق
پريشان ولاړ وو د تيريدلو لار نه وه هلک سوچ اوکړو چه نن د امتحان
وخت دې ګورم چه د راهب دين رښتوني دې که د کاهن هغه کانړې
اوچت کړو او دعا ئې اوکړه يا الله که د راهب دين رښتوني وی نو دا
ښناور دې زما په کانړی باندې مړ شی او که د کاهن دين رښتوني وی
نو نه دې مری په دې وينا باندې ئې کانړې ويشتلو نو شير هلاک شو
ټول خلق خوشحاله شو او په هغوی کښې مشهور شو چه دې هلک ته
عجيب او غريب علم ورځی خلق هغه ته راتلل شروع شو مريض به
راتلو نو هغه به وئيل په دې شرط درله علاج کوم چه ته په الله پاک
باندې ايمان راوړې اصل شفاء هغه ذات ورکوی خبره تله تله د
بادشاه دربار ته اورسيدله د بادشاه يو نابينا وزير وو چه هغه ته
معلومه شوه نو هغه د ډيرو ډالو سره ماشوم ته راغلو او وې وئيل چه
تاسو زما سترګې جوړې کړئ هغه اووې چه شفاء خو د الله پاک په
لاس کښې ده زه په دې شرط باندې علاج کوم چه ته مسلمان شې هغه
مسلمان شو هلک ورته دعا اوکړه هغه شفا بيا موندله د هغه سترګې
صحيح شوې بله ورځ د بادشاه دربار ته هغه وزير راغلو بادشاه چه د
هغه سترګې اوليدې نو حيران پاتې شو تپوس ئې ترې اوکړو ستا دا
سترګې چا صحيح کړې هغه اووې زما رب بادشاه اووې بنه زما نه
علاوه هم ستاڅوک رب شته هغه اووې او ﴿ ربی الله ﴾ هغه دې
ګرفتار کړو او هغه ته ئې مختلفې سزاګانې ورکول شروع کړلې تر
دې چه هغه ورته هغه ماشوم اوښودلو هغه ګرفتار کړې شو هغه د

راهب خبر ورکړو هغه هم ګرفتار کړې شو بادشاه د راهب او د ړوند په باره کښ دا حکم ورکړو چه دا خو دې په آرې سره قتل کړې شي او د هلک په باره کښ ئې حکم ورکړو چه دې غر ته بوتلو سره د غر نه ښکته را اوغورځولې شي که دې د خپل دين نه واپس نه شي چه کله د غر سوکې ته اوختل نو ماشوم دعا اوکړه يا الله ما د دې خلقو نه بچ کړه په غر زلزله راغله هغه ټول راپريوتلو سره هلاک شو ماشوم واپس راغلو بادشاه بيا خو نورو خلقو ته حکم اوکړو چه دې بوځئ اوپه سمندر کښ ئې غورځولو سره غرق کړئ هغه بيا هم دا دعا اوکړه ټول هلاک شو هغه بيا واپس راغلو بيا هلک بادشاه ته اووې چه زما د وژلو طريقه دا ده چه يو ځائې ته خلق راجمع کولو سره زما د ترکش نه غشې واخله او په هغې باندې ﴿بسم الله رب هذا الغلام﴾ وئيلو سره اوله کړه نو زه به مړ شم پس هم داسې اوکړې شوه په خلقو کښ اعلان اوکړې شو خلق راجمع شو ماشوم ئې په لرګی باندې اوتړلو او ﴿بسم الله رب هذا الغلام﴾ وئيلو سره په غشي ويشتلې شو چه د هغه سنړه کښ ننوتلو چه په هغه ځائې خپل لاس کيخودلو او هغه هلک شهيد شو خو د دې عجيبه واقعې په کتلو باندې ناڅاپه ټولو په يو آواز باندې د تکبير نعره اوچته کړه او وې وئيل مونږ ټول په الله پاک باندې ايمان راوړو په دې اوريدلو باندې بادشاه نور هم پريشانه شو د بادشاهت د ارکانو سره ئې مشوره اوکړه مشوره دا اوشوه چه لوئې لوئې خندقونه ويستلې شي او هغه د اور نه ډک کړې شي بيا دا خلق راوغوښتلې شي کوم انسان چه د اسلام نه نه اوړی هغه په اوز کښ ور اغورځولې شي پس هم داسې ئې اوکړل خو

مسلمانان دصبر اواستقامت غرونه جوړشواوهغوی ښه په خوشحالۍ دا جزا قبوله کړه یوه ښځه راغله په غیږ کښې ورسره ماشوم وو د ماشوم د شفقت د وجې نه لړۀ ویردله خو معصوم بچی آواز ورکړو موری صبر اوکړه ته په حقه ئې د بعضو روایاتو مطابق د شهیدانو تعداد دولس زره د بعضو مطابق اویا زره وو د عبدالله بن تامر رحمه الله قبر د عمر فاروق رضی الله عنه په زمانه کښې د څه وجې نه پرانستلې شو نو د عبدالله بن تامر رحمه الله بدن صحیح او سالم وو هغوی ناست وو او د هغوی لاس په سنړه باندې وو چه لاس ترې لرې کړې شو نو وینه ترې جاری شوه چه دوباره لاس هلته کیخودلې شو نو بنده شوه د هغوی په لاس کښې گوتمه وه چه په هغې لیکلې شوې وو ﴿ الله ربی ﴾ د یمن گورنر عمرفاروق رضی الله عنه ته خبر ورکړو هغوی اوفرمائیل هغوی هم په دغه حالت کښې پټ کړئ.

د ذونواس انجام: چه کله د روم بادشاه قیصر ته د ذونواس د دې ظلم او ستم پته اولگیده او دا معلومه شوه چه ذونواس انجیل مقدس سیزلې دې په عیسایانو ئې ظلم کړې دې نو هغه د حبشې بادشاه نجاشی ته خط اولیکو چه د دې ظالم نه دې د ظلم بدله واخستلې شی هغه د اویا زره کسانو لښکر تیارولو سره روان کړو د هغه لښکر سپه سالار رباطه نومې یو سړې وو دا لښکر یمن ته نزدې د حضر موت په مقام باندې اودریدلو ذونواس ته پته اولگیده نو هغه یو سازش تیار کړو رباطه ته ئې پیغام اولیږلو چه زه جنگ کول نه غواړم تاسو ته به د ټولو خزانو چابیانې درکړم بیا که ته ما د خپل ځان سره ساتې او که نجاشی ته مې لیږې ذونواس د خزانو چابیانې په اوښ

باندې بارولو سره رباطه ته اورسولې او بیا ئې رباطه صنعاء ښـهر تـه راوستلو او ټولې خزانې ئې هغه ته اوسپارلې په آخر کښې ئې اووې چه په نورو صوبو کښې هم زما دغه شان خزانې دی زه تاسو تـه وایـم تاسـو د فوج مختلفې ډلې جوړولو سره هلته اولیږئ چه هغه خزانې راوړی رباطه اووې ډیره ښه ده د رباطه فوج چه یـو خـوا بـل خـوا خـور شـو نـو ذونواس پټې طریقې سره خپل خلق اولیږل چه لاړ شـئ او زمـا وزیرانـو ته اووایئ چه د رباطه خلق کله تاسو ته درشی نو هغوی قتـل کړئ پـس د رباطه دا فوج هر ځائې کښې اووژلې شو چه رباطه ته پته اولګیده نو د صنعاء نه راوتختیدلو او حضر موت تـه راغلـو او نجاشی ئـې د دې صورت حال نه خبر کړو نجاشی دوبـاره د یـو لاکهـ لـښکر د ابرهـه پـه قیادت کښې روان کړو چه کله ذونـواس تـه پتـه اولګیـده نـو هغـه اووې چه اوس بچ کیدل ګران دی نو هغه په اس باندې سوریدلو سره سمندر ته کوز شو ځکه چه د هغه دې اس به په سمندر کښې لامبو وهلـه خـو لـږ ساعت پس د سترې کیدو نه پس اس د لامبو وهلو نه بند شو ذونـواس سره د اس نه په سمندر کښې غرق شو ابرهـه د صنعاء ملـک او د هغـه ځائې پـه بیـشمیره خزانو بانـدې قبـضه اوکړه پـه دې وجـه چـه ابرهـه نجاشی ته ډالئ او نه لیږلې په دې وجه هغه ګمان اوکړو چه ابرهـه زمـا نه باغی شوې دې هغه بیا رباطـه تـه څلور زره لـښکر ورکړو او ورتـه ئـې لیږلو چه ابرهه لره معزول کولو سره ما ته راولیږه او ته د یمـن د ملـک ذمه داری سنهبال کړه رباطه چه یمن ته اورسیدلو د نجاشی بادشاه د طرف نه ئې د معزول کیدو حکم واورولو ابرهه اووې کـه زه دا څیزونـه تا ته حواله نه کړم نو تـه بـه څـه اوکړې هغـه اووې جنـګ بـه کـوم هغـه اووې د ټولو نـه اول زه او تـه جنـګ کـوو دواړه میـدان تـه راغلـل ابرهـه

خپل يو غلام ته اووې چه ته رباطه ته نزدې چرته پټ اودريږه او هغه قتل کړه رباطه د ابرهه په سر باندې توره اووهله خو هغه خود اغوستلې وو سر خو ئې پرې نه شو خو د ابرهه پوزه پرې شوه په دې وجه هغه ته ابرهه الاشرم وئيلې شی د اشرم معنی پوزه پرې کړې شوې هلته د شا نه د ابرهه غلام په رباطه باندې حمله اوکړه هغه ئې قتل کړو نجاشی ته چه دا خبر ملاؤ شو نو هغه قسم اوخوړلو چه تر څو ابرهه قتل نه کړم چپ به نه شم ابرهه نجاشی ته ډيرې ډالئ اوليږلې او بخښنه ئې اوغوښتله چه رباطه ما سره زياتې اوکړو په دې وجه ما هغه قتل کړو زه ستا فرمانبردار يم نجاشی د هغه معذرت قبول کړو دا هم هغه ابرهه دې کوم چه د هاتيانو سره په بيت الله باندې د حملې کولو د پاره راغلې وو او هغه او د هغه لښکر د الله پاک په قهر باندې اخته شوې وو.

﴿ والسمآء ذات البروج ﴾ الله پاک د څلور څيزونو قسم خوړلې دې (١) آسمان بيا ئې د هغه صفت بيان کړو ﴿ ذات البروج ﴾

سوال: بروج نه څه مراد دې؟

جواب: د بروج د مراد په باره کښې د مفسرينو ډير اقوال دی (١) بروج نه مراد ابواب (دروازې) دی (٢) د بروج نه مراد محلات دی هغه محلات چه په آسمان کښې د څوکئ کونکو او نګران ملائکو د پاره مقرر دی. (٣) د بروج نه مراد دولس حصې د آسمان مراد دی کومې چه د فلاسفه په نزد بروج دی هر يوې حصې ته برج وئيلې شی د هر برج مستقل نوم دې چه دا دی: (١) حمل (٢) ثور (٣) جوزا (۴) سرطان (۵) اسد (٦) سنبله (٧) ميزان (٨) عقرب (٩) قوس (١٠) جدی (١١) دلو (١٢) حوت. بروج نه لوئې لوئې ستوری مراد دی، ابن عباس،

مجاهد ضحاک حسن بصری قتاده رحمهم الله آخری قول غوره کړي دي.

﴿واليوم الموعـــود ﴾ دا دويم قسم دي اليوم الموعود نه د قيامت ورځ مراد ده ترمذی شريف ص ۲۷۱ باندې د ابوهريره رضی الله عنه نه مرفوعا روايت دي چه د اليوم الموعود نه د قيامت ورځ مراد ده او د شاهد نه د جمعې ورځ او د مشهود نه د عرفې ورځ (نهمه ذوالحجه) ورځ مراد ده.

﴿و شاهد و مشهود ﴾ د دريم او څلورم قسم بيان دي.

سوال: د شاهد او د مشهود نه څه مراد دي؟

جواب: په دې کښې د مفسرينو ډير اقوال دی (۱) د شاهد نه يوم جمعه او د مشهود نه د عرفې (نهمه ذوالحجه) مراد ده څکه چه د جمعې ورځ خپله هر جمات او هر ښهر ته حاضريدونکي ده او د عرفې په ورځ باندې د ټولو طرفونو او ښهرونو نه حاجيان صاحبان هلته حاضريږی (۲) د شاهد نه مراد الله پاک دي او د مشهود نه مراد قيامت دي (۳) د شاهد نه مراد د جمعې ورځ او د مشهود نه مراد د قربانۍ ورځ ده. (۴) د شاهد نه مراد نبی او د مشهود نه مراد قيامت دي (۵) د شاهد نه مراد رسول الله ﷺ او د مشهود نه مراد د رسول الله ﷺ امت دي. (۶) د شاهد نه مراد د رسول الله ﷺ امت او د مشهود نه مراد تير امتونه دی او نور اقوال هم شته.

﴿قتل اصحب الاخدود ﴾ د څلورو ځيزونو قسم خوړلو سره ئې ارشاد اوفرمائيلو چه اصحاب الاخدود غرق شو يا غرق دي شی او په هغوی باندې د الله پاک لعنت دې چا چه خندقونه اوکنستل او په هغې کښې اور بلولو سره ئې مومنان په هغې کښې اوسيزل د هغوی

په لعنتي کيدو باندې مومنانو ته تسلي ورکول مقصود دی کوم کافر چه نن صبا په مسلمانانو باندې ظلم کوی هغوی به په لعنت کښې گرفتاريږی که د هغې اثر په دنيا کښې ښکاره شی لکه په غزوه بدر کښې ذليل او خواريدلو سره قتل کړې شو يا صرف په آخرت کښې.

﴿ اذ هم عليها قعود وهم على ما يفعلون بالمومنين شهود ﴾ مقصد دا دې چه کله مومنان په اور کښې سوزيدل نو دوی د هغه اور په غاړه باندې ناست وو او د هغوی تماشه ئې کتله د هغوی تکليف او سوزيدلو باندې ښه خوشحاليدل د دې نه د هغه کفارو د زړه سخت والی او بې رحمئ طرف ته اشاره ده.﴿ وما نقموا ﴾ مقصد دا دې چه د هغوی سره چه کوم ظلم اوکړې شو د هغوی هيڅ قصور نه وو صرف دا چه هغوی په الله سبحانه وتعالى کوم چه د ټولو آسمانونو او زمکو مالک دې باندې ايمان راوړې وو دا هيڅ جرم نه وو.﴿ والله على كل شئ شهيد ﴾ الله په هر يو څيز باندې گواه دې د ظالم د ظلم نه او د مظلوم د مظلوميت نه واقف دې هغه به د مظلوم مدد او ظالم ته به ضرور سزا ورکوی.

إِنَّ ٱلَّذِينَ فَتَنُوا۟ ٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ ثُمَّ لَمْ يَتُوبُوا۟ فَلَهُمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَلَهُمْ عَذَابُ ٱلْحَرِيقِ ﴿١٠﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُمْ جَنَّٰتٌ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ ۚ ذَٰلِكَ ٱلْفَوْزُ ٱلْكَبِيرُ ﴿١١﴾ إِنَّ بَطْشَ رَبِّكَ لَشَدِيدٌ ﴿١٢﴾ إِنَّهُۥ هُوَ يُبْدِئُ وَيُعِيدُ ﴿١٣﴾ وَهُوَ ٱلْغَفُورُ ٱلْوَدُودُ ﴿١٤﴾ ذُو ٱلْعَرْشِ ٱلْمَجِيدُ ﴿١٥﴾ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيدُ ﴿١٦﴾ هَلْ أَتَىٰكَ حَدِيثُ ٱلْجُنُودِ

﴿١٨﴾ فِرْعَوْنَ وَثَمُودَ ﴿١٩﴾ بَلِ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ فِى تَكْذِيبٍ ﴿٢٠﴾ وَٱللَّهُ مِن وَرَآئِهِم مُّحِيطٌۢ ﴿٢١﴾ بَلْ هُوَ قُرْءَانٌ مَّجِيدٌ ﴿٢٢﴾ فِى لَوْحٍ مَّحْفُوظٍۭ ﴿٢٢﴾

ترجمه: بیشکه هغه خلق چه مومنانو سړو او مومناو ښخو ته ئې تکلیف ورکړو بیائې توبه او نه ویستله پس دې د هغوی د پاره عذاب د دوزخ او دې د هغوی د پاره عذاب د سوزیدلو...بیشکه هغه خلق چه هغوی ایمان راوړو او عمل ئې کولو په طریقه د رسول ﷺ د هغوی د پاره باغونه دی چه د هغې د لاندې به نهرونه جاری وی دا لویه کامیابی ده.بیشکه ستا د رب نیول ډیر سخت دی...بیشکه هم هغه په رومبی کرت پیدا کول کوی او هغه به دوباره پیدا کول هم کوی...او هم هغه دې بخښنه کونکې او مینه کونکې... مالک د عرش دې د بزرګئ والا دې.....کونکې دې د هغه کار چه اراده ئې اوکړی.......آیا راغلې دې تا ته خبر د لښکرو.....د فرعون او د ثمودیانو....بلکه هغه کسان چه کفار دی په تکذیب کښې دی......او الله هغوی لره ګیرونکې دې.....بلکه هغه قرآن دې د لوئې شان والا...چه په لوح محفوظ کښې دې.

حل المفردات: فتنوا جمع مذکر غائب ماضی معروف د باب (ض) په تکلیف کښې اچول.لم یتوبوا جمع مذکر غائب نفی جحد په اصل کښې یتوبوا په مثل د لم یقولوا د باب (ن) واپس کیدل رجوع کول په توبه کښې هم الله پاک ته رجوع وی.تجری واحده مونثه مضارع معروف په اصل کښې تجری وو د باب (ض) جاری کیدل ګرځیدل.الانهر جمع ده مفرد ئې نهر دې.الفوز مصدر دې د باب(ن) کامیابیدل.الکبیر واحد

مـذکر صـفت مـشبه د بـاب (ک) نـه پـه مرتبـه کښې لونیـدل درنیـدل الحریق واحد مذکر صفت مشبه د باب (ن) سوزول بطش مصدر دې د باب (ن،ض) په سختئ سره نیول لشدید واحد مذکر صفت مشبه د باب (ن،ض) تړل مضبوطول قوی کول یبدی واحد مذکر غائب مضارع معروف د باب افعال نه ښکاره کول یعید واحد مذکر غائب مضارع معروف په اصل کښې یعود وو په قانون د یقول او یبیع د واؤ کسره نقل کولو سره ما قبل ته ورکړې شوه بیا د میزان د قاعدې مطابق واؤ په یاء سره بدل کړې شو.د باب افعال نه واپس کول دوباره کول الغفور واحد مذکر اسم مبالغه ډیر زیات بخښنې والا د باب (ض) پټول په ماده د غفر کښې د پټولو معنی راخی مثلا (۱) گناهونه پټول دې ته مغفرة وئیلې شی (۲) غفرة ډکولو ته وائی (۳)مغفر هغه ټوپۍ ته وائی کومه چه فوجی په سر کړې وی هغه هم سر پټوی...الودود صیغه مبالغه ډیر زیات مینه کونکې د باب (س) نه مینه کونکې العرش تخت شاهی،چهت،شامیانه،سردار از (ن،ض) کور جوړول،تخت جوړول المجید :واحد مذکر صفت مشبه جمع د دې امجاد راخی د باب (ک) بزرګئ والا کیدل

فعال صیغه د مبالغې،یرید واحد مذکر غائب مضارع معروف په اصل کښې یرود وو په قانو د یبیع او میزان یرید شو د باب افعال نه (اراده کول)الجنود لښکر جمع کول د دې مفرد جند دې فرعون د مصر هر بادشاه ته به ئې فرعون وئیلو مشهور فرعون کوم چه د موسی علیه السلام په مقابله کښې وو هغه ولید بن مصعب بن ریان وو(بغوی ج۱ ص ۶۹) محیط: صیغه د واحد مذکر اسم فاعل اصل کښې محوط په قانون د یبیع یقول د واؤ کسره ئې ما قبل ته ورکړه بیا ئې

قانون د میزان واؤ په یاء سره بدل شو د باب افعال نه راګیرول
لوح:تختئ جمع ئې الواح راخی محفوظ:واحد مذکر اسم مفعول د
باب(س) حفاظت کول یادول

حل التركيب: ﴿ ان الذين فتنوا المومنين والمومنات ثم لم يتوبوا فلهم عذاب جهنم ولهم عذاب الحريق ﴾ ان حرف د حروف مشبه بالفعل نه الذین اسم موصول فتنو فعل واؤ ضمیر فاعل المومنین معطوف علیه واؤ عاطفه المومنات معطوف.معطوف علیه سره د معطوف نه مفعول به شو د پاره د فتنوا .فتنوا فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه معطوف علیه شو ثم عاطفه لم یتوبوا فعل واؤ ضمیر بارز فاعل،فعل سره د فاعل نه معطوف.معطوف علیه سره د معطوف نه صله شوه د پاره د موصول صله سره د موصول نه اسم متضمن معني د شرط لره فاجزائیه لام جار هم مجرور جار سره د مجرور نه ظرف مستقر متعلق په ثابت پوري کیدو سره خبر مقدم عذاب مضاف جهنم مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه مبتدا موخر مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه معطوف علیه.واؤ عاطفه لام جار هم مجرور جار مجرور متعلق په ثابت پوري کیدو سره خبر مقدم عذاب مضاف الحریق مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه مبتدا موخر.. مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه معطوف . معطوف علیه سره د معطوف نه قائم مقام د جزا کیدو سره خبر دې د پاره د ان . ان د خپل اسم او خبر سره جمله اسمیه خبریه شوه

﴿ ان الذين امنوا وعملوا الصلحت لهم جنت تجرى من تحتها الانهر ﴾ ان حرف د حروف مشبه بالفعل الذین موصول امنوا فعل واؤ

ضمیر بارز فاعل فعل سره د فاعل نه معطوف علیه واؤ عاطفه عملوا فعل هم ضمیر فاعل الصلحت مفعول به فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه معطوف، معطوف علیه سره د معطوف نه صله شوه د پاره د موصول صله سره د موصول نه اسم شو د پاره د ان لام جار هم مجرور جار سره د مجرور نه خبر مقدم شو جنت موصوف تجری فعل من حرف جار تحت مضاف ها ضمیر مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور شو د پاره د جار جار سره د مجرور نه متعلق شو په تجری پوري الانهر فاعل فعل سره د فاعل او متعلق نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره صفت شو د پاره د موصوف ،،، موصوف سره د صفت نه مبتدا موخر، مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه کیدو سره خبر شو د پاره د ان.... ان د خپل اسم او خبر سره جمله اسمیه خبریه شوه. ﴿ ذلک الفوز الکبیر ﴾ ذلک اسم اشاره مبتدا الفوز موصوف الکبیر صفت موصوف سره د صفت نه خبر مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه شوه.

﴿ ان بطش ربک لشدید ﴾ ان حرف دي د حروف مشبه بالفعل بطش مضاف رب مضاف کاف ضمیر مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه بیا مضاف الیه شو د پاره د بطش مضاف... مضاف سره د مضاف الیه نه اسم شو د پاره د ان لشدید خبر شو د پاره د ان... ان د خپل اسم او خبر سره جمله اسمیه خبریه شوه. ﴿ انه هو یبدئ و یعید ﴾ ان حرف دي د حروف مشبه بالفعل ه ضمیر اسم هو مبتدا یبدئ فعل هو ضمیر فاعل فعل سره د فاعل نه معطوف علیه واؤ عاطفه یعید فعل هو ضمیر فاعل فعل سره د فاعل نه معطوف

معطوف علیه سره د معطوف نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره خبر دې د پاره د مبتدا مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه کیدو سره خبر شو د پاره د ان... ان د خپل اسم او خبر سره جمله اسمیه خبریه شوه.

﴿وهو الغفور الودود ذوالعرش المجید﴾ واؤ عاطفه هو ضمیر مبتدا الغفور خبر اول الودود خبر ثانی ذو مضاف العرش مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه خبر ثالث المجید خبر رابع یا صفت دې د پاره د ذوالعرش مبتدا سره د ټولو خبرونو جمله اسمیه خبریه شوه. ﴿فعال لما یرید﴾ فعال خبر دې د مبتدا محذوف هو د پاره لام جار ما موصوله یرید فعل هو ضمیر فاعل فعل سره د فاعل نه صله شوه د پاره د موصول صله سره د موصول نه مجرور شو د پاره د جار جار سره د مجرور نه متعلق شو په فعال پورې چه خبر دې مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه شوه. ﴿هل اتک حدیث الجنود فرعون و ثمود﴾ هل استفهامیه اتی فعل کاف ضمیر مفعول به حدیث مضاف الجنود مبدل منه فرعون معطوف علیه واؤ عاطفه ثمود معطوف، معطوف علیه سره د معطوف نه بدل شو، بدل سره د مبدل منه مضاف الیه شو د پاره د مضاف مضاف سره د مضاف الیه نه فاعل شو د پاره د فعل فعل سره د فاعل نن جمله انشائیه شوه.

﴿بل الذین کفروا فی تکذیب﴾ بل عاطفه الذین موصول کفروا فعل واؤ ضمیر فاعل فعل سرّه د فاعل نه صله شوه د پاره د موصول موصول سره د صله مبتدا فی جار تکذیب مجرور جار سره د مجرور نه متعلق په کائنون پورې کیدو سره خبر شو مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه. ﴿والله من ورائهم محیط﴾ واؤ عاطفه الله

مبتداء من جاره وراء مضاف هم ضمیر مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور شو د پاره د جار، جار سره د مجرور نه متعلق شو په محیط پورې محیط خبر دې د مبتدا مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه شوه.

﴿ بل هو قرآن مجید فی لوح محفوظ ﴾ بل عاطفه هو ضمیر مبتدا قرآن موصوف مجید صفت اول فی جار لوح موصوف محفوظ صفت صفت سره د موصوف نه مجرور د جار جار سره د مجرور نه متعلق په کائن پورې کیدو سره صفت ثانی دې د پاره د موصوف موصوف سره د دواړو صفتونو خبر دې د پاره د مبتدا مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه شوه.

تفسیر: ﴿ ان الذین فتنوا المومنین والمومنات الخ ﴾ په دې ایت کریمه کښې د هغه خلقو سزا بیان کړې شوې ده چا چه مسلمانلن صرف د هغوی د ایمان راوړلو په وجه باندې د اور په خندقونو کښې سیزلې وو ارشاد فرمائی چه کومو کفارو مومنانو سره او ښځو ته تکلیف ورکړو بیا ئې توبه اونکړله او د الله پاک نه ئې د خپل دې جرم بخښنه او نه غوښتله د هغه د پاره دوه عذابونه دی (۱) عذاب د دوزخ (۲) عذاب الحریق په عذاب الحریق کښې دوه احتماله دی (۱) دا جمله د عذاب جهنم تاکید دې او د هم هغه عذاب جهنم وضاحت او بیان دې مقصد به ئې دا وی چه دوزخ ته د تلو نه پس به د هغه خلقو د پاره دا سزا وی چه همیشه به سوزیږی (۲) په عذاب جهنم کښې د عذاب آخرت بیان دې او په عذاب الحریق کښې د دنیاوی عذاب ذکر دې لکه چه په بعض روایاتو کښې راغلی دی چه کوم مومنان هغه خلقو د اور په

خندقونو کښې غورځولې وو الله پاک اور ته د تلو نه مخکښې د هغوی روحونه قبض کړې وو صرف مړۀ بدنونه اور ته پریوتل دغه شان مومنان خو د اور د تکلیف نه بچ شو خو دا اور دومره تیز شو چه د خندق نه راوتلو سره په ښهر کښې خور شو او کومو خلقو چه تماشه کتله هغه ئې ټول اوسیزل.(جلالین) صرف ذونواس بچ شو خو روستو هغه هم په سمندر کښې غرق شو.﴿ان الذين امنوا و عملوا الصلحت﴾ اوس د کفارو په مقابله کښې د مومنانو د جزا او انعاماتو بیان دې چه کومو خلقو ایمان راوړې دې او نیک عملونه ئې اختیار کړی دی د هغوی د پاره باغونه تیار دی بیا باغونه هم داسې چه په هغې کښې به نهرونه جاری وی.

﴿ذلک الفوز الکبیر﴾ دا ډیره لویه کامیابی ده ځکه چه دا نعمتونه به همیشه وی او هر قسمه نعمت به ورته حاصل وی!او بیا به د هغې د ختمیدلو او پټیدلو خطره هم نه وی په خلاف د دنیاوی نعمتونو چه اول خو د ټولو نعمتونو حاصلول مشکل دی څه نه څه ارمان باقی پاتې شی چا څه ښه وئیلی دی:

هزارون خواهشین ایسی که هر خواهش په دم نکلے
بهت نکلے میرے ارمان لیکن پهر بهی کم نکلے

خو که د دنیا ټول نعمتونه حاصل شی بیا هم د هغې د ختمیدلو او د هغې د واپس اخستلو خطره هر وخت وی په دې وجه لویه کامیابی دا ده چه د آخرت نعمتونه حاصل شی.﴿ان بطش ربک لشدید﴾ مقصد دا دې چه د الله پاک نیول ډیر سخت دی چه څوک اونیسی بیا ئې ترې څوک خلاصولې نه شی په دنیا کښې ئې خوار او

ذلیله کوی په آخرت کښې ئې په عذاب اخته کوی پس په کفارو باندې د سختې سزا واقع کیدل څه بعیده نه ده.

﴿ انه هو یبدئ و یعید ﴾ مقصد دا دې چه هغه داسې ذات دې چه هغه انسان په ړومبی کرت پیدا کړو او دوباره به ئې هم پیدا کوی پس د کفارو دا شک هم پاتې نه شو چه کله مونږ دوباره نه ژوندی کیږو نو سخت نیول به څنګه وی. ﴿ وهو الغفور الودود ﴾ په دې آیتونو کښې الله پاک خپل څو صفتونه بیان فرمائی چه په هغې سره د مومنانو د وعدې تقریر دې الغفور د الله پاک ذات بخښنه کونکې دې په توبه او استغفار سره د بندګانو ګناهونه معاف کوی الودود کوم چه نیکان او صالحان دی الله پاک د هغوی سره مینه کونکې دې دومره مینه چه دومره مینه به د مور اولاد سره هم نه وی. ذوالعرش هم هغه د تخت حقیقی او اصلی مالک دې باقی ټول عارضی دی. المجید لوئې شان والا دې. ﴿ فعال لما یرید ﴾ هغه ذات داسې قادر مطلق دې چه څه غواړی کوی څوک هم هغه نه شی بندولې د چا مددګار ضرورت نشته. ﴿ هل اتک حدیث الجنود ﴾ واقعه د اصحاب الاخدود د بیان نه پس د مومنانو د زیاتی تسلئ د پاره د دوه نورو واقعاتو اجمالی بیان کولې شی چه په هغې کښې یو خو د فرعون د هلاکت ذکر دې چه د هغه لښکر ډیر طاقتور او زیات وو او دویم د قوم ثمود چا چه د صالح علیه السلام ګستاخی او نافرمانی اوکړه الله پاک ظالم لښکرې نیست او نابود کړې نو دا د قریشو کفار د هغوی په مقابله کښې هیڅ هم نه دی د دوی انجام به هم ډیر بد وی. ﴿ بل الذین کفروا فی تکذیب ﴾ کفار د غذابونو داسې وعیدونه

اوریدلو سره وانی چه مونږ خو د الله پاک قدرت نه منو هم دې لره بیان بیان فرمانی چه د دې واقعاتو په اوریدو باندې د ویرې په ځائې کفار د دې قرآن پاک او قیامت او د نورو واقعاتو په تکذیب کښې لګیدلې دی. ﴿ والله من وراءهم محیط ﴾ خو الله رب العزت د هر طرف نه هغوی ګیر کړی دی پس دوی به خپل انجام ته ضرور رسیږی او د الله پاک د عذاب نه نه شی بچ کیدلې. ﴿ بل هو قرآن مجید ﴾ مقصد دا دې چه د کفارو د قرآن کریم تکذیب کول هسې کم عقلتوب دې ګینې د دې کتاب په صداقت کښې هیڅ شک نه شی کیدې ځکه چه دې په لوح محفوظ کښې محفوظ وو بیا د هغه ځائې نه د یر په حفاظت سره د روح الامین په ذریعه رسول الله ﷺ ته اورسولې شو په دې وجه د قرآن کریم تکذیب بیشکه جهالت او سبب د عذاب دې.

سورة الطارق

ایاتها ۱۷	بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ	رکوعها ۱

وَٱلسَّمَآءِ وَٱلطَّارِقِ ﴿١﴾ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا ٱلطَّارِقُ ﴿٢﴾ ٱلنَّجۡمُ
ٱلثَّاقِبُ ﴿٣﴾ إِن كُلُّ نَفۡسٍ لَّمَّا عَلَيۡهَا حَافِظٞ ﴿٤﴾ فَلۡيَنظُرِ ٱلۡإِنسَٰنُ مِمَّ
خُلِقَ ﴿٥﴾ خُلِقَ مِن مَّآءٖ دَافِقٖ ﴿٦﴾ يَخۡرُجُ مِنۢ بَيۡنِ ٱلصُّلۡبِ وَٱلتَّرَآئِبِ ﴿٧﴾
إِنَّهُۥ عَلَىٰ رَجۡعِهِۦ لَقَادِرٞ ﴿٨﴾ يَوۡمَ تُبۡلَى ٱلسَّرَآئِرُ ﴿٩﴾ فَمَا لَهُۥ مِن قُوَّةٖ وَلَا
نَاصِرٖ ﴿١٠﴾ وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلرَّجۡعِ ﴿١١﴾ وَٱلۡأَرۡضِ ذَاتِ ٱلصَّدۡعِ ﴿١٢﴾ إِنَّهُۥ

لَقَوْلٌ فَصْلٌ ۝ وَمَا هُوَ بِٱلْهَزْلِ ۝ إِنَّهُمْ يَكِيدُونَ كَيْدًا ۝ وَأَكِيدُ كَيْدًا ۝ فَمَهِّلِ ٱلْكَـٰفِرِينَ أَمْهِلْهُمْ رُوَيْدًۢا

ترجمه: قسم دې په آسمان باندې او د شپې په راتلونکی باندې...او ته څهٔ پوهیږې چه د شپې راتلونکې څه څیز دې...ستورې دې پرقیدونکې...نشته دې یو نفس مګر په هغه باندې نګران مقرر دې...پس او دې ګوری انسان چه هغه د څهٔ نه پیدا کړې شوې دې؟...پیدا کړې شوې دې د توپ وهونکو اوبو نه...چه راوځی د سینې او د ملا د مینځنۍ حصې نه...بیشکه هغه ذات د هغه په دوباره پیدا کولو باندې قادر دې...هغه ورځ چه پټ رازونه به ښکاره کړې شی...پس نه به وی د دې انسان د پاره نه څه طاقت او نه مددګار...او قسم دې په آسمان چه چکر وهونکې دې...او قسم دې په زمکه چه څیرې کیدونکې ده...چه دا کلام دې حق لره د باطل نه جدا کونکې...او نه دی دا ټوقې...بیشکه دا کفار مکر کوی په مکر کولو سره...او زه هم مکر کوم په مکر کولو سره...پس مهلت ورکړه کفارو ته مهلت ورکړه لږ شان مهلت.

حل المفردات: الطارق واحد مذکر اسم فاعل د شپې راتلونکې د باب (ن) د شپې په وخت راتلل النجم ستورې د دې جمع نجوم الثاقب واحد مذکر اسم فاعل پرقیدونکې د باب (ن) سورې کول روښانه کول پرقیدل ستوری ته په دې وجه ثاقب اووئیلې شو چه کله دا په تیرو کښې روښانه شی نو ګویا په هغې کښې سورې کوی دافق واحد مذکر اسم فاعل از (ض،ن) په زور راغورځول په توپ سره بهیدل. یخرج

واحد مذكر غائب مضارع معروف د باب (ن) راويستل الصلب شا جمع ئې ده اصلاب، اصلب د باب (ک) سختيدل الترائب جمع د دې مفرد التربية دې د سينې پورته حصه رجعه مصدر د باب (ض) نه واپس كيدل قادر واحد مذكر اسم فاعل د باب (ن،ض،س) قوى كيدل تدبير كول اندازه كول تبلى واحده مونثه غائبه مضارع مجهول په اصل كښې تبلى وود قال والا قانون د باب (ن) آزميښت كول السرائر جمع ده واحد ئې سريرة دې راز ته وئيلې شى الصدع مصدر دې د باب (ف) شلول فصل مصدر دې د باب (ض) جدا كول الهزل مصدر د باب (ض) ټوقې كول يكيدون جمع مذكر مضارع معروف په اصل كښې يكيدون په قانون د يبيع يكيدون شو د باب (ض) نه مكر كول.اكيد واحد متكلم مضارع معروف فمهل واحد مذكر امر حاضر معروف د باب (تفعيل) مهلت وركول واحد مذكر امر حاضر د باب (افعال) مهلت وركول.

حل التركيب: ﴿ والسمآء والطارق ﴾ واؤ قسميه السمآء معطوف عليه واؤ عاطفه الطارق معطوف، معطوف سره د معطوف عليه نه مجرور شو د پاره د جار چه واؤ قسميه دې جار سره د مجرور نه متعلق شو په اقسم پورې اقسم فعل سره د فاعل نه قسم شو.... ﴿ وما ادرک ما الطارق ﴾ واؤ اعتراضيه ما بمعنى اى شئ مبتدا ادرى فعل هو ضمير فاعل كاف ضمير مفعول به اول ما الطارق ما په معنى د اى شئ دې مبتدا الطارق خبر مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه خبريه كيدو سره مفعول ثانى شو د ادرى فعل د پاره فعل سره د فاعل او سره د مفعولينونه جمله فعليه كيدو سره خبرشو د پاره د ما مبتدا

مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه انشائیه معترضه شوه....

﴿النجم الثاقب﴾ النجم موصوف الثاقب صفت موصوف سره د صفت نه خبر شو د پاره د مبتدا محذوف چه هو دی مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه شوه.یا النجم الثاقب بدل دی د الطارق نه.

﴿ان كل نفس لما عليها حافظ﴾ ان نافيه كل مضاف نفس مضاف اليه مضاف سره د مضاف اليه نه مبتدا شو لما په معنى د الا كيدو سره حرف استثناء على حرف جار ها ضمير مجرور جار سره د مجرور نه ظرف مستقر متعلق په ثابت پوري خبر مقدم حافظ مبتدا موخر مبتدا موخر سره د خبر مقدم نه جمله اسميه خبريه كيدو سره بيا خبر دى د مبتدا كل نفس مبتدا د پاره مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه كيدو سره جواب قسم شو د پاره د قسم قسم سره د جواب قسم نه جمله قسميه انشائيه شوه.

﴿فلينظر الانسان مم خلق﴾ فاء فصيحيه (اعراب) لينظر فعل الانسان فاعل من حرف جار ما استفهاميه مجرور جار سره د مجرور نه متعلق مقدم شو په خلق پورى خلق فعل هو ضمير نائب فاعل فعل سره د نائب فاعل نه جمله فعليه خبريه كيدو سره استفهام.

﴿خلق من ماء دافق يخرج من بين الصلب والترائب﴾ خلق فعل هو ضمير نائب فاعل من جار ماء موصوف دافق صفت اول يخرج فعل هو ضمير فاعل من حرف جار بين مضاف الصلب معطوف عليه واؤ عاطفه الترائب معطوف معطوف عليه د خپل معطوف سره مضاف اليه شو د پاره د مضاف مضاف سره د مضاف اليه نه مجرور شو د پاره د من جار جار سره د مجرور نه متعلق شو

په يخرج فعل پورې يخرج فعل سره د فاعل او سره د متعلق نه جمله فعليه خبريه كيدو سره صفت ثاني د ماء موصوف د پاره موصوف سره د دوارو صفتينو نه مجرور شو د پاره د جار جار سره د مجرور نه متعلق شو په خلق پورې خلق فعل سره د فاعل او سره د متعلق نه جمله فعليه خبريه كيدو سره جواب د استفهام استفهام د خپل جواب استفهام سره يو ځائې كيدو باندې محلا منصوب مفعول به دې د پاره د لينظر فعل فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعليه انشائيه كيدو سره جزا ده د پاره د شرط محذوف ﴿ اذا كان الامـــر كذلک ﴾ شرط سره د جزا نه جمله شرطيه شوه. ﴿ انه علـــى رجعـــه لقادر﴾ ان حرف د حروف مشبه بالفعل نه ه ضمير اسم على حرف جار رجع مضاف ه ضمير مضاف اليه مضاف سره د مضاف اليه نه مجرور شو د جار جار سره د مجرور نه متعلق شو په قادر پورې قادر خبر د پاره د ان ان سره د خپل اسم او خبر نه جمله اسميه خبريه شوه.

﴿يوم تبلى السرائر ﴾ يوم ظرف مضاف تبلى فعل السرائر نائب فاعل فعل سره د نائب فاعل نه جمله فعليه خبريه كيدو سره معطوف عليه.﴿ فما له من قوة ولا ناصر ﴾ فا عاطفه ما مشبه بليس لام جاره ه ضمير مجرور جار سره د مجرور نه خبر مقدم شو من زائده قوة معطوف عليه واؤ عاطفه لا زائده ناصر معطوف معطوف عليه سره د معطوف نه مضاف اليه شو د پاره د يوم مضاف مضاف سره د مضاف اليه نه مفعول فيه شو د پاره د لقادر يا د پاره د فعل محذوف يرجع يا د اذكر فعل (اعراب)

﴿والسمآء ذات الرجع والارض ذات الصدع انه لقول فصل﴾ واؤ قسميه السماء موصوف ذات مضاف الرجع مضاف اليه مضاف سره د مضاف اليه نه صفت شو د پاره د موصوف،موصوف سره د صفت نه معطوف عليه شو واؤ عاطفه الارض موصوف ذات مضاف الصدع مضاف اليه مضاف سره د مضاف اليه نه صفت شو د پاره د موصوف،موصوف سره د صفت نه معطوف شو معطوف عليه سره د معطوف نه مجرور شو د پاره د جار چه واؤ دې جار سره د مجرور نه متعلق شو په اقسم فعل پورې اقسم فعل سره د فاعل نه قسم.....ان حرف د حروف مشبه بالفعل نه ه ضمير اسم لام تاكيد قول موصوف فصل صفت موصوف سره د صفت نه خبر شو دپاره د ان،ان سره د خپل اسم او خبر نه جمله اسميه خبريه كيدو سره معطوف عليه شو.و ما هو بالهزل واؤ عاطفه ما مشبه بليس هو ضمير اسم با حرف جار الهزل مجرور جار سره د مجرور نه خبر شو ما د خپل اسم او خبر سره جمله اسميه خبريه كيدو سره معطوف،معطوف عليه سره د معطوف نه جواب قسم...قسم سره د جواب قسم نه جمله قسميه شوه.

﴿انهم يكيدون كيدا و اكيد كيدا﴾ ان حرف د حروف مشبه بالفعل هم ضمير ئې اسم يكيدون فعل واؤ ضمير فاعل كيدا مفعول مطلق فعل سره د فاعل او سره د مفعول مطلق نه جمله فعليه خبريه كيدو سره خبر شو د پاره د ان...ان د خپل اسم او خبر سره جمله اسميه خبريه كيدو سره معطوف عليه.واؤ عاطفه اكيد فعل او فاعل كيدا مفعول مطلق فعل سره د فاعل او سره د مفعول مطلق نه جمله فعليه خبريه كيدو سره معطوف شو...معطوف عليه سره د معطوف نه جمله

معطوفه شوه.

﴿فمهل الكفرين امهلهم رويدا﴾ فا نتيجيه يا عاطفه مهل فعل سره د فاعل الكفرين مفعول به فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه مؤكد يا مبدل منه امهل فعل سره د فاعل هم ضمير مفعول به رويدا په معنى د امهالا سره مفعول مطلق دې د پاره د امهل فعل يا صفت دې د پاره د موصوف محذوف امهالا هغه مفعول مطلق دې د پاره د امهل فعل ...فعل سره د فاعل او سره د مفعول مطلق نه جمله فعليه انشائيه كيدو سره يا تاكيد دې يا بدل دې د مهل نه....تاكيد سره د موكد نه يا بدل سره د مبدل منه نه جمله فعليه انشائيه شوه.

تنبیر:نوم: د دې سورة نوم الطارق دې دا سورة مكى دې.

ربط په تير سورة كښې د مومنانو ته تسلى او د كفارو د وعيد بيان وو په آخر كښې د قرآن د حقيقت مضمون وو په دې سورة كښې د اعمالو د محفوظ پاتې كيدلو او د قيامت د ممكن كيدو او واقع كيدو ذكر دې او د بعث بعد الموت د پاره دليل هم يعنى د قرآن كريم حق كيدل ئې هم بيان كړى دى.

شان نزول: يو كرت ابوطالب رسول الله ﷺ ته څه ډوډئ او پئ راوړل رسول الله ﷺ ناست وو خوړل ئې هم په دې ساعت كښې يو ستورې مات شو چه د هغې په چمك سره د هغه ځائې هر څيز روښانه شو ابوطالب په پريشانئ سره اووې دا څه وو؟رسول الله ﷺ اوفرمائيل دا ستورې وو يو شيطان اويشتلې شو دا د الله پاک په نخښو كښې يو نخښه ده ابو طالب ته په دې باندې تعجب راغلو په دې باندې دا آيت

نازل شو.

﴿ والسمآء والطارق ﴾ قسم دې په آسمان باندې او د شپې په وخت د راتلونکی په دې آيت کښې الله پاک د دوه څيزونو قسم خوړلې دې. (۱) د آسمان (۲) د شپې د راتلونکی د دې نه ستورې مراد دې ځکه چه هغه د ورځې پټ وی د شپې ښکاره کيږی په دې وجه ورته طارق اووئيلې شو. ﴿ وما ادرک ما الطارق ﴾ الله پاک د شان د عظمت د پاره سوال کوی چه تاسو ته څه پته طارق څه څيز دې بيا ئې پخپله جواب اوکړو ﴿ النجم الثاقب ﴾ چه طارق يو پړقيدونکې روښانه ستورې دې د الثاقب ډيرې معنې دی (۱) اوچت (۲) روښانه (۳) سورې کونکې.

سوال: د النجم الثاقب نه کوم ستورې مراد دې؟

جواب: په دې کښې د مفسرينو ډير اقوال دی (۱) د دې نه څه خاص ستورې مراد نه دې بلکه هر ستورې ترې مراد دې کوم چه ماتيدو سره غورځيږی او د هغه نه رڼا خوريږی. (۲) د دې نه مراد ثريا ده چه هغه د ستورو يو غنچکه ده چونکه د هغوی په يو ځائې کيدو سره رڼا ډيره وی په دې وجه ورته النجم الثاقب وئيلې شوې دې. (۳) د النجم الثاقب نه زحل ستورې مراد دې کوم چه په اووم آسمان باندې دې د هغه رڼا په اووه واړه آسمانونو کښې سورې کولو سره په زمکه باندې راځی په دې وجه ورته النجم الثاقب اوئيلې شو.

سوال: د ستوری ماتيدلو او راپريوتلو څه فائدې دی؟

جواب: د دې ډير فائدې دی: (۱) د رسول الله ﷺ د نبوت نه مخکښې به د جناتو شيطانان اووم آسمان ته نزدې تلو سره خبرې په پټه اوريدلې

کوم چه به ملائکو ته حکم کیدلو. هغه به ئې واؤریدلو بیا به ئې پکښې څه د خپل طرفه کولو سره یو ځائې کړل بیا بـه ئې راتلو سره کاهنانو ته د هغې خبر ورکړو د رسول الله ﷺ د مبعوث کیدو نه پس هغوی بند کړې شو که یو شیطان بـه خبرې اوریدلو د پاره پورتـه ځی نو دا ستورې ماتیدو سره په هغـه باندې راپریوځی او هغـه اوسوزی. (۲) د آسمان د ښکلا د پاره (۳) د قدرت نخښنه خودلو سره بندګان ویرول.

﴿ان کل نفس لما علیها حافظ﴾ دا جواب د قسم دې د همغه مضمون د پخولو د پاره قسم خوړلې شوې دې پـه قسم او جواب قسم کښې مناسبت دا دې چه څنګه په آسمان باندې ستورې هر وخت محفوظ وی مګر د هغوی ښکاره کیدل خاص دی صرف د شپې سره دغه شان د انسان اعمال هم په نامه اعمال کښې محفوظ دی خو د هغې ښکاره کیدل به صرف د قیامت پـه ورځ باندې وی.پـه ﴿ان کل نفس﴾ کښې ان نافیـه دې لمـا پـه معنـی د الادې مقـصد دا دې چـه پـه هـر انـسان باندې یو محافظ او نګران دې کوم چه د هغـه ټول افعال او اعمال او حرکات او سکناتو تـه ګوری پیژنی ئې او هـر عمـل لـره لیکی او دا لیکل د دې د پاره وی چه د قیامت په ورځ د هغه محاسبه اوکړې شی په دې وجه انسان ته پکار دی چه هغه یو وخت هم د قیامت او آخرت نه غافل نه وی د هر کار د کولو نه مخکښې د هغـه کـار پـه انجـام کښې سوچ اوکړی.

فائده: د حافظ دوه معنې بیان کړې شوې دی: (۱) نګران مقصد بـه دا وی چه الله پاک په هر انسان باندې نګران ملائک مقرر کړی دی کوم چه دهغوی په عملونو باندې نظرساتی چه د هغوی حساب واخستلې

شی په دې صورت کښې به د حافظ نه مراد کرام کاتبین ملائک وی کوم چه د انسان عملونه لیکی. (۲) حافظ په معنی د محافظ او نگهبان په دې صورت کښې به د آیت نه مراد هغه ملائک وی کومې چه الله پاک د هر انسان د حفاظت د پاره مقرر کړی دی کوم چه د ټولو افتونو او مصیبتونو نه انسان بچ کوی سوا د هغه مصیبت نه کوم چه الله پاک د هغه د پاره مقدر کړې دې رسول الله ﷺ فرمائی چه د هر مومن د حفاظت د پاره الله پاک درې سوه او شپیتهٔ ملائک مقرر کړې دی کوم چه د هغه د هر اندام حفاظت کوی اووهٔ ملائک صرف د سترګو د حفاظت د پاره دی که دا محافظ ملائک نه وی نو شیطانان به انسان د ځان سره اوچت کړی.(قرطبی)

﴿ فلینظر الانسان مم خلق ﴾ په دې آیت کښې الله پاک خپل قدرت لره بیانوی او د مشرکانو د شک جواب ورکوی کوم چه شیطان د هغوی په زړونو کښې اچوی چه د مړ کیدو سره د خاورې او ذرې ذرې کیدو نه پس د دې ټول اجزاء جمع کیدل او په هغې کښې د ژوند پیدا کیدل ګران او ناممکن دی الله پاک په دې آیت کریمه کښې د دې شک جواب ورکوی چه تاسو لږ په خپل زور پیدائش کښې سوچ اوکړئ چه الله پاک څنګه انسان د دنیا د مختلفو ذراتو جمع کولو نه پیدا کړو بیا ئې هغه یو ژوندې اوریدونکې او لیدونکې انسان جوړ کړو آیا هغه ذات د هغه په دوباره ژوندی کولو باندې قادر نه دې؟

﴿خلق من ماء دافق یخرج من بین الصلب و الترائب ﴾ مقصد دا دې چه انسان د نطفې نه پیدا کړې شوې دې کومه چه د سړی د ملا او د ښځې د سینې نه راوځی او په وخت د خروج کښې په هغې کښې ټوپ

وي او د دوی دواړو د نطفې په يو ځائې کيدو باندې د انسان پيدائش کيږی.

فائده: د عامو مفسرينو قول دې چه د سړی نطفه د شا نه اوځی او د ښځې د سينې نه د قرآن پاک ظاهری الفاظ هم د دې تائيد کوی خو د انسانی اندامونو د ماهرانو ډاکټرانو رائې دا ده چه نطفه په حقيقت کښې د انسان د هر اندام نه اوځی او د کوم اندام نه چه نطفه اوځی د ماشوم هم هغه جز د دې نطفې نه جوړولې شی دا قول هم د قرآن کريم خلاف نه دې ځکه چه وئيلې شی چه نطفه پيدا کيږی خو د هر اندام نه خو د سړی نطفه په شا کښې جمع کيږی بيا د همغه ځائې نه راوځی او د ښځې په سينه کښې جمع کيږی او د همغه ځآئې نه راوځی يا ممکنه ده چه د دواړو نطفه د ملا او د سينې د مينځ نه راوځی. (دا قول راجح ښکاری ځکه قرآن کريم د ښځې او د سړی فرق نه دې کړې) ﴿انه على رجعه لقادر﴾ مقصد دا دې چه کوم ذات اول انسان له د نطفې نه جوړ کړو هغه د هغه په دوباره ژوندی کولو هم قادر دې. ﴿يوم تبلى السرائر﴾ مقصد دا دې چه دا دوباره ژوندی کول به په هغه ورځ باندې وی په کومه ورځ چه ټولې د راز خبرې او د انسان پټې خبرې چه په زړه کښې به ئې پټولې يا کوم اعمال او افعال چه هغه به پټه کړې وو ټول به راښکاره کړې شی.

﴿فما له من قوة ولا ناصر﴾ مقصد دا دې چه په هغه ورځ به د هغه دپاره هيڅ طاقت هم نه وی او مددګار به هم نه وی چه د دې پټو خبرو د اظهار نه ئې بند کړې شی ﴿والسمآء ذات الرجع﴾ د رجع معنی د باران ده ځکه چه هغه بار بار واپس راځی په مخکښې

آیتونو کښې الله پاک دا مضمون بیان فرمائیلې وو چه مونږ د انسان په دوباره ژوندی کولو باندې قادر یو هم د هغې یو مثال ئې بیان فرمائیلې دې چه د هغې هر انسان مشاهده کوی چه په باران کښې شینکی راخیژی او هغه یو طبعی عمر ته رسیدلو سره ذرې ذرې شی نیست او نابود شی په بل کال بیا باران اوشی نو هم هغه شینکی دوباره ژوندی کیدلو سره په خپل حالت باندې راشی هم دغه شان به انسان هم د ختمیدلو نه پس دوباره ژوندې کیږی بعض مفسرین د ذات الرجع مراد د چکر لګولو اخستلې دې مقصد به دا وی چه قسم دې په آسمان کوم چه چکر لګونکې دې تاویدونکې دې ﴿ والارض ذات الصدع ﴾ قسم دې په زمکه باندې چه څیرې کیدونکې ده مقصد دا دې چه په زمکه کښې ډیر څیزونه پټ دی جرړې بوټی دی چینې دی خزانې دی په یو وخت باندې یعنی د بهار په موسم کښې هغه ښکاره کیږی هم دغه شان به د انسان پټې خبرې هم یو نه یو ورځ راښکاره شی.

﴿ انه لقول فصل ﴾ د ه ضمیر مرجع کښې دوه احتمالات دی:

(١) رجع یعنی د مرګ نه پس دوباره ژوندی کول پخه او یقینی خبره ده او څه توقې نه دې. (٢) د ه ضمیر مرجع قرآن دې نو مقصد به دا وی چه بیشکه قرآن پاک د حق او باطل فیصله کونکې دې ﴿ وما هو بالهزل ﴾ مقصد دا دې چه قرآن پاک څه بکواس او د ګپ شپ خبرې نه دی بلکه یقینی حقیقت دې.

﴿ انهم یکیدون کید ﴾ مقصد دا دې چه اهل مکه د رسول الله ﷺ خلاف او د دین اسلام خلاف او د حق د نور د وژلو د پاره

مختلف تدبيرونه کوی ﴿ و اکید کیدا ﴾ او زه هم هغوی ته د سزا ورکولو او د اسلام د غالب کولو تدبیرونه کوم او ښکاره خبره ده د الله پاک تدبیر غالب دي.

﴿ فمهل الکفرین امهلهم رویدا ﴾ مقصد دا دي چه کله تاسو اي نبی ﷺ زما تدبیر کول واوریدل نو تاسو د کفارو د مهلت نه ویریږئ مه او مه په دوی باندي د زر عذاب راتلو خواهش کوئ بلکه دوی یو څو ورځي هم داسي پریږدئ مهلت ورکړئ بیا به زه په دوی باندي عذاب نازل کړم که په دنیا کښ شو او که په آخرت کښ.

سورة الاعلی مکیة

ایاتها ١٩	بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ	رکوعها ١

﴿ سَبِّحِ ٱسْمَ رَبِّكَ ٱلْأَعْلَى ۝١ ٱلَّذِى خَلَقَ فَسَوَّىٰ ۝٢ وَٱلَّذِى
قَدَّرَ فَهَدَىٰ ۝٣ وَٱلَّذِىٓ أَخْرَجَ ٱلْمَرْعَىٰ ۝٤ فَجَعَلَهُۥ غُثَآءً أَحْوَىٰ ۝٥
سَنُقْرِئُكَ فَلَا تَنسَىٰٓ ۝٦ إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُ ۚ إِنَّهُۥ يَعْلَمُ ٱلْجَهْرَ وَمَا يَخْفَىٰ
۝٧ وَنُيَسِّرُكَ لِلْيُسْرَىٰ ۝٨ فَذَكِّرْ إِن نَّفَعَتِ ٱلذِّكْرَىٰ ۝٩ سَيَذَّكَّرُ مَن
يَخْشَىٰ ۝١٠ وَيَتَجَنَّبُهَا ٱلْأَشْقَى ۝١١ ٱلَّذِى يَصْلَى ٱلنَّارَ ٱلْكُبْرَىٰ ۝١٢ ثُمَّ
لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيَىٰ ۝١٣ قَدْ أَفْلَحَ مَن تَزَكَّىٰ ۝١٤ وَذَكَرَ ٱسْمَ رَبِّهِۦ
فَصَلَّىٰ ۝١٥ بَلْ تُؤْثِرُونَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا ۝١٦ وَٱلْءَاخِرَةُ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰٓ ۝١٧ إِنَّ
هَٰذَا لَفِى ٱلصُّحُفِ ٱلْأُولَىٰ ۝١٨ صُحُفِ إِبْرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ ۝١٩ ﴾

ترجمه: پاکي بیانوه د خپل رب د نوم چه اوچت دې... هغه ذات چا چه پیدا کړو (انسان) بیا ئې درست کړو او هم ذات کوم چه اندازه اوکړه او هغه هدایت ورکړو او هغه ذات چه چا راوتوکوله ګیا او بیا جوړ کړو د هغې نه خس تور... زر ده چه مونږ به په تا باندې اولولو پس تا نه به نه هیریږی... مګر هغه چه الله اوغواړی هغه عالم دې په ښکاره خبره هم او په پټه هم.... او لاړ به اوښایو تا ته د آسانتیا په طرف... پس ته نصیحت کوه که نفع ورکوی نصیحت.... زر ده چه پند به واخلی هغه څوک چه ویریږی.... او لرې کیږی د دې نصیحت نه بدبخته (انسان).... هغه چه داخل به شی لوئې اور ته... بیا به نه مړ کیږی په هغې کښې او نه به ژوندې وی.... یقینا کامیاب شو هغه انسان چه پاک شو... او د خپل رب د نوم ذکر ئې اوکړو او مونځ ئې اوکړو... بلکه تاسو ترجیح ورکوئ دنیاوی ژوند ته.... او آخرت ډیر غوره او ډیر باقی دې.... دا خبرې په مخکښنو صحیفو کښې دی.... د ابراهیم علیه السلام او د موسی علیه السلام په صحیفو کښې.

حل المفردات: سبح واحد مذکر امر حاضر معروف د باب تفعیل نه مونځ کول سبحان الله وئیل د الله پاک پاکی بیانول فهدی واحد مذکر غائب ماضی معروف په اصل کښې هدی رهنمائی کول غثاء خس وغیره کوم چه د سیلاب د زګ سره یو ځائې شوې وی د باب (ن،ض) خراب او بیکاره کیدل...احوی واحد مذکر اسم تفضیل په اصل کښې احويَ وو په قانون د قال احوی شو په معنی د تور د باب (س) سوروالی یا شین والی ته مائل توریدل.سنقرئک جمع متکلم مضارع معروف د باب افعال نه لوستل فلا تنسی واحد مذکر حاضر مضارع معروف منفی د باب (س) هیرول په اصل کښې تنسی وو.ما

یخفی واحد مذکر غائب مضارع معروف د باب (س) نه پټیدل په اصل کښ یخفی وو په قانون د قال نیسرک جمع متکلم مضارع معروف د پاب تفعیل نه اسانول.

فذکر واحد مذکر امر حاضر د باب تفعیل نه یادول وعظ او نصیحت کول.نفعت واحده مونثه ماضی معروف د باب (ف) نفع ورکول.ویتجنبها واحد مذکر غائب مضارع معروف د باب تفعل نه لرې کیدل. الاشقی واحد مذکر اسم تفضیل په اصل کښ الاشقي وو په قانول د قال د باب (س) نه بدبخت کیدل.لا یموت واحد مذکر غائب مضارع منفی د باب (س) نه ژوندې کیدل افلح واحد مذکر غائب ماضی معروف د باب افعال نه کامیابیدل تزکی واحد مذکر غائب په اصل کښ تزکی وو پاکیدل د باب تفعل نه صلی واحد مذکر غائب ماضی معروف په اصل کښ صلیَ وو د باب تفعیل نه مونځ کول تؤثرون جمع مذکر حاضر مضارع معروف د باب افعال نه ترجیح ورکول،فضیلت ورکول خیر صیغه د اسم تفضیل په اصل کښ اخیر وو د یا فتحه نقل کولو سره ماقبل ته ورکړې شوه همزه خلاف القیاس اوغورځولې شوه په آخرکښ تنوین داخل کړې شو خیر شو.ابقی واحد مذکر اسم تفضیل په اصل کښ ابقی وو د باب (س) باقی پاتې کیدل.

﴿ سبح اسم ربک الاعلی الذی خلق فسوی والذی قدر فهدی والذی اخرج المرعی فجعله غثاء احوی ﴾ سبح فعل انت ضمیر فاعل اسم مضاف رب مضاف ک ضمیر مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه مضاف الیه شو د پاره د اسم مضاف...مضاف سره د مضاف الیه نه موصوف شو الاعلی صفت اول الذی اسم موصول خلق فعل

فاعل فعل سره د فاعل نه معطوف علیه فا عاطفه سوی فعل هو ضمیر فاعل فعل سره د فاعل نه معطوف...معطوف سره د معطوف علیه نه صله شوه د پاره د الذی اسم موصول صله سره د موصول نه معطوف علیه واؤ عاطفه الذی اسم موصول قدر فعل فاعل فعل سره د فاعل نه معطوف علیه فا عاطفه هدی فعل او فاعل معطوف معطوف علیه سره د معطوف نه صله شوه د پاره د موصول صله سره د موصول نه معطوف اول واؤ عاطفه الذی موصول اخرج فعل او فاعل المرعی مفعول به فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه معطوف علیه فا عاطفه جعل فعل ه ضمیر مفعول اول غثاء موصوف احوی صفت موصوف سره د صفت نه مفعول ثانی فعل سره د فاعل او د دوارو مفعولینو سره معطوف شو،معطوف علیه سره د معطوف نه صله شوه د پاره د موصول صله سره د موصول نه معطوف ثانی شو،معطوف علیه سره د دواړه معطوفاتو نه صفت ثانی شو د پاره د ربک...موصوف سره د صفتینو نه مضاف الیه شو د پاره د اسم مضاف ،مضاف سره د مضاف الیه نه مفعول به شو د پاره د سبح فعل فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعلیه انشائیه شوه.

﴿ سنقرئک فلا تنسی الا ماشاء الله ﴾ سین د پاره د استقبال نقرئ فعل او فاعل کاف ضمیر مفعول به فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه معطوف علیه فاء عاطفه لانافیه تنسی فعل انت ضمیر فاعل الاحرف استثناء ما موصوله شاء فعل الله فاعل فعل سره د فاعل نه صله شوه دپاره د ما موصول دپاره.موصول سره د صله نه مستثنی مفرغ شو د پاره د مستثنی منه محذوف شیئا د پاره،

مستثنی منه سره د مستثنی نه مفعول به شو د پاره د لاتنسی فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه معطوف شو. معطوف علیه سره د معطوف نه جمله معطوفه شوه. ﴿ انه یعلم الجهر و ما یخفی ﴾ ان حرف د حروف مشبه بالفعل نه ه ضمیر ئې اسم یعلم فعل هو ضمیر فاعل الجهر معطوف علیه واؤ عاطفه ما موصوله یخفی فعل او فاعل فعل سره د فاعل نه صله شوه د پاره د موصول صله سره د موصول نه معطوف شو، معطوف علیه سره د معطوف نه مفعول به شو د پاره د یعلم فعل... فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره خبر شو د پاره د ان، ان د خپل اسم او خبر سره جمله اسمیه خبریه شوه. ﴿ و نیسرک للیسری ﴾ واؤ عاطفه نیسر فعل سره د فاعل کاف ضمیر مفعول به لام جار یسری مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو په نیسر فعل پورې فعل سره د فاعل او سره د متعلق نه جمله فعلیه خبریه شوه. ﴿ فذکر ان نفعت الذکری ﴾ فا جزائیه ذکر فعل انت ضمیر فاعل فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه انشائیه کیدو سره جزاء مقدم ان شرطیه نفعت فعل الذکری فاعل فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره شرط شرط سره د خپلې جزا نه جمله شرطیه شوه.

﴿ سیذکر من یخشی و یتجنبها الاشقی الذی یصلی النار الکبری ﴾ سین د پاره د استقبال یذکر فعل من موصوله یخشی فعل او فاعل فعل سره د فاعل نه صله شوه د پاره د موصول صله سره د موصول نه فاعل شو د پاره د یذکر فعل فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره معطوف علیه وا عاطفه یتجنب فعل ها

ضمیر مفعول به مقدم الاشقی موصوف الذی اسم موصول یصلی فعل او فاعل النار موصوف الکبری صفت موصوف سره د صفت نه مفعول فیه شو د پاره د یصلی یصلی فعل سره د فاعل او سره د مفعول فیه نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره معطوف علیه.

﴿ ثم لا یموت فیها ولا یحیی ﴾ ثم عاطفه لا نافیه یموت فعل فاعل فی جار ها ضمیر مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو په یموت فعل پورې فعل سره د فاعل نه معطوف علیه واؤ عاطفه لا نافیه یحیی فعل او فاعل فعل سره د فاعل نه معطوف معطوف علیه سره د معطوف نه بیا معطوف شو د پاره د یصلی، یصلی معطوف سره د معطوف علیه نه صله شوه د پاره د موصول موصول سره د صله نه صفت دې د پاره د الاشقی موصوف سره د صفت نه فاعل شو د پاره د یتجنب فعل فعل سره د فاعل نه معطوف شو د پاره د سیذکر معطوف علیه معطوف علیه سره د معطوف نه جمله معطوفه شوه.

﴿ قد افلح من تزکی و ذکر اسم ربه فصلی ﴾ قد د پاره د تحقیق افلح فعل من موصوله تزکی فعل او فاعل فعل سره د فاعل نه معطوف علیه واؤ عاطفه ذکر فعل او فاعل اسم مضاف رب مضاف ہ ضمیر مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه بیا مضاف الیه شو د پاره د اسم مضاف مضاف سره د مضاف الیه نه مفعول به شو فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه معطوف علیه فا عاطفه صلی فعل او فاعل فعل سره د فاعل نه معطوف، معطوف علیه سره د معطوف نه بیا معطوف شو د پاره د تزکی معطوف علیه، معطوف

علیه سره د معطوف نه صله شوه د پاره د موصول صله سره د موصول نه فاعل شو د پاره د افلح فعل فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه خبریه شوه.

﴿بل تؤثرون الحیوة الدنیا والاخرة خیر و ابقی﴾ بل عاطفه تؤثرون فعل واؤ ضمیر بارز ذوالحال الحیوة موصوف الدنیا صفت موصوف سره د صفت نه مفعول به شو د پاره د تؤثرون واؤ حالیه الآخرة مبتدا خیر معطوف علیه واؤ عاطفه ابقی معطوف معطوف علیه سره د معطوف نه خبر شو د پاره د مبتدا مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه کیدو سره محلا منصوب حال شو د پاره د ذوالحال ذوالحال سره د حال نه فاعل شو د پاره د تؤثرون فعل فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعلیه خبریه شوه.

﴿ان هذا لفی الصحف الاولی صحف ابراهیم و موسی﴾ ان حرف دي د حروف مشبه بالفعل نه هذا اسم لام تاکیدیه فی جار الصحف موصوف الاولی صفت موصوف سره د صفت نه مبدل منه شو صحف مضاف ابراهیم معطوف علیه واؤ عاطفه موسی معطوف معطوف علیه سره د معطوف نه مضاف الیه شو د پاره د مضاف مضاف الیه سره د مضاف نه بدل شو د پاره د مبدل منه...بدل سره د مبدل منه مجرور شو د پاره د فی جار جار سره د مجرور نه متعلق په موجود پورې کیدو سره خبر شو د پاره د ان ... ان د خپل اسم او خبر سره جمله اسمیه خبریه شوه.

تفسیر: نوم سورة الاعلی **ربط** : (۱) په تیر سورة کښ د آخرت د مجازاتو بیان وو په دي سورة کښ هم مقصود اصلی د آخرت د

کامیابۍ بیان دي او د فلاح او د کامیابۍ د طریقو بیان دي مثلا تسبیح د الله پاک د ذات او د صفاتو معرفت،تزکیه د نفس د الله پاک ذکر او مونځ (٢) په تیر سورة کښې د انسان او د بوټو د ابتدائی تخلیق بیان وو په دې سورة کښې د هغې د انتهاء بیان دې.

﴿ فجعله غثاء احوی ﴾ چه آخر مړاوې شی او ذره ذره کیدو سره په هوا کښې الوځی.

شان نزول: کله چه په رسول الله ﷺ باندې لوئې لوئې سورتونه نازل شو او د بیشماره علومو او معارف فیضان شروع شو نو په زړه کښې ئې خیال راغلو چه خپله خو مې څه لوستلې لیکلې نه دی هیر رانه نه شی الله پاک هغوی ته د تسلۍ ورکولو د پاره دا سورة مبارک نازل کړو.(حقانی)

﴿ سبح اسم ربک الاعلی ﴾ الله پاک حکم اوفرمائیلو چه اې مسلمانه د خپل رب د نوم د پاکۍ بیان اوکړه د تسبیح معنی پاک ساتل دی یا پاکی بیانول دی د الله پاک د نوم د پاک ساتلو ډیر صورتونه دی: (١) د الله پاک د نوم دې احترام اوکړې شی پوره تعظیم دې اوکړې شی (٢)چه کله د الله پاک نوم واخستلې شی نو په خشوع او خضوع سره دې واخستلې شی (٣) الله پاک دې صرف په هغه نومونو سره یاد کړې شی کوم چه هغه ځان ته پخپله وئیلې دی یا د الله پاک رسول الله ﷺ کیخودلې دی.د هغه نومونو نه علاوه د خپل طرف نه یو نوم جوړولو سره کیخودل جائز نه دی.

مسئله: هغه نومونه کوم چه د الله پاک سره خاص دې د هغې استعمال د مخلوق د پاره جائز نه دې ځکه چه دا د تقدیس خلاف ده مثلا

عبدالرزاق ته صرف رزاق ونیل عبدالرحمن ته صرف رحمن ونیل عبدالقدوس ته صرف قدوس ونیل گناه ده ویونکي او اوریدونکي به دواړه گناهگار وی بلکه ضروری ده چه د نوم په ابتداء کښې یا په آخر کښې څه اضافه اوکړې شی چه په هغې سره فرق واضح شی بعض مفسرینو وئیلې دی چه لفظ د اسم زائد دې مقصد دا دې چه د خپل رب د ذات تسبیح او تقدیس کوئ چه د الله پاک ذات د شرک نه پاک دې د اولاد نه پاک دې د حاجت نه پاک دې د ټولو نقصاناتو او عیبونو نه پاک دې الاعلی د الله پاک د صفتونو بیان دې او په دې کښې د تسبیح د بیانولو علت ذکر کړې شوې دې چونکه د الله پاک ذات د ټولو نه عالی شان او اوچت دې په دې وجه هغه مستحق دې چه د هغه تسبیح او تقدیس بیان کړې شی الذی خلق نه د دویم صفت بیان دې مقصد دا دې چه الله پاک هر څیز پیدا کړې دې د خلق معنی یو څیز لره د عدم نه بغیر د یوې مادې په وجود کښې راوستل دا کار د یو مخلوق په وس کښې نه دې صرف د الله پاک په قدرت کامله سره کیدیشی فسوی تسویه نه مشتق دې لغوی معنی ئې ده برابرول مقصد دا دې چه الله پاک هر څیز ته کوم وجود ورکړې دې د هغه څیز په اعضاء او اجزاء کښې او د هغه په شکل او صورت او جسامت کښې ئې د خاص مناسبت لحاظ اوساتلو هر انسان هر خناور ته د هغه د ضروریاتو مناسب اندامونه ورکړې شو په لاس خپو او د هغوی په گوتو کښې داسې قدرتی سپرنګ اولگولې شو چه هغه هر طرف ته تاویدلې شی.

﴿ والذی قدر ﴾ د تقدیر نه مشتق دې لغوی معنی ئې ده (۱) یو څیز لره په خاص اندازه باندې جوړول (۲) په معنی د قضاء قدر او

فیصله کول د اول معنې مطابق به ئې مقصد دا وی چه الله پاک هر یو
څیز لره د اندازې سره جوړ کړې دې د چا چه څومره ضرورت وو
هومره ئې پیدا کړو د دویمې معنی مطابق به ئې مقصد دا وی چه الله
پاک د هر څیز د پیدا کولو نه پس د هغه متعلق فیصله اوفرمائیله چه
دې به څهٔ کار کوی بس هغه ئې هم په هغې کښې اولګولو که غور
اوکړې شی نو د دنیا هر څیز هم هغه کار سر ته رسوی کوم چه الله
پاک د هغه په ذمه لګولې دې که نمر وی که سپوږمۍ وی یا ستوری
آسمان دې که حیوانات دی یا نباتات دی او د قدر نه هم دا تقدیر
مراد دې ﴿ فهدی ﴾ مقصد دا دې چه الله پاک کوم څیز د کوم کار د
پاره پیدا کړې دې هغه ته ئې د هغې هدایت هم اوکړو طریقه ئې ورته
هم اوخودله او د هغه په زړه کښې ئې دا خبره واچوله چه دا کار څنګه
کول دی او دا ټول هدایات ټول مخلوقاتو او کائنات ته شامل دی که
په آسمان باندې آسمانی مخلوق وی یا په زمکه باندې نور د زمکې
مخلوقات وی ځکه چه الله پاک هغوی ته هم دومره شعور ورکړې دې
چه په هغې سره هغوی پوهیږی چه هغوی له څه کول پکار دی هم دا
وجه ده چه آسمان او زمکه او ستوری او غرونه دریابونه وغیره چه په
کوم کار باندې لګولې شوې دی هغوی هم هغه کارونه کوی بغیر د
څه کمی او کوتاهۍ یا سست والی او غفلت نه هم دغه شان انسان او
حیواناتو ته الله پاک د خپل ژوند د ضروریاتو د حاصلولو او د خپل
مخالف څیزونو د دفع کولو د پاره عجیب او غریب هنرونه ښودلې
دی چه عقل حیران پاتې شی... ﴿ والذی اخرج المرعی فجعله غثاء
احوی ﴾ په دې آیت کریمه کښې د قدرت بیان دې چه د الله پاک ذات

څنګه د قدرت والا دي چه د زمکي نه ئي شنه ګیا راوټوکوله بیا څه
موده پس د اوچولو سره توریدلو باندي ذره ذره او پوټي پوټي کړل په
دي سره انسان هم د هغه د انجام نه خبرولي شی چه اي انسانه د خپل
بدن ښکلا او ډول تکړه والی ته نظر مه کوه بلکه انجام ته نظر کوه
ستا دا بدن به هم د اوچي ګیا په شان ذره ذره شی.

﴿ سنقرئک فلا تنسی ﴾ ربط په مخکښ آیتونو کښ الله پاک
د خپل قدرت او حکمت څو نموني بیان فرمائیلو نه پس انسان د
خپل انجام نه خبر کړو چه د هغي نه ثابته شوه چه د دنیا ژوند
عارضی دي په دي وجه د آخرت د ژوند تیاري کول پکار دی کوم
ځائي چه په اعمالو باندي جزا او سزا کیدونکي ده د آخرت د پاره
څنګه تیاری اوکړي شی د هغي د رهنمائي د پاره قرآن نازل کړي شو
او رسول الله ﷺ هم د دي قرآن پاک د تبلیغ د پاره راولیږلي شو اوس
به راتلونکو آیتونو کښ رسول الله ﷺ ته د تبلیغ ‹ او د پیغمبری
فریضي د ادا کولو د پاره څه هدایات ورکولي شی او د هدایاتو نه
مخکښ رسول الله ﷺ ته زیري ورکولي شی چه مونږ به ستاسو د
پاره د تبلیغ فریضه او شریعت مطهره بالکل آسان کړو په دي وجه ئي
اوفرمائیل ﴿ سنقرئک ﴾ مقصد دا دي چه قرآن پاک به مونږ تاسو ته
لولو او د دي تاسو ته یاد ساتل زمونږ ذمه داری ده په دي وجه تاسو
به پریشانئ کښ مه اخته کیږئ چه تاسو نه به دا هیر شی داسي به
بالکل نه کیږی که مونږ د یو آیت ستاسو نه هیرول اوغواړو نو بیا به
تاسو هغه هیر کړئ په شروع کښ چه به کله جبرائیل علیہ السلام وحی راوړه
نو رسول الله ﷺ به هم د جبرائیل علیہ السلام سره لوستل شروع کړل په دي

ویره چه چرته ئې هیر نه کړم په دې باندې دا آیت نازل شو چه یادول زمونږ ذمه داری ده تاسو بې فکره شئ ﴿ و نیسرک للیسری ﴾ مقصد دا دې چه شریعت مطهره به تاسو لره آسان کړو په دې باندې تلل او عمل کول به ستاسو طبیعت جوړ شی هیڅ مشکل به نه راځی.

﴿ فذکر ان نفعت الذکری ﴾ په دې آیت کښ رسول الله ﷺ ته د تبلیغ د فریضې ادا کولو حکم دې چه اې پیغمبره خلقو ته نصیحت او تبلیغ اوکړئ که نصیحت نافع او مفید وی او د نصیحت نافع او مفید کیدل واضح او یقینی دی په دې وجه تاسو دا مه پریږدئ خو د دې نصیحت نه فائده او اثر مومن حاصلوی کوم چه د الله پاک نه ویریږی په دې وجه ئې اوفرمائیل ﴿ سیذکر من یخشی و یتجنبها الاشقی ﴾ مقصد دا دې چه تاسو خو اې نبی ﷺ وعظ او تبلیغ کوئ خو ستاسو د نصیحت نه به اثر او فائده هم هغه سړې حاصلوی چه د هغه په زړه کښ د الله پاک ویره ده او بدبخته او بدنصیبه انسان د دې نصیحت نه لرې تختی او د دې اثر نه قبلوی او آخر به د دوزخ اور کوم چه د دنیا د اور نه ډیر تیز دی داخلیږی.

﴿ ثم لا یموت فیها ولا یحیی ﴾ هلته به په اور کښ دا حالت وی چه نه به پرې مرګ راځی او نه به ژوند فائده ورکوی څکه چه آرام او سکون وی نه وی نو ژوند ته نه کیدلو برابر دې. ﴿ قد افلح من تزکی ﴾ مقصد دا دې چه کوم سړی خپل ځان پاک کړو هغه کامیاب دې مثلاً د خپل زړه خیری ئې پاک کړل او د الله پاک په ذکر باندې ئې خپل بدن او اندامونه پاک کړل په مونځ کولو سره خپل مال ئې پاک کړو په زکواة ادا کولو سره نو هغه به په آخرت کښ کامیاب وی

﴿و ذكر اسم ربه فصلى﴾ د تزكيه د تفسير او وضاحت دې چه خپل رب ئې ياد كړو او مونځ ئې ادا كړو په دې كښې هر قسم مونځ داخل دې فرض نفل عيدين وغيره.

﴿بل تؤثرون الحيوة الدنيا﴾ مقصد دا دې چه اې كفارو تاسو د آخرت د ژوند د كاميابۍ سامان نه تياروئ بلكه د دنيا د ژوند خوښوئ او اختياروئ د دنيا د اختيارولو وجه دا ده چه د دنيا نعمت او آرام نقد او حاضر دې، د آخرت هغه غائب او قرض دې كوم خلق چه حقيقت نه پيژنی هغوی نقد او حاضر لره ترجيح وركړې ده كومه چه د هميشوالی د تاوان ذريعه ده هم د دې تاوان نه د بچ كولو د پاره الله پاک انبياء او رسولان راوليږل چه هغوی : اخرت نعمتونه داسې واضح كړل گويا چه زمونږ د سترگو مخامخ دی او هغوی اووئيل چه كوم تاسو نقد گڼړلو سره اختيار كړی دی دا ناقص او كوته مال دې فنا كيدونكې دې په دې وجه ئې اوفرمائيل ﴿والآخرة خير و ابقى﴾ مقصد دا دې چه دنيا كومه چه تاسو خوښه كړې ده چه په هغې باندې تاسو مئين ئې د دې نعمتونو او آرام عارضی دې او ختميدونكې دې د نن بادشان د صبا فقير دې د نن ځوان د صبا بوډا دې په دې وجه د آخرت نعمتونه كوم چه به هيڅ كله نه ختميږی او هميشه به وی چه په هغې كښې به د مشقت نوم او نخښه هم نه وی هغه ستاسو د پاره ډير غوره دی په دې وجه د هغې د حصول كوشش اوكړئ ﴿ان هذا لفى الصحف الاولى﴾ مقصد دا دې چه دا مضمون په مخكښې صحيفو كښې هم ذكر كړې شوې دې د هذا مشاراليه يا خو د پوره سورة مضامين دی يا صرف ﴿والآخرة خير و ابقى﴾ دا مضمون د

ابـراهيم عليه السلام پـه صـحيفو کښې هـم موجـود دي چـه د هغـې تعـداد لـس دي.او د موسى عليه السلام په صحيفو کښې هم دي د موسى عليه السلام د صحيفې نه مراد يا خو ثوراة دي يا د توراة نه مخکښې څه صحيفې نازلې کړې شوي وې هغه مراد دى.

اقتباسات من صحف ابراهيم عليه السلام : ابـوذر غفـارى رضي الله عنه د رسـول الله ﷺ نـه تپوس اوکړو چه په صحف ابراهيم عليه السلام کښې څـه وو نـو رسـول الله ﷺ اوفرمائيل د عبرت د مثالونو بيـان وو پـه هغـې کښې يـو مثـال کښې يـو ظالم بادشاه ته خطاب کولو سره فرمـائى اې پـه خلقـو بانـدې مسلط کيدونکى مغروره ما تـا تـه حکومت د دې د پـاره نـه وو درکړې چـه د دنيـا مـال جمع کړې بلکـه مـا بادشاهى دې د پـاره درکړې وه چـه تـه د مظلـوم بـد دعـا مـا تـه رانـه رسـئ ځکـه چـه زمـا قـانون دې چـه زه د مظلـوم بـد دعـا نـه رد کـوم اګـر چـه د کـافر د خـولې نـه ولـې نـه وى وتلـې.پـه يـو بـل مثـال کښې فرمـائى عقلمنـد تـه پکـار دى چـه خپـل وختونه په دريو حصو کښې تقسيم کړى (۱) د خپل رب عبادت اوکړى (۲) د خپلـو اعمـالو محاسـبه اوکـړى (۳) خپـل معاشـى او طبعـى ضرورتونه پوره کړى.(قرطبى)

اقتباسات من صحف موسى عليه السلام : (۱) مـا تـه تعجب راځى پـه هغـه سړى بانـدې چـه تـه هغـه تـه د مـرګ يقـين وى بيـا هغـه خوشـحاله څنګـه اوسيږى.(۲) ما تـه تعجب دې پـه هغـه سړى کـوم چـه پـه تقـدير باندې ايمان لرى بيـا هـم عـاجز او غمګيـن وى (۳)مـا تـه تعجب دې پـه هغـه سړى باندې کوم چه د دنيا ادلون بدلون ګتـه تاوان تـه ګورى او بيـا هـم پـه دنيـا بانـدې مطمئن ناست دې.(۴)مـا تـه تعجب دې پـه هغـه سړى

کوم چه د آخرت په حساب او کتاب باندې یقین ساتی بیا هم عمل نه
کوی (قرطبی)

سورة الغاشية مكية

ركوعها ١	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	اياتها ٢٦

هَلْ أَتٰىكَ حَدِيْثُ الْغَاشِيَةِ ﴿١﴾ وُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ خَاشِعَةٌ ﴿٢﴾
عَامِلَةٌ نَّاصِبَةٌ ﴿٣﴾ تَصْلٰى نَارًا حَامِيَةً ﴿٤﴾ تُسْقٰى مِنْ عَيْنٍ اٰنِيَةٍ ﴿٥﴾
لَيْسَ لَهُمْ طَعَامٌ إِلَّا مِنْ ضَرِيْعٍ ﴿٦﴾ لَّا يُسْمِنُ وَلَا يُغْنِيْ مِنْ جُوْعٍ ﴿٧﴾
وُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ نَّاعِمَةٌ ﴿٨﴾ لِّسَعْيِهَا رَاضِيَةٌ ﴿٩﴾ فِيْ جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ﴿١٠﴾ لَّا
تَسْمَعُ فِيْهَا لَاغِيَةً ﴿١١﴾ فِيْهَا عَيْنٌ جَارِيَةٌ ﴿١٢﴾ فِيْهَا سُرُرٌ مَّرْفُوْعَةٌ ﴿١٣﴾
وَأَكْوَابٌ مَّوْضُوْعَةٌ ﴿١٤﴾ وَنَمَارِقُ مَصْفُوْفَةٌ ﴿١٥﴾ وَزَرَابِيُّ مَبْثُوْثَةٌ ﴿١٦﴾

ترجمه: آیا تا ته خبر راغلی دې د پټونکی خبر....ډیر مخونه به په هغه ورځ ذلیل وی....محنت کونکې به وی سترې به وی....داخل به شی سخت گرم اور ته.....څکولې به شی په هغوی باندې د خوټکیدونکې چینې نه.....نه به د هغوی د پاره خوراک مگر د ازغو ډک جاځ....چه نه به څربه کول کوی او نه نوړه ختموی....ډیر مخونه به په دغه ورځ تر او تازه وی....په خپل کسب باندې به خوشحالیدونکی وی......فی جنة عالية.....نه به اورې ته په هغې کښې بکواس....په هغې کښې چینه ده بهیدونکې....په هغې کښې تختونه دی اوچت کړې شوی....او

گلاسونه دی ایخودلې شوې....او تکیې دی قطار کړې شوې .....او
قالینونه دی خوارهٔ کړی شوی.

حل المفردات : الغاشية واحده مونثه اسم فاعل پټول د باب (س) نه عاملة واحد مونثه اسم فاعل د باب (س) نه کار کول ناصبة (واحده مونثه اسم فاعل د باب (س) نه ستړې کیدل حامية واحده مونثه اسم فاعل د باب (س) نه تیز گرمیدل...انية واحد مونثه اسم فاعل د باب (ض) نه د گرمئ انتهاء ته رسیدل...ضريع د یوې اونې نوم دې چه د ازغو ډکه ده....لا یسمن واحد مذکر غائب د باب افعال نه څربول سمن غوړو ته وئیلې شی هغه هم غتول کوی لا یغنی واحد مذکر غائب مضارع معروف د باب افعال نه لرې کول، کافی کیدل مالدار کیدل، جوع د باب (ن) اوچتیدل لاغية واحده مونثه اسم فاعل د باب (ن) بغير د سوچ کولو نه یو خبره کول، جارية اسم فاعل د باب (ض) نه جاری کیدل بهیدل سرر جمع ده مفرد ئې سرير راخی تخت مرفوعة واحده مونثه اسم مفعول د باب (ف) نه اوچتیدل اکواب جمع د کوکب ده هغه گلاس یا کوزه چه لاسکې پکښې نه وی نمارق جمع ده نمرقة گول تکیې مصفوفه واحده مونثه اسم مفعول د باب (ن) صف جوړول و زرابی جمع ده مفرد ئې زربی دې هر هغه څیز کوم چه اوغوړولې شی او په هغې باندې تکیه اولگولې شی قالین او درئ وغیره مبثوثة واحد مونثه اسم مفعول د باب (ن،ض) خورول.

حل الترکیب: ﴿ هل اتک حديث الغاشية ﴾ هل د پاره د استفهام تقریری یا په معنی د قد ، اتی فعل کاف ضمیر مفعول به حدیث مضاف الغاشية مضاف اليه مضاف سره د مضاف اليه نه فاعل شو

د پاره د فعل.....فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله اسمیه خبریه یا انشائیه شوه.

﴿ وجوه یومئذ عاملة ناصبة تصلی نارا حامیة تسقی من عین انیة ﴾ وجوه مبتدا یوم مضاف اذ په اصل کښې اذ کان کذا په معنی کیدو سره مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه مفعول فیه شو د پاره د خاشعة،خاشعة خبر اول عاملة خبر ثانی ناصبة خبر ثالث تصلی فعل هی ضمیر فاعل نارا موصوف حامیة صفت موصوف سره د صفت نه مفعول فیه شو د پاره د تصلی فعل فعل سره د فاعل او د مفعول فیه سره جمله فعلیه خبریه کیدو سره خبر رابع دې د پاره د وجوه تسقی فعل هی ضمیر نائب فاعل من جار عین موصوف انیة صفت موصوف سره د صفت نه مجرور د جار شو جار سره د مجرور نه متعلق په تسقی پورې شو فعل سره د نائب فاعل او سره د متعلق نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره خبر رابع دې د پاره د وجوه....مبتدا سره د ټولو خبرونو نه جمله اسمیه خبریه شوه...﴿ لیس لهم طعام الا من ضریع ﴾ لیس فعل د افعال ناقصه نه لام جار هم ضمیر مجرور جار سره د مجرور نه ظرف مستقر متعلق په ثابتا پورې شو ثابتا د خپل متعلق سره خبر مقدم طعام مستثنی منه یا مبدل منه یا موصوف(اعراب) الا حرف استثناء من جار زائده ضریع موصوف....

﴿ لا یسمن ولا یغنی مـــن جـوع ﴾ لا نافیه یسمن فعل هو ضمیر ئې فاعل فعل سره د فاعل نه معطوف علیه شو واؤ عاطفه لا یغنی فعل هو ضمیر ئې فاعل فعل سره د فاعل نه معطوف معطوف علیه سره د خپل معطوف نه صفت دې د پاره د ضریع

موصوف سره د صفت نه مجرور دې د پاره د جار جار سره د مجرور نه مستثنی ده د پاره د مستثنی منه یا بدل دې د طعام نه یا صفت دې د طعام مستثنی منه د خپل مستثنی سره یا مبدل منه سره د بدل نه یا موصوف سره د صفت نه اسم شو د پاره د لیس،لیس سره د خپل اسم او خبر نه جمله فعلیه خبریه شوه.

﴿ وجوه یومئذ ناعمة لسعیها راضیة فی جنــة عالیــة ﴾ وجوه مبتــدا یومئــذ مــضاف الیــه مفعــول فیــه دې د پــاره د ناعمة،ناعمة خبر اول لام جار سعی مضاف ها ضمیر مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور دپاره د جار،جار سره د مجرور نه ظرف لغو متعلق په راضیة پورې کیدو سره خبر ثانی شو فی جار جنة مجرور موصوف عالیة صفت اول.

﴿ لا تسمع فیها لاغیة ﴾ لانافیه تسمع فعل انت ضمیر ئې فاعل فی حرف جار ها ضمیر مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو په لاتسمع پورې لاغیة مفعول به فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعلیه خبریه کیدو صفت ثانی شو د پاره د جنة.

﴿ فیها عین جاریة فیها سرر مرفوعة واکــواب موضــوعة و نمارق مصفوفة و زرابی مبثوثة ﴾ فی حرف جار ضمیر مجرور جار سره د مجرور نه خبر مقدم شو عین موصوف جاریة صفت موصوف سره د صفت نه مبتدا موخر شو،خبر مقدم سره د مبتدا موخر نه جمله اسمیه خبریه کیدو سره صفت ثالث شو د پاره د جنة....فی حرف جار ها ضمیر مجرور جار سره د مجرور نه خبر مقدم شو سرر مصوف مرفوة صفت موصوف سره د صفت نه معطوف علیه،واؤ عاطفه

اکواب موصوف موضوعة ئي صفت موصوف سره د صفت نه معطوف اول،واؤ عاطفه نمارق موصوف مصفوفة موصوف سره د صفت نه معطوف ثاني،وآؤ عاطفه زرابي موصوف مبثوثة ئي صفت،موصوف سره د صفت نه معطوف ثالث،معطوف عليه سره د ټولو معطوفاتو مبتدا موخر شوه د پاره د خبر مقدم مبتدا موخر سره د خبر مقدم نه جمله آسميه خبريه کيدو سره صفت رابع شو د پاره د جنة موصوف سره د ټولو صفاتو نه مجرور شو د پآره د جآر جآر سره د مجرور نه ظرف مستقر متعلق په کآئن پوري کيدو سره خبر ثالث دي د پاره د مبتدا مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه خبريه شوه.

تفسیر: سورة الغاشية مکی دي...

ربط: په تير سورة کښې د آخرت د تيارئ حکم وو په دي سورة کښې د تيارئ کونکو او نه کونکو د جزا او سزا بيان دي.

﴿هل اتک حديث الغاشية﴾ مقصد دا دي چه تاسو ته د غاشية په باره کښې څه معلوم دی؟دا استفهام تقريري دی يعنی يقينا تاسو ته معلوم دی.د غاشية په باره کښې دوه اقوال دی (۱) د دي نه مراد قيامت دي ځکه د غاشية معنی پټونکي دي قيامت به هم ناګهانه راتلو سره هر څيز د خپل هيبت او شدت د وجي نه پټ کړی.(۲) بعض مفسرينو وئيلی دی چه د دي نه مراد اور د دوزخ دي ځکه چه هغه به هم د کفارو مخونه پټ کړی. د﴿وجوه يومئذ﴾ مقصد دا دي چه د قيامت په ورځ باندي به ډير مخونه ذليل او خوار وی ذلت به د هغوی د مخونو نه ښکاره کيږی دا به هغه خلق وی کوم چه به په دنيا کښې د الله پاک مخکښې سر نه ښکته کولو تکبر

به ئې کولو نو په آخرت کښې به هغوی ته هم دا سزا ورکولې شي.
﴿عاملة﴾ عامله د عمل نه مشتق دې په محاوره کښې عامله لفظ د هغه چا د پاره استعمالیږي کوم چه مسلسل په کار کولو باندې ستړې شی د ناصبه معنی هم د ستړي والی راځي د عامله او ناصبه په باره کښې دوه اقوال دی: (۱) یا خو دا د کفارو او فاجرانو د دنیا د ژوند حال دې چه ډیر کفار او مشرکین او راهبان په مشرکانه عبادت او باطلو طریقو کښې مجاهده او عمل کوي ډیر راهبان داسې هم دی چه صرف د الله پاک د رضا د پاره ډیر زیات عمل او مشقت اوچتوی خو هغوی چونکه عبادت په باطلو طریقو باندې کوی په دې وجه به د هغې هیڅ اجر او ثواب نه وی. د حسن بصری رحمه الله نه روایت دې چه عمر فاروق رضی الله عنه چه کله د شام ملک ته تشریف یوړو نو یو نصرانی راهب هغوی ته راغلو چه بوډا وو چه ډیر عبادت او ریاضت د وجې نه ئې مخ ګډ وډ شوې وو بدن ئې اوچ لباس ئې کمزورې وو عمر رضی الله عنه چه د هغه حالت اولیدو نو په ژړا شو او وې فرمائیل ما ته د دې بوډا په حالت باندې رحم راځي چه دا خوار د یو مقصد یعنی د الله پاک د رضا د پاره څومره تکلیف اوچتوی خو هغه دا مقصد حاصل نه کړې شو بیا عمر رضی الله عنه دا آیت تلاوت اوفرمائیلو ﴿وجوه یومئذ خاشعة عاملة ناصبة﴾ (۲) بعض مفسرینو فرمائیلی دی چه دا د کفارو د آخرت د حالت بیان دې چونکه دې کفارو په دنیا کښې د الله پاک په اطاعت او عمل کښې سست والې او کوتاهی کړې وه نو هغوی ته به په آخرت کښې دا سزا ورکړې شی چه په عمل کښې به ورته مشقت راچولې شی چه په هغې سره به هغوی ستړې شی مثلا څوک به په غر

باندي خيژولي او كوزولي شي څوک به په ميدان كښ زغلولو سره
ستړي كولي شي څوک به په زنځيرونو كښ راښكلي شي د ځا په
مړئ كښ به طوقونه واچولي شي چه په هغې سره به هغوی ستړی شي
﴿تصلى نارا حامية﴾ مقصد دا دې چه آخر به هغوی په اور
كښ واچولي شي كوم اور چه به ډير زيات ګرم وی ﴿تسقى من عين
انية﴾ مقصد دا دې چه كله كفار په دوزخ كښ د اوبو فرياد اوكړی نو
هغوی ته به د خوټكيدلو اوبو چينه وركړې شي چه مخ ته ئې نزدې
كړی نو هغه به اوسيزی كه خيټه كښ ئې واچوی نو كولمې به ورله
ټوټې ټوټې كړی حسن بصری فرمائی چه د كوم څيز ګرمي آخری نمبر
ته اورسی او د هغې نه پس هيڅ درجه نه وی نو دې ته انی وائی كه-
دې چينې يوه قطره په غر باندې كيخودلې شي نو غر به ويلې شي.
﴿ليس لهم طعام﴾ مقصد دا دې چه كله دوزخ غواړی نو هغوی ته به
ضريع وركړې شي ضريع يو د ازغنو ډكه ګيا وی كوم چه بدبوداره
زهريله وی سوا د اوښ نه هغه بل هيڅ څوک نه خوری دې ته د اوښ د
خوړلو بوټي وئيلې شي هم دا خوراک به هغوی ته وركولې شي چه په
تالو كښ به ئې اونخلی نه به بهر راځی نه به لاندې كوزيږی.(معارف)
﴿لا يسمن ولا يغنى﴾ چه د دوزخ ضريع به نه انسان څربوی
او نه به لوږه ختموی.(معارف) ﴿وجوه يومئذ﴾ مقصد دا دې چه ډير
مخونه به د قيامت په ورځ باندې تروتازه او روښانه وی د قيامت د
هيبت او سختې به په هغوی باندې هيڅ اثر نه وی دا به هغه خلق وی
چه هغوی به په دنيا كښ عمل او مشقت برداشت كولو د روژې
تكليف د جهاد تكليف د شپې د پاسيدلو تكليف وغيره.

﴿ لسعيها راضية ﴾ مقصد دا دي چه هغه خلق به د خپل کوشش د وجې نه کوم چه هغوی د الله پاک په لار کښې تکليفونه برداشت کړی وو خوشحاله وی چه زمونږ د کوشش نيکه ثمره ملاؤ شوه. ﴿ فی جنة عالية هغه نيکه ثمره دا چه هغوی به په اوچتو باغونو کښې وی چه د دنيا د باغونو نه به په شان کښې بلند وی ﴿ لا تسمع فيها لاغية ﴾ مقصد دا دي چه په جنت کښې به هيڅ بې مطلبه او فضول خبره نه وی نه به چرته د غم خبره وی نه کنځل نه بهتانونه تړل نه د مرګ خبر نه د نعمتونو او د ځوانۍ د ختميدلو خبر وغيره ﴿ فيها عين جارية ﴾ په جنت کښې به داسې چينې وی چه جاری به وی چه په هغې سره به د جنت د باغونو تازګی يو په دوه شی.

﴿ فيها سرر مرفوعة ﴾ په دې باغاتو کښې به شاهانه اوچت تختونه کيخودلې شوې وی چه په هغې باندې به اهل جنت نظاره کوی ﴿ واکواب موضوعة ﴾ او ګلاسونه به هغه چينو ته نزدې په غاړو باندې کيخودلې شوې وی چه کله ئې هم ضرورت راشی نو استعمال کړې شی.

﴿ و نمارق مصفوفة ﴾ مقصد دا دي چه د جنتيانو د ناستې د پاره به بالختونه او تکيه ګانې د صف په شکل کښې ايخودلې شوې وی چه کوم ځائې غواړی کينی به ﴿ و زرابی مبثوثة ﴾ او په جنت کښې به ډير غوره او قيمتی قالينونه غوړولې شی هر طرف ته به قالينونه وی چه کوم ځائې غواړی آرام اوکړی.

أَفَلَا يَنظُرُونَ إِلَى ٱلْإِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ ﴿١٧﴾ وَإِلَى ٱلسَّمَآءِ
كَيْفَ رُفِعَتْ ﴿١٨﴾ وَإِلَى ٱلْجِبَالِ كَيْفَ نُصِبَتْ ﴿١٩﴾ وَإِلَى ٱلْأَرْضِ كَيْفَ
سُطِحَتْ ﴿٢٠﴾ فَذَكِّرْ إِنَّمَآ أَنتَ مُذَكِّرٌ ﴿٢١﴾ لَّسْتَ عَلَيْهِم بِمُصَيْطِرٍ
﴿٢٢﴾ إِلَّا مَن تَوَلَّىٰ وَكَفَرَ ﴿٢٣﴾ فَيُعَذِّبُهُ ٱللَّهُ ٱلْعَذَابَ ٱلْأَكْبَرَ ﴿٢٤﴾ إِنَّ إِلَيْنَآ
إِيَابَهُمْ ﴿٢٥﴾ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا حِسَابَهُم ﴿٢٦﴾

ترجمه: آیا دوی نه ګوری اوښ ته چه هغه څنګه پیدا کړې شوی دی....او آسمان ته چه څنګه اوچت کړې شوې دې هغه...او غرونو ته چه څنګه ایخودلې شوې دی.....او زمکې ته چه څنګه غوړولې شوې ده...پس تاسو نصیحت کوئ بیشکه تاسو نصیحت کونکی یئ.....نه ئې ته په دوی باندې نګران...مګر هغه څوک چه مخ واړوی او کفر اوکړی.....پس عذاب به ورکړی الله پاک هغه ته لوئې عذاب....بیشکه زمونږ طرف ته واپس کیدل د هغوی دی....بیا په مونږ باندې حساب د هغوی دې.

حل المفردات: الابل...اوښ خلقت واحده مونثه غائبه ماضی مجهول د باب (ن،ض) پیدا کول نصبت واحده مونثه غائبه ماضی مجهول د باب (ن،ض) ښخول...

سطحت واحده مونثه غائبه د باب (ض) غوړول...بمصیطر واحد مذکر اسم فاعل په اصل کښې س وو دا په صاد سره بدل کړې شو د باب (فیعلة نه دې چه محلق په رباعی پورې دې) نګهبان او محافظ کیدل....تولی واحد مذکر غائب ماضی معروف د باب

(تفعل) مخ اړول اعراض کول ایابهم واپس کیدل د باب (ن) واپس کیدل.

حل الترکیب: ﴿ افلا ینظرون الی الابل کیف خلقت ﴾ همزه د پاره د استفهام فا عاطفه معطوف علیه محذوف دی یعنی ﴿ اینکرون البعث ﴾ لانافیه ینظرون فعل واؤ ضمیر بارز فاعل الی جار الابل مبدل منه کیف محلا منصوب حال مقدم د خلقت د ضمیر نه خلقت فعل هی ضمیر کښ دی هغه ذوالحال حال مقدم سره د ذوالحال موخر نه نائب فاعل شو د پاره د خلقت فعل سره د نائب فاعل نه جمله انشائیه کیدو سره بدل شو د الابل نه بدل سره د مبدل منه نه مجرور شو د پاره د جار جار سره د مجرور نه معطوف علیه دی.

﴿ والی السمآء کیف رفعت والی الجبال کیف نصبت والی الارض کیف سطحت ﴾ د دی درې واړو جملو ترکیب په شان د ﴿ الی الابل کیف خلقت ﴾ دی او د درې واړو عطف په هغې باندې دی بیا ﴿ الی الابل ﴾ سره د درې واړو معطوفاتو نه متعلق دی په لاینظرون فعل پورې فعل سره د فاعل او سره د متعلق نه جمله فعلیه انشائیه کیدو سره معطوف دی دپاره د ﴿ اینکرون البعث ﴾ محذوف دپاره معطوف علیه سره د معطوف نه جمله معطوفه شوه. ﴿ فذکر ﴾ فا فصیحیه ذکر فعل انت ضمیر ئې فاعل هم ضمیر مفعول به محذوف فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعلیه انشائیه کیدو سره جزا ده د پاره د شرط محذوف هغه دا دی چه ﴿ ان کانوا لا ینظرون الی هذه الاشیاء ﴾ شرط سره د خپلې جزا نه جمله شرطیه شوه.(اعراب القران)

﴿ انما انت مذکر ﴾ انما کافه انت مبتدا مذکر خبر مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه معلله شوه. ﴿ لست علیهم بمصیطر الا من تولی و کفر فیعذبه الله العذاب الاکبر ﴾ لست فعل د افعال ناقصه نه تا ضمیر بارز ئې اسم علی جار هم ضمیر مستثنی منه با. جار مصیطر مجرور لفظا او منصوب معنی کیدو سره خبر شو د پاره د لست فعل الاحرف استثنائیه من موصوله تولی فعل هو ضمیر فاعل فعل سره د فاعل نه یو ځائې کیدو سره معطوف علیه شو واؤ عاطفه کفر فعل هو ضمیر ئې فاعل فعل سره د فاعل نه معطوف شو د پاره معطوف علیه معطوف علیه سره د معطوف نه صله شوه د پاره د من موصوله صله سره د موصول نه مبتدا متضمن معنې د شرط لره فا جزائیه یعذب فعل ه ضمیر مفعول به الله فاعل العذاب موصوف الاکبر صفت موصوف سره د صفت نه مفعول مطلق شو د پاره د یعذب...فعل سره د فاعل او سره د مفعول مطلق نه خبر مقدم قائم مقام د جزا...مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه کیدو سره مستثنی شوه د پاره د مستثنی منه مستثنی منه سره د مستثنی نه مجرور شو د پاره د جار چه علی دې جار سره د مجرور نه متعلق شو په مصیطر پورې کوم چه خبر دې د پاره د لست فعل...لست فعل سره د خپل اسم او خبر نه جمله فعلیه خبریه شوه....﴿ ان الینا ایابهم ﴾ ان حرف د حروف مشبه بالفعل الی جار نا ضمیر مجرور مجرور سره د جار نه خبر مقدم شو د پاره د ایاب.....ایاب مضاف هم ضمیر مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه اسم موخر شو د پاره د ان.....ان د خپل اسم او خبر سره جمله اسمیه خبریه کیدو سره معطوف علیه.

﴿ ثم ان علینــا حـــسابهم ﴾ د دې جملې ترکیب بالکل د مخکښې جملې په شان دې بیا دا معطوف دې د پاره د معطوف علیه، معطوف سره د معطوف علیه نه جمله معطوفه شوه.

تفسیر: ربط: په تیرو آیتونو کښې احوال د قیامت او د مومنانو د جزا او د کفارو د سزا بیان وو چونکه عناد کونکو کفارو به د قیامت انکار کولو او دوباره ژوندی کیدل ئې محال او ناممکن گنړل په روستنو آیتونو کښې الله پاک د خپل قدرت څلور نخښې بیانولو سره کفارو ته په هغې کښې د غور او فکر کولو دعوت ورکړې دې که په دې کښې چرته غور اوکړئ نو د الله پاک د قدرت کامله مشاهده به اوشی هغه څلور نخښې دا دی: (۱) الابل (۲) السماء (۳) الجبال (۴) الارض

سوال: د الله پاک د قدرت نخښې خو بې شماره دی الله پاک دلته دا څلور په خصوصی طور سره ولې ذکر کړل؟

جواب: دا څلور ئې څکه ذکر کړل چه دا د عربو د حال بالکل مناسب دی اهل عربو به د دې هر وخت مشاهده کوله او دا نخښې هغوی ته ډیرې نزدې وې اوښ خو به د هغوی د پاره ډیر قیمتی څیز شمیرلې کیدلو هم په دې باندې به هغوی سفر کولو بله دا چه کس نبی او مخکښې روستو طرف ته غرورنه او پورته آسمان او لاندې زمکه څکه هغوی ته په دې څلورو څیزونو کښې د غور او فکر کولو دعوت ورکړې شو چه څه په نورو څیزونو کښې غور نه کوئ نو په دې نزدې څیزونو کښې غور اوکړئ.

د الله پاک د قدرت عجیبه نمونه اوښ: اوښ د الله پاک یو لوئې نعمت دې او د الله پاک د قدرت یو عجیبه او ناآشنا نمونه ده که په دې غور اوکړې شی نو د الله پاک د قدرت آئینه جوړیدې شی د دې څو

عجائب او فوائد لاندي ليكلې شي.(۱) د دې خلقت عجيب او غريب دې په عربو كښ د خپل لوئې والى په اعتبار سره د ټولو نه لوئې ښاور دې ځكه چه هياتي هلته نه وى.(۲) د دومره لوئې جوثې د خاوند كيدو باوجود په هغې باندې د سوريدلو د پاره د هيڅ پوړئ لګولو ضرورت نشته دې ځكه چه الله پاک د هغه خپې په دريو حصو كښ تقسيم كړې دى په هره خپه كښ ئې ورله دوه كوندئ لګولې دى نو هغه په آرام سره كينى او په آسانتيا سره په هغې باندې سوريدلې شى بوجه پرې بارولې شى.(۳) مسكين او اطاعت كونكې ډير زيات دې د سوونو اوښانو قطار يو ماشوم د جلب نه نيولو سره چرته چه غواړى بوتلې شى.(۳) ډير زيات بار اوړونكې دې كه د پوره كور سامان پرې انبار كړې شى هيڅ پرواه نشته نه د ځئ سرک ضرورت شته نه د لارې هواريدل ضرورى دى نه نه دهوپ نه ګرمى نه يخنى د هيڅ نه نئ ويريږى او سره د دې چه د عربو ګرمى خو ډيره سخته وى خلاصه دا چه په مال اوچتولو كښ د مال ګاډى يا ټرالئ نه كم نه دې بيا د شپې ورځې دسفر د پاره تيار دې عرب ده ته سفينة البر(د اوچې كشتئ) وائى.(۵) د دومره لوئې وجود خاوند كيدو باوجود د هغه ساتل هيڅ ګران نه دى هر امير او غريب هغه په اسانتيا سره پاللې شى ځكه د هغه پرهيزى خوراک نه دې چه څه هم ورته ملاؤ شى هغه خورى خشک تازه خوږ تريخ نرم سخت غرض دا چه هر څيز د هغه غذا ده او دا چه په لږ خوراک باندې هم ګزاره كوى.(۲)الله پاک د هغه په خيټه كښ يو ټينكئ لګولې ده چه په هغې كښ د اووۀ اتو ورځو اوبو محفوظې كړى كه د اووۀ اتو ورځو پورې ورته اوبو ملاؤ نه شى نو هيڅ پرواه نشته (۷) د اوښانو په پيو كښ لوئې بركت دې ټولې

کورنۍ ته کافي کیږي او د استسقاء د بیمارۍ علاج هم دي.(۸) د هغه غوښه حلاله ده ټولې کورنۍ بلکه محلې ته کافي کیږي نو دا د الله پاک د قدرت عجیبه او ناآشنا نمونه ده کوم ذات چه دا پیدا کړې دي هغه تاسو هم دوباره ژوندی کولې شي.(معارف القرآن)

﴿ السمآء﴾ د الله پاک د قدرت دویمه نمونه آسمان دي.(۱) د دې اوچتوالي د قدرت نخښه ده چرته چه نه یو انسان نه یو حیوان نه مارغان او ځریدونکې ځناور رسیدلې شي نه بل څه څیز (۲) د هغه فراختیاچه دهغه په سوری کښې هرنیک اوبد بادشاه امیر اوحیوانات او مارغان اوسیږي.(۳) بیا د دومره مودې تیریدلو باوجود نه څیرې شوې دي نه زوړ شوې دي هم په یو حالت باندې دي.(۴) په هغه کښې نې نمر سپوږمۍ او ستوری جوړ کړل که دا نه وی نو په دنیا باندې به تیارهٔ خوره شی ټول کاروبار به په ټهپه اودریږی نو نمر د هغه رڼا د هغه ګرمي ټول د الله پاک د قدرت او نعمت عجیبه نخښې دي.(حقاني)

﴿ الجبال ﴾ دریمه نخښه ئې غرونه دی دا هم د قدرت عجیبه او ناآشنا نخښه ده چه د زمکې د یو حصې کیدو باوجود د هغې نه ممتاز دې څومره مضبوط دي بیا الله پاک د هم هغه کانړو نه د اوبو دریابونه روان کړل مثلا: ګنګا جمنا ،نیل،فرات،جیحون او دجله وغیره دا د قدرت عظیمه نخښه ده.

﴿ الارض ﴾ څلورمه نخښه زمکه ده که غور اوکړې شی نو زمکه کره شان ده یعنی ګول ده د فټ بال په شان او په ګول څیز باندې څوک هم نه شی اودریدلې خو د الله پاک د قدرت نتیجه ده چه

سره د ګول کیدو نه په لکهونو او زرګونو انسانان او حیوانات بنـه پـه فراختیـا سـره اوسیدونکی دی لـوئي لـوئي مکانـات دی فراخـه او کهلاؤ د ښهرونو آبادئ دی وغیره.﴿ فـذکر﴾ چه کله د الله پاک د قدرت نخښي بیان کړي شوي کومي چه د عقلمند سړی د نصیحت د پاره کافی دی نو اوس رسول الله ﷺ ته د نصیحت کولو حکم دي چه تاسـو هـم هغـوی تـه نـصیحت اوکـړئ نـو اوس رسـول الله ﷺ تـه د نصیحت کولو حکم دي چه تاسو هغوی ته نصیحت اوکړئ ځکه چه تاسـو مـونږ صرف د نـصیحت کولـو د پـاره رالیږلـي یـې کـه څـوک نافرمانی کوی او نه مني نو خپل سره دي اوخوری ﴿لـست علـیهم بمـصیطر﴾ مـونږ تـه پـه هغـوی بانـدي نګران نه یې لیږلي چه پـه زبردستئ سره هغوی په ایمان باندي مجبور کړي بس تاسو صرف نصیحت کوئ باقی مونږ پوهه شه څوک چه نصیحت قبلوی په فائده کښې به وی څوک چه نه قبلوی او اعراض کوی کفر کوی نو الله پاک به ورته لوئي عذاب ورکوی.

﴿ان الینا ایابهم﴾ او مونږ هغوی ته په عذاب ورکولو باندي قادر یو ځکه چه دا ټول به مونږ ته راځي او مونږ به د هغوی نه حساب اخلو.

سورة الفجر مكية

آیاتها ۳۰	بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ	رکوعها ۱

وَالْفَجْرِ ﴿١﴾ وَلَيَالٍ عَشْرٍ ﴿٢﴾ وَالشَّفْعِ وَالْوَتْرِ ﴿٣﴾ وَاللَّيْلِ إِذَا
يَسْرِ ﴿٤﴾ هَلْ فِي ذَٰلِكَ قَسَمٌ لِّذِي حِجْرٍ ﴿٥﴾ أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِعَادٍ

﴿إِرَمَ ذَاتِ ٱلْعِمَادِ ۝ ٱلَّتِي لَمْ يُخْلَقْ مِثْلُهَا فِي ٱلْبِلَٰدِ ۝ وَثَمُودَ
ٱلَّذِينَ جَابُوا۟ ٱلصَّخْرَ بِٱلْوَادِ ۝ وَفِرْعَوْنَ ذِى ٱلْأَوْتَادِ ۝ ٱلَّذِينَ طَغَوْا۟
فِي ٱلْبِلَٰدِ ۝ فَأَكْثَرُوا۟ فِيهَا ٱلْفَسَادَ ۝ فَصَبَّ عَلَيْهِمْ رَبُّكَ سَوْطَ
عَذَابٍ ۝ إِنَّ رَبَّكَ لَبِٱلْمِرْصَادِ ۝﴾

ترجمه: قسم دې په صبا باندې....او په لسو شپو باندې...او په جفت او په طاق باندې...او په شپه باندې کله چه په تیریدو شی... بیشکه په دې څیزونو باندې قسم کافی دې د عقل والا د پاره....آیا تا نه دی کتلی چه ستا رب د عادیانو سره څهٔ اوکړل؟....چه هغوی ته به ارم وئیلې کیدل د لوني قامت خاوندان....د هغوی په شان په ښهرونو کښې نه وو پیدا کړې شوې....او ثمودیان چه هغوی به کاڼړی تراشل په وادیـانو کښې....او فرعـون چـه د میخونـو والاوو....هغـه خلـق چـه سرکشی ئې کوله په ښهرونو کښې....پس زیات ئې کړو په هغې کښې فساد....پس نازلـه کړه الله پاک پـه هغـوی باندې کـوړه د عـذاب .:. بیشکه ستا رب په مورچه کښې دې.

حل المفردات: الفجر د سحر رڼړا د (ن) راتوکیدل...لیال جمع ده د لیل.عشر لس جمع د دې اعشار دې الشفع جفت د باب (ف) نه دوه کول جفت کول...الوتر طاق جمع د دې اوتار ده باب (ض) جفت لره طاق کول....یسر واحد مذکر غائب مضارع معروف د باب (ض) نه په لار کښې تلـل پـه اصـل کښې یـسری وو د سـجع د پـاره د آخـر نـه یـاء اوغورځولې شوه حجر د باب (ن) بندول مراد ترې عقل دې جمع د دې

حجور عقل ته په دې وجه حجر ونيلې شوې دې څکه چه دا انسان د غلطو کارونو نه بندوی.لم تر واحد مذکر په اصل کښ ترای...العماد اوچت عمارتونه واحد ئې العماده...البلاد جمع ده مفرد ئې بلد راځی ښهر ته وائی د باب (ن) شهر جوړول د باب (ک) سست او کمزوری ذهن والا کيدل،جابوا جمع مذکر غائب ماضی معروف په اصل کښ جوبوا وو (قال والاقانون) پکښ استعمال شوې دې تراشل کټ کول...د باب (ن) الصخر جمع ده مفرد ئې صخرة لوئې کاڼړې يا ګټ...طغوا جمع مذکر غائب ماضی معروف په اصل کښ طغيوا وو سرکشی کول د باب (س) نه د قال والاقانون پرې راغلې دې فصب د باب (ن) کيخودل سوط کوړه جمع ئې اسواط راځی د باب (ن) کوړې ورکول.

حل الترکيب: ﴿ والفجر...وليال عشر...والشفع والوتر....واليل اذا يسر﴾ واؤ قسميه الفجر معطوف عليه واؤ عاطفه ليال موصوف عشر صفت موصوف سره د صفت نه معطوف اول واؤ عاطفه الشفع معطوف ثانی واؤ عاطفه الوتر عطف ثالث واؤ عاطفه اليل معطوف رابع معطوف عليه سره د ټولو معطوفاتو نه مقسم به کيدو سره مجرور شو د پاره د واؤ قسميه جاره د پاره جار سره د مجرور نه متعلق شو په اقسم فعل پورې اذا ظرفيه مضاف يسر فعل هو ضمير پکښ هغه ئې فاعل فعل سره د فاعل نه جمله فعليه خبريه کيدو سره په تاويل د مفرد سره مضاف اليه شو مضاف سره د مضاف اليه نه مفعول فيه شو د پاره د اقسم فعل،فعل سره د فاعل او سره د مفعول فيه نه قسم شو لتبعثن يا لتعذبن يا کفار(جلالين) جواب د قسم

محذوف دي د يو قول مطابق ﴿ان ربک لبالمرصاد﴾ جواب قسم دي قسم سره د خپل جواب قسم نه جمله انشائيه قسميه شوه.﴿هـل فی ذلک قسم لذی حجر﴾ هل استفهاميه فی جار ذلک مجرور جار سره د مجرور نه ظرف مستقر متعلق په ثابت پورې ثابت سره د خپل متعلق نه خبر مقدم....قسم موصوف لام جار ذی مضاف حجر مضاف اليه مضاف سره د مضاف اليه نه مجرور شو د پاره د لام جاره،جار سره د مجرور نه ظرف مستقر كاف پورې متعلق كيدو سره صفت شو د پاره د موصوف صفت سره د موصوف نه مبتدا موخره شوه مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه انشائيه شوه.

﴿الم تـر كيـف فعـل ربـک بعـاد......ارم ذات العماد........التی لم يخلق مثلها فی البلاد.......و ثمود الذين جابوا الصخر بالواد......وفرعون ذی الاوتاد.......الذين طغوا فی البلاد﴾ همزه استفهاميه لم تر فعل سره د فاعل نه نفی جحد كيف منصوب محلا صفت دي موصوف محذوف فعلا د پاره موصوف سره د صفت نه مفعول مطلق دي د پاره د فعل...فعل فعل ربک مضاف مضاف اليه يوځائي كيدو سره فاعل شو با جاره عاد مبدل منه ارم موصوف ذات مضاف العماد مضاف اليه مضاف سره د مضاف اليه نه صفت اول شو التی اسم موصول لم د پاره د نفی د جحد يخلق فعل مثل مضاف ها مضاف اليه مضاف سره د مضاف اليه نه نائب فاعل شو فی حرف جار البلاد مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو په لم يخلق فعل پورې فعل سره د نائب فاعل او سره د متعلق نه صله شو د پاره د موصول صله سره د موصول نه صفت ثانی شو د پاره د ارم

موصوف.... موصوف سره د دوارو صفتونو نه بدل شو د پاره د مبدل منه،بدل سره د مبدل منه نه معطوف علیه شو،واؤ عاطفه ثمود موصوف الذین اسم موصول جابوا فعل او فاعل الصخر مفعول به با حرف جار واد مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو په جابوا فعل پورې فعل سره د فاعل او سره د مفعول به او متعلق نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره صله شوه د پاره د موصول صله سره د موصول نه صفت شو د پاره د ثمود موصوف سره د صفت نه معطوف اول،واؤ عاطفه فرعون موصوف ذی مضاف الاوتاد مضاف الیه،مضاف سره د مضاف الیه نه صفت شو د پاره د موصوف موصوف سره د صفت نه معطوف ثانی شو....معطوف علیه سره د دوارو معطوفاتو نه موصوف الذین اسم موصول طغوا فعل واؤ ضمیر بارز فاعل فی جار البلاد مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو په طغوا فعل پورې فعل سره د فاعل او سره د متعلق نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره معطوف علیه.

﴿ فاکثروا فیها الفساد ﴾ فا عاطفه اکثروا فعل واؤ ضمیر بارز فاعل فی جار ها ضمیر مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو په اکثروا فعل پورې الفساد مفعول به فعل سره د فاعل او سره د مفعول به او متعلق نه جمله فعلیه خبریه معطوف اول... ﴿ فصب علیهم ربک سوط عذاب ﴾ فا عاطفه صب فعل او فاعل علیهم جار او مجرور متعلق شو په صب فعل پورې.....ربک مضاف مضاف الیه فاعل سوط عذاب مضاف مضاف الیه یو ځائې کیدو سره مفعول به ... فعل سره د فاعل او سره د متعلق او مفعول به نه جمله فعلیه

خبریه کیدو سره معطوف ثانی......معطوف علیه سره د دواړو معطوفاتو نه صله شوه د پاره د موصول الذین.....صله سره د موصول نه صفت د پاره د عاد موصوف سره د صفت نه مجرور شو د پاره د جار ،جار سره د مجرور نه متعلق شو په فعل فعل پورې.....فعل سره د فاعل او متعلق او مفعول مطلق مقدم سره قائم مقام دې د الم تر د مفعول...فعل سره د فاعل او د مفعول به سره جمله فعلیه انشائیه شوه.﴿ ان ربک لبالمرصاد ﴾ ان حرف د حروف مشبه بالفعل نه رب مضاف ک ضمیر مضاف الیه یو ځای کیدو سره اسم د پاره د ان....لام تاکیدیه با حرف جاره المرصاد مجرور جار سره د مجرور نه ظرف مستقر متعلق په کائن پورې کیدو سره خبر شو د پاره د ان... ان سره د خپل اسم او خبر نه جمله اسمیه خبریه معلله شوه....او دا جمله د ماقبل د مضمون د پاره علت دې.

تفسیر: نوم ئې سورة الفجر...

ربط: (۱) **لفظی ربط:** په تیر سورة کښې ﴿ لسعیها راضیة ﴾ په دې سورة کښې ﴿ راضیة مرضیة ﴾ دې.(۲) په تیرسورة کښې ﴿ فیعذبه الله العذاب الاکبر ﴾ په دې سورة کښې ﴿ لا یعذب عذابه احد ﴾

ربط معنوی: په تیر سورة کښې د قیامت د احوالو او د جزا او د سزا بیان وو په دې سورة کښې هم دا مضمون دې او د بعض لوئې سرکشه قومونو د هلاکت او د سزا ذکر کولو سره کفارو ته وعید او مومنانو ته تسلی ده.

د پنځو ځیزونوقسم

﴿ والفجر ﴾ په دې آیتونو کښې الله پاک د پنځو ځیزونو قسم

خوړلو سره د جواب قسم مضمون پوخ کړې دې کوم چه محذوف دې یعنی تاسو به ضرور دوباره ژوندی کولو سره پاسولې شئ او د هر قسم د جواب قسم سره مناسبت دې. ﴿ والفجر ﴾ د ټولو نه اول قسم د فجر دې...د فجر نه مراد څه څیز دې په دې کښې څو اقوال دی (۱)قتاده رحمه الله فرمائی چه د دې نه مراد د محرم د میاشتې رومبې سحر دې ځکه چه د عربو په نزد کال هم د دې میاشت نه شروع کیږی.(معارف)

(۲)مجاهد رحمه الله فرمائی چه د ذې نه مراد یوم النحر (د قربانئ ورځ لسمه ذوالحجه) مراد ده.ځکه چه دا ډیره برکتی ورځ ده او د اجتماع په لحاظ د میدان محشر نمونه ده او د دې یو خصوصیت دا هم دې چه د دې شپه نشته دې حال دا چه الله پاک د هرې ورځ سره یو شپه یو ځائې کړې ده کومه چه د ورځې راتلو نه مخکښې شپه وی خو یوم النحر داسې ورځ ده چه د دې د پاره هیڅ شپه نشته دې ځکه چه د یوم النحر نه مخکښې شپه د دې شپه نه ده بلکه د یوم عرفه شپه ده هم دا وجه ده که یو حاجی صاحب په نهمه ذوالحجة باندې میدان عرفات ته راو نه رسیدلو او په لسمه شپه راورسیدلو نو د هغه حج به اوشی په دې لحاظ سره د یوم النحر یو بیل شان شو هم په دې بناء باندې الله پاک د دې قسم اوچت کړو.(قرطبی) (۳) ضحاک رحمه الله فرمائی د فجر نه مراد د ذوالحجه د میاشتې رومبې فجر مراد دې (۴) د جمهور مفسرینو علی،عبدالله بن عباس،عبدالله بن زبیر رضی الله عنهم قول دا دې چه د فجر نه مراد د هرې ورځې فجر دې او د جواب قسم سره هم د دې مناسبت تامه دې ځکه چه هر سحر د قیامت په بریا

کیدو او د میدان محشر د حالاتو نمونه ده څنګه چه د شپې خاموشی وی الوتونکی،ځریدونکی حیواناتو او انسانانو باندې خوب او آرام راخور شی. کوم چه بالکل د مرګ مشابه دې نه شور او غوغا نه ها هو نه د نمر رڼا خو څنګه چه نمر راښکاره شی نو یو شور او غوبل شی مارغان چغیږی د کاروبار والاخلق د خپل کاروبار په طرف ملازمین د خپل ملازمت په طرف مسافر د خپل سفر د تیارئ په طرف دکانداران د خپل دکانونو په طرف روان شی الغرض یو شور راخور شی او سحر د میدان محشر او قیامت پوره نقشه پیش کوی چه د رومبی پوکی وهلو نه پس به هر یو ځیز فنا شی او په ټوله دنیا باندې به خاموشی شی چه کله دوباره پوکې اووهلې شی او خلق به د قبرونو نه راوځی نو زبردست شور به جوړ شی.

﴿ و لیال عشر ﴾ دا دوئم قسم دې الله پاک د لسو شپو قسم خوړلې دې د لیال عشر نه مراد څه ځیز دې په دې کښې د مفسرینو څو اقوال دی: (۱) د دې نه مراد د محرم د میاشتې د شروع لس شپې مراد دی څکه هغه ډیرې د برکت والاوی خصوصا د عاشورې شپه.(۲) د رمضان المبارک د رومبې عشرې لس شپې (۳) د رمضان المبارک د شپو نه آخری لس شپې چه ډیرې مبارکې دی څکه چه په دې کښې لیلة القدر هم دې رسول الله ﷺ به پخپله هم ویخ وو او د کور خلقو ته به ئې هم د پاسیدلو حکم کولو.(۴) د کال مختلفې شپې مراد دی چه په هغې کښې د رمضان المبارک د آخری عشرې طاق شپې هم دی (۵) پنځه شپې چه په هغې کښې د لیلة القدر د راتلو امکان دې (۶) د وړوکی اختر شپه (۷) د عرفې شپه (۸) د غټ اختر شپه (۹) لیلة المعراج اویشتم رجب (۱۰) شب برات پنځلسم د

شعبان.... د جمهور مفسرینو قول دا دی چه د لسو شپو نه مراد د ذوالحجة لس ورځې مراد دی ځکه چه په حدیث شریف کښې د دې ډیر زیات فضیلت راغلي دې ابوهریره رضی الله عنه د رسول الله ﷺ ارشاد نقل کړې دې د عبادت کولو د پاره عشره د ذوالحجة د ټولو ورځو نه غوره دی د هرې ورځې روژه د یو کال برابر ده د هرې شپې عبادت د لیلة القدر د عبادت برابر دې. د جواب قسم سره ئې مناسب دا دې چه دا شپې هم د اجتماع دی خلق په بیت المقدس کښې جمع کیدو سره دعاګانې کوی دا اجتماع د میدان محشر نمونه پیش کوی.

﴿ والشفع والوتر ﴾ دریم قسم په شفع او څلورم قسم د وتر د دې نه څۀ مراد دی په دې کښې د مفسرینو ډیر اقوال دی. (۱) د شفع نه مراد د جنت اته دروازې دی او د وتر نه مراد د دوزخ اووۀ دروازې دی. (۲) د شفع نه مراد د څلور رکعتونو والا او د وتر نه مراد د درې رکعتونو والا مونځ (مابنام) مراد دې. (۳) د شفع نه مراد ټول مخلوق دې ځکه چه هر مخلوق جوړه جوړه پیدا کړې شوې دې مثلا کفر او ایمان سعادت او شقاوت رڼا او تیارۀ او شپه ورځ او ګرمی او یخنی او آسمان او زمکه او انسان او پیرې او سړې او ښځه وغیره. (۴) د شفع نه مراد یوم النحر دې او د وتر نه مراد یوم عرفه ده د جابر رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ﴿ والفجر و لیال عشر هو الصبح و عشر النحر والوتر یوم عرفة والشفع یوم النحر ﴾ والله اعلم

﴿ والیل اذا یسر ﴾ د پنځم قسم بیان دې په دې کښې الله پاک د تیردونکې شپې قسم خوړلې دې ځکه چه کله شپه تیریږی نو د الله پاک د رحمت او د تجلی نزول کیږی په حدیث کښې دی چه کله دریمه

حصه شپه باقی ګو الله پاک د زمکې آسمان ته تشریف راوړی فرمائی څوک شته د خپلو ګناهونو بخښنه غوښتونکې چه زه د هغه ګناهونه معاف کړم څوک شته د روزئ غوښتلو طالب چه زه هغه ته روزی ورکړم څوک شته د حاجت غوښتونکې چه زه د هغه حاجت پوره کړم نو دعظمت دښکاره کولو دپاره ئې په تیریدونکې شپه باندې قسم اوکړو.

فائده: یسر په اصل کښې یسری وو یاء ئې د سجع بندئ د پاره او د نورو آیتونو سره د مناسبت پیدا کولو د پاره اوغورځولې شو. ﴿ هل فی ذلک قسم لذی حجر ﴾ د ذکر کړې شوې پنځو څیزونو د قسم خوړلو نه پس الله پاک په یو خاص انداز کښې غافل انسان ته د غور او فکر کولو دعوت ورکوی هل د پاره د استفهام تقریری دې قسم باندې تنوین د پاره د تعظیم دې د حجر لغوی معنی ده بندول د آیت مقصد دا دې چه د دې پنځو څیزونو کوم چه عظیم الشان دی قسم خوړلې شوې دې آیا دا د عقلمند دپاره کافی دی یا نه دی یقینا کافی دی ځکه د قسم خوړونکی ذات د عظمت او د کومو څیزونو چه قسم خوړلې شوې دې د هغې د عظمت تقاضا دا ده چه د هغوی سره کوم مضمون ثابت کړې شوې دې هغه یقینی طور سره ثابت او صادق دې هغه دې د انسان حساب او کتاب او د هغه د جزا او سزا کیدل او د قیامت واقع کیدل.

﴿ الم تر کیف فعل ﴾ **ربط:** په مخکښې آیتونو کښې د کفارو د دوباره ژوندی کولو او د حساب او کتاب او د سزا بیان وو اوس د کفارو د دنیاوی عذاب بیان دې چه د آخرت عذب خو یقینی دې بعض وخت په دنیا کښې هم عذاب نازلیږی په دې سلسله کښې د درې

قومونو د عذاب ذکر کړې شوې دې.

قوم عاد: ړومبې قوم چه د هغوی د عذاب بیان کړې شوې دې د هغه قوم عاد دې الله سبحانه وتعالی فرمائی چه آیا تاسو نه دی کتلی چه مونږ د قوم عاد (چه هغه قوم ته به ارم هم وئیلې کیدو چه ډیر مضبوط او د اوږد قامت والا وو او داسې مخلوق مونږ نور نه دې پیدا کړې) څنګه تباه او برباد کړل.

تعارف د عاد او د ثمود: دلته قوم عاد ته ارم هم وئیلې شوې دې د هغوی شجره نسب داسې، دې د نوح علیه السلام خوئې وو د هغه نوم سام وو بیا د هغه خوئې ارم وو بیا د ارم دوه خامن وو د یوم نوم عاص وو د بل نو عامر وو بیا د عاص خوئې عاد پیدا شو چه د هغه په نوم سره دا قوم مشهور دې هغوی ته قوم عاد وئیلې شی او کله نیکهٔ طرف نسبت کولو سره هغوی ته ارم هم وئیلې شی بیا د دې قوم عاد دوه طبقې وې یو عاد اولی او عاد قدیمه سره مشهور وو بل په عاد اخری سره مشهور شو. دلته ته د عاد او ارم نه عاد اولی مراد دی لکه چه په سورة النجم کښې دی ﴿ وَأَنَّهُ أَهْلَكَ عَادًا الْأُولَىٰ ﴾ الله رب العزت هغوی په طوفانی هوا سره هلاک کړې وو. او د عاد تخته ئې اولټه کړې وه. او د ارم د بل خوی نه ثمود پیدا شو چه د هغه په نوم باندې قوم ثمود مشهور دې نو د ثمود او د عاد د دواړو نسبونه د ارم سره یو ځائې کیږی بعض مفسرین فرمائی چه د ارم نه مراد ارم ښهر دې چه د هغې قصه داسې ده چه د عاد دوه خامن وو شدید او شداد او په دې وجه چه دا ډیر طاقتور قوم وو په دې وجه په ډیرو ملکونو باندې ئې قبضه اوکړه ډیر بادشاهان د دوی مطیع او فرمانبردار شو د هغوی تعداد

تقریبا څلور سوه لیکلې شوې دې چه شدید مړ شو نو شداد د هغه وارث جوړیدلو سره په تخت باندې کیناستلو هغه په خپل دور کښې ډیر لویه ترقی اوکړه لوئې لوئې بادشاهان د هغوی مطیع شو تر دې چه په عربو مصر او نورو ملکونو باندې هم د هغوی بادشاهی قائمه شوه د دې طاقت او دولت په نشه کښې راتلو سره هغه مستیانې شروع کړې د دولت او د ثروت د وجې نه د هغه ظلم او بدمعاشی او عیاشی انتها ته اورسیدله او هغه د خدایئ توب دعوی اوکړه بیا الله پاک د هغه د پوهه کولو او د هغه په سمه لار د راوستلو د پاره انبیاء کرام ﷺ راولیږل، خو هغه د خپلو شرارتونو نه منع نه شو هم دې شداد چه کله د جنت ذکر واوریدلو نو وې وئیل چه دا څه گرانه خبره ده مونږ به هم دلته په دې دنیا کښې یو جنت تیار کړو پس هغه د یمن په یو ځنگل کښې یو ښهر جوړ کړو د هغې نوم ئې ارم کیخودلو او دا ښهر تر د درې سوه کلونو پورې جوړیدلو د هغې محلونه د سرو زرو او د سپینو زورنه تیار کړې شو او ستنې د یاقوتو او د جواهراتو او د زبرجدو نه قائم کړې شوې او په هغې کښې هر قسم باغات او گلونه او نهرونه وو گویا دا ښهر پخپله خپل مثال وو مقصد دا وو چه خلق د آخرت د جنت په بدل کښې هم دا د دنیا جنت اختیار کړی چه کله دا ښهر پوره شو نو شداد سره د کابینې د نورو ارکانو دې ته د تلو اراده اوکړه چه کله نژدې ورغلو نو د الله پاک د طرف نه پرې د بجلئ کوره نازله شوه دا ټول هلاک شو او هغه محلات هم تباه شو د شداد عمر نهه سوه کلونه وو.

﴿ ذات العماد ﴾ د قوم عاد یعنی ارم دا صفت بیان کړې شو چه هغوی ذات العماد وو عماد عمود ستن ته وئیلې شی قوم عاد ته

د ذات العماد ونیلو ډیرې وجې بیان کړې شوی دی. (۱) د هغوی عادت وو چه د خپلو بزرګانو په قبرونو باندې به ئې د فخر او یادګار په طور اوچتې ستنې او منارې لګولې. (۲) د هغوی دا عادت وو چه د سپرلی په موسم کښې به د کورونو نه وتلو سره ځنګلو او شینکو ته لاړل هلته به ئې خیمې اولګولې نو د عماد نه د خیمو ستنې مراد دی. (۳) د عماد نه مراد اوچت عمارتونه مراد دی ځکه چه هغوی به ډیر اوچت محلات جوړول. (۴) د ذات العماد نه مراد د هغوی د اوږد قامت والا کیدل بیان کړې شوې دی په بعضو روایاتو کښې د ابن عباس رضی الله عنهما نه د هغوی د قد اوږدوالې دولس لاسه (شپږ ګزه او اتۀ فټه) نقل کړې شوې دې. ﴿ التی لم یخلق ﴾ په دې دویم صفت کښې ئې د قوم عاد طاقت او قوت بیان کړې دې چه دا قوم په خپل طاقت او قوت او جوثه کښې د نورو قومونو نه ممتاز وو داسې طویل القامت قوم په دنیا کښې د دې نه مخکښې نه دې پیدا کړې شوې. که د ارم نه مراد ښهر شی نو بیا به مقصد دا وی چه د عماراتو د په اوچت والی او د حسن په اعتبار سره داسې ښهر مخکښې کله هم نه دې پیدا کړې شوې. ﴿و ثمود الذین جابوا الصخر بـالواد ﴾ بل قوم چه د هغوی د عذاب ذکر کړې شوې دې هغه ثمودیان دی چه د هغوی شجره نسب ذکر کړې شوې ده دا هم ډیر زبردست او طاقتور قوم وو دا قوم د عربو په شمال کښې اوسیدلو د حجر نه واخله تر وادی قری پورې د هغوی کلی خوارهٔ وو د هغوی د طاقت او قوت اندازه د دې نه لګیدلې شی چه دوی به د غرونو کانړی تراشلو سره د هغې نه ډیر مضبوط او مزیدار کورونه تیارول ډیره د مزې او خوشحالئ زندګی

ئـي تيرولـه خـو ورسـره بـدكاري او بـت پرسـتـی هـم ډيـره زياتـه وه صـالح علیه السلام د هغـوی د اصـلاح او د هـدايت د پـاره راولیږلـي شـو خـو هغـوی سر کشي اوکړه يو سحر د جبرائيـل علیه السلام چغـې ټول اونيـول او هلاک ئې کړل.

﴿و فرعون ذی الاوتاد﴾ دريم قوم چه د هغوی د عذاب ذکر کړې شوې دې هغـه د فرعـون قـوم دې چه هغـوی الله پـاک پـه سمندر کښ غرق کړل ﴿ذی الاوتاد﴾ فرعـون تـه د ﴿ذی الاوتـــاد﴾ ونيلو ډيرې وجې بيان کړې شوی دی: (۱) د دې نه مضبوط عمارتونه مراد دی (۲) مـسـتحکم او پائيـدار حکومـت مـراد دې (۳) فـوج مـراد دې ځکه چه کوم خـوا فـوج ځی هلتـه خيمـه لګوی هغـې تـه د ميخونو ضرورت وی (۴) د فرعون د ظلم او وحشی سزا ګانو طرف تـه اشاره ده کـوم انسـان چه بـه هغـه خدائې نه منلو نو هغـه بـه دغـه انسان پـه څلورو ميخونو باندې اوتړلو يـا بـه ئې پـه هغـه بانـدې څلور ميخونه ټک وهل او پـه نمر کښ بـه ئې څملولـو سره پـه هغـه بانـدې ماران او لړمانـان پريخـودل.پـس حزقيـل کـوم چـه د فرعـون خزانچـی وو حفيـه طريقې سره مومن شوې وو تر د سلو کالو پـورې هغـه خپـل ايمـان پټ اوساتلو د هغه ښځه هم مومنه وه او دا د فرعون د لـور سر ګومنځولو والا وه يو ورځ ئې د لاس نه ګومنځ پريوتله نو د الله پاک پـه نوم باندې ئې اوچته کړه د فرعون لور اووې آيـا زمـا د پـلار نـه عـلاوه بـل خدائې هـم شـتـه څـه؟هغې اووې او جی هغـې خپـل پـلار تـه شـکايت اوکـړو فرعون راوغوښتله هغې د فرغون مخکښ اووې چـه زمـا او سـتا او د آسـمان او د زمکـې د ټولـو يـو الله دې چـه د هغـه هـيڅ څـوک شـريک

سپينه فرعون د هغې دواړه لونړه د هغې مخکښې ذبح کړې بيا ئې په هغې ميخونه ټک وهلو سره هغې ته سزا ورکړه آسيه رضي الله عنها هم خفيه طريقې سره مومنه شوې وه هغې چه کله د فرعون دا ظلم او ستم وليدو نو د خپل ايمان اظهار ئې اوکړو فرعون هغې ته هم دا سزا ورکړه تفصيل د پاره (تفسير مظهری آخری جلد ص ۳۹۹) اوګورئ.

﴿ الذين طغوا فی البلاد ﴾ په دې آيت کښې د هغه قومونو د سرکشئ ذکر دې چه د هغوی د سرکشئ او د تکبر انتهانه وه د اخلاقو نوم پکښې نه وو د هغوی شهوت پرستی او عياشی آخری حدونو ته رسيدلې وو عدل او انصاف صداقت او پرهيزګاری، رحم دلی خوش اخلاقی په شان ښکلی صفاتو په هغری کښې نوم هم نه وو د الله پاک بې ادبی او د رسولانو او د شريعت بې عزتی او د هغوی توهين د هغوی د پاره معمولی خبره وه او د آخرت او د اعمالو د جزا او سزا تصور هم نه وو په خپل عقل او د تدبير په شان ئې ډير ناز وو دې ټولو خبرو ته ئې په دې يو جمله کښې اشاره اوفرمائيله: ﴿ فـاكثروا فيهـا الفساد ﴾ چه د هغوی فساد د حد نه تير شو ﴿ فصب عليهم ﴾ د دې قومونو د شر او فساد د ذکر کولو نه پس ئې اوفرمائيل چه الله پاک هغوی ته د سزا ورکولو د پاره په هغوی باندې د عذاب کوړه نازله کړه په سوط سره ئې په دې وجه تعبير اوفرمائيلو چه اشاره اوشی چه څنګه کوړه د بدن په هر طرف باندې پريوځی دغه شان هغوی هم د هر طرف نه عذاب ګير کړل.

﴿ ان ربک لبالمرصاد ﴾ مرصاد او مرصد مورچې او انتظار ګاه ته وئيلې شی چه په يو اوچت مقام باندې وی چه د هغې خائې نه

یو سرې د لرې لرې پورې خلقو ته کتلې شی او د هغوی د کارونو نګرانی کولې شی مقصد د آیت به دا وی چه الله پاک د ټولو انسانانو ټولو عملونو او حرکاتو او سکناتو ته کتونکې دې او دې ټولو ته جزا او سزا ورکونکې دې.

فَأَمَّا ٱلْإِنسَـٰنُ إِذَا مَا ٱبْتَلَىٰهُ رَبُّهُۥ فَأَكْرَمَهُۥ وَنَعَّمَهُۥ فَيَقُولُ رَبِّىٓ أَكْرَمَنِ ﴿١٥﴾ وَأَمَّآ إِذَا مَا ٱبْتَلَىٰهُ فَقَدَرَ عَلَيْهِ رِزْقَهُۥ فَيَقُولُ رَبِّىٓ أَهَـٰنَنِ ﴿١٦﴾ كَلَّا ۖ بَل لَّا تُكْرِمُونَ ٱلْيَتِيمَ ﴿١٧﴾ وَلَا تَحَـٰٓضُّونَ عَلَىٰ طَعَامِ ٱلْمِسْكِينِ ﴿١٨﴾ وَتَأْكُلُونَ ٱلتُّرَاثَ أَكْلًا لَّمًّا ﴿١٩﴾ وَتُحِبُّونَ ٱلْمَالَ حُبًّا جَمًّا ﴿٢٠﴾

ترجمه: پس انسان چه هر کله ازمیښت اوکړی په هغه باندې رب د هغه پس عزت ورکړی هغه ته او نعمت ورکړی نو وائی زما رب ما ته عزت راکړو.....او هر کله چه ازمیښت اوکړی په هغه نو تنګه کړی په هغه باندې روزی نو وائی زه خپل رب ذلیل کړم.....هر ګز داسې نه دهٔ بلکه تاسو د یتیم عزت نه کوئ....او ترغیب نه ورکوئ (نورو ته) د مسکین په خوراک باندې.....او خورئ میراث لره په ټول خوراک سره.....او مینه کوئ د مال سره ډیره مینه.

حل المفردات: ابتلی واحد مذکر غائب ماضی معروف په اصل کښې ابتَلَیَ وو په قانون د قال د باب افتعال نه ازمیښت کول...قدر واحد مذکر غائب ماضی د باب (ض) اندازه کول...فاکرمه واحد مذکر غائب د باب افعال نه عزت کول.نعمه واحد مذکر غائب ماضی

معروف د باب تفعیل نه په بنه حال باندې کیدل... اهانن واحد مذکر غائب ماضی معروف په اصل کښ اهون وو په قانون د یقال اهان شو د باب افعال نه سپک گنړل بې عزتی کول... لاتکرمون جمع مذکر حاضر مضارع معروف منفی د باب افعال نه عزت کول... الیتیم واحد مذکر صفت مشبه د باب (س،ض،ک) نه یتیم کیدل جمع یتامی او ایتام راځی... یتیم هغه نابالغ ماشوم چه د هغه پلار وفات شوې وی. لاتحضون جمع مذکر حاضر مضارع معروف منفی په اصل کښ لاتتحاضضون د باب تفاعل نه یو بل تیارول او یو بل ته ترغیب ورکول. طعام جمع ئې اطعمة ده مسکین هغه سړې چه د هغه سره هیڅ نه وی یا دومره نه وی چه د هغه د کور د خلقو د پاره کافی وی جمع ئې مساکین راځی د باب (ن،ک) مسکین کیدل... تاکلون جمع مذکر حاضر مضارع معروف (ن) خوراک کول التراث په اصل کښ وراث وو واؤ لره په تاء سره بدل کړې شو مال د وراثت... لما مصدر دې د باب (ن) جمع کول یو ځائې کول تحبون جمع مذکر حاضر مضارع معروف د باب افعال نه محبت کول المال: ما یمل الیه الطبع چه د هغې په طرف طبیعت مائل شی جمع ئې اموال راځی جما مصدر دې د باب (ن،ض) نه په کثرت سره جمع کول چه مجمع زیاته شی نو وئیلې شی چه جم غفیر (ډیره ګڼړه) ده.

فی الترکیب: ﴿ فاما الانسان اذا ما ابتله ربه فاکرمه و نعمه فیقول ربی اکرمن ﴾ فا استینافیه یا عاطفه اما شرطیه تفصیلیه انسان مبتدا اذا شرطیه ما زائده ابتلی فعل ه ضمیر مفعول به ربه مضاف مضاف الیه فاعل فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه معطوف علیه فا

عاطفه اكرمه فعل فاعل ه ضمير مفعول به فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه معطوف اول شو واؤ عاطفه نعم فعل هو ضمير فاعل ه ضمير مفعول بـه دا معطوف ثاني شو. معطوف عليـه سره د دوارو معطوفاتو نه شرط شو فا جزائيه يقول فعل هو ضمير فاعل فعل سره د فاعـل نه قـول شو ربي مضاف مضاف اليـه مبتـدا اكرم فعل هو ضمير فاعل نون وقايه يا ضمير د متكلم مفعول به محذوف دا جمله خبريه كيـدو سره خبر شو دپاره د مبتدا مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه خبريه كيدو سره مقوله شوه دپاره د قول قول سره د مقولې نه جزا شوه د پاره د شرط شرط سره د جزا نه جمله شرطيه كيدو سره معطوف عليه شو.

﴿و اما اذا ما ابتله فقدر عليه رزقه فيقول ربي اهانن﴾ د دې جملې تركيب بالكل د مخكښ جملې د تركيب په شان دې او دا معطوف دې په مخكښ جمله باندې معطوف عليه سره د معطوف نه خبر دې د الانسان مبتدا د پاره مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه خبريه شوه.﴿كلا بل لا تكرمون اليتيم﴾ كلا حرف ردع بل عاطفه لانافيه تكرمون فعل سره د فاعل اليتيم مفعول به فعل سره د فاعل او سره د مفعول بـه نـه جمله فعليه خبريـه كيدو سره معطوف عليـه.....﴿ولا تحضون على طعام المسكين﴾ واؤ عاطفه لاتحاضون فعل او فاعل على جار طعام المسكين مضاف مضاف اليـه يو ځائي كيـدو سره مجرور شو د پاره د جار مجرور سره د جار نه متعلق شو په لا تحاضون فعل پورې فعل سره د فاعل نه جمله فعليه خبريه كيدو سره معطوف اول...﴿و تاكلون التراث اكلا لما﴾ واؤ عاطفه تاكلون فعل

التراث مفعول به اکلا لما موصوف صفت مفعول مطلق شو فعل سره د فاعل مفعول به او سره د مفعول مطلق نه جمله فعلیه کیدو سره معطوف ثانی شو...﴿ و تحبون المال حبا جما ﴾ واؤ عاطفه تحبون فعل او فاعل المال مفعول به حبا جما موصوف صفت کیدو سره مفعول مطلق شو فعل سره د فاعل مفعول به او مفعول مطلق نه جمله فعلیه کیدو سره معطوف ثالث شو معطوف علیه سره د ټولو معطوفاتو نه جمله معطوفه شوه.

تفسیر: ﴿ فاما الانسان ﴾ **ربط:** په تیرو آیتونو کښې د مختلفو قومونو دعذاب او سزا ذکر کړې شوه کفارو ته پکار دی چه د دې واقعاتو نه نې عبرت حاصل کړې وې او د داسې اعمالو نه ئې ځان ساتلې وې چه هغه سبب د عذاب وو خو د کافر دا حال دې چه هغه داسې اعمال اختیاروی کوم چه د سزا او عذاب سبب دی د دې ټولو اعمالو اصل د دنیا محبت دې مخکښې هم د دې مال او د دنیا د محبت ذکر دې پس د الله پاک ارشاد دې چه کله الله پاک انسان ته دولت او فراختیا ورکولو سره د مال او جاه او ښځه بچی ورکولو سره ازمینبت کوی چه دې زما شکر گزاری کوی زما حق ادا کوی یا ناشکری کوی نو انسان په فخر او غرور سره وائی چه زه د الله پاک مقبول بنده یم په دې وجه خو الله پاک ما ته دا دومره نعمتونه راکړی دی او زما اکرام ئې کړې دې که زه مقبول نه وې نو الله پاک به دا نعمتونه نه راکول هم دغه شان چه کله الله پاک انسان په فقر او لوږه باندې اختبه کولو سره ازمینبت کوی چه صبر او رضا اختیاروی الله پاک ته رجوع کوی یا کفر کوی نو هغه انسان د ناامید کیدو سره د شکایت په انداز وائی

چه زما رب زه ذلیل او خوار کړم سره د حقدار کیدو نه ئې ما ته مال او دولت رانکړو زه ئې د سترګو نه غورځولي یم مقصد دا دې چه کافر صرف د دنیا ژوندی مقصودی ګنړی هغه د شپې ورځې په حصول او د هغې په لذتونو او شهوتونو کښې مشغول دې او شیطان د هغه په زړه کښې دا خبره اچوی چه په دنیا کښې د مال فراخه کیدل او د دولت او آرام راتلل د انسان د الله پاک په نزد د قبولیت دلیل دې او د رزق کمې غریبی مصیبت او بیماری د الله پاک په نزد د مردود کیدو دلیل دې.نو د کافر د نظر حاصل دنیا ده یو خو هغه مال او دولت لره د خپل ذاتی صلاحیت او عقل و فهم او کوشش او جدوجهد ثمره ګنړی هم په دې وجه هغه خپل ځآن د دې مستحق ګنړی دویم مال او دولت د مقبولیت دلیل ګنړی حال دا چه دا باطل ګمان دې ځکه چه د دنیا راحت او نعمت هم دغه شان غریبی او فقر صرف د امتحان او ازمینښت د پاره وی چه په نعمت او راحت کښې زمونږ شکر ګزاری کوی مونږ یادوی یا ناشکری او سرکشی کوی او په بیمارئ او مصیبت کښې صبر اختیاروی یا کفر اختیاروی عرض دا چه د دنیا د آرام په حصول او عدم حصول باندې زمونږ د رضا یا ناراضتیا او سپکاوی انحصار نه دې ځنګه چه کفارو ګنړلې دې.اګر چه د الانسان نه مراد کافر دې خو که د مسلمانانو هم دا ګمان وی لکه نن صبا چه ډیر مسلمانان په دې ګمراهئ کښې اخته دی نو هغوی هم په دې کښې شامل دی.

﴿ كلا بل لا تكرمون اليتيم ﴾ د کلا نه د کفارو په باطل زعم باندې هغوی ته تنبیه او زجر دې چه ستاسو ګمان چه مال او دولت د مقبولیت او د فقر او غریبئ او د مردودیت نخښه ده بالکل صحیح

نه ده بلکه اکثر معامله بل شان وی الله پاک کفارو ته مال دولت ورکولو سره مهلت ورکوی او مومنانو باندې ازمېښت کوی فرعون به د خدايئ دعوی کوله خو د صحت ئې دا حالت وو چه په ژوند کښې ئې کله هم په سر باندې درد نه وو راغلې او په انبياء ﷺ باندې دومره مصيبتونه چه بعض انبياء ﷺ په آرې سره ټکړې ټکړې کړې شو. رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو غريبانان به د مالدارانو نه پنځه سوه کاله مخکښې جنت ته ځی په يو روايت کښې دی چه غريب مهاجرين به د مالدارانو نه څلوېښت کاله مخکښې جنت ته ځی. په يو حديث کښې دی چه الله پاک د کوم بنده سره مينه کوی هغه له د دنيا نه داسې پرهيز کوی څنګه چه تاسو بيمار باندې د اوبو نه پرهيز کوئ په ﴿بل﴾ سره الله پاک د هغه اعمالو ذکر کوی کوم چه د الله پاک په نزد د مردوديت او نامقبول کېدو علامه ده او سبب د عذاب دې يو دا دې چه تاسو د يتيم اکرام نه کوئ د هغه حقوق نه ادا کوئ حال دا چه د هغه عمر کم دې د پلار د شفقت نه محروم دې د مصيبتونو غرونه په هغه باندې راپريوتلې دی تاسو له پکار وو چه په هغه باندې مو شفقت کولې د هغه احترام مو کولې خو احترام خوځه چه تاسو خو د هغه سره خوله هم نه ګډوئ د هغه حقونه نه ادا کوئ هم دا ستاسو حرکتونه ستاسو د ذلت او په رزق کښې د کمې اسباب دی.

﴿ولا تحـــضون﴾ مقصد دا دې چه خپله خو به د يتيم او غريب څه اکرام اوکړی څه به ورکړی بل ته هم ترغيب نه ورکوی چه هغه پرې رحم اونکړو نو مونږ پرې ولې اوکړو د دې آيت نه معلومه شوه چه کوم خلق يتيم يا غريب ته د ورکړې قدرت نه لری هغوی دې

نوړو ته ترغیب ورکوی ځکه چه ﴿ الدال علی الخیر کفاعله ﴾

﴿ و تاکلون التراث اکلا لما ﴾ د دریم بد حصلت ذکر ئې دې چه په ځائې د دې چه تاسو د یتیم او فقیر حق ادا کړئ مسکین ته ډوډئ ورکړئ الټه ستاسو نظر د میراث په مال باندې وی چه کله ستاسو څوک مورث مری نو د هغه ټول مال راټولولو سره اوخورئ دا خیال نه کوئ چه حلال دې یا حرام بلکه د ښځو او ماشومانو حصه هم خپله اوخورئ او ښه د زړه نه پرې عیاشی او فضول خرچی کوئ ځکه مفت درته ملاؤ شوې دې ربښتیا خبره ده چه - د مفتو مال او زړه بې رحمه -

﴿ و تحبون المال حبا جما ﴾ څلورم بد عادت ئې دا دې چه تاسو د مال سره ډیره زیاته مینه کوئ ډیر لالچ کونکی او طمع کونکی ئې حال دا چه دا ټول د ګناهونو جرړه ده ﴿ حب الدنیا راس کل خطیئة ﴾ هم دا د دنیا مینه او حرص د انسان حق وهی دروغ درباندې وائی غلا درباندې کوی مکر او فریب دهوکه بازی او قتل او ظلم درباندې کوی هم دا هغه کار دې چه تاسو ئې کوئ د عبادت صداقت او ایمان لو پرهیزګارئ خیرات او صله رحمئ په ځائې دا بد کارونه تاسو اختیار کړی دی نو تاسو خپله بیان کړئ چه ستاسو د ذلت او سپکاوی سبب د دنیا محبت دې یا فقر او فاقه پس تاسو پوهه شئ چه په عاد او ثمود باندې د عذاب کومه کوړه پریوتلې وه هغه ستاسو د پاره هم تیاره ده.

كَلَّآ إِذَا دُكَّتِ ٱلْأَرْضُ دَكًّا دَكًّا ﴿٢١﴾ وَجَآءَ رَبُّكَ وَٱلْمَلَكُ صَفًّا صَفًّا ﴿٢٢﴾ وَجِاْىٓءَ يَوْمَئِذٍۭ بِجَهَنَّمَ ۚ يَوْمَئِذٍ يَتَذَكَّرُ ٱلْإِنسَٰنُ

وَأَنَّىٰ لَهُ ٱلذِّكْرَىٰ ﴿٢٣﴾ يَقُولُ يَٰلَيْتَنِي قَدَّمْتُ لِحَيَاتِي ﴿٢٤﴾ فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُعَذِّبُ عَذَابَهُۥٓ أَحَدٌ ﴿٢٥﴾ وَلَا يُوثِقُ وَثَاقَهُۥٓ أَحَدٌ ﴿٢٦﴾ يَٰٓأَيَّتُهَا ٱلنَّفْسُ ٱلْمُطْمَئِنَّةُ ﴿٢٧﴾ ٱرْجِعِيٓ إِلَىٰ رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً ﴿٢٨﴾ فَٱدْخُلِي فِي عِبَٰدِي ﴿٢٩﴾ وَٱدْخُلِي جَنَّتِي ﴿٣٠﴾

ترجمه: هر گز داسې نه ده كله چه ذره ذره كړې شي زمكه په ذره ذره كولو سره.....او را به شي ستا رب او ملائك صفونه صفونه.....او را به وستلې شي دوزخ په دغه ورځ په دغه ورځ به انسان سوچ كوي او اوس به هغه له سوچ كول څه نفع وركړي....وائي به افسوس دې مالره چه د خپل ژوند (آخرت) د پاره ما مخكښ څه ليږلي وې (يا په خپل ژوند كښ كه لام د في په معنى كښ وي) پس په دغه ورځ به عذاب ورنكړي ستا د رب د عذاب په شان هيڅ څوک....او نه به د هغه د نيولو په شان څوک نيول اوكړې شي...اې د اطمينان والانفسه! واپس شه خپل رب ته،ته د هغه نه راضي هغه ستا نه راضي....پس داخل شه زما په بندګانو كښ.....او داخل شه زما جنت ته.

حل المفردات: دكت واحد مونثه غائبه ماضي مبدل په اصل كښ دككت د باب (ن) ذره ذره كول هوارول....يوثق واحد مذكر غائب مضارع معروف د باب (افعال) نه په رسئ سره تړل. المطمئنة واحده مونثه اسم فاعل د باب افعلال نه آرام اخستل قرار نيول ارجعي واحده مونثه امر د باب (ض) نه واپس كيدل رجوع كول.

حل التركيب: ﴿ كلا اذا دكت الارض دكا دكا ﴾ كلا حرف ردع اذا

ظرفیه متضمن معنی د شرط لره دکت فعل الارض نائب فاعل دکا موکد او دکا ثانی تاکید موکد سره د تاکید نه مفعول مطلق شو فعل سره د فاعل او سره د مفعول مطلق نه معطوف علیه ..﴿ وجاء ربک والملک صفا صفا ﴾ واؤ عاطفه جاء فعل ربک مضاف الیه سره معطوف علیه واؤ عاطفه الملک ذوالحال صفا صفا تاکید او موکد موکد سره د تاکید نه په معنی د مصفین کښې کیدو سره حال شو، ذوالحال سره د حال نه معطوف شو....معطوف علیه سره د معطوف نه فاعل شو د پاره د جاء فعل فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه کیدو سره معطوف اول شو.

﴿ و جآئ یومئذ بجهنم یومئذ یتذکر الانسان و انی له الذکری ﴾ واؤ عاطفه جائ ماضی مجهول یومئذ په شان د ترکیب سابق مفعول فیه بجهنم مجرور لفظا مرفوع معنا نائب فاعل فعل سره د نائب فاعل نه معطوف ثانی شو معطوف علیه سره د دواړو معطوفینو نه شرط شو...یومئذ په ترکیب سابق سره مفعول فیه مقدم شو د یتذکر د پاره یتذکر فعل الانسان ذوالحال واؤ حالیه انی استفهامیه خبر مقدم له جار مجرور متعلق په الذکری پورې الذکری مبتدا موخر مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه انشائیه کیدو سره حال دې د دپاره د ذوالحال حال سره د ذوالحال نه فاعل شو دپاره د یتذکر فعل فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه کیدو سره جزا شوه د پاره د شرط شرط سره د جزا نه جمله شرطیه شوه.

﴿ یقول یلیتنی قدمت لحیاتی ﴾ : یقول فعل هو ضمیر فاعل فعل سره د فاعل نه قول شو....یا د پاره د تنبیه یا د پاره د تاسف لیت

د حروف مشبه بالفعل نه نون وقايه يا ضمير د متكلم ئي اسم شو قدمت فعل او فاعل لام جار حياتى مضاف سره د مضاف اليه نه مجرور شو د پاره د جار جار سره د مجرور نه متعلق شو په قدمت فعل پوري فعل سره د فاعل او سره د متعلق نه جمله فعليه خبريه كيدوسره د ليت خبر شو ليت سره د خپل اسم او خبر نه جمله انشائيه كيدو سره مقوله شوه د پاره د قول، قول سره د مقولي نه جمله فعليه خبريه شوه.

﴿ فيومئذ لا يعذب عذابه احد ولا يوثق وثاقه احد ﴾

فا عاطفه يا نتيجيه يومئذ په تركيب سابق سره مفعول فيه مقدم دي دپاره د لا يعذب..لا يعذب فعل عذابه مضاف مضاف اليه نه مفعول مطلق شو احد فاعل، فعل سره د فاعل اود مفعول فيه اود مفعول مطلق سره جمله فعليه خبريه كيدوسره معطوف عليه واؤ عاطفه لا يوثق فعل و ثاقه مركب اضافي كيدو سره مفعول مطلق شو احد فاعل فعل سره د فاعل او سره د مفعول مطلق نه جمله فعليه كيدو سره معطوف، معطوف عليه سره د معطوف نه جمله معطوفه شوه.

﴿ يا ايتها النفس المطمئنة ارجعى الى ربك راضية مرضية ﴾ يا حرف ندا ايتها النفس موصوف المطمئنة صفت، موصوف سره د صفت نه صفت شو د پاره د ايتها موصوف سره د صفت نه منادى شو ارجعى فعل يا ضمير بارز ذوالحال الى جار ربك مضاف مضاف اليه يو خاني كيدو سره مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو په ارجعى پوري راضية حال اول مرضية حال ثانى ذوالحال سره د حال نه فاعل شو دپاره د فعل فعل سره د فاعل او د متعلق نه جمله انشائيه كيدو سره معطوف عليه شو.

﴿ فادخلی فی عبدی وادخلی جنتی ﴾ فا عاطفه ادخلی فعل او فاعل فی جار عبادی مضاف مضاف الیه یو ځائې کیدو سره مجرور شو د جار د: جار جار سره د مجرور نه متعلق شو په ادخلی پورې فعل سره د فاعل او سره د متعلق نه جمله انشائیه کیدو سره معطوف اول واؤ عاطفه ادخلی فعل او فاعل جنتی مضاف او مضاف الیه یو ځائې کیدو سره مفعول فیه فعل سره د فاعل او مفعول فیه نه جمله انشائیه کیدو سره معطوف ثانی معطوف علیه سره د دواړو معطوفینو نه جواب د ندا شو،ندا سره د جواب ندا نه جمله ندائیه کیدو سره مقوله ده د قول محذوف اصل عبارت هم داسې دې:

﴿یقول الله المومن یا ایتها النفس ﴾ (اعراب القرآن ص ٤٧٧)

تفسیر: ﴿ کلا اذا دکت ﴾ : کلا نه کفاو ته زجر او توبیخ ده چه تاسو دا مه گنړئ چه تاسو ته به په دې بدو اعمالو باندې سزا نه درکړې کیږی بلکه ضرور به درکړې کیږی هغه ذات په دې باندې قادر دې مخکښې د دې عذاب او سزا او د هغې د وخت بیان دې پس فرمائی چه یو وخت به راشی چه زمکه به ټکړې ټکړې کولو سره ذره ذره شی دا به د نفخه اولی په وخت وی کله چه د قیامت د زلزلې د وجې نه به زمکه لاندې باندې کړې شی غرونه کورونه اونې تول به ماتیدلو سره ذره ذره شی او زمکه به بالکل هواره کړې شی دکا دکا په تاکید سره اشاره ده چه زلزله به مسلسل جاری وی.

﴿ وجاء ربک ﴾ مقصد دا دې چه د محشر د ورځې حساب او کتاب د پاره به الله پاک تشریف راوړی د هغوی د راتلو به څه نخښه وی دا د الله پاک ذات پخپله پوهیږی دا د متشابهاتو نه ده او

آسمان به اوشلیږی د هغه نه به ملائک راوتلو سره په میدان محشر کښ د صفونو په شکل کښ د الله پاک د حکم د تعمیل په انتظار کښ اودرېږی.... ﴿ وجآی یومئذ بجهنم ﴾ مقصد دا دې چه د قیامت په ورځ به دوزخ راوستلې شی د دې پوره حقیقت او کیفیت خو الله پاک ته معلوم دې خو ظاهر مقصد نې هم دا دې چه دې به د زمکې د لاندې حصې نه راوستلې شی ملائکو به نیولې وی د هغه نه به لونې لونې سپرغئ اوچتیږی د هغه د جوش او خروش او هیبتناک آواز اوریدلو سره به خلق پریشانه شی چه یو خوا بل خوا به منډې وهی خو د هر طرف نه به ملائکو ګیر کړې وی.﴿ یوم یتذکر الانسان ﴾ مقصد دا دې چه په قیامت کښ به د کافر په پوهه کښ راشی چه ما غلطی اوکړه ما له نیک اعمال کول پکار دی بیا به ژاړی ارمان به کوی د افسوس نه به لاسونه مروړی توبه او استغفار به کوی.... ﴿ وانی له الذکری ﴾ مقصد دا دې چه په هغه ورځ دا ګنړل او سوچ کول،توبه او استغفار به بې فائدې او غیر نافع وی.ځکه چه د اصلاح او د عمل وخت به تیر شوې وی اوس خو د آخرت زمانه شروع شوې ده کوم چه دارالعمل نه دې بلکه دارالجزاء دې.

﴿ یقول یلیتنی ﴾ هغه ورځ به کافر د ارمان او پښیمانتیا په حالت کښ وائی چه افسوس ما د خپل اخروی او ابدی ژوند د پاره د ایمان او نیک عمل سرمایه جمع کولو سره رالیږلې وې چه نن زما په کار راغلې وې که لام د فی په معنی کښ وی نو مقصد به دا وی چه افسوس په خپل دنیاوی ژوند کښ مې د آخرت د پاره څه تیار کړې وې خو زما بدبختی وه چه ما د دنیا په فانی خوندونو کښ ډوبیدو

سره د الله پاک احکامو او انبیاءکرام ﷺ پورې توقي کولې

﴿ فيومئذ لا يعذب عذابـه ﴾ مقصد دا دې چه د قيامت په ورځ به الله پاک کافر ته ځومره سخت عذاب ورکوی داسې عذاب به مخکښې چا هم نه وی ورکړې يو خو د دې وجې نه چه هغه عذاب به جسمانی هم وی او روحانی هم بل په دې وجه چه د دنياوی عذاب انتهاء وی او د اخروی ژوند هيڅ انتهاء نه وی هم دغه شان به الله پاک کافر داسې نيسی چه د هغې تصور نه شی کيدلې د هغه خانې قيد جيل بيړۍ مار لړم (الله دې امان او حفاظت را کړی)

﴿ يا ايتها النفس المطمئنة ﴾ د کفارو د سزا او د عذاب نه پس د مومنانو د جزا او ثواب بيان دې ارشاد فرمائی چه مومن ته به خطاب کيږی اې نفس مطمئن د خپل رب طرف ته واپس شه دا خطاب کله وی په دې کښې دوه اقوال دی: (۱) د مرګ په وخت ورته خطاب کيږی ملائک په ښکلې شکلونو کښې د جنت نعمتونه مخې ته کولو سره وائی ﴿ اخرجي الى روح و ريحان و رب غير غضبان ﴾ (۲) د بعضو په نزد به دا خطاب د حساب او کتاب نه پس وی نفس مطمئنه د اطمينان نه دې چه د هغې معنی ساکنه ده د دې نه هغه نفس مراد دې چه هغه ته د الله د ذکر او اطاعت سره اطمينان او سکون ملاويږی څنګه چه مهی ته په اوبو کښې او د الله پاک د ذکر نه بغير هم دغه شان بې آرامه شی څنګه چه مهې بغير د اوبو نه او دا هله کيديشی چه کله نفس لره د رذيل او بدو صفتونو نه پاک کړې شی.

﴿ ارجعي الى ربك ﴾ نفس مطمئنه ته به حکم اوکړې شی چه خپل رب ته واپس شه د ارجعی د لفظ نه معلوميږی چه د روح رومبې

مقام هم د رب سره وو اوس دوباره هم هلته د تلو حکم ورکوی د دې
نه د هغه روایت تائید کیږی چه روح د خپلې عمل نامې سره په
علیین کښې وی کوم چه د الله پاک د عرش نه لاندې واقع دې او د ټولو
انسانی روحونو مستقر دې د هم هغه ځائې نه روح راوړلو سره په بدن
کښې اچولې شی راضیة مرضیة مقصد دا دې چه دا نفس د الله پاک
په هر حکم باندې راضی وی نو الله پاک هم په هغه باندې راضی وی
او دا نفس په مرګ باندې هم رضا او خوشحاله وی په حدیث کښې دی
﴿من احب لقاء الله احب الله لقائه و من کره لقاء الله کره الله لقائه﴾
په دې باندې عائشې رضی الله عنها شک اوکړو چه د الله پاک ملاقات خو د
مرګ په ذریعه وی مرګ د هر چا ناخوښه دې رسول الله ﷺ
اوفرمائیل نه بلکه مومن ته د مرګ په وخت د الله پاک د رضا او د
جنت خوشخبری او د جنت د نعمتونو زیر ورکړې کیږی نو هغه په
خوشحالۍ سره مرګ قبلوی مرګ د هغه محبوب جوړ شی ﴿ کما فی
الحدیث الموت تحفة المومن یوصل الحبیب الی الحبیب ﴾ د بلال رضی الله عنه د
مرګ واقعه ﴿ ذا نلقی محمدا ﷺ و اصحابه ﴾ د ابن عباس رضی الله عنهما د
وفات واقعه په ژبه د سعید بن جبیر رضی الله عنه باندې چه کله هغوی دفن
کړې شو نو د قبر د غاړې نه نې آواز راغلو: ﴿ یاایتها النفس المطمئنة ﴾
﴿ فادخلی فی عبادی ﴾ نفس مطمئنة ته به حکم اوکړی شی
چه زما په خاص بندګانو کښې داخل شه د دې نه معلومه شوه چه جنت
ته د تلو نه مخکښې به نفس مطمئنة ته رومبی په نیک او مخلص
بندګانو کښې د شاملیدلو حکم اوشی بیا به د دې ټولو سره جنت ته
ځی د دې نه معلومه شوه چه څوک په دنیا کښې د نیکانو صحبت او

ملګرتيا اختياروي هغه به په جنت کښې هم د هغوی سره وی په دې وجه سليمان علیه السلام دعا اوکړه ﴿ وادخلنی برحمتک فی عبادک الصالحين ﴾ او يوسف علیه السلام دعا اوکړه ﴿ والحقنی بالصالحين ﴾ ﴿ وادخلی جنتی ﴾ په آخر کښې به ورته حکم ورکړې شی چه اوس زما جنت ته داخل شه خپل خان ته د جنت نسبت کولو سره ئې اعزاز او اکرام طرف ته اشاره اوفرمائيله او دا ئې هم اشاره اوفرمائيله چه په جنت کښې به صرف نعمتونه نه وی بلکه زما رضا به هم وی.

ســـــورة البلـــــد مكيـــــة

اياتها ٢٠	بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ	ركوعها ١

لَآ أُقْسِمُ بِهَٰذَا ٱلْبَلَدِ ۝١ وَأَنتَ حِلٌّۢ بِهَٰذَا ٱلْبَلَدِ ۝٢ وَوَالِدٍ وَمَا وَلَدَ ۝٣
لَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ فِى كَبَدٍ ۝٤ أَيَحْسَبُ أَن لَّن يَقْدِرَ عَلَيْهِ أَحَدٌ ۝٥
يَقُولُ أَهْلَكْتُ مَالًا لُّبَدًا ۝٦ أَيَحْسَبُ أَن لَّمْ يَرَهُۥٓ أَحَدٌ ۝٧ أَلَمْ نَجْعَل
لَّهُۥ عَيْنَيْنِ ۝٨ وَلِسَانًا وَشَفَتَيْنِ ۝٩ وَهَدَيْنَٰهُ ٱلنَّجْدَيْنِ ۝١٠

ترجمه: قسم خورم په دې ښهر (مکه مکرمه) باندې.....په داسې حال کښې چه تاسو کوزيدونکی يئ دې ښهر ته (يا حلاليدونکی يئ په دې ښهر کښې).....قسم خورم په پلار او د هغه په اولاد.....چه يقينا انسان پيدا کړې دې مونږ په تکليف کښې....آيا ګمان کوی دا انسان چه په هغه به هيڅ څوک هم قادر نه شی.....وائی دا انسان ما ډير مال خرچ کړو... آيا هغه ګمان کوی چه هغه ته هيڅ څوک نه ګوری....آيا مونږ

هغه ته دوه سترگي نه دی ورکړي.....او ژبه او دوه شونډي....او مونږ اوښودلي هغه ته دوه لاري.

حل المفردات: حل (ض) کوزېدل حلال کېدل....والد واحد مذکر اسم فاعل د باب (ض) نه زيږول کبد بفتح الباء مشقت تکليف بکسر الباء جگر جمع ئي اکباد او کبود راځي د باب (س) په جگر کښې درد کيدل....لبدا معنی ئي ده "ډير" د بعضو په نزد مفرد دي او د بعضو په نزد د لبدة جمع ده....﴿ وهذا قول القراء النحوی ﴾ لسانا ژبه جمع د دي السنة راځي ﴿ السنة السن،لسن،لسانات ﴾ د باب (ن) د غوره بيان والا د باب (س) نه د تيزي ژبي والا شفتين تثنيه د شفة نه په معنی د شونډي شفاة او شفوات ئي جمع ده.النجدين تثنيه ده د نجد لغوی معنی هغه لار کومه چه پورته د اوچت والی په طرف ځي مراد تري فراخه او واضحه لار ده د باب (ن) واضح کيدل د باب (ک) نه بهادر کيدل.

حل التركيب: ﴿ لا اقسم بهذا البلد....وانت حل بهذا البلد......و والد وما ولد........لقد خلقنا الانسان فی کبد ﴾ لاحرف زائده اقسم فعل فاعل با جار هذا موصوف البلد ئي صفت موصوف سره د صفت نه ذوالحال،واؤ حاليه انت مبتدا حل خبر با جار هذا موصوف البلد صفت صفت سره د موصوف نه مجرور شو د پاره د جار جار سره د مجرور نه متعلق شو په حل پوري مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه کيدو سره حال شو د پاره د ذوالحال ذوالحال سره د حال نه معطوف عليه شو واؤ عاطفه والد معطوف عليه واؤ عاطفه ما موصوله ولد فعل هو ضمير ئي فاعل ه ضمير مفعول به محذوف فعل سره د فاعل

او سره د مفعول به نه صله شوه د پاره د موصول صله سره د موصول نه معطوف، معطوف علیه سره د معطوفاتو نه مجرور شو د پاره د با جار، جار سره د مجرور نه متعلق شو په اقسم فعل پورې فعل سره د فاعل نه قسم شو لام تاكيديه قد د پاره د تحقيق خلقنا فعل او فاعل الانسان مفعول به في كبد جار مجرور متعلق شو په خلقنا پورې دا جمله كيدو سره جواب قسم شو قسم سره د جواب قسم نه جمله قسميه انشائيه شوه....

فائده: ﴿ وانت حل بهذا البلد ﴾ جمله معترضه هم كيديشي په دې صورت كښې به واؤ اعتراضيه وى (اعراب) ﴿ ايحسب ان لن يقدر عليه احد ﴾ همزه د پاره د استفهام يحسب فعل هو ضمير ئي فاعل ان مخففه من المثقله ه ضمير شان د هغه اسم محذوف لن د پاره د تاكيد د نفى يقدر فعل عليه جار مجرور متعلق شو په يقدر پورې احد فاعل فعل سره د فاعل نه جمله كيدو سره خبر شو د پاره د ان مخففه ان مخففه د خپل اسم او خبر سره په تاويل د مصدر كيدو سره مفعول به شو د يحسب د پاره فعل سره د فاعل او مفعول به نه جمله فعليه انشائيه شوه....﴿ يقول اهلكت مالا لبدا ﴾ يقول فعل هو ضمير فاعل فعل سره د فاعل نه قول شو اهلكت فعل او فاعل مالا موصوف لبدا صفت موصوف سره د صفت نه مفعول به شو د پاره د فعل فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه مقوله شوه د پاره د قول قول سره د مقولې نه جمله فعليه خبريه شوه.

﴿ ايحسب ان لم يره احد ﴾ همزه استفهاميه يحسب فعل هو ضمير فاعل ان مخفف ه ضمير اسم محذوف لم ير فعل ه ضمير

مفعول به احد فاعل دا جمله د ان مخففه خبر بیا دا په تاویل د مصدر سره د یحسب مفعول به دې بیا دا جمله فعلیه انشانیه شوه

﴿الم نجعل له عینین ... ولسانا و شفتین﴾ همزه د پاره د استفهام لم نجعل فعل او فاعل له جار مجرور متعلق شو په لم نجعل پورې عینین معطوف علیه واؤ عاطفه لسانا معطوف اول واؤ عاطفه شفتین معطوف ثانی معطوف علیه سره د معطوفینو نه مفعول به شو د پاره د لم نجعل دا جمله فعلیه انشانیه کیدو سره معطوف علیه ... ﴿و هدینه النجدین﴾ واؤ عاطفه هدینا فعل او فاعل ه ضمیر مفعول اول النجدین مفعول ثانی هدینا د خپلو دواړو مفعولینو سره جمله خبریه کیدو سره معطوف معطوف علیه سره د معطوف نه جمله معطوفه شوه.

تفسیر: نوم : د دې سورة نوم سورة البلد دې دا مکی سورة دې

ربط : په تیر سورة کښې د هغه اعمالو ذکر وو کوم چه د جزا او سزا سبب وو په دې سورة کښې هم هغه مضمون بیانیږی فرق صرف دومره دې چه په تیر سورة کښې کثرت د الفاظو په اعمالو د شر کښې وو او په دې سورة کښې د خیر د اعمالو دې. (بیان القران) ﴿لا اقسم بهذا البلد﴾ په دې آیتونو کښې د درې څیزونو قسم خوراک سره الله پاک د جواب قسم والا مضمون کلکوی چه مونږ انسان په ډیر مشقت او تکلیف کښې پیدا کړو په رومبی قسم ﴿لا اقسم هذا البلد﴾ لا کښې دوه احتمالات دی : (۱) لا زائنده ده او په قسمونو کښې د لا حرف زائده لګول د عربو په محاوره کښې مشهور دی (۲) حرف لا نافیه دې په دې سره د مخاطب د غلط خیال نفی مقصود وی چه تاسو کوم خیال

کوئ هغه صحیح نه دي بلکه مونږ قسم سره وایو چه حقیقت هم هغه دي کوم چه مونږ بیانوو ﴿ هذا البلد ﴾ نه مراد د مکې ښهر دي د دي قسم خوړلو سره ئې فضیلت او عظمت لره بیان کړي دي چه دا ډیر پاک ښهر دي ځکه چه په دي کښې زمونږ کور دي کوم چه زمونږ خلیل ابراهیم علیه السلام تعمیر کړي وو د دنیا د ټولو عبادت ګاهونو نه اول جوړ کړي شوي دي رسول الله ﷺ د هجرت په وخت اوفرمائیل ته په ټولو زمکو کښې خپل رب ته محبوبه ئې که زه قوم نه ویستلي نو ما به ته کله هم نه وې پریخودلې.(۲) په دي کښې زمونږ رسول سید الانبیاء ﷺ اوسیږي.

﴿ وانت حل ﴾ په لفظ د حل کښې دوه احتمالات دي: (۱) یا خو د دي معنی ده په یو ځیز کښې ځائې کیدل یا اوسیدل یا کوزیدل....نو د حل معنی به وی کوزیدونکي یا اوسیدونکي مقصد به دا وی چه مونږ د مکې د ښهر قسم خورو په داسې حال کښې چه تاسو هم په دي کښې موجود یئ د مکې مکرمې ښهر پخپله هم مقدس او محترم دي خو ستاسو په اوسیدو سره د دي شان نور هم اوچت شوي دي ځکه چه د مکان شان د اوسیدونکی په وجه وی (۲) یا به د حل معنی وی حلال کیدل بیا د دي معنې په اعتبار سره د آیت دوه مطلبه کیدیشی. (۱) دا چه کفارو په دي ښهر کښې تاسو ته تکلیف درکول کنځلې کول او ستاسو قتل کول ټول هر څه حلال ګنړلې دی حال دا چه خپله د هغوی عقیده هم دا ده چه د حرم پاک یو ځیز هم که هغه حیوان ولې نه وی قتل کول جائز نه دی خو د هغوی ظلم او سرکشی دومره زیاته شوه چه دوی د الله پاک د رسول ﷺ قتل

هم حلال گنړی.(۲) يا دا مقصد دي چه ستاسو د پاره نزدې ده چه دا ښهر حلاليدونكې دي چه تاسو ته به د كفارو سره د جنګ كولو اجازت ملاؤ شي پس د فتح مكې په ورځ د رسول الله ﷺ د پاره حرم پاک د څه ساعت د پاره حلال كړې شو رسول الله ﷺ د څو خلقو د قتل كولوحكم هم وركړو.بيا رسول الله ﷺ خطبه وركړه چه د مخلوقاتو د شروع نه الله پاک دا ښهر حرم جوړ كړې دې زما نه مخكښې دلته د چا دپاره هم قتال نه دې حلال كړې شوې دلته به نه ښكار نيولې شي نه به ګيا پريكولې شي نه به د ازغنو ډكه اونه ريبلې شي نه به قصاص اخستلې شي نه به غورزيدلى څيز اوچتولې شي.(معارف كاندهلوى رحمه الله ملخصا)

﴿ و والد وما ولد ﴾ دويم قسم د پلار او دريم قسم د اولاد (۱) يا خو د دې نه مراد هر پلار او د هغه اولاد دې (۲) يا ترې آدم عليه السلام او د هغه اولاد كوم چه تر قيامته پورې راتلونكې دي هغه مراد دي...﴿ لقد خلقنا الانسان فى كبد ﴾ دا جواب د قسم دې چه مونږ انسان په ډير مشقت او تكليف كښې پيدا كړو چه مشقت او محنت د انسان په فطرت كښې داخل كړې شوې دې انسان پيدا كړې شوې د دې د پاره دې مثلا د مور په رحم كښې د بند اوسيدلو تكليف بيا د پيدائش بيا د پئ څكلو بيا د پيو نه د پرې كولو بيا د غاښونو د راوتلو بياد كمزورى كيدو د وجې نه قسم قسم مرضونه بيا په مكتب كښې د تعليم د حاصلولو محنت بيا د ځوانيدلو نه پس د خپل ژوند د ضرورياتو او د معاش د ګټلو محنت بيا د بوډا توب او د مرګ قبر او حشر بيا د اعمالو جواب وركول دا ټول د محنتونو دورونه دى.

سوال: دا مشقت د انسان نه علاوه حیوان هم برداشت کوی نو د انسان تخصیص ولې اوکړې شو؟

جواب: (۱) انسان چونکه ادراک او شعور زیات لري په دې وجه په هغه باندې مشقت هم د زیات نه زیات وی. (۲) د ټولو نه لوئې مشقت دوباره ژوندی کیدلو سره د ټولو عمر د اعمالو حساب ورکول دی دا صرف د انسان سره خاص دی. په دې قسم او جواب قسم کښې مومنانو ته تسلی هم ده په چا چه به د مکې کفارو ظلم کولو او په دې خبره باندې خبرداري هم دې چه د انسان دا خواهش چه ما ته دې په دنیا کښې صرف آرام ملاویږی او کله هم تکلیف نه وی دا غلط خیال دې چه کله به هم نه پوره کیږی. کله چه مشقت او تکلیف راخی نو د عقلمند سړی دا کار دې چه محنت د داسې څیز د پاره اوکړی کوم چه همیشه د هغه په کار راشی او د همیشوالی د آرام سامان جوړ شی.

﴿ ایحسب ان لن یقدر ﴾ مقصد دا دې چه انسان له پکار وو چه په دې تکلیفونو او مصیبتونو کښې ئې غور کړې وې او عاجزی ئې اختیار کړې وې خو هغه تکبر او غرور کوی شیخی او شوخی ښائی او د طاقت په نشه کښې راتلو سره وائی چه زه خو د خلقو د امداد د پاره ډیر مال خرچ کوم یا دا چه ما د رسول الله ﷺ په مخالفت کښې ډیر مال هلاک کړې دې حال دا چه دا ښکاره دروغ وائی ﴿ ایحسب ان لم یره ﴾ مقصد دا دې چه دا بیوقوف دا ګڼړی چه د هغه دا بد اعمال هیڅ څوک نه وینی حال دا چه د هغه خالق د هغه هر عمل ته ګوری. (معارف)

شان نزول: دا آیتونه یا خو د مطلق کفارو په باره کښې نازل شوی دی

يا د وليد بن مغيره په باره کښې يا د ابوالاشد چه د هغه نوم کلاه بن
اسيد وو د هغه په باره کښې کوم چه ډير طاقتور وو او مشهور پهلوان
وو وئيل به ئې که د عذاب ملائک ما ته راغلل نو د خان نه به ئې
لاندې کړم بيا به ما باندې قابو بيا نه مومی. ﴿الم نجعل له﴾ په تيرو
آيتونو کښې محن ذکر کولو سره تنبيه کړې شوې وه په دې آيتونو کښې
منن (نعمتونه) بيانولو سره کافر انسان متوجه کولې شی چه ستاسو
په وجود کښې داسې نعمتونه موجود دی که غور اوکړئ نو دا به د
قدرت او د حکمت بې مثله نظاره وی مثلاً سترګه د قدرت عجيبه
او نا آشنا نمونه ده چه څنګه په دې کښې رڼړا کيخودلې شوې ده د
نازک اندام کيدو د وجې نه د حفاظت عجيبه انتظامات دواړو طرفو
ته د بڼرو والا پرده بيا د روخو والا پردې چه څه نقصانی څيز دننه لاړ نه
شی بيا هغه په مخ کښې داسې فټ کړې شو چه لاندې باندې سخت
هډوکې د دې د پاره که اوغورخيږی نو دا څيزونه پکښې بنديز جوړ
شی دويم نعمت ژبه ده چه په زړه کښې يو مضمون راغلو دماغو پرې
غور اوکړو د هغې د پاره ئې الفاظ تيار کړل او د ژبې په مشين
باندې په تيزئ سره راوتل په دې طريقه شونډې د ژبې مدد ګارې دی
هم د دې په ذريعه د آواز او حروفو مختلف شکلونه جوړيږی او دا چه
ژبه د تورې په شان هم ده کوم په دشمن باندې هم چليدې شی خپله
مرئ هم پرې کولې شی.... په دې وجه دا شونډې د تيکی په شان
حيثيت لری چه ژبه دې هم په دې کښې بنده اوساتلې شی بې موقعې
دې ژبه نه پرانستلې کيږی ﴿وهدينه النجــدين﴾ مقصد دا دې چه
مونږ انسان ته سترګې ورکولو سره دوه فراخه لارې ښودلې دی يو د

خیر او د هدایت دویمه د ګمراهۍ او د شر که د خیر لاره اختیاروی نو جنت به ورته ملاویږی که د شر لاره اختیاروی نو دوزخ ته به ځی.

فَلَا ٱقْتَحَمَ ٱلْعَقَبَةَ ﴿١١﴾ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا ٱلْعَقَبَةُ ﴿١٢﴾ فَكُّ رَقَبَةٍ ﴿١٣﴾ أَوْ إِطْعَـٰمٌ فِى يَوْمٍ ذِى مَسْغَبَةٍ ﴿١٤﴾ يَتِيمًا ذَا مَقْرَبَةٍ ﴿١٥﴾ أَوْ مِسْكِينًا ذَا مَتْرَبَةٍ ﴿١٦﴾ ثُمَّ كَانَ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَتَوَاصَوْا۟ بِٱلصَّبْرِ وَتَوَاصَوْا۟ بِٱلْمَرْحَمَةِ ﴿١٧﴾ أُو۟لَـٰٓئِكَ أَصْحَـٰبُ ٱلْمَيْمَنَةِ ﴿١٨﴾ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِـَٔايَـٰتِنَا هُمْ أَصْحَـٰبُ ٱلْمَشْـَٔمَةِ ﴿١٩﴾ عَلَيْهِمْ نَارٌ مُّؤْصَدَةٌۢ ﴿٢٠﴾

ترجمه: پس ولې داخل نه شو هغه انسان لارې د تکلیف ته.....او ته څه څیز خبر کړې چه د تکلیف لار څه ده؟....آزادول دی د غلام.....یا خوراک ورکول دی په ورځ د لوږې....یتیم ته چه خپلوان وی.....یا مسکین ته چه د خاورو والاوی....بیا شی د هغه خلقو نه چه ایمان راوړی او وصیت ئې اوکړو په صبر باندې او وصیت ئې اوکړو په رحم کولو باندې....دا خلق د ښی طرف والادی.....او کومو خلقو چه کفر اوکړو په آیتونو زمونږ هغه خلق د ګس طرف والادی....په هغوی باندې اور دې بند کړې شوې.

حل المفردات: په لاکښې دوه احتماله دی (۱) د هلا په معنی کښې کیدو سره په حروف تحضیضیه کښې دې.....(۲) په خپله معنی کښې کیدو سره به دا اشکال وی چه کله لانافیه په ماضی باندې داخله شی نو تکرار د لا ضروری دې لکه ﴿ فلا صدق ولا صلی ﴾ دلته تکرار د لا دې عبارت به داسې وی ﴿ فلا اقتحم العقبة ولا فک رقبة ولا اطعم

مسكينا ﴾ اقتحم واحد مذكر غائب ماضي معروف د باب افتعال نه په خپله معامله کښې خپل ځان په مشقت کښې اچول.ننوتل...العقبة غريزه او سخته لار...جمع د دې عقبات راځي،عقاب،فک مصدر دې د باب (ن) په معنى د قيدى خلاصول...غوټه پرانستل...رقبة په معنى د سټ يا غلام جمع ئې رقبات او رقاب راځي...مسغبة په وزن د مفعلة مصدر ئې د (ن،س) راځي اوږې کيدل.....مقربة د بآب (س،ک) نزدې کيدل....متربة د بآب (س) محتاج کيدل...تواصوا جمع مذکر غائب معروف د باب تفاعل نه يو بل ته وصيت کول په اصل کښې تواصيو وو په قانون د قال تواصوا شو المرحمة د باب (س) رحم کول...الميمنة د بآب (س،ک،ف) بابرکت کيدل المشئمة د بآب (ک) منحوس او نامبارک کيدل...موصدة واحد مونثه اسم مفعول د باب افعال نه بند کول...

ترکيب: ﴿ فلا اقتحم العقبة ﴾ فا عاطفه يا تتيجيه لا په معنى د هلا د حروف تحضيضيه يا لانافيه اقتحم فعل هو ضمير فاعل العقبة مفعول فيه دا جمله فعليه خبريه شوه.﴿ وما ادراک ما العقبة ﴾ واؤ عاطفه ما مبتدا ادرى فعل هو ضمير فاعل کاف ضمير مفعول به اول...ما العقبة مبتدا خبر يو ځاې کيدو سره جمله انشائيه کيدو سره قائم مقام مفعول ثانى فعل سره د فاعل او سره د دواړو مفعولينو نه خبر شو مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه انشائيه شوه.

﴿ فک رقبة او اطعم فى يوم ذى مسغبة ذا مقربة او مسکينا ذا متربة ﴾ مضاف سره د مضاف اليه نه معطوف عليه شو او عاطفه اطعام مصدر فى جاره يوم موصوف ذى مسغبة مضاف مضاف اليه

سره صفت شو موصوف سره د صفت نه مجرور شو د پاره د فی جار جار سره د مجرور نه متعلق په اطعام پورې يتيما موصوف ذا مقربة مضاف مضاف اليه يو ځائې كيدو سره صفت شو، موصوف سره د صفت نه معطوف عليه شو.

﴿او مسكينا ذا متربة﴾ معطوف، معطوف عليه د معطوف سره مفعول به شو د پاره د اطعام، اطعام مصدر د خپل متعلق او مفعول به سره معطوف شو د پاره د ﴿فك رقبة﴾ نو دا خبر شو د پاره مبتدا محذوف چه هو دې مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه خبريه شوه.﴿ثم كان من الذين امنوا و تواصوا بالصبر و تواصوا بالمرحمة﴾ ثم حرف عاطفه كان فعل د افعال ناقصه نه هو ضمير اسم من جار الذين موصول امنو فعل واؤ ضمير فاعل فعل سره د فاعل نه معطوف عليه واؤ عاطفه تواصوا فعل واؤ ضمير بارز فاعل بالصبر جار مجرور په تواصوا پورې متعلق شو دا جمله معطوف اول..﴿وتواصوا بالمرحمة﴾ معطوف ثانى معطوف عليه سره د دواړو معطوفينو نه صله شوه د پاره د موصول...صله سره د موصول نه مجرور شو د پاره د جار، جار سره د مجرور نه ظرف مستقر په ثابتا پورې متعلق كيدو سره خبر شو. كان د خپل اسم او خبر سره جمله فعليه خبريه شوه.

﴿اولئک اصحب الميمنة والذين كفروا بايتنا هم اصحب المشئمة﴾ اولئک مبتدا اصحب الميمنة مضاف مضاف اليه يو ځائې كيدو سره خبر، مبتدا سره د خبر نه معطوف عليه واؤ عاطفه الذين اسم موصول كفروا فعل واؤ ضمير بارز فاعل بايتنا جار مجرور متعلق شو په كفروا پورې كفروا جمله صله شوه د پاره د موصول صله سره د

موصول نه مبتدا ....هم ضمیر مبتدا اصحب المشئمة مرکب اضا
خبر شو ،مبتدا سره د خبر نه بیا خبر شو د پاره د مبتدا دا جم
اسمیه شوه.

﴿ علیهم نار موصدة ﴾ علیهم خبر مقدم نار موص
موصوف صفت یو ځاني کیدو سره مبتدا موخر دا جمله اسمیه شو

تفسیر: ﴿ فلا اقتحم العقبة ﴾ د اقتحام معنی ننوتل د العقبة معنی
د غر لوئي ګټ (۲) یا د غر مینځ کښ سختي لارې ته ونیلي شی دل
ترې مراد دین اسلام او اوامر او نواهی دی دین اسلام لره په العق
سره د تعبیر کولو دوه وجې دی.(۱) که د دشمن خطره وی نو انسان
عقبه باندې ختلو سره یا په هغې کښ ننوتلو سره خپل ځان بچ کو
هم دغه شان انسان په اوامر او نواهی بآندې عمل کولو سره د آخر
او جهنم د عذاب نه خپل ځان خلاصوی.(۲) ځنګه چه د غر لاره ډیر
سخته وی او تکلیف ورکونکې وی هم دغه شان په شریعت بآند
تلل هم ډیر سخت او په نفس باندې ګران وی.﴿ وما ادرک ﴾ ت
عظمت طرف ته اشاره ده ﴿فک رقبة ﴾ د عقبة تفسیر دې (۱) هغ
عقبه د سټ آزادول دی په دې کښ ډیر احتمالات دی.(۱) د غلا
آزادول ډیر لوئي عبادت دې په حدیث کښ دی چه چا مسلمان غلا
آزاد کړو الله پاک د هغه د هر اندام په بدل کښ د آزادونکی هم هغ
اندام د دوزخ نه خلاصوی...﴿ حق الفرج بفرجه ﴾ (۲) څوک چه پ
قصاص کښ ګرفتار وی صله رحمی کولو سره د هغه د طرف نه ما
ادا کول.(۳) د یو قرض دار او غریب امدا د کول.(۳) ﴿ او اطعام
(۲) دویم قسم کله چه یو سړې اوږې وی د قحط په وجه باندې یا

غلې د نه ملاویدو د وجې نه هغه ته ډوډۍ ورکول ثواب دې بیا که هغه یتیم وی نو دوچند ثواب دې ځکه د خوراک ورکولو سره صله رحمی هم ده یا بیا مسکین ته ډوډۍ ورکول کوم چه ډیر زیات محتاج وی او د فقر او لوږې نه په خاورو ناست وی مقصد دا دې چه د هغه سره هیڅ هم نه وی دا هم ډیر زیات ثواب دې.

﴿ ثم كان من الذين ﴾ د دې ځائې نه د ذکر کړې شوې اعمالو د قبولیت شرط بیانوی چه دا اعمال به هله قبلیږی چه کونکې ئې مومن وی بغیر د ایمان نه هیڅ نیکی قبوله نه ده.(حقانی) (٢) د ایمان نه پس دویم فرض دا ښودلې شوې دې چه هغه نورو مسلمانانو رونړو ته هم د دې خبرې تلقین کوی د صبر نه مراد نفس لره د ګناهونو نه بندول دی او په نیکو باندې عمل کول شهوانی طاقت، غضبی طاقت او د طمع په طاقت باندې کنټرول کولو ته هم صبر وئیلې شی.(٣) دریم څیز ئې دا ارشاد اوفرمائیلو چه په نورو خلقو باندې رحم کول د هغوی درد او تکلیف خپل تکلیف ګنړل دا هم ډیر لوئې ثواب دې په یتیمانو باندې رحم کول په وړو باندې مهربانی په بې آسرو او کونډو او د بې وسو مدد کول په اوږو باندې ډوډۍ خوړل د بیمارانو دوائی کول، بربنډو ته جامه اغوستول چا ته چه لاړ نه وی معلومه هغوی ته لاړ ښودل وغیره دا ټول په مرحمة کښې داخل دی.

د رسول اللهﷺ ارشاد پاک دې: ﴿ الرحمون يرحمهم الرحمن ارحموا من فی الارض يرحمكم من فی السمآء (٢) من لم يرحم صغيرنا ولم يوقر كبيرنا فليس منا (مشكوة)

﴿ اولیک اصحب المیمنة ﴾ کوم خلق چه نیک اعمال کوی د

هغوی ثواب ئې بيان کړو چه دا ډير مبارک خلق دی او د قيامت په ورځ به د هغوی اعمال نامې په ښی لاس کښ وی يا به د عرش الهی ښی طرف ته وی.

﴿ والذين كفروا ﴾ د کفارو او د منکرينو د سزا بيان دې چه دا ډير بدبخته او سپيرۀ خلق دی او د هغوی عمل نامې به په گس لاس کښ ورکولې شی او په هغوی باندې به داسې اور بل کړې شی کوم چه به بند وی خکه د دوزخ دروازې به بندې کړې شوې وی

سورة الشمس مكية

اياتها ١٥	بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ	ركوعها ١

وَالشَّمْسِ وَضُحَاهَا ﴿١﴾ وَالْقَمَرِ إِذَا تَلَاهَا ﴿٢﴾ وَالنَّهَارِ إِذَا جَلَّاهَا
﴿٣﴾ وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَاهَا ﴿٤﴾ وَالسَّمَاءِ وَمَا بَنَاهَا ﴿٥﴾ وَالْأَرْضِ وَمَا
طَحَاهَا ﴿٦﴾ وَنَفْسٍ وَمَا سَوَّاهَا ﴿٧﴾ فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقْوَاهَا ﴿٨﴾ قَدْ
أَفْلَحَ مَن زَكَّاهَا ﴿٩﴾ وَقَدْ خَابَ مَن دَسَّاهَا ﴿١٠﴾

ترجمه: قسم دې په نمر او د هغې په رڼرا.....او په سپوږمۍ چه کله وريسې راشی.....او په ورځې چه رڼرا اوکړی.....او په شپه باندې کله چه کله پټ کړی (دا نمر).....او قسم دې په آسمان باندې او په هغه ذات چه چا جوړ کړې دې.....او په زمکه باندې او په هغه ذات چا چه خوره کړه.....او قسم دې په نفس باندې او په هغه ذات چا چه برابر کړو دانفس.....بيا واچوله الله پاک په دې نفس کښ د هغه بدی او تقوی.....

بیشکه کامیاب شو چه پاک کړو دا نفس...او ناکامه شو چه خراب کړو دا نفس یا ئې په خاورو کښې ګډ کړو.

حل المفردات: القمر په معنی د سپوږمۍ جمع ئې اقمار راخی د باب (س) سپین کیدل...تلها واحد مذکر غائب ماضی معروف د باب (ن) نه مصدر دې په شا تلل او مصدر تلاوت کول...جلی واحد مذکر غائب ماضی په اصل کښې جلی وو د باب تفعیل نه ښکاره کول روښانه کول...طحها واحد مذکر غائب ماضی معروف د باب افعال نه په زړه کښې اچول....خاب واحد مذکر غائب ماضی معروف په اصل کښې خیب وو د باب (ض) نه ناکام کیدل.دسها واحد مذکر غائب ماضی معروف په اصل کښې دسی وو ورانول ... ګمراه کول.

حل الترکیب: ﴿ والشمس و ضحها والقمر اذا تلها والنهار اذا جلها والیل اذا یغشها والسمآء وما بنها والارض وما طحها و نفس وما سواها فالهمها فجورها و تقوها ﴾ واؤ قسمیه الشمس معطوف علیه واؤ عاطفه ضحها مضاف مضاف الیه سره معطوف معطوف علیه سره د معطوف نه مجرور شو د پاره د واؤ قسمیه جار مجرور متعلق شو په اقسم فعل پورې واؤ عاطفه القمر معطوف اول اذا ظرفیه مضاف تلی فعل هو ضمیر فاعل ها ضمیر مفعول به دا جمله مضاف الیه شوه د پاره د اذا ظرفیه مضاف سره د مضاف الیه نه مفعول فیه شو دپاره د اقسم واؤ عاطفه النهار معطوف ثانی اذا ظرفیه جلها جمله کیدو سره مضاف الیه دا هم د اقسم د پاره مفعول فیه شو هم دغه شان د ﴿ والیل اذا یغشها ﴾ ترکیب دې دا معطوف ثالث دې والسمآء معطوف علیه واؤ عاطفه ما موصوله په معنی د من یا ما

مصدریه بنها جمله کیدو سره صله شوه صله سره د موصول نه معطوف،معطوف علیه سره د معطوف نه معطوف رابع....﴿ والارض وما طحها ﴾ د دې جملې ترکیب د مخکښې جملې په شان دې بیا دا معطوف خامس دې.....﴿ ونفس وما سواها ﴾ د دې جملې ترکیب هم د مخکښې جملې په شان دې بیا سوها معطوف علیه دې او فا عاطفه الهم فعل هو ضمیر فاعل ها ضمیر مفعول به اول فجورها مضاف مضاف الیه سره معطوف علیه واؤ عاطفه تقوها مضاف مضاف الیه یو ځائې کیدو سره معطوف شو،معطوف علیه سره د معطوف نه مفعول ثانی شو دپاره د الهم فعل سره دفاعل او سره دواړو مفعولینو نه صله شوه د پاره د ما موصوله موصول سره د صلې نه معطوف د دې د پاره د نفس معطوف علیه سره د معطوف دا معطوف سادس دې،الشمس سره د ټولو معطوفاتو نه مقسم به کیدو سره مجرور دې دپاره د واؤ جاره قسمیه جار سره د مجرور نه متعلق شو په اقسم فعل پورې فعل سره د فاعل نه او متعلق سره جمله قسمیه انشائیه شوه.

﴿ قد افلح من زکها و قد خاب من دسها ﴾ قد د پاره د تحقیق افلح فعل من موصوله زکها جمله فعلیه کیدو سره صله شوه د پاره د موصول صله سره د موصول نه فاعل شو د پاره د فعل فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره معطوف علیه شو.. .واؤ عاطفه قد د پاره د تحقیق خاب فعل من دسها موصول صله یو ځائې کیدو سره فاعل دې د پاره د خاب،فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه کیدو سره معطوف د پاره د معطوف علیه،معطوف سره د معطوف علیه نه جمله معطوفه شوه.

تفسیر: د دې سورة نوم الشمس دې او دا مکی سورة دې.

ربط: په تیر سورة کښې د جزا او سزا اخروری ذکر وو په دې سورة کښې د اعمالو په قصدکولو باندې د دنیاوی سزا د احتمال بیان دې او دا هم چه په تیر سورة کښې مقصود د کفار مکه تخویف او وعید وو په دې سورة کښې هم دا مقصود دې.

﴿ والشمس ﴾ الله پاک د سورة د شروع نه ﴿ قد افلح ﴾ پورې اووۀ څیزونو باندې قسم خوړلو سره د جواب قسم مضمون مضبوطوی اول قسم په نمر باندې او د هغه رڼړا باندې خوری ضحی هغه وخت ته وئیلې شی چه کله نمر راختلو سره لږ اوچت شی او د هغه رڼړا په زمکه باندې پوره طریقې سره خوره شی دا وخت د دې د پاره ذکر کړې شوې دې چه د ګرمئ او زیاتې رڼړا د نه کیدو په وجه باندې انسان د الله پاک د قدرت دې نخښې ته په غور کتلې شی...او رڼړا صفا وی ګویا ﴿ وضحها ﴾ کښې د نمر یو وصف او حالت کامله ذکر فرمائیلې دې.

﴿ والقمر اذا تلها ﴾ دویم قسم د سپوږمئ دې او د دې سره ئې د تلها د وصف ذکر اوفرمائیلو د تلو معنی روستو راتلل ده او تابع کیدل مقصد به دا وی چه قسم په سپوږمئ دې چه کله هغه په نمر ته شاته راشی تابع کیدو سره سپوږمئ په ډیرو طریقو سره د سپوږمئ تابع دې.....(۱) د طلوع په اعتبار سره څکه چه د نمر د غروب نه پس سپوږمئ راخیژی داسې صورة د هر میاشتې په ړومبی نیمه حصه کښې وی (مظهری) (۲) استفاده د رڼړا په اعتبار سره څکه چه سپوږمئ د نمر نه رڼړا اخلی (۳) د جسامت او شکل په اعتبار

سره خصوصا په ۱۳، ۱۴، ۱۵، تاریخ باندې سپوږمۍ په ګولايئ کښې د نمر په شان وی.(مظهری)(۴) د میاشتو او کلونو په حساب کښې هم سپوږمۍ د نمر تابع ده.

﴿ والنهار اذا جلها ﴾ د دریم قسم بیان دې د ورځې قسم ئې اوخوړلو او ورسره ئې د جلها وصف ذکر کړو په ها ضمیر کښې څلور احتمالات دی.(۱) تیارهٔ (۲) دنیا (۳) زمکه (۴) نمر.(مظهری)

اول درې مرجع په مخکښې حصه ذکر نه دی نو د اضمار قبل الذکر سوال پیدا کیږی نو جواب به دا وی چه هغه څیزونه عموما د انسان مخې ته وی عرب بغیر د هغې د ذکر کولو نه هغې ته ضمیر راجع کوی وصف د جلها ذکر کولو سره د کاملې رڼړا طرف ته اشاره اوکړه مقصد به دا وی چه قسم دې په ورځ باندې چه کله هغه زمکه یا دنیا یا نمر ښه روښانه کړی یعنی د ورځ کیدو د وجې نه نمر ښه روښانه په نظر راځی.... ﴿ واللیل اذا یغشها ﴾ څلورم قسم په شپه باندې دې د یغشها په وصف سره ئې د کمال اضافه اوفرمائیله چه په شپه قسم دې چه کله هغه (۱) دنیا (۲) یا زمکه (۳) یا نمر لره او د هغې آثار او رڼړاګانې بالکل پټې کړی چه ښه شپه شی د ورځې هیڅ اثر هم باقی نه وی د دې څلورو څیزونو په قسم خوړلو سره ئې د وما بنها وصف ذکر اوفرمائیلو په ما قبل کښې دوه اقوال دی: (۱) ما د من په معنی کښې ده او د دې نه که ذات د الله پاک مراد وی نو مقصد به دا وی چه په آسمان او د هغې په جوړونکی باندې قسم.

سوال: په دې صورت کښې به د غیر الله د قسم تقدیم لازم شی په الله باندې چه بې ادبی ده د الله پاک د عظمت تقاضا دا ده چه د هغه قسم دې مقدم وی؟

جواب: (١) په دې کښې بې ادبي نشته بلکه کمال ادب دې ځکه چه مخکښې د ورو څيزونو قسم خوړلې شي او د لوئې څيز قسم په آخر کښې خوړلې شي دې ته ترقی من الادنی الی الاعلی وئيلې شي.(٢) السمآء مخلوق او مصنوع دې او مصنوع په صانع باندې دليل وی نو دليل مقدم کړې شو چه ذهن د مدلول (د صانع د وجود) طرف ته منتقل کړې شی (٢) په ما کښې دويم احتمال دا دې چه ما مصدريه ده معنی به ئې وی قسم دې په آسمان باندې او د هغې په جوړولو باندې... علامه زمخشری په تفسير کشاف کښې علامه بيضاوی په تفسير بيضاوی کښې او علامه قرطبی په تفسير قرطبی کښې دا قول راجح کړې دې د دې دوه وجې کيديشي....(١) په ماقبل او ما بعد کښې چه څومره قسمونه ذکر کړې شوی دی هغه ټول په مخلوقاتو دی که په منځ کښې د خالق قسم راشی نو دا به د ترتيب او د نسق خلاف شي...(٢) ما لره په معنی د من سره اختلاف باندې بې ادبي او اشکال لازميږی په ما مصدريه کښې دا اعتراض نشته ﴿ما بنها﴾ کښې ئې د آسمان کامل حالت بيان کړو چه قسم دې په آسمان باندې په داسې حالت کښې چه د دې تخليق او تکوين مکمل شو.

﴿ والارض وما طحها ﴾ شپږم قسم په زمکه باندې،ورسره ئې وصف هم بيان کړو په داسې حالت کښې چه د هغې د خورولو او غوړلو سره ئې د هغې تخليق پوره کړو دلته هم په ما کښې دوه احتماله دی.

﴿ ونفس وما سوها ﴾ د اووم قسم بيان دې مقصد دا دې چه په نفس باندې قسم او په هغه ذات قسم چه هغه نفس لره په هر قسمه

شکل او صورة او د اندامونو په اعتبار سره صحیح جوړ کړو په ما
کښ دواړه احتمالات کیدیشی په ﴿ ما سوها ﴾ کښ ئې کامل وصف
بیان کړو ﴿ فالهمها ﴾ فا عاطفه ده د الهم عطف په سوی باندې دې د
الهام لغوی معنی په زړه کښ اچول د فجور معنی ښکاره ګناه او د
تقوی معنی پرهیزګاری مقصد دا دې چه الله پاک د انسان نفس جوړ
کړو او بیا ئې د هغه په زړه کښ د فجور او تقوی او د ګناه او اطاعت
د دواړو استعداد او صلاحیت کیخودلو بیا ئې انسان ته یو خاص
قسم قدرت او اختیار ورکړو چه هغه پخپله مرضئ باندې په خپل
قصد باندې د اطاعت لاره اختیار کړی یا د ګناه او فجور لاړ چه کله
هغه په خپل قصد او اختیار سره په دې دوه لارو کښ یوه اختیار کړی
نو هم په دې وجه باندې الله پاک هغه ته ثواب او عذاب ورکوی ﴿ قد
افلح من زکها ﴾ دا جواب قسم دې مقصد دا دې چه کوم سړی د الله
پاک اطاعت کولو سره د خپل نفس ظاهر او باطن لره پاک کړو هغه
کامیاب شو...﴿ وقد خاب من دسها ﴾ مقصد دا دې چه کوم سړی
خپل نفس د ګناهونو په دلدل کښ ډوب کړو او پټ کړو هغه نامراد او
ناکام شو...د دسی معنی ده خرابول فاسد کول په اصل کښ دسس
آخری سین لره په حرف علت سین سره بدل کړې شو لکه تقضی په
اصل کښ تقضض وو (مظهری) د دس نه مشتق دې چه معنی ئې ده په
زمکه کښ دفن کول ﴿ کما قال تعالی...ام یدسه فی التراب ﴾

كَذَّبَتۡ ثَمُودُ بِطَغۡوَىٰهَآ ۝ إِذِ ٱنۢبَعَثَ أَشۡقَىٰهَا ۝ فَقَالَ لَهُمۡ
رَسُولُ ٱللَّهِ نَاقَةَ ٱللَّهِ وَسُقۡيَٰهَا ۝ فَكَذَّبُوهُ فَعَقَرُوهَا فَدَمۡدَمَ عَلَيۡهِمۡ

رَبُّهُم بِذَنۢبِهِمْ فَسَوّٰىهَا ﴿١٤﴾ وَلَا يَخَافُ عُقْبٰهَا ﴿١٥﴾

ترجمه : تکذیب اوکړو ثمودیانو په خپلې سرکشئ سره ... کله چه په هغوی کښې یو بدبخته پاسیدو ... پس اوونیل هغوی ته رسول د الله (صالح علیه السلام) دا د الله پاک اوښه پریږدئ او د هغې اوبه څکل ...پس تکذیب اوکړو هغوی (د دې نبی علیه السلام) پس ذبح کړه هغوی (خپې ئې ترې پرې کړې) هغه اوښه... پس هلاکت واچولو په هغوی باندې د هغوی رب....په سبب د هغوی د گناهونو پس برابر ئې کړل هغوی .... او الله پاک د هغوی د هلاکولو د انجام نه ویره نه وی.

حل المفردات: انبعث واحد مذکر غائب ماضی از (انفعال) پاسیدل اودریدل ناقة اوښه جمع ئې ناقات،نوق راځی عقروها جمع مذکر غائب ماضی د باب (ض) نه ذبح کول خپې پرې کول...فدمدم واحد مذکر غائب ماضی معروف د باب فعلله رباعی مجرد نه هلاکول.

حل الترکیب: ﴿ کذبت ثمود بطغوها......اذ انبعث اشقها.....فقال لهم رسول الله ناقة الله و سقیها.....فکذبوه فعقروها فدمدم علیهم ربهم بذنبهم فسوها﴾ کذبت فعل ثمود فاعل با حرف جار طغوی مضاف ها ضمیر مضاف الیه،مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور شو د پاره د جار،جار سره د مجرور نه متعلق شو په کذبت فعل پورې اذا ظرفیه مضاف انبعث فعل اشقها مضاف مضاف الیه یو ځائې کیدو سره فاعل فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره مضاف الیه شو د پاره د اذ مضاف مضاف سره د مضاف الیه نه مفعول فیه شو د پاره د کذبت فعل دا جمله فعلیه کیدو سره معطوف علیه فا

عاطفه قال فعل لهم جار مجرور متعلق په قال پوري رسول الله مضاف مضاف اليه يو ځائي كيدو سره فاعل شو د پاره د قال فعل سره د فاعل او سره د متعلق نه قول شو....ناقة الله مضاف مضاف اليه يو ځائي كيدو سره معطوف عليه وسقيها مضاف مضاف اليه يو ځائي كيدو سره معطوف شو معطوف سره د معطوف عليه نه مفعول به شو د پاره د فعل محذوف چه ﴿ ذروا﴾ دي....ذروا فعل سره د فاعل نه جمله فعليه انشائيه مقوله شوه دپاره د قول،قول سره د مقولې نه جمله فعليه خبريه كيدو سره معطوف اول شو فا عاطفه كذبوا فعل واؤ ضمير فاعل ه ضمير مفعول به دا جمله كيدو سره معطوف ثانی شو فا عاطفه دمدم فعل عليهم جار مجرور متعلق په دمدم پوري ربهم مضاف مضاف اليه فاعل با سببيه جاره ذنب مضاف هم ضمير مضاف اليه مضاف سره د مضاف اليه نه مجرور شو د پاره د با جاره جار سره د مجرور نه متعلق شو په دمدم پوري بيا دا معطوف عليه شو فسوها فعل فاعل او مفعول به جمله كيدو سره معطوف شو.. ..دمدم د خپل معطوف سره بيا دا معطوف رابع دي معطوف عليه سره د ټولو معطوفاتو نه جمله معطوفه شوه.﴿ ولا يخاف عقبها ﴾ واؤ عاطفه يا استينافيه لانافيه يخاف فعل هو ضمير فاعل عقبها مضاف مضاف اليه يو ځائي كيدو سره مفعول به شو فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعليه خبريه كيدو سره معطوف دي يا دا جمله مستانفه ده.

تفسير: ﴿ كذبتْ ثمود ﴾ په تيرو آيتونو كښ الله پاک انسانان په دوه ډلو كښ تقسيم كړل.(۱) بامراد (۲) نامراد....كذبت ثمود كښ د دويم

قسم یو واقعه په طور د مثال پیش کولو سره هغوی د بد انجام نه اویرولې شو چه دې نامرادو ته به په آخرت کښې سخته سزا خو ضرور ملاویږی بعض وخت هغوی ته په دنیا کښې هم سزا ورکولې کیږی پس د الله پاک ارشاد چه قوم ثمود د خپلې سرکشۍ او نافرمانۍ په وجه تکذیب اوکړو مختصر دا چه صالح علیه السلام ئې د هغوی د اصلاح دپاره اولیږلې شو هغوی په صداقت باندې د نخښې په طور د یو معلوم کانړی نه د لسو میاشتې د بلاربې اوښې د راویستلو خواهش اوکړو د صالح علیه السلام په دعا سره هم هغه شان اوښه پیدا شوه او هغې فورا بچې هم راوړو او غیبی اوښې به چونکه د ټولو څارو اوبه څکلې په دې وجه صالح علیه السلام نمبر مقرر کړو یو ورځ د دې اوښې او یو ورځ ستاسو د څاروو د هغوی دا تقسیم هم خوښ نه شو هغوی د ناقة الله د قتل منصوبه جوړه کړه چه پوره اوبه هغوی ته ملاؤ شی ﴿ اذا انبعث اشـــقها ﴾ مقصد دا دې چه قوم ثمود عملی تکذیب په هغه وخت اوکړو چه کله په هغوی کښې د ټولو نه لوئې بدبخت د اوښې د خپو پرې کولو د پاره تیار شو نوم ئې قذار بن سالف وو رنګ ئې سور او سترګې ئې شنې وې او قد ئې ووړوکې وو باقی ئې مشیران وو کار کونکې هم دا وو په دې وجه هغه ته اشقی اوونیلې شو.(مظهری)

﴿ فقـــال لهـــم رســـول الله ﴾ مقصد دا دې چه د الله رسول صالح علیه السلام اوفرمائیل چه دا د الله پاک اوښه ده الله پاک دا د معجزې په طور پیدا کړې ده د دې احترام کوئ په تاسو باندې واجب ده چه دې ته به تکلیف نه ورکوئ نه به ئې قتل کوئ نه به اوبه بندوئ ګینې عذاب به درباندې راخی... ﴿ فکـــذبوه ﴾ خو هغوی د صالح علیه السلام د

طرف نه د عذاب د راتلو د خبر ورکولو تکذيب اوکړو.... ﴿ فعقروها ﴾
ټولو د اوښې خپې پرې کړې (قتل ئې کړه) اګر چه قتل کونکې يو وو
خو مشوره د ټولو وه په دې وجه د جمع صيغه ذکر کړې شوه ﴿
فدمدم﴾ دمدمه داسې سخت عذاب ته وئيلې شی کوم چه په يو قوم
باسرې باندې بار بار راځی تر دې چه هغوی بالکل فنا کړی د ذنب
نه مراد د پيغمبر تکذيب دې او د اوښې قتل کول دی ﴿ فسوها ﴾
مقصد ئې دا دې چه الله پاک په هلاکت کښې ټول برابر کړل چه په هغې
کښې سرې بنځې او ماشومان ټول داخل وو ﴿ ولا يخاف عقبها ﴾
مقصد دا دې چه الله پاک د عذاب ورکولو نه پس د هغه د انجام نه نۀ
ويرېږی او حال دا چه د دنيا د لوئې نه لوئې بادشاه هم چه کله يو قوم
ته سزا ورکوی نو هغه په خطره کښې وی چه چرته زمونږ ملګری زمونږ
نه انتقام وانخلی بغاوت اونکړی وغيره.

سورة الليل مكية

اياتها ٢١	بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ	ركوعها ١

وَالَّيْلِ إِذَا يَغْشَىٰ ۝١ وَالنَّهَارِ إِذَا تَجَلَّىٰ ۝٢ وَمَا خَلَقَ الذَّكَرَ
وَالْأُنثَىٰ ۝٣ إِنَّ سَعْيَكُمْ لَشَتَّىٰ ۝٤ فَأَمَّا مَنْ أَعْطَىٰ وَاتَّقَىٰ ۝٥ وَصَدَّقَ
بِالْحُسْنَىٰ ۝٦ فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْيُسْرَىٰ ۝٧ وَأَمَّا مَنْ بَخِلَ وَاسْتَغْنَىٰ ۝٨
وَكَذَّبَ بِالْحُسْنَىٰ ۝٩ فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْعُسْرَىٰ ۝١٠ وَمَا يُغْنِي عَنْهُ مَالُهُ إِذَا

تَرَدَّىٰٓ ﴿١١﴾ إِنَّ عَلَيْنَا لَلْهُدَىٰ ﴿١٢﴾ وَإِنَّ لَنَا لَلْآخِرَةَ وَٱلْأُولَىٰ ﴿١٣﴾
فَأَنذَرْتُكُمْ نَارًا تَلَظَّىٰ ﴿١٤﴾ لَا يَصْلَىٰهَآ إِلَّا ٱلْأَشْقَى ﴿١٥﴾ ٱلَّذِى كَذَّبَ
وَتَوَلَّىٰ ﴿١٦﴾ وَسَيُجَنَّبُهَا ٱلْأَتْقَى ﴿١٧﴾ ٱلَّذِى يُؤْتِى مَالَهُۥ يَتَزَكَّىٰ ﴿١٨﴾ وَمَا
لِأَحَدٍ عِندَهُۥ مِن نِّعْمَةٍ تُجْزَىٰٓ ﴿١٩﴾ إِلَّا ٱبْتِغَآءَ وَجْهِ رَبِّهِ ٱلْأَعْلَىٰ ﴿٢٠﴾
وَلَسَوْفَ يَرْضَىٰ ﴿٢١﴾

ترجمه: قسم دې په شپه باندې کله چه پټه شی...او قسم دې په ورځ باندې چه کله روښانه شی...او قسم دې په هغه ذات چه پیدا ئې کړل سړې او ښځه.....بیشکه ستاسو کوشش خامخا جدا جدا دې... پس هغه چا چه ورکړه اوکړه او اویریدلو...او تصدیق ئې اوکړو د نیکئ د خبرې.....نو مونږ به هغه ته د آرام د څیز سامان ورکړو....او هغه سړې چا چه بخل اوکړو او بې پرواه شو او دروغ ئې اوګنړله د نیکئ خبره پس ،بهولت به ورکړو مونږ هغه ته د ګران څیز...او په کار به رانشی مال د هغه کله چه اوغورځیږی.....بیشکه په مونږ باندې دی هدایت ورکول....او بیشکه زمونږ د پاره دی دنیا او آخرت.. پس ویرولې ئې ما تاسو د اور نه کوم ګرم شوې دې...نه به داخلیږی په هغې کښې مګر بدبخته هغه چا دروغ اوګنړله او مخ ئې واړولو او زر ده چه بچ کولې به شی د هغه اور نه ویریدونکې....کوم چه مال ورکوی د دې د پاره چه پاک شی..... او نه دې د یو تن د پاره د هغه سره څه احسان چه هغه ته بدل ورکړې شی مګر د خپل رب رضا د پاره او زر ده چه راضی به شی هغه سړې

حل المفردات: تجلی واحد مذکر غائب ماضی معروف په اصل کښ تجلی وو د باب تفعل نه روښانه کیدل ښکاره کیدل...الذکر مرد جمع ئې ذکور راځی...الانثی ښځه جمع ئې اناث راځی لشتی د بعضو په نزد جمع ده د شتیت د پاره او د بعضو په نزد مفرد دې په معنی د بیل او جدا جدا د باب (ض) نه جدا کیدل...اعطی په اصل کښ اعطیَ وو یا لره په قانون د قال په الف سره بدل کړې شو د باب افعال نه ورکول...اتقی په اصل کښ اوتقیَ (ماده وقی) واحد مذکر غائب د باب افتعال نه بچ کیدل ویردل.... تردی واحد مذکر غائب ماضی معروف د باب (تفعل) نه غورځیدل...تلظی واحد مونثه غائبه مضارع معروف په اصل کښ تتلظیَ وو د باب تفعل یو تا حذوف کړې شوه د اور بلیدل ﴿ و سیجنبها ﴾ واحد مذکر غائب مضارع مجهول د باب (تفعیل) لرې کول بچ کول...تجزی واحد مونثه غائبه مضارع مجهول په اصل کښ تجزی وو د باب (ض) نه بدله ورکول..

حل التركیب: ﴿ واللیل اذا یغشی .... والنهار اذا تجلی .... وما خلق الذكر والانثی .... ان سعیکم لشتی ﴾ واؤ قسمیه جار اللیل مجرور کیدو سره معطوف علیه جار مجرور متعلق شو په اقسم پورې اذا ظرفیه مضاف یغشی فعل هو ضمیر فاعل دا جمله مضاف الیه شو د اذا د پاره بیا دا مفعول فیه دې دپاره د اقسم فعل والنهار واؤ عاطفه النهار معطوف اول ﴿ اذا تجلی ﴾ مضاف مضاف الیه یو ځائې کیدو سره مفعول فیه شو د پاره د اقسم والنهار واؤ عاطفه النهار معطوف اول اذا تجلی مضاف مضاف الیه یو ځائې کیدو سره مفعول فیه شو د پاره د اقسم فعل واؤ عاطفه ما د من په معنی کیدو سره موصوله

خلق فعل هو ضمير فاعل الذكر والانثى معطوف معطوف عليه يو ځائې کیدو سره مفعول به دا جمله صله شوه د پاره د ما موصوله صله سره د موصول نه معطوف ثاني شو معطوف علیه سره د دواړو معطوفینو نه په اقسم پورې متعلق شوه فعل سره د فاعل نه قسم شو...ان حرف د حروف مشبه بالفعل نه سعيكم اسم لشتى خبر دا جمله اسمیه کیدو سره جواب د قسم دا جمله قسمیه انشائیه شوه.

﴿ فاما من اعطى واتقى .... وصدق بالحسنى .... فسنيسره لليسرى ﴾ فا تِفصیلیه اما شرطیه من موصوله اعطى فعل هو ضمیر فاعل فعل سره د فاعل نه جمله فعليه كيدو سره معطوف عليه واتقى جمله كيدو سره معطوف اول شو ﴿ وصدق بالحسنى ﴾ جمله فعليه كيدو سره معطوف ثاني، معطوف علیه سره د دواړو معطوفينو نه صله شوه د پاره د موصول صله سره د موصول نه مبتدا متضمن معنې د شرط لره...فاء جزائيه سين د پاره د استقبال قريب نيسر فعل او فاعل ه ضمير مفعول به لليسرى جار مجرور متعلق په نيسر فعل پورې فعل سره د فاعل او سره د مفعول به او متعلق نه جمله کیدو سره خبر قائم مقام د جزاء شو مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه کیدو سره معطوف علیه.

﴿ واما من بخل واستغنى .... وكذب بالحسنى .... فسنيسره للعسرى ﴾ د دې جمله ترکیب د تیرې شوې جملې ﴿ فاما من اعطى ﴾ په شان دې او هم په هغې باندې د دې عطف دې معطوف سره د معطوف علیه نه جمله معطوفه شوه...﴿ وما يغني عنه ماله اذا تردى ﴾ واؤ عاطفه ما نافیه یغنی فعل عنه متعلق ماله فاعل اذا ظرفيه

مضاف تردی فعل هو ضمیر فاعل دا جمله مضاف الیه شو د اذا د پاره بیا هغه مفعول فیه دې د پاره د یغنی هغه جمله خبریه شوه.

﴿ان علینا للهدی وان لنا للاخرة والاولی﴾ ان حرف دې د حروف مشبه بالفعل نه علینا خبر مقدم للهدی اسم موخر دا جمله اسمیه کیدو سره معطوف علیه وان لنا...لنا د ان د پاره خبر مقدم دې للاخرة والاولی اسم موخر دې ان د خپل اسم او خبر سره معطوف شو معطوف علیه سره د معطوف نه جمله معطوفه شوه.

﴿فانذرتکم نارا تلظی .... لا یلها الا الاشقی .... الذی کذب و تولی﴾ فا نتیجیه انذرت فعل او فاعل کم ضمیر مفعول به اول نارا موصوف تلظی جمله فعلیه کیدو سره صفت اول شو لانافیه یصلی فعل ها ضمیر مفعول به الاحرف استثناء الاشقی موصوف الذی موصول کذب وتولی معطوف معطوف علیه یو ځائې کیدو سره صله شوه د پاره د موصول صله سره د موصول نه صفت د پاره د الاشقی موصوف سره د صفت نه مستثنی مفرغ کیدو سره فاعل دې لایصلی د پاره بیا دا جمله فعلیه صفت ثانی دې د پاره د نارا موصوف سره د دواړو صفتونو نه مفعول به ثانی شو د پاره د انذرت فعل سره د فاعل نه او د دواړو مفعولینو سره جمله فعلیه خبریه شوه....﴿وسیجنبها الاتقی الذی یؤتی ماله یتزکی﴾ واؤ عاطفه سین د پاره د استقبال قریب یجنب فعل ها ضمیر مفعول به الاتقی موصوف الذی موصول یؤتی فعل هو ضمیر ذوالحال ماله مفعول به دپاره د یؤتی.یتزکی جمله کیدو سره حال دې د پاره د :والحال حال سره د ذوالحال نه فاعل شو دپاره د یؤتی فعل سره د فاعل نه جمله

کیدو سره صله شوه دپاره د موصول صله سره د موصول نه صفت شو د الاتقی د پاره موصوف سره د صفت نه نائب فاعل فعل سره د نائب فاعل نه جمله فعلیه شوه.

﴿ وما لاحد عنده من نعمة تجزی .... الا ابتغاء وجه ربه الاعلی ﴾ واؤ عاطفه ما مشبه بلیس لاحد جار مجرور یو ځائې کیدو سره متعلق خبر مقدم شو عنده مضاف مضاف الیه یو ځائې کیدو سره مفعول فیه شو د پاره د ثابتا من زائده نعمة موصوف تجزی فعل هی ضمیر مستتنی منه الاحرف استثناء ابتغاء مضاف وجه مضاف ربه مضاف مضاف الیه یو ځائې کیدو سره موصوف الاعلی صفت موصوف سره د صفت نه مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه مضاف الیه شو دپاره د ابتغاء مضاف مضاف سره د مضاف الیه نه مستثنی منقطع شوه مستثنی منه د پاره مستثنی منه فاعل دې دپاره د تجزی بیا دا جمله صفت دې د پاره د نعمة موصوف، صفت سره د موصوف نه د ما د پاره اسم موخر دا جمله اسمیه خبریه شوه.

﴿ ولسوف یرضی ﴾ واؤ عاطفه لام ابتدائیه سوف د پاره د استقبال یرضی فعل هو ضمیر فاعل فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه خبریه شوه.

تفسیر: نوم سورة الليل. **ربط** : په تیر سورة کښې د اعمال صالحه جزا او اعمال سیئه د سزا ذکر وو په دې سورة کښې هم دا مضمون دې (مناسبت لفظی هم شته).

﴿ والليل اذا يغشى ﴾ په درې ځیزونو باندې قسم خوړلو سره الله پاک د جواب قسم والا مضمون کلکوی ړومبې قسم د شپې دې

په ﴿اذا يغشى﴾ سره وصف د كمال بيانوى چه كله شپه خوره شى نو هر څيز پټ كړى ﴿والنهار اذا تجلى﴾ بل قسم د ورځې دې چه كله روښانه شى ﴿وما خلق الذكر والانثى﴾ دريم قسم په هغه ذات باندې دې چا چه دوه څيزونه يعنى سړې او ښځه پيدا كړل ﴿ان سعيكم لشتى﴾ دا جواب قسم دې مقصد دا دې چه هر انسان د خپل فطرت اعتبار سره د څه نه څه كار د پاره كوشش او محنت كوى خو د هغوى سعى او كوشش مختلف او جدا جدا دې څوک په پخپل محنت او كوشش سره د هميشوالى د آرام سامان جوړ كړى او څه داسې اعمال اختيار كړى چه د هميشوالى عذاب واخلى لكه چه په حديث كښې دى رسول الله ﷺ اوفرمائيل هر انسان سحر پاسى نو هغه خپل نفس په تجارت باندې اولګوى څوک خو په دې تجارت كښې كامياب شى او خپل خان د آخرت د عذاب نه آزاد كړى او څوک داسې وى چه په خپل عمل او كوشش سره نفس لره په هلاكت كښې واچوى. ﴿فاما من اعطى﴾ د دې ځائې نه د جواب قسم ﴿ان سعيكم﴾ تفصيل دې خلاصه دا چه د سعى اود عمل په اعتبار سره د انسانانو دوه ډلې دى.

اوله ډله: ﴿فاما من اعطى﴾ كښې د اولې ډلې ذكر كړې دې. دا ډله هغه ده چه د هغه محنت د دوه څيزونو دپاره وى (۱) اعطى يو خو د الله پاک په لار كښې مال خرچ كوى زكواة او واجب حقوق ادا كوى د خپل وس مناسب صدقه او خيرات وركوى دا ړومبې عمل دې چه په هغې باندې د دنيا د ټولو عقلمندو او د ټولو مذاهبو اتفاق دې (۲) واتقى دويم عمل ئې دا اوكړو چه د الله پاک نه ويره كولو سره ئې د ژوند په هره شعبه كښې د هغه د احكامو د خلاف ورزئ كولو نه بچ

کېدلو او د هرې بدئ نه ئې ځان اوساتلو مثلا ظلم، زناکاری، دروغ، په چا باندې تهمت لګول ناحق قتل کول غلا کول د مور پلار نافرمانی کول وغیره (۳) وصدق بالحسنی دریم عمل ئې دا اوکړو چه هغه د ښه خبرې تصدیق اوکړو او هغه ئې رښتینې اوګنړله د حسنی نه ایمان او کلمه توحید لا الـه الا الله مراد ده چه د زړه نه د الله پاک د صفات کامله او د هغه د رسول او د آسمانی کتابونو او د قیامت اقرار او تصدیق اوکړی.(معارف)

سوال: ایمان خو د ټولو عملونو روح دې او د ټولو عملونو نه مخکښې وی دلته موخر ولې ذکر کړې شو؟

جواب: په دې وجه چه دلته د سعی او کوشش او عمل ذکر کیږی او د دې سعی او کوشش ضرورت په اعمالو کښې وی ایمان خو یو د زړه د تصدیق نوم دې چه په هغې کښې د هیڅ جسمانی قوت دخل نشته په دې وجه اعمال مقدم کړې شو.

﴿ فسنیسره للیـسری ﴾ په دې کښې د اولې ډلې د اعمالو نتیجه ذکر کړې شوې ده چه کوم خلق په دنیا کښې د دې اعمالو د پاره کوشش او محنت کوی مونږ به د هغوی د پاره د جنت لاره آسانه کړو د یسری لغوی معنی آسان او د آرام ځیز او جنت دې ... ﴿ واما من بخـل ﴾ دې ځائې نه د دویمې ډلې ذکر دې هغه دا دې چه د هغه کوشش او محنت هم د درې ځیزونو دپاره وی.(۱) ﴿ بخـل ﴾ په مال خرچ کولو کښې بخل کوی په زکواة او صدقات واجبه ادا کولو کښې کوتاهی کوی.(۳) استغنی د الله نه د ویریدلو او د هغه طرف ته د ښکته کیدلو او د هغه د فرمانبردارئ په ځائې د هغه نه بې رخی

اختیاروی او بې پرواهی کوی.(۳) ﴿ وکذب بالحسنی ﴾ او د نیکې خبرې چه کلمه توحید ده تکذیب کوی ﴿ فسنیسره للعسری ﴾ د دویمې ډلې د اعمالو د ثمرې او نتیجې ذکر دې چه د داسې خلقو د پاره چه ذکر کړې شوې اعمال په دنیا کښې اختیاروی مونږ به د دوزخ لار آسانه کړو هغوی په سهولت سره د داسې عملونو کونکی شی چه هغوی دوزخ ته اورسوی.

شان نزول خاص : د دې آیتونو الفاظ اگر چه عام دی خو د شان نزول په اعتبار سره دا سورة د ابوبکرصدیق ﷛ په مدح او د امیه بن خلف په بدئ کښې نازل شوې دې په مکه مکرمه کښې هم دا دوه سړی ډیر مالداران وو خو د هر یو عمل مختلف وو امیه ډیر شوم وو ظالم هم وو خصوصا که هغه ته به د خپل غلام په باره کښې معلومه شوه چه مسلمان شوې دې نو په هغه باندې به ئې د ظلم انتهاء کوله په دغه مظلومانو کښې یو بلال ﷛ هم دې چه هغه به په گرمه زمکه باندې څملولې شو او په سینه به ورته کانړی کیخودلې شو کوړې به ورکولې شوې وغیره نو دا د امیه ظالم حال وو د دې په خلاف کښې ابوبکرصدیق ﷛ به خپل مال د الله پاک په لار کښې خرچ کولو کله به هم چه ورته د یو کافر د غلام په باره کښې معلومه شوه چه دا مسلمان شوې دې او د هغه مولی په هغه باندې ظلم او جبر کوی نو هغه به ئې واخستلو او صرف د الله پاک د رضا د پاره به ئې آزاد کړو په دوی کښې بلال او زنیره او عامر بن فهیره ﷛ شامل دی پس د شان نزول په اعتبار سره د ﴿ من اعطی ﴾ او ﴿ واتقی ﴾ نه مراد ابوبکرصدیق ﷛ او د ﴿ من بخل ﴾ او د ﴿ اشقی ﴾ نه مراد امیه دې... ﴿ وما یغنی عنه ﴾

په دې کښې بلې ډلې ته تنبيه ورکولې شي چه کوم مال تاسو جمع
کوئ د الله پاک حقوق هم نه ادا کوئ چه کله د مرې کيدو نه پس د
دوزخ کندې ته غورځيږئ نو دا مال به د عذاب په وخت تاسو ته هيڅ
فائده درنکړي.(معارف)

﴿ ان علينا للهدى ﴾ مقصد دا دې چه زمونږ په ذمه صرف لار
ښودل دي پس مونږ پوره طريقې سره ښودلې ده بيا چا د ايمان او د
اطاعت والا لار خپله کړه نو چا د کفر او معصيت والا لار خپله کړه.

﴿وان لنا للآخرة والاولى ﴾ مقصد دا دې چه څنګه څوک لار
اختياروي هم هغه شان به ورته مونږ ثمره ورکړو او مونږ په دې باندې
قادر هم يو ځکه چه د دنيا او آخرت هر څيز زمونږ په قبضه کښې دې
او په دې کښې صَرف زمونږ حکومت دې.

﴿ فانذرتكم نارا تلظى ﴾ مقصد دا دې چه الله پاک فرمائی
چه په تيرو آيتونو کښې د اعمالو د جزا او د سزا ذکر کولو سره مونږ
تاسو د بليدونکی(ګرم) اور نه ويرولې ئې چه تاسو ايمان او اطاعت
خپلولو سره د دې اور نه بچ شئ او کفر او معصيت اختيار کولو سره
د دې اور خشاک جوړ نه شئ.

﴿ لا يصلها الا الاشقى ﴾ مقصد دا دې چه زمونږ د ويرولو
سره هم که چا کفر او معصيت اختيار کړو او ذکر کړې شوې اعمال
ئې اختيار کړل نو هغه ډير بدبخت دې او دوزخ د هم داسې بدبخت
خائې دې کوم چه زمونږ تکذيب کوی او د اطاعت نه مخ اړوی.

﴿وسيجنبها الاتقــى ﴾ د اهل شقاوت په مقابله کښې د اهل
سعادت او متقيانو خلقو احوال او د هغوی د جزا بيان دې چه هغه

انسان کوم چه د الله پاک نه ډیر ویریدونکي دي کوم چه خپل مال صرف د دي د پاره خرچ کوی چه هغه د گناهونو نه پاک شی نو داسي انسان به د دوزخ نه لري ساتلي شي او د دي نه مراد ابوبکر صدیق رضی الله عنه دي.(روح المعانی،خازن،قرطبی،تفسیر ابن عباس رضی الله عنهما ،تفسیر کبیر)

﴿وما لاحد عنده من نعمة تجزی ﴾ دا د ابوبکرصدیق رضی الله عنه د خلوص تذکره ده چه د ډیرمالونو خرچ کولو سره غلامانو لره آزادول صرف د الله پاک د رضا د پاره دی د څه احسان په بدل کښ نه دی چه دي غلامانو په تاسو باندي څه احسان نه دي کړي تاسو د دوی بدله ورکوئ داسي هر گز نه ده بلکه مقصود ﴿الا ابتغاء وجه ربه الاعلی﴾ ﴿ولسوف یرضی ﴾ مقصد دا دي چه کوم سړي به دنیا کښ د الله د رضاء د پاره مال خرچ کولو سره ئي الله پاک خوشحاله کوی الله پاک به هم هغه په آخرت کښ د جنت په عجیبه او دائمی نعمتونو باندي خوشحاله کړی دا آیت د ابوبکرصدیق رضی الله عنه د پاره یو عظیم اعزاز او خوشخبری ده.

سورة الضحى مكية

ایاتها ۱۱	بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ	رکوعها ۱

وَالضُّحَىٰ ﴿١﴾ وَاللَّيْلِ إِذَا سَجَىٰ ﴿٢﴾ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَىٰ
﴿٣﴾ وَلَلْآخِرَةُ خَيْرٌ لَّكَ مِنَ الْأُولَىٰ ﴿٤﴾ وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَىٰ
﴿٥﴾ أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيمًا فَآوَىٰ ﴿٦﴾ وَوَجَدَكَ ضَالًّا فَهَدَىٰ ﴿٧﴾ وَوَجَدَكَ

عَآئِلًا فَأَغْنَىٰ ﴿٨﴾ فَأَمَّا ٱلْيَتِيمَ فَلَا تَقْهَرْ ﴿٩﴾ وَأَمَّا ٱلسَّآئِلَ فَلَا تَنْهَرْ ﴿١٠﴾

وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ ﴿١١﴾

ترجمه: قسم دې په رڼا باندې یا قسم دې په چاشت باندې.....او په شپه باندې چه کله خوره شی یا چه کله قرار اونیسی......نه ئې پریخودلې ته رب ستا او نه ستا نه ناراضه شوې دې.....او خامخا آخرت ستا دپاره غوره دې د دنیا نه......او زر ده چه در به کړی تا ته رب ستا پس ته به رضا شې.....آیا هغه ته یتیم او نه موندلې ؟ پس ځائې ئې درکړو.....او او ئې موندلې د لار نه بې خبره نو لار ئې درته اوښودله.....او محتاج ئې اوموندلې نو مالدار ئې کړې....پس هر چه یتیم دې نو دهغه سره سختی مه کوئ.....اوسائل ته رټنه مه ورکوئ..... او د خپل رب د نعمت بیان کوه.

حل المفردات: سجی واحد مذکر ماضی په اصل کښ سجی وو د باب (ن) نه د شپې خوشې کیدل قرار نیول همیشه پاتې کیدل خوریدل، پټول.....ودعک واحد مذکرغائب ماضی د باب تفعیل نه (پریخودل) قلی واحد مذکر غائب ماضی په اصل کښ قلی (ن) بغض ساتل ناراضه کیدل لم یجدک واحد مذکر غائب نفی جحد په اصل کښ یوجد وو د یعد والاقانون د لاندې یجد شو د باب (ض) موندل..... فاوی واحد مذکر غائب ماضی معروف د دې اصل اوی (د ایمان والا قانون) د باب افعال نه ځائې ورکول پناه ورکول عائلا واحد مذکر اسم فاعل په اصل کښ عایل وو (د قائل والاقانون) د باب (ض) نه محتاج کیدل/ محتاج کول اغنی واحد مذکر غائب د باب افعال نه

بې پرواه کول.

فلا تقهر واحد مذکر حاضی نهی معروف د باب (ف) نه غالب کیدل،لاتدې کول ...لاتنهر د باب (ف) واحد مذکر نهی حاضر رټل...فحدث واحد مذکر امرحاضر معروف د باب تفعیل نه خبره کول بیانول.

حل الترکیب: ﴿ والضحی واللیل اذا سجی ﴾ واؤ قسمیه جاره الضحی معطوف علیه واؤ عاطفه اللیل معطوف معطوف سره د معطوف علیه نه مجرور شو د جار جار سره د مجرور نه متعلق په اقسم پورې...اذا ظرف مضاف سجی جمله فعلیه کیدو سره مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه مفعول فیه شو د پاره د اقسم فعل فعل سره د فاعل او مفعول فیه نه قسم شو.....﴿ ما ودعک ربک و ما قلی ﴾ ما نافیه ودع فعل کاف ضمیر مفعول به ربک فاعل دا جمله کیدو سره معطوف علیه وما قلی فعل سره د فاعل نه معطوف،دا جمله معطوفه کیدو سره جواب قسم،قسم سره د جواب قسم نه جمله قسمیه شوه ﴿ وللآخرة خیر لک من الاولی ﴾ واؤ عاطفه لام ابتدائیه الآخرة مبتدا خیر خبر لک او من الاولی دواړه جار مجرور متعلق شو په خیر پورې دا جمله اسمیه شوه.﴿ ولسوف یعطیک ربک فترضی ﴾ واؤ عاطفه لام ابتدائیه سوف د پاره د استقبال یعطیک فعل ک ضمیر مفعول به ربک فاعل دا جمله معطوف علیه فترضی جمله کیدو سره معطوف بیا دا جمله معطوفه شوه.

﴿ الم یجدک یتیما فاوی ﴾ همزه استفهامیه الم یجد فعل هو ضمیر فاعل کاف ضمیر مفعول به اول یتیما مفعول به ثانی فعل

سره د فاعل او سره د مفعولینو معطوف علیه..فا عاطفه اوی فعل هو ضمیر فاعل فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه کیدو سره معطوف معطوف علیه سره د معطوف نه جمله معطوفه شوه.

﴿ و وجدک ضآلا فهدی ﴾ واؤ عاطفه وجد فعل هو ضمیر فاعل کاف ضمیر مفعول به اول ضالا مفعول ثانی فعل سره د فاعل او د مفعولینو سره جمله معطوف علیه...فهدی جمله فعلیه کیدو سره معطوف،معطوف علیه سره د معطوف نه بیا معطوف اول د پاره د الم یجدک.

﴿ فاما الیتیم فلا تقهر ﴾ فا فصیحیه یا نتیجیه اما شرطیه قائم مقام د شرط ځکه په اصل کښ ﴿ مهما یکن من شئ ﴾ وو الیتیم مفعول به مقدم فا جزائیه لاتقهر فعل او فاعل فعل سره د فاعل او مفعول به مقدم سره جمله انشائیه کیدو سره جزا ،شرط د خپلې جزا سره جمله شرطیه کیدو سره معطوف علیه.

﴿ واما السائل لا تنهر ﴾ د دې جملې ترکیب د تیرې جملې په شان دې بیا دا معطوف اول دې.

﴿ واما بنعمة ربک فحدث ﴾ ترکیب هم د تیر جملې په شان دې صرف دومره فرق دې چه ﴿ بنعمة ربک فحــدث ﴾ جار مجرور لفظا دې او معنی مفعول به دې د پاره د حدث بیا دا جمله معطوف ثــانی دې معطــوف علیــه د دواړو معطوفینــو ســره جملــه انـشائیه معطوفه شوه.

تفسیر:نوم : سورة النبی او سورة الضحی

ربط : (۱) په تیر سورة کښ ﴿ فاما من اعطی ﴾ نه تر د ﴿ للعسری ﴾

پورې د اسلام د اهم اصولو او فروعو ذکر کړې شوې دې او د تصديق کونکی د پاره د ثواب وعده او د تکذيب کونکی د پاره د عذاب د وعيد بيان وو په تيرو سورتونو بلکه په پوره قران کريم کښې هم د دې اوصولو(عقائدو) او فروعو (اعمالو) ذکر وو ګويا په تير سورة کښې خلاصه د قرآن کريم د بيان کړې شوه هم په دې اهم اصولو کښې يو مسئله د رسالت هم ده پس په سورة الضحی کښې هم دا مضمون بيان کړې شوې دې هم د دې په منصبونو او مضمونونو کښې به هم راځی مثلا په رسول الله ﷺ باندې چه کوم انعامات کړې شوې دی د دې بيان د هغه انعاماتو په شکر کښې د بعض اوامرو او نواهی ذکر دې:
(۲) په رومبی سورة کښې د ابوبکرصديق رضی الله عنه د فضائلو ذکر وو په دې وجه دې ته سورة ابی بکر رضی الله عنه وائی او په دې کښې د رسول الله ﷺ د فضائلو ذکر دې نو په دې وجه دې ته سورة النبی ﷺ وائی.

شان نزول: په بخاری او مسلم کښې د جندب بن عبدالله رضی الله عنه نه روايت دې چه يو کرت د رسول الله ﷺ ګوته مبارکه زخمی شوه د هغې نه وينې اوبهيدلې رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو: ﴿ ان انت الا اصبع دميت : وفی سبيل الله ما لقيت ﴾ يعنی ته يوه ګوته خو ئې چه زخمی شوې ئې نو د الله پاک په لاره کښې تا ته تکليف رسيدلې دې په دې وجه د غم څه خبره ده جندب رضی الله عنه د دې واقعې د ذکر کولو نه پس اوفرمائيل چه د دې واقعې نه پس څو ورځې وحی بنده شوه نو د مکې مشرکانو پيغورونه ورکول شروع کړل چه محمد ﷺ د هغه رب پريخودلو او ناراض شو ﴿ ان محمدا قد ودعه ربه ﴾ په دې خبره باندې دا سورة نازل شو(ترمذی ص ۱۷۲ ج ۲) (۲) يو کرت رسول

الله ﷺ لره بیمار شو او یو شپه دوه د تهجدو د پاره پانسیدلو نو د ابولهب ښځې ام جمیل پیغور اوکړو چه معلومیږی (نعوذ بالله) چه د محمد ﷺ شیطان هغه پریخودلې دې او د هغه نه ناراضه شوې دې په دې باندې دا سورة نازل شو وحی څو ورځې بنده وه په دې کښې ډیر اقوال دی (١) دولس ورځې (٢) پنځلس ورځې (٣) پنځویشت (٢٥) ورځې.

فائده: د وحی د منقطع کیدو او د تاخیر واقعات ډیر کرته پیښ شوی دی. (١) د قرآن د شروع په زمانه کښې او هغې ته د فترت زمانه هم وائی دا ډیره اوږده وه.

(٢) چه کله مشرکانو یا یهودیانو د رسول الله ﷺ نه د روح، اصحاب کهف او د ذوالقرنین په باره کښې تپوس اوکړو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل صبا به جواب درکړم او انشاءالله ئې او نه وئیلو چه د هغې په وجه د څو ورځو د پاره د وحی سلسله بنده شوه.

(٣) یو کرت د رسول الله ﷺ کمرې ته د سپې بچې ننوتلو د رسول الله ﷺ د کټ لاندې مړ شو چه د هغې په وجه د وحی راتلل بند شو رسول الله ﷺ خوله ﷺ ته حکم اوکړو چه زما د کمرې صفائی اوکړه نو مړ شوې بچې ملاؤ شو. (۴) واقعه د سورة الضحی.

﴿ والضحی واللیل اذا سجی ﴾ الله پاک د دوه څیزونو قسم خوړلو سره د قسم جواب موکد کوی (١) د ضحی قسم ئې اوخوړلو. د بعض مفسرینو په نزد د ضحی نه مراد پوره ورځ ده څکه د واللیل نه هم مراد پوره شپه ده. د بعضو په نزد د ضحی نه مراد د ورځې څه حصه یعنی د چاشت وخت مراد دې چه کله نمر د راختلو نه پس لږ اوچت شی او د هغې رڼا په زمکه باندې پوره طریقې سره خوره شی.

سوال: په دې مخصوص وخت کښې په قسم خوړلو کښې څه حکمت دې؟

جواب: د دې څو وجوهات دی (۱) دا وخت داسې دې چه د نمر رنړا پوره طريقې سره په زمکه باندې خوره شی د شپې هيڅ پټ څيز پټيدې نه شی د نمر د بادشاهئ اوچتوالې راشی (۲) دا وخت داسې دې چه په هره زمانه کښې په اعتدال باندې وی که ګرمی وی او که يخنی ددې کيفيت په اعتدال باندې وی.(۳) دا وخت د ټولو انسانانو او حيواناتو او مارغانو د بيدارئ وخت ډير لوئې لوئې عياش او سپيرۀ هم په دې وخت رابيدار شی بيا په دې وخت کښې خوشحالی او سرور حاصليږی او شپه د غمونو او د خفګانونو وخت وی په دې کښې ئې اشاره اوفرمائيله چه د انسان د خوشحالئ زمانه د غمونو په نسبت ډيره کمه ده. (۳) بعض مفسرينو فرمائيلی دی چه د ضحی نه مراد هغه ضحی دې په کوم چه موسی عليه السلام د الله پاک سره خبرې اوکړې او د ليل نه مراد ليلة المعراج دې.(۴) د بعضو په نزد د ضحی نه مراد د جنت رنړا ده او د ليل نه مراد د دوزخ تياره ده.(۵) د ضحی نه مراد د رسول الله ﷺ مخ مبارک مراد دې او د ليل نه مراد د هغوی ويښتهٔ مبارک دی.(حقانی)

﴿ والليل اذا سجى ﴾ دا دويم قسم دې د سجی دوه معنی کيدشی (۱) خوره شی او د هغې تيارهٔ ټول څيزونه پټ کړی (۲) سجی په معنی د قرار نيولو اودريږی بيا د دې دوه مطلبه کيدشی.(۱) دا چه د دې شپې تياره اودريږی څکه چه د شپې تيارهٔ په مزه مزه زياتيږی په څه شپه تيريدلو باندې چه کله پوره طريقې سره تيارهٔ خوره شی نو بيا هغه په يو حالت باندې اودريږی په دې کښې زياتې نه

کیږي. (۲) د شپې د سکون نه مراد دا دې چه په دې کښې د وینا او ګرځیدو آوازونه ختم شي هر یو ساه لرونکې څیز اوده شي پوره سکون او خاموشي شي.

﴿ما ودعک ربک و ما قلی﴾ جواب د قسم دې چه نه خو ته خپل رب پریخودلې یې او نه ستا نه ناراضه او نفرت کونکې شوې دې په دې وجه تاسو د کفارو په دروغ وینا او پیغورونو باندې او د هغوی خرافاتو او لغویاتو باندې غمګین کیږئ مه ځکه چه ستاسو نه داسې څه غلطي شوې نه ده چه مونږ ستا نه ناراضه شو ځکه چه نبي خو د غلطۍ او د ګناه نه معصوم او محفوظ وي په دې وجه د ناراضتیا دروغ غلط دی بلکه مونږ به په دنیا کښې د وحی د نعمت نه تا وخت په وخت مشرف کوو.

سوال: په قسم او جواب قسم کښې څه مناسبت دې؟

جواب: مناسبت دا دې چه څنګه ښکاره الله پاک د خپل قدرت مختلفې نخښې ښکاره کوی کله د ورځې په رڼرا کښې کله د شپې په تیارۀ کښې د رڼرا نه پس د الله پاک تیارۀ راوستل د الله پاک د ناراضتیا دلیل نه دې بعینه هم دا مثال د وحی دې کله راځی او کله ئې سلسله بنده شي په دې وجه د الله پاک په ناراضتیا باندې استدلال کول حماقت دې.

سوال: په تیر سورۃ کښې د لیل قسم مقدم وو او د نهار موخر دلته د هغې عکس اوکړې شو د دې څه وجه ده؟

جواب: په تیرسورۃ کښې د ابوبکرصدیق رضي الله عنه فضائل ذکر کړې شو هلته د لیل رومبی قسم خوړلو سره ئې اشاره اوفرمائیله چه په ابوبکر صدیق رضي الله عنه د اسلام راوړلو نه مخکښې د کفر تیاره وه بیا چه پرې کله

د نبوت نمر پریوتلو نو هغه تیارهٔ ختمه شوه او د هغې په ځانې د اسلام نور راغلو او سورة ضحی د رسول الله ﷺ په شان کښې نازل شو او نبی خو د پیدائش نه د کفر نه پاک وی په هغه کښې خو صرف د اسلام نور وی په دې وجه نې دلته والضحی مقدم کړو.

﴿ وللآخرة خیر لک ﴾ د دې آیت دوه مطلبه بیان کړې شوی دی: (۱) د آخرت نه روستو راتلونکې حالت او د اولی نه مراد ړومبې حالت مراد دې مقصد دا دې چه هر روستونکې حالت به ستاسو د ړومبی حالت نه غوره وی او په تاسو باندې به د الله پاک انعامات نور هم زیاتیږی تاسو به هر وخت په بزرګئ کمال د الله پاک قرب او په دیناوی عزت او حکومت کښې مخکښې روان نې. (۲) د آخرت نه معروفه معنی او د اولی نه مراد دنیا ده نو مقصد به دا وی چه دا کفار کوم چه تاسو ته زمونږ د ناراضتیا پیغورونه درکوی په دنیا کښې به اوګوری چه دا سراسر لغو او غلطه ده خو مونږ خو تاسو سره د آخرت د انعاماتو هم وعده کوو چه په دنیا کښې به هم درته ډیر انعامات درکوو بهرحال آخرت ستاسو د پاره دنیا نه ډیر غوره دې.

(۱) یو خو په دې وجه چه دنیا ستاسو د پاره د تکلیفونو او مصیبتونو کور دې په میاشتو په سرو تکرو یا چهوارو او اوبو باندې ګزاره کول وی کله دوه وخته په مړه خیټه ډوډۍ نه ملاویږی په خلاف د آخرت چه هلته خو به د تکلیف تصور هم نه وی بلکه ستاسو د پاره به انعامات بې حد او بیشماره وی بلکه تاسو خو به د آخرت سردار او د همیشوالی د ژوند او سرداریٔ تقسیم کونکی نې. (۲) تاسو ته به په آخرت کښې مقام محمود درکولې شی چه هغې ته به انبیاء ﷺ هم پسخیږی. (۳) تاسو ته به د ټولو انبیاء ﷺ سرداری ملاویږی (۴)

ستاسو د سيادت کبری او د سلطنت عظمی ښکاره کيدل به په آخرت کښې کيږی د محشرپه ميدان کښې به د کرامت تاج ستاسوپه سر باندې کيخودلې شی او د ټولو انبياء ﷺ اولياء ﷺ مخکښې او روستو، سترګې به هغوی ته ګوری هم تاسو به شفاعت کوئ تاسو به د خپل امت ګنهګار په لټولو لټولو خپل رب ته راوستلو سره په هغه باندې اوبخښئ څنګه چه مهربانه مور خپل ورک شوی بچی ګوری ستاسو حوض کوثر به تګی خړوب کوی ستاسو سورې به امت ته څائې ورکوی.

﴿ ولسوف يعطيک ربک فترضی ﴾ مقصد دا دې چه الله پاک رب العزت فرمائی چه مونږ به تا ته دومره نعمتونه درکړو چه تاسو به راضی شئ دا د الله پاک د طرف نه وعده ده او ډيره فراخه وعده ده په دې وجه الله پاک ښکاره نه کړه چه کوم نعمت به ورکوی په دې سره اشاره ده د عموم طرف ته چه تاسو ته به ستاسو مرغوب څيز دومره درکړو چه تاسو به راضی شئ د رسول الله ﷺ په مرغوب (خوښو) څيزونو کښې دا څيزونه داخل دی.

د دين اسلام ترقی، په دشمنانو باندې فتح، اقتدار کامل، د مومنانو کثرت، د دين اسلام په پوره دنيا کښې خوريدل، په آخرت کښې سفارش، د ثواب ډيروالې او د دې نه علاوه د الله پاک د ديدار والا نعمت وغيره، په حديث کښې دی چه کله دا آيت نازل شو نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه تر څو زما د امت يو سړې هم په دوزخ کښې وی زه به راضی نه شم الفاظ د حديث دا دی ﴿ اذا لا ارضی و واحد من امتی فی النار ﴾ په يو بل حديث کښې دی چه الله پاک به زما د امت په

باره کښې زما شفاعت قبول کړی تر دې چه او به فرمائی ﴿ ارضیت یا محمدﷺ ﴾ زه به وایم ﴿ یا رب رضیت ﴾ یو کرت رسول اللهﷺ د دعا د پاره دواړه لاسونه اوچت کړل او ژړا او فریاد ئې شروع کړو او بار بار به ئې فرمائیل ﴿ یا رب امتی امتی ﴾ الله پاک جبرائیل علیه السلام راولیږو چه لاړ شی او تپوس اوکړی چه زما محبوب ولې ژاړی. رسول اللهﷺ اوفرمائیل زه د خپل امت بخښنه غواړم الله پاک اوفرمائیل چه ته ورته اوایه چه مونږ به تاسو ستاسو د امت په باره کښې راضی کوو ناراضه کوو به مو نه. (معارف)

﴿ الم یجدک ﴾ **ربط:** په تیر آیتونو د کفار مکه د پیغور په جواب کښې رسول اللهﷺ ته د ډیرو انعاماتو د ورکولو وعده وه اوس د رسول اللهﷺ د تسلئ او د زړه د اطمینان د پاره هغوی ته تیر څه انعامات یادولې شی چه د ماشومتوب نه تر اوسه پورې د تیر شوو حالاتو جائزه واخلئ چه مونږ په تاسو باندې څومره انعامات کړی دی د رسول اللهﷺ د ژوند درې حالتونه دی یا درې حصې دی:

(۱) ماشومتوب (۲) ځوانی (۳) د عمر شریف هغه حصه چه په هغې کښې د کور ماحول بچی وغیره وی... ﴿ الم یجدک یتیما ﴾ کښې د ماشومتوب د انعاماتو ذکر دې چه آیا تاسو یتیم نه وئې نو بیا مونږ تاسو ته څنګه استوګنه درکړه تاسو د خپلې مور په خیټه کښې وئې چه ستاسو پلار عبدالله په ځوانئ کښې وفات شواو څه مال او جائیداد ئې هم پرې نه خودلو بیا الله پاک د هغه نیکه په هغوی باندې مهربان کړو چه هغوی خپل سکه اولاد هم هیر کړو بیا دا چه تاسو (رسول اللهﷺ) له ماشوم وې چه مور ئې هم رخصت، شوه (او هم

دغه حکم ئې د مور هم دې او په دې باب کښې صریح روایات دی چه
هیڅ عقلمند ترې انکار نه شی کولې ، بیا ئې نیکۀ هم وفات شو خو
د هغوی ترۀ ابوطالب د هغوی خانې اونیولو او تر څو چه ژوندې وو
بنه ملګرتیا ئې ورسره اوکړه اګر چه مسلمان نه شو.... ﴿ ووجدک
ضآلا فهدی ﴾ په دې کښې ئې د خوانئ انعام ذکر کړو چه په خوانئ
کښې د ګمراهئ او خطاکیدلو او د بې لارې کیدو امکان وی خصوصا
چه کله هر طرف ته بت پرستی، ظلم، غلا، زناکاری، شراب خوری او د
یتیمانو مال خوراک عام وی نو د ګمراهئ قوی امکان وی خو زمونږ
کرم اوګورئ چه مونږ تاسو د ماشومتوب نه رئیس الموحدین جوړ
کړی ئې د الله عبادت او بهترین اخلاق ستاسو خوئی وو بیا تاسو د
شریعت د ټولو احکامو نه ناخبر وئې نو مونږ تاسو ته د هغه احکامو
رهنمائی اوکړه د نبوت منصب درکولو سره مونږ څومره لوئې انعام
کړې دې.

فائده: د ضلال معنی ګمراهی هم راځی ناواقف او ناخبره هم دلته ترې
مراد دویمه معنی ده ړومبې معنی د نبوت د منصب خلاف ده بعض
مفسرینو د ضلال معنی د لارې هیرولو اخستلې ده هغوی د شام په
سفر کښې لار هیره کړې وه بعض وائی چه د حلیمې سعدیې کره یو
کرت په ځنګل کښې ورک شوې وو هغه مراد ده.(حقانی)

﴿ ووجدک عائلا فـاغنی ﴾ په دې کښې د کورنی ژوند او د
خاندانی زمانې د انعام بیان دې چه اوګورئ تاسو فقیر او غریب وئې
نه تجارت او نه زراعت نه څه هنر الله پاک انعام اوفرمائیلو چه د
مکې مکرمې د یو مالدارې سوداګرې نیک سیرته ښځه ئې ستاسو

طرف ته متوجه کړه د مکې ډیر لوئې لوئې مالدار قریشی د هغې د نیک غوښتونکی وو خو هغې ټول رد کولو سره خپله رسول الله ﷺ ته د نکاح پیغام اولیږلو او ټول مال ئې د هغوی په قدمونو کښې واچولو دا لوئې انعام دې خلاصه دا ده چه مونږ ستاسو په تیر عمر کښې هم په تاسو باندې ډیر انعامات کړی دی اوس په راروان وخت کښې هم د ډیرې ورکړې وعده کوو چه هغه به پوره کوو.

﴿ فاما الیتیم فلا تقهر ﴾ په تیرو آیتونو کښې د درې انعاماتو ذکر وو اوس د هغه درې څیزونو د شکر ادا کولو د پاره د درې څیزونو حکم کولې شی (۱) یتیم لره ضعیف کمزورې او لاوارثه ګڼړلو سره په هغه باندې ظلم نه کول، سختی نه کول د هغه حقونه نه لاندې کول د هغه په مال باندې ناجائزه قبضه نه کول هغه نه وهل هغه ته په بد نظر نه کتل بلکه د خپل یتیم والی دور یاد ساته په اصل کښې دا امت ته اورول مقصد دې ځکه چه د رسول الله ﷺ نه دا خبره بعیده ده چه په یتیم باندې سختی اوکړی خو خلق داسې کوی نو هغوی ته اورول مقصد دې رسول الله ﷺ فرمائی د ټولو نه غوره هغه کور دې چه په هغې کښې یتیم وی او د هغه سره د مینې او غوره سلوک کولې شی او د ټولو نه بد هغه کور دې چه په هغې کښې یتیم وی او د هغه سر بد سلوک کولې شی ﴿ عن ابن مسعود ﷜ مرفوعا من سطح علی راس یتیم کان له بکل شعرة تمر علیها یده نور یوم القیامة ﴾ په یو بل حدیث کښې دی چه کله یتیم ژاړی نو عرش الهی خوزی الله پاک فرمائی چه څوک دې خاموش کړی د قیامت په ورځ باندې به زه هغه راضی کوم.(روح المعانی ص۱٦۳ جلد ۳)

﴿ واما السائل فلا تنهر ﴾ دويم حکم دا دې چه که يو سوالګر سوال اوکړی نو هغه رټې مه که د ورکړې قدرت دې وی خو ورکړئ ګينې په نرمئ سره عذر اوکړئ که د سائل نه نه خلاصيږئ نو د ضرورت مطابق سختی او زورنه جائز ده په سائل کښې د څه مسئلې تپوس کونکې طالب علم هم داخل دې هغه ته هم په جواب کښې سختی کول نه دی پکار بلکه په نرمئ سره جواب ورکول پکار دی.(معارف)

﴿ واما بنعمتک ربک فحدث ﴾ دريم حکم دا کړې شوې دې چه د خپل رب حکم په خلقو کښې بيان کړئ څکه چه د محسن د احسان ادا کولو يو طريقه دا هم ده او د محسن د شکريه ادا کولو حکم کړې شوې دې په حديث کښې دی ﴿ من لم يشکر الناس لم يشکر الله ﴾ په يو بل حديث کښې دی چه څوک په تا باندې احسان اوکړی د هغې بدل ورکړه که مالی بدله نه شې ورکولې نو د خلقو مخکښې د هغه تعريف اوکړه هم دا به د احسان بدله شی.

مسئله: د سورة الضحی نه واخله تر آخری سورة پورې تکبير وئيل سنت دی ابن کثيرؒ د سورة په ختميدلو باندې، علامه بغوی د هر سورة په شروع کښې سنت وئيلې دې کوم صورة هم چه اختيار کړې شی سنت به ادا شی د تکبير الفاظ دا دی ﴿ لا اله الا الله، الله اکبر ﴾ دا په دې وجه سنت دی چه کله سورة الضحی نازل شو نو رسول الله ﷺ د خوشحالئ نه الله اکبر وئيلې وو.(مظهری)

فضليت:وظيفه دپاره د ورک شوی: د سورة الضحی مجرب خصوصيت دا دې چه که يو څيز ورک شی نو اووهٔ کرته دې د هغه تلاوت اوکړې

شي او د شهادت ګوته دې د خپل سر خلور واړو اړخو ته تاوهی بیا
دي ﴿ اصبحت فی امان الله،وامسیت فی جوار الله و اصحبت فی امان
الله ﴾ اووۀ کرته ونیلو سره دې اوټکوی نو ان شاء الله ورک شوې څیز
به ملاؤ شی.

سورة الم نشرح مکیة

آیاتها۸	بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ	رکوعها ۱

اَلَمۡ نَشۡرَحۡ لَكَ صَدۡرَكَ ۝ وَوَضَعۡنَا عَنكَ وِزۡرَكَ ۝ ٱلَّذِیٓ أَنقَضَ
ظَهۡرَكَ ۝ وَرَفَعۡنَا لَكَ ذِكۡرَكَ ۝ فَإِنَّ مَعَ ٱلۡعُسۡرِ يُسۡرًا ۝ إِنَّ مَعَ
ٱلۡعُسۡرِ يُسۡرًا ۝ فَإِذَا فَرَغۡتَ فَٱنصَبۡ ۝ وَإِلَىٰ رَبِّكَ فَٱرۡغَب ۝

ترجمه: آیا نه ده پرانستلې مونږ ستا دپاره سینه ستا.....او کوز کړو مونږ ستا نه بوجهـ ستا....هغه چه ستاسو ملا ئې ماته کړې وه.....او اوچت کړو مونږ ستاسو د پاره ستاسو ذکر......بیشکه د تنګسیا سره فراخی ده.....بیشکه د تنګسیا سره فراخی ده.....پس کله چه فارغ شې ته نو محنت کوه (په عبادت کښ) ..... او د خپل رب طرف ته رغبت ساته.

حل المفردات: لم نشرح جمع متکلم نفی جحد د باب (ف) نه پرانستل صدر سینه د هر څیز ابتدائی حصه جمع ئې صدور راځی وضعنا جمع متکلم کیخودل وزر غر بوجهـ جمع ئې اوزار راځی د باب (ض) نه بوجهـ اوچتول انقض واحد مذکر غائب د ماضی باب افعال نه

ستړی کول ستومانه کول.فرغت واحد مذکر حاضر د باب (ن،ف،س) فارغ کیدل فانصب واحد مذکر امر حاضر د باب (س)نه کوشش کول ستړی کیدل فارغب واحد مذکر امر حاضر د باب (س) نه غوښتل په عاجزئ سره غوښتل.

حل الترکیب: ﴿ أَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ .... وَوَضَعْنَا عَنكَ وِزْرَكَ .... الَّذِي أَنقَضَ ظَهْرَكَ .... وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ ﴾

همزه د پاره د استفهام تقریری لم نشرح فعل او فاعل لک جار مجرور متعلق،صدرک مضاف مضاف الیه مفعول به دا جمله فعلیه انشائیه کیدو سره معطوف علیه،واؤ عاطفه وضعنا فعل او فاعل عنک جار مجرور متعلق شو،وزرک مضاف مضاف الیه یو ځائې کیدو سره مفعول شو دا جمله صله شوه د پاره د موصول صله سره د موصول نه صفت شو د پاره د وزرک وزرک مفعول به د وضعنا د پاره بیا دا جمله فعلیه کیدو سره معطوف اول دې واؤ عاطفه رفعنا فعل او فاعل لک متعلق ذکرک مضاف مضاف الیه یو ځائې کیدو سره مفعول به شو دا جمله فعلیه کیدو سره معطوف ثانی،معطوف علیه سره د معطوفینو نه جمله معطوفه شوه.﴿ فان مع العسر يسرا ان مع العسر يسرا ﴾ فا عاطفه ان حرف د حروف مشبه بالفعل نه مع العسر مضاف مضاف الیه په ثابت پورې متعلق کیدو سره د ان خبر مقدم یسرا اسم موخر دا جمله اسمیه کیدو سره موکد دویم ﴿ ان مع العسر يسرا ﴾ تاکید ،موکد سره د تاکید نه جمله اسمیه خبریه شوه.﴿ فاذا فرغت فانصب والى ربک فارغب ﴾ فا نتیجیه اذا شرطیه فرغت فعل او فاعل جمله کیدو سره شرط فا جزائیه انصب فعل او فاعل

کیدو سره معطوف علیه واؤ عاطفه الی جار ربک مضاف مضاف الیه مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو په فارغب پورې فا جزائیه ارغب فعل دا جمله انشائیه کیدو سره معطوف، معطوف علیه سره د معطوف نه جزا شوه، شرط سره د جزا نه جمله شرطیه شوه.

تفسیر: د سورة نوم الم نشرح دې، سورة انشراح ربط : (۱) د تیر سورة سره ئې ژور تعلق دې تر دې چه بعضو خو ونیلی دی چه دا د تیر سورة جزء دې مستقل سورة نه دې اگر چه دا قول غلط دې (۲) په تیرسورة کښې هم د رسول الله ﷺ د انعاماتو ذکر وو او د څه احکاماتو ذکر وو په دې سورة کښې هم دغه مضامین دی.

﴿الم نشرح لک صدرک﴾ په دې سورة کښې هم د درې انعاماتو ذکر دې.(۱) شرح صدر د شرح لغوی معنی پرانستل د شرح صدر دوه مطلبه بیان کړې شوې دی (۱) یو دا چه مونږ ستاسو سینه د علوم او معارف د پاره پرانستلې ده فراخه کړې مو ده او هغه مو د علم او حکمت نه ډکه کړې ده کومه چه غټو غټو عاقلانو هم نه دې موندلې او یا دا چه د کفارو د ظلم او د تکلیفونو د برداشت کولو د پاره مونږ ستاسو سینه فراخه کړې ده او ته مو صبر کونکې او حلیم جوړ کړې ئې.

(۲) د شرح صدر نه مراد شق صدر مراد دې (سینه شلول) دوه کرته د رسول الله ﷺ سینه مبارکه څیرې کړې شوې ده یو کرت په ماشوم توب کښې رسول الله ﷺ د ماشومانو سره لوبې کولې جبرائیل علیه السلام تشریف راوړو او رسول الله ﷺ ئې په زمکه باندې څملولو سره د هغوی سینه اوشلوله زړه ئې ترې راویستلو او د هغه نه ئې د وینې توره ټکړه لرې کړه او وې فرمائیل دا د شیطان حصه ده

کومه چه ما بيله کړه بيا ئې په آب زمزم سره وينځله او دوباره ئې په سينه کښې کخودلو سره اوګنډله په دويم کرت ئې په ليلة المعراج کښې سينه څيري کړې شوه رسول الله ﷺ فرمائي جبرائيل عليه السلام زما سينه شلولو سره زړه راويستلو او په آب زمزم باندې ئې وينځلو او د علم او حکمت نه ډکولو سره ئې زما په سينه کښې کيخودلو.(مظهری)

﴿ ووضعنا عنک وزرک ﴾ د دويم انعام ذکر دې چه مونږ ستاسو هغه بوجه سپک کړلو کومې چه ستاسو ملا ماته کړې وه.د وزر نه څه مراد دې په دې کښې ډير اقوال دی (۱)رسول الله ﷺ به هر وخت په دې پريشانئ کښې وو چه چرته د وحي سلسله بنده نه شي دا د انقطاع وحي وهم او د فراق غم په هغوی باندې ډير درونډ وو هغې ئې صبر او طاقت مات کړې وو.سورة الضحی نازلولو سره ترې الله پاک هغه بوجه کوز کړلو د رسول الله ﷺ زړه ته قرار او سکون راغلو هم دې ته انعام اوونيلې شو.

(۲) يا د وزر نه مراد د نبوت او شريعت بار دې چه الله پاک رسول الله ﷺ د کفر او شرک د ختمولو او مخلوق لره په توحيد باندې د جمع کولو او په پوره دنيا کښې د حق کلمې د خورولو د پاره چه کومه ذمه داری واچوله هغه د رسول الله ﷺ د پاره لوئې بوجه وو.رسول الله ﷺ به پريشان وو چه دا ذمه داری به څنګه سر ته رسوم خو بيا الله پاک شرح صدر فرمائيلو سره د رسول الله ﷺ حوصله دومره اوچته کړه چه د غټ نه غټ مشکل رسول الله ﷺ ته آسان بلکه محبوب او مرغوب په نظر راتلو شرعی تکاليف خو ئې فطرت جوړ شو په دې وجه خو فرمائي چه مونځ زما د سترګو يخ والې دې (۳) بعض جائز کارونه رسول الله ﷺ اوکړل روستو ورته معلومه شوه

چه دا د مصلحت خلاف وو په هغې باندې ډير پريشانه شو الله پاک د مواخذې نه کولو زيرې ورکولو سره دا بوجهه کوز کړو..... ﴿ ورفعنا لک ذکرک ﴾ دريم انعام ئې دا اوفرمائيلو چه مونږ ستاسو ذکر اوچت کړو په بخاری شريف کښې د ابوسعيد خدری رضی الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ د جبرائيل علیه السلام نه د دې آيت مطلب اوتپوسلو نو هغوی اوفرمائيل چه الله پاک فرمائی چه کوم ځائې زما ذکر کيږی هلته به ستا هم کيږی، کلمه، مونځ کښې، په آذان کښې په ملاء الاعلی کښې د ملائکو سره تر دې چه د عرش په ستن باندې ليکلې شوی دی:

﴿ لا اله الا الله وحده دينه الاسلام و محمد عبده ورسوله ﴾ (مظهری)

فائده: په دې درې انعاماتو کښې ئې کله لک اوفرمائيلو او کله عنک په دې کښې د رسول الله ﷺ د عظمت طرف ته اشاره ده چه دا ټول کارونه ستا د خاطره کړې شوې دی.(معارف)

﴿ فان مع العسر يسرا ان مع العسر يسرا ﴾ مقصد دا دې چه رسول الله ﷺ ته دا نعمتونه هسې نه دی ورکړې شوې بلکه د دې د پاره رسول الله ﷺ ډير تنګسيا او ډير تکليفونه برداشت کړی دی د دې تکليفونو نه پس ورته الله پاک آسانتيا او سهولت ورکړو قاعده دا ده چه کله معرف باللام لره دوباره معرف باللام جوړلو سره واپس کړې شی نو د دواړو نه مراد يو څيز وی او که نه نکره لره دوباره نکره جوړلو سره نکره واپس کړې شی نو هغه د ړومبی نکرې غير وی دلته العسر لره دوباره معرف ذکر کړې شوې ده نو د دې نه به مراد يو تنګسيا وی او يسرا نکره ذکر کړې شوې دې نو د دې نه به مراد ړومبې آسانتيا او سهولت نه وی مراد بلکه بل څه آسانتيا او سهولت

به ترې مراد وی نو مقصد به دا وی چه که په تاسو باندې يو تنګی او تکليف راځی نو د هغې بدل کښې به الله پاک تاسو دوه آسانۍ درکړی دا د رسول الله ﷺ او د صحابه کرام ﷺ د پاره تسلی او زيرې دې چه د موجوده تکليف نه مه ويريږئ دا ټول عارضی دی زر ده چه د يسر او آسانتيا دور به راشی الله پاک دا خپله وعده پوره کړه ټولې دنيا په خپلو سترګو اوليدله چه د تکليفونو نه پس څنګه الله پاک په صحابه کرامو ﷺ باندې د نعمتونو باران اوکړو.

﴿ فاذا فرغت فانصب ﴾ د نعمتونو د ذکر کولو نه پس د دوه څيزونو حکم ورکولې شی.(۱) رومبې حکم دا دې چه کله تاسو د دعوت او تبليغ نه فارغ شئ نو د نورو عبادتونو مونځ،روژه،ذکرالله، دعا او استغفار دپاره تيار شئ فانصب د نصب نه دې په معنی د ستومانې او محنت مقصد دا دې چه تاسو دومره عبادت اوکړئ چه ستومانی درته محسوس شی...﴿ والی ربک فارغب ﴾ دويم حکم دا دې چه ټوله دنيا پريخودلو سره صرف د خپل رب طرف ته متوجه شئ هم د هغه سره زړه اولګوئ کوم څيز چه غوښتل وی د هغه نه ئې غواړئ.(خازن،قرطبی)

سورة التين مكية

ركوعها ۱	بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ	اياتها ۸

وَٱلتِّينِ وَٱلزَّيْتُونِ ۝١ وَطُورِ سِينِينَ ۝٢ وَهَٰذَا ٱلْبَلَدِ ٱلْأَمِينِ
۝٣ لَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ فِىٓ أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ ۝٤ ثُمَّ رَدَدْنَٰهُ أَسْفَلَ

سَٰفِلِينَ ۝٥ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَلَهُمۡ أَجۡرٌ غَيۡرُ مَمۡنُونٖ ۝٦ فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعۡدُ بِٱلدِّينِ ۝٧ أَلَيۡسَ ٱللَّهُ بِأَحۡكَمِ ٱلۡحَٰكِمِينَ ۝٨

ترجمه: قسم دې په انځير باندې او په زيتون باندې......او په طور سينين باندې.....او په دې امن والا ښهر باندې.....بيشكه مونږ انسان په ډيره ښكلې حليه پيدا كړې دې.....بيا مونږ دې واپس كړو هغه خراب حالت ته ډېر خراب حالت والا خلقو......مګر هغه خلق چه ايمان ئې راوړې دې او عمل كوى په طريقه د پيغمبر ﷺ پس د هغوى د پاره اجر دې نه ختميدونكې.....پس كوم څيز منكر كوى تا د دې نه پس د جزا د ورځې نه......آيا الله پاک د ټولو نه لوئې حاكم نه دې؟

حل المفردات: التين انځير الزيتون اونه د زيتون د بعضو په نزد دوه غرونه د بعضو په نزد دوه ښهرونه طور غر سينين د هغه ځائې نوم دې كوم ځائې چه كوه طور دې....تقويم مصدر دې د باب تفعيل نه نيغول رددنا جمع متكلم د باب (ن) واپس كيدل غورځول احكم صيغه د اسم تفضيل الحكمين جمع مذكر اسم فاعل د باب (ن) فيصله كول منع كول.....

حل التركيب: وَالتِّينِ وَالزَّيْتُونِ(١)وَطُورِ سِينِينَ(٢)وَهَذَا الْبَلَدِ الْأَمِينِ(٣) لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ(٤)ثُمَّ رَدَدْنَاهُ أَسْفَلَ سَافِلِينَ (٥)إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَلَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ(٦) واؤ قسميه جاره التين معطوف عليه و عاطفه الزيتون معطوف اول و عاطفه طور سينين مضاف مضاف اليه يو ځائې كيدو سره معطوف ثانى و عاطفه هذا اسم اشاره البلد موصوف الامين صفت موصوف سره د

صفت نه مشار الیه اسم اشاره سره د مشار الیه نه معطوف ثالث معطوف علیه سره د ټولو معطوفاتو نه مقسم به کیدو سره مجرور شو د پاره د جار جار سره د مجرور نه متعلق شو په اقسم فعل پورې....اقسم فعل سره د فاعل نه جمله کیدو سره قسم،لام تاکیدیه قد دپاره د تحقیق خلقنا فعل او فاعل الانسان ذوالحال فی جار احسن تقویم مضاف مضاف الیه یو ځائې کیدو سره مجرور،جار سره د مجرور نه متعلق کیدو سره حال،ذوالحال سره د حال نه مفعول به فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره معطوف علیه....ثم عاطفه رددنا فعل او فاعل ه ضمیر ذوالحال اسفل مضاف سافلین مضاف الیه مضاف مضاف سره د مضاف الیه نه حال شو د پاره د ذوالحال،ذوالحال سره د حال نه مستثنی منه الا حرف استثنائیه ﴿لَا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ ﴾ معطوف علیه یو ځائې کیدو سره صله شوه...موصول سره د صلې نه متضمن معنې د شرط لره فا جزائیه لهم ظرف مستقر متعلق په ثابت پورې کیدو سره خبر مقدم اجر موصوف غیر ممنون مضاف مضاف الیه یو ځائې کیدو سره صفت شو موصوف سره د صفت نه مبتدا موخر ... مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه کیدو سره بیا خبر دې د پاره د الذین مبتدا بیا هغه جمله کیدو سره مستثنی دې د پاره د مستثنی منه بیا هغه مفعول به دې د رددنا فعل .... فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره معطوف،معطوف علیه د خپل معطوف سره جمله معطوفه کیدو سره جواب قسم،قسم سره د جواب قسم نه جمله قسمیه انشائیه شوه.

فائده: ﴿ اسفل سفلین ﴾ کښې دوه ترکیبي احتماله نور هم دي:

(۱) اسفل صفت دې د موصوف محذوف چه مکانا دې بیا موصوف صفت یو ځائي کیدو سره د رددنا مفعول فیه دې (۲) اسفل سافلین مفعول ثانی دې دپاره د رددنا(اعراب القران ص ۵۲۵)

﴿فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعْدُ بِالدِّينِ﴾ فا تنیجیه یا فصیحیه ما په معنی د ای شئ مبتدا یکذب فعل هو ضمیر فاعل کاف ضمیر مفعول به بعد ظرف مضاف هذا مضاف الیه محذوف منوی، مضاف سره د مضاف الیه مفعول فیه د پاره د یکذب بالدین جار مجرور متعلق په یکذب پورې فعل سره د فاعل نه مفعول به او فیه سره جمله فعلیه کیدو سره خبر دې دپاره د مبتدا مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه انشائیه شوه.

﴿ أَلَيْسَ اللَّهُ بِأَحْكَمِ الْحَاكِمِينَ ﴾ همزه دپاره د استفهام لیس فعل د افعال ناقصه نه لفظ الله اسم با جاره احکم مضاف الحاکمین مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور شو دپاره د با جار جار سره د مجرور نه خبر دې د لیس لیس سره د خپل اسم او خبر نه جمله اسمیه انشائیه شوه.

تفسیر: نوم ئې سورة التین **ربط:** په تیر سورة کښې د رسول اللهﷺ د فضیلت ذکر وو په دې سورة کښې د مطلق انسان د فضیلت، د هغه تخلیق بیا د اهل سعادت او اهل شقاوت حال بیانولې شی.﴿ والتین والزیتون ﴾ الله پاک د سورة په شروع کښې په څلور څیزونو قسم خوړولو سره د جواب قسم مضمون کلکوی.(۱) د انځر قسم (۲) د زیتون قسم د تین او زیتون نه څه مراد دې په دې کښې څو اقوال دی:

(۱) **قول اول:** د تین نه مراد د انځر اونه ده او د زیتون نه مراد د زیتون

اونه ده.

سوال: د دې دوه اونو د قسم خوړلو څه وجه ده؟

جواب: (۱) دا دواړه اونې ډيرې د برکت والا دی ځنګه چه کوه طور او د مکې ښهر ډير د برکت والا دی. (۲)دا دواړه اونې د ډيرې فائدې والا دی د دې اونو څو فائده دا دی: (۱) په دې کښې هډوکې نه وی (۲) د دې پوستکې نه وی (۳) د خوراک د پاره پکار راځی (۴) د مرضونو دپاره دوائی هم ده (۵) زر هضم کيدونکی دی بلغم کموی (۶) بدن څورب کوی (۷) په دې کښې ازغې نه وی (۸) ډير زيات اوچت هم نه وی چه میوه راشوکول ترې ګران شی (۹) په کال کښې څو کرته میوه ورکوی (۱۰) د زیتون يو فائده دا ده چه د هغې تيل ډيرې فائدې ورکوی او د هغې رنړا ډيره صفا وی.دويم قول ....د تين او زيتون نه مراد هغه درې ځایونه دی کوم ځائې چه دا اونې ډيرې زياتې پيدا کيږی او هغه ملک شام دې چونکه د شام ملک د اکثر انبياء ﷺ وطن او د استوګنې ځائې دې په دې وجه ئې دهغه ځائې قسم اوخوړلو.دريم قول.....د دې نه مراد دوه ښهرونه دی د تين نه مراد دمشق دې او د زيتون نه مراد بيت المقدس ....څلورم قول.....تين او زيتون د دوه غرونو نومونه دی.(قرطبی،مظهری)

﴿ وطور سينين ﴾ د دريم قسم بيان دې د طور معنی غر ده او د سينين معنی چه په وزن د فعليل دې د دې په معنی کښې څو اقوال دی: (۱) ضحاک رحمه الله فرمائی دا نبطی لفظ دې د دې معنی ښه او ښکلې (۲) د دې معنی هغه غر چه په هغې باندې ميوه دارې اونې وی هغې ته سينا هم وئيلې شی (۳) بعض حضراتو وئيلی دی دا د

سریانئ لفظ دي د دې معنی ده ګنړې اونې.(۴)مجاهد فرمائی د سینین معنی برکت والا یعنی د برکت والا غر.بهر حال د دې نه مراد هم هغه غر دې چه په کوم باندې الله پاک د موسی علیه السلام سره خبرې اوکړې.... ﴿ وهذا البلد الامين ﴾ څلورم قسم د بلد امين دې د دې نه مراد مکه مکرمه ده چه يو پر امن ښهر دې د اسلام نه مخکښ هم د کفارو په زړه کښ د دې ډير احترام وو چا به خپل دشمن ته هم په حرم پاک کښ هيڅ نه وئيل د دې نه پس خو ئې حرمت او عظمت ډير شو او تر قيامت پورې دې ته د امن والا ښهر اووئيلې شو دا څلور واړه مقامات چونکه بابرکت وو په دې وجه د دې قسم اوخوړلې شو.

﴿ لقد خلقنا الانسان في احسن تقويم ﴾ جواب د قسم دې مقصد د آيت دا دې چه الله پاک انسان د فطرت،بدن او شکل په اعتبار سره د ټولو مخلوقاتو نه زيات ښکلې پيدا کړې دې ابن عربی رحمه الله هم دا وئيلې دی چه د الله پاک په مخلوقاتو کښ د انسان نه ښکلې څيز نشته وجه دا ده چه الله پاک انسان ته د حيات سره سره عالم،قادر،متکلم،سميع،بصير،مدبر او حکيم هم جوړ کړې دې او دا صفات په حقيقت کښ د الله پاک دې الله پاک د خپلو صفتونو څه حصه انسان ته هم ورکړې ده او د يو عالم چه دا مقوله ده ﴿ ان الله خلق آدم على صورته ﴾ په دې کښ هم د صورة نه مراد صفات مراد دی نه شکل ځکه چه الله پاک د شکل نه پاک او منزه دې.

نوټ : ذکر کړې شوې جملې ته بعض حضراتو حديث وئيلې دې حال دا چه دا حديث نه دې بلکه د يو عالم يا حکيم مقوله ده (معارف القران ص ۷۵۵) هم په دې وجه باندې انسان ته اشرف المخلوقات وئيلې

شوې دې د انسان نه علاوه په نورو څیزونو کښې دا صفات نشته او په خلقنا کښې هم خپل طرف ته نسبت کولو سره هم د انسان د عظمت طرف ته اشاره ده

حق نے کھینچی ھے تری تصویر اپنے هاتھ سے

عجیبه واقعه : علامه قرطبیؒ په دې مقام باندې یو واقعه لیکلې ده چه عیسی بن موسی هاشمیؒ کوم چه د خلیفه ابوجعفر منصور مقرب وو او د خپلې ښځې سره ئې ډیره مینه کوله یوه شپه خپلې ښځې ته په داسې شپه چه سپوږمۍ راختلې وه اوونیل چه ﴿ انت طالق ثلاثا ان لم تکونی احسن من القمر ﴾ که ته د سپوږمۍ نه زیاته ښکلې نه ئې نو ته په ما باندې طلاقه ئې په دې اوریدلو سره ښځه پاسیده او پردې ته لاړه چه تاسو ما ته طلاق راکړو خکه چه زه د سپوږمۍ نه ښکلې نه یم عیسی بن موسی ټوله شپه په غم او پریشانۍ کښې تیره کړه سحر خلیفه منصور ته رارسیدلو سره ئې خپله ټوله قصه بیان کړه د وخت خلیفه د ښهر ټول فقهاء کرام جمع کړل او مسئله ئې د هغوی مخې ته کیخودله ټولو دا جواب ورکړو چه طلاق شوې دې خکه چه د سپوږمۍ نه ښکلې کیدل ممکن نه دی خو یو عالم چه د امام ابوحنیفهؒ شاګرد وو خاموش ناست وو خلیفه د هغوی نه تپوس اوکړو نو هغوی بسم الله وئیلو سره د سورة التین تلاوت اوکړو او وې فرمائیل الله پاک فیصله فرمائیلې ده چه مونږ انسان د ټولو نه زیات ښکلې پیدا کړې دې که هغه نمر وی که سپوږمۍ په دې وجه عیسی صحیح وئیلی دی ټول علماء کرام د هغوی په دې استدلال باندې حیران شو او سکوت ئې اختیار کړلو

خلیفه حکم ورکړو طلاق نه دي شوې.د دې نه هم دا معلومه شوه چه انسان د ټول مخلوق نه ښکلې دې د ظاهر په اعتبار سره هم او د باطن په اعتبار سره هم د حسن او جمال په اعتبار سره هم او د بدني جوړخت په اعتبار سره هم.(قرطبی ص ۱۱٤ ج ۲۰)

﴿ ثم رددنـا اسـفل سـفلين ﴾ د دې آيت دوه مقصدونه کيديشی (۱) يا خو په مقصد دا وی چه مونږ انسان د فطرت او بدنی ساخت په اعتبار سره د ټولو نه زيات ښکلې پيدا کړو بيا چه کله لوني شو نو هغه کفر اختيار کړو نو د هغه د بدو عملونو او بد کردار د وجې نه مونږ دې کوم چه د درجې په اعتبار سره ښکته ځيزونه وو د هغې نه هم زيات ښکته او ذليل کړو تر دې چه د خنزير او سپی نه هم بدتر شی خو کومو خلقو چه ايمان راوړو او نيک عملونه ئې اوکړل نو هغوی د دې ذلت او ښکته والی نه مستثنی دی بلکه د هغوی دپاره بې انتهاء ثواب دې په دې صورت کښې په ﴿ ثم رددنـاه ﴾ کښې د کفارو او فجارو حال بيانولې شی او په ﴿ الا الذين ﴾ کښې د مومنانو استثناء ده.(۲) يا به دا مقصد وی چه انسان په خپله ځوانئ او حسن کښې خو احسن تقويم دې د ټولو نه زيات حسين دې او د ټولو حيواناتو بلکه د جناتو او د بحروبر هر ځيز د هغه فرمانبردار وی خو بيا په آخر کښې په هغه باندې دا حالت راشی چه ډير زوړ او بد عمر او د کمزورې بيمارئ د وجې نه د ماشومانو نه هم زيات لاندې درجې ته لاړ شی.بوډاتوب د هغه شکل بالکل بدل کړی.بدهينت او بدشکل په نظر راځی او په نورو باندې بار جوړ شی د چا په کار نه راځی په خلاف د نورو ځناورو چه هغوی تر آخری ژونده پورې په خپل کار

کښې وی د هغوی نه د پیو او د بار اوړلو کار اخستلې شی که هغوی ذبح کړې شی یا مړۀ شی نو بیا هم د هغې څرمن وینښتۀ هډوکی دبدن زره زره د انسان په کار راځی.خو انسان چه کله بوډا او بیمار شی نو هغه د دنیادارئ په اعتبار سره د هیڅ کار هم نه وی د مرګ نه پس هم د هغه د یو جزء نه یو انسان یا یو حیوان ته څه فائده نه ملاویږی.

د دې تفسیر مطابق د اسفل سافلین نه مراد د هغه د بدنی او مادی شکل او صورت په اعتبار سره لاندې تلل دی او د الاالذین والا استثناء مقصد به دا وی چه کوم خلق مومنان دی او په نیکو عملونو کښې ئې د خپلې ځوانئ زمانه تیره کړه نو دا بوډا توب کمزوری او د بدن بیکارتوب به هغه ته هیڅ نقصان ورنکړی ځکه چه د بوډاتوب او کمزورتیا د وجې نه اګر چه په اعمالو کښې کمې راشی خو د هغه په عمل نامه کښې به د هغه د ټولو عملونو ثواب هغه ته ملاویږی کوم چه به هغه د ځوانئ په زمانه کښې کول او هغه اعمال به لیکلې شی.په حدیث کښې دی چه کله یو مسلمان بیمار شی نو الله پاک د عمل نامو لیکونکو ملائکو ته فرمائی چه کوم نیک عملونه هغه په صحت کښې کول هغه د هغه په عمل نامه کښې لیکئ په دې وجه اوفرمائیلې شو چه ﴿فلهم اجر غیرممنون﴾ چه د هغوی د پاره نه ختمیدونکې اجر دې.

﴿فما یکذبک بعد بالدین﴾ په تیرو آیتونو کښې د انسان د تخلیق ذکر وو چه څنګه هغه احسن تقویم جوړ کړې شوې دې او بیا د بوډاتوب طرف ته بوتلې شو د دې نه اوس استدلال کولې شی په بعث بعدالموت باندې،اې انسانه ته لږ په دې خپل وجود کښې غور اوکړه ستا په وجود کښې زمونږ د قدرت دلائل موجود دی چه مونږ ته په

شروع کښې طاقتور جوړ کړې بیا مو کمزورې کړې او بیا مو اووژلې نو آیا موږ ستا په دوباره ژوندي کولو باندې قادر نه یو آیا څه څیز ته د قیامت او د جزا د ورځې په انکار باندې مجبور کړې ئې څه دلیل دې تا سره؟

﴿ الیس الله باحکم الحکمین ﴾ مقصد دا دې چه د الله پاک ذات د ټولو نه لوئې حاکم ذات دې پس هغه به په آخرت کښې فیصله کولو سره نیکانو خلقو ته د هغوی د عملونو ثواب او بدو خلقو ته به سزا ورکوی ځنګه بادشاه یا حاکم په دنیا کښې نافرمانو ته سزا ورکوی.

مسئله : چه کله دا سورة ختم شی نو په آخر کښې ﴿ بلی وانا علی ذلک من الشاهدین ﴾ ویل مستحب دی رسول الله ﷺ هم د دې کلماتو لوستلو حکم کړې دې.(معارف)

سورة العلق مکیة

ایاتها ۱۹	بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ	رکوعها ۱

ٱقۡرَأۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلَّذِي خَلَقَ ﴿١﴾ خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِنۡ عَلَقٍ ﴿٢﴾
ٱقۡرَأۡ وَرَبُّكَ ٱلۡأَكۡرَمُ ﴿٣﴾ ٱلَّذِي عَلَّمَ بِٱلۡقَلَمِ ﴿٤﴾ عَلَّمَ ٱلۡإِنسَٰنَ مَا لَمۡ
يَعۡلَمۡ ﴿٥﴾ كَلَّآ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَيَطۡغَىٰٓ ﴿٦﴾ أَن رَّءَاهُ ٱسۡتَغۡنَىٰٓ ﴿٧﴾ إِنَّ إِلَىٰ رَبِّكَ
ٱلرُّجۡعَىٰٓ ﴿٨﴾ أَرَءَيۡتَ ٱلَّذِي يَنۡهَىٰ ﴿٩﴾ عَبۡدًا إِذَا صَلَّىٰٓ ﴿١٠﴾ أَرَءَيۡتَ إِن
كَانَ عَلَى ٱلۡهُدَىٰٓ ﴿١١﴾ أَوۡ أَمَرَ بِٱلتَّقۡوَىٰٓ ﴿١٢﴾ أَرَءَيۡتَ إِن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰٓ ﴿١٣﴾

أَلَمْ يَعْلَم بِأَنَّ ٱللَّهَ يَرَىٰ ﴿١٤﴾ كَلَّا لَئِن لَّمْ يَنتَهِ لَنَسْفَعًا بِٱلنَّاصِيَةِ ﴿١٥﴾ نَاصِيَةٍ كَـٰذِبَةٍ خَاطِئَةٍ ﴿١٦﴾ فَلْيَدْعُ نَادِيَهُۥ ﴿١٧﴾ سَنَدْعُ ٱلزَّبَانِيَةَ ﴿١٨﴾ كَلَّا لَا تُطِعْهُ وَٱسْجُدْ وَٱقْتَرِب ﴿١٩﴾

ترجمه: لوله د خپل رب په نوم هغه ذات چه پيدا کړو.... چه پيدا ئې کړو انسان د جام وينې نه.....اولوله د خپل رب په نوم چه کريم دې...... هغه ذات چه تعليم ئې ورکړو د قلم په ذريعه.....او وئې ښودل انسان ته هغه چه هغه ته ئې علم نه وو......هر گز داسې نه ده بيشکه انسان سرکشي کوي.... په دې وجه چه هغه خپل ځان بې پرواه ويني.... بيشکه ستا د رب طرف ته واپس کيدل دی.....تا هغه انسان ليدلې دې چه منع کوي بنده لره کله چه هغه مونځ کوي....آيا تا ليدلې دې که وې هغه په هدايت باندې يا حکم کولې هغه په تقوی باندې (نو څومره ښه خبره به وه) آيا تا ليدلې دې که هغه تکذيب کوي يا مخ اړوي آيا هغه ته علم نشته چه بيشکه الله پاک گوري....هر گز داسې نه ده که هغه منع نه شو نو مونږ به هغه د تندي د ويښتو نه راکاږو ....يعني هغه تندي چه دروغژن دې خطاکار دې.... پس هغه دې راوبلي د خپل مجلس ملگري......مونږ به هم د دوزخ ملائک راوغواړو.....هر گز داسې نه ده د هغه اطاعت مه کوه او سجده کوه او (د خپل رب) نزدې حاصل کړه.

حل المفردات: اقراء واحد مذکر امرمعروف د باب (ف) لوستل... العلق: تينگه وينه....يطغی په اصل کښې يطغی وو د باب (س) سرکشي کول.... ينهی واحد مذکر غائب په اصل کښې ينهی وو د

باب (ف) بندول.....لم ینته واحد مذکر غائب نفی جحد په اصل کښ لم ینتهی وو د لم د وجې نه یا اوغورځیدله په معنی د بندیدلو لنسفعا جمع متکلم لام تاکید بانون خفیفه د باب (ف) د تندی ویښته نیولو سره راښکل الناصیة تندی جمع ئې نواص یا نواصی راځی خاطئة واحده مونثه اسم فاعل د باب (س) غلطی کول فلیدع واحد مذکر امر غائب په اصل کښ لیدعو وو د باب (ن) راغوښتل نادیة مجلس جمع ئې اندیة راځی....نادی هغه مجلس ته وائی چه تر څو خلق په هغې کښ موجود وی د باب (ن) جمع کیدل په مجلس کښ حاضریدل الزبانیة جمع ده د دې مفرد نشته هغه ملائک چه خلق به په راښکلو دوزخ ته بوځی....د باب (ض) دفع کول...لاتطعه واحد مذکر حاضر نهی معروف په اصل کښ لاتطیعه د باب افعال نه اطاعت کول......اسجد واحد مذکر امر حاضر د باب (ن) سجده کول اقترب واحد مذکر امر حاضر د باب افتعال نه قریب کیدل....

حل الترکیب: ﴿ اقراء باسم ربک الذی خلق .... خلق الانسان من علق .... اقراء و ربک الاکرم.... الذی علم بالقلم.... علم الانسان مالم یعلم ﴾ اقراء فعل انت فاعل با حرف جاره اسم مضاف رب مضاف کاف ضمیر مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه موصوف الذی موصول خلق فعل هو ضمیر فاعل فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره مبدل منه یا موکد خلق فعل هو ضمیر فاعل فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه کیدو سره مبدل منه یا موکده خلق فعل هو ضمیر فاعل الانسان مفعول به من علق جار مجرور متعلق خلق فعل او فاعل او مفعول به او متعلق یو ځائې

کیدو سره جمله فعلیه کیدو سره بدل یا تاکید ،مبدل منه د بدل سره یا موکد د تاکید سره صله شوه دپاره د الذی اسم موصول،صله سره د موصول نه صفت دې د ربک موصوف سره د صفت نه مضاف الیه دې د پاره د اسم مضاف،مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور شو دپاره د با جار جار سره د مجرور نه متعلق شو په اقراء فعل پورې فعل سره د فاعل او متعلق نه جمله انشائیه شوه کیدو سره بیا موکد اقراء فعل انت ضمیر ذوالحال واؤ حالیه ربک مرکب اضافی کیدو سره مبتدا الاکرم موصوف الذی اسم موصول علم فعل هو ضمیر فاعل بالقلم جار مجرور متعلق،فعل سره د فاعل او سره د متعلق نه جمله فعلیه کیدو سره مبدل منه یا موکد علم فعل هو ضمیر فاعل الانسان مفعول به ما موصوله لم یعلم فعل هو ضمیر فاعل فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه کیدو سره صله شوه دپاره د موصول،صله سره د موصول نه مفعول ثانی دې دپاره د لم یعلم فعل سره د فاعل او سره د دواړو مفعولینو نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره بدل یا تاکید دې د علم دپاره،مبتدل منه د خپل بدل یا موکد د خپل تاکید سره صله شوه د پاره د الذی اسم موصول موصول سره د صلې نه صفت دې د پاره د الاکرم موصوف،صفت سره د موصوف نه خبر شو دپاره د مبتدا ،مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه کیدو سره حال دې دپاره د ذوالحال انت ضمیر ذوالحال سره د حال نه فاعل شو دپاره د فعل فعل سره د فاعل نه جمله انشائیه کیدو سره تاکید ،تاکید سره د موکد نه جمله فعلیه انشائیه شوه.

﴿کلا ان الانسان لیطغی ان راه استغنی ﴾ کلا حرف ردع ان حرف د حروف مشبه بالفعل نه الانسان اسم لام تاکید یه یطغی فعل

هو ضمیر فاعل ان مصدریه رای فعل هو ضمیر فاعل ه ضمیر مفعول اول استغنی فعل هو ضمیر فاعل،فعل سره د فاعل نه جمله کیدو سره مفعول ثانی دې د رای فعل دپاره فعل سره د فاعل او د دواړو مفعولینو سره په تاویل د مصدر مفعول له شو دپاره د یطغی فعل،فعل سره د فاعل او مفعول له نه جمله فعلیه کیدو سره خبر شو دپاره د ان،ان سره د خپل اسم او خبر نه جمله اسمیه خبریه شوه.

﴿ ان الی ربک الرجعی ﴾ ان حرف دې د حروف مشبه بالفعل نه الی ربک جار مجرور ظرف مستقر ثابت پورې متعلق کیدو سره خبر مقدم الرجع اسم موخر دا جمله اسمیه خبریه شوه.

﴿ ارءیت الذی ینهی عبدا اذا صلی ﴾ همزه استفهامیه رئیت فعل او فاعل الذی اسم موصول ینهی فعل هو ضمیر فاعل عبدا مفعول به اذا ظرف مضاف صلی فعل هو ضمیر فاعل فعل سره د فاعل نه جمله کیدو سره مضاف الیه شو د پاره د اذا مضاف مضاف سره د مضاف الیه نه مفعول فیه شو دپاره د ینهی فعل،فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه او مفعول فیه نه جمله کیدو سره صله شوه دپاره د موصول صله سره د موصول نه مفعول به شو دپاره د ارایت فعل فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعلیه انشائیه شوه.

﴿ ارءیت ان کان علی الهدی او امر بتقوی ﴾ همزه دپاره د استفهام رئیت فعل او فاعل ان شرطیه کان فعل د افعال ناقصه نه هو ضمیر نې اسم علی الهدی جار مجرور په ثابتا پورې متعلق کیدو سره خبر شو دپاره د کان،کان د خپل اسم او خبر سره معطوف علیه

او عاطفه امر فعل هو ضمير فاعل بالتقوى جار مجرور په امر پوري متعلق شو.دا جمله کيدو سره معطوف شو دپاره د معطوف عليه، معطوف سره د معطوف عليه نه شرط شو دپاره د جزا محذوف ﴿لعلم بان الله يراه ﴾ شرط سره د خپلې جزا نه جمله شرطيه کيدو سره قائم مقام ددوه مفعولينو دپاره د رائيت فعل بيا داجمله فعليه انشائيه شوه.

﴿ ارءيت ان كذب و تولى الم يعلم بان الله يرى ﴾ همزه استفهاميه رئيت فعل او فاعل ان شرطيه كذب فعل هو ضمير فاعل فعل سره د فاعل نه معطوف عليه،و تولى فعل او فاعل سره يو ځائي کيدو باندې جمله کيدو سره معطوف،معطوف سره د معطوف عليه نه شرط،همزه استفهاميه لم يعلم فعل هو ضمير فاعل با جاره ان حرف د حروف مشبه بالفعل الله اسم يرى فعل هو ضمير فاعل هو ضمير فاعل ه ضمير مفعول به محذوف،دا جمله کيدو سره د ان د پاره خبر شو ان د خپل اسم او خبر سره جمله اسميه کيدو سره مجرور شو دپاره د با جاره جار سره د مجرور نه م تعلق بيا دا جمله انشائيه کيدو سره جزا ،شرط سره د جزا نه جمله شرطيه کيدو سره قائم مقام د دوه مفعولو دي د ارئيت فعل پوري.

﴿ كلا لئن لم ينته لنسفعا بالناصية ..... ناصية كاذبة خاطئة ﴾

كلا حرف ردع لام تاكيديه ان شرطيه لم ينته فعل هو ضمير فاعل، فعل سره د فاعل نه شرط لام تاكيديه نسفعا فعل او فاعل....باحرف جاره الناصية مبدل منه ناصية موصوف كاذبة صفت اول خاطئة صفت ثاني موصوف سره د دوارو صفتونو نه بدل شو دپاره د مبدل منه،مبدل منه سره د بدل نه مجرور سره د با جار جار سره د مجرور نه

متعلق شو په لنسفعا پوري فعل سره د فاعل نه او سره د متعلق نه جزا د پاره د شرط شرط سره د جزا نه جمله شرطیه شوه

﴿ فلیدع نادیه ﴾ فا فصیحیه لیدع فعل هو ضمیر فاعل نادیه مضاف سره د مضاف الیه مفعول به دا جمله انشائیه شوه،

﴿سندع الزبانیة ﴾ سین دپاره د استقبال ندع فعل او فاعل الزبانیة مفعول به دا جمله فعلیه شوه.

﴿ کلا لا تطعه واسجد واقترب ﴾ کلا حرف ردع لاتطع فعل او فاعل ه ضمیر مفعول به دا جمله انشائیه کیدو معطوف علیه واؤ عاطفه اسجد فعل او فاعل دا جمله انشائیه کیدو سره معطوف اول اقترب فعل او فاعل کیدو سره جمله انشائیه کیدو سره معطوف ثاني معطوف علیه سره د دواړو معطوفینو نه جمله معطوفه شوه.

تفسیر: د سورة نوم سورة العلق

ربط: په تیر سورة کښ ﴿ لقد خلقنا الانسان فی احسن تقویم ﴾ په دي کښ ﴿ خلق الانسان من علق ﴾

(۲) په تیر سورة کښ د انسان د شکل د او صورة په اعتبار سره د هغه د تخلیق ذکر وو په دي سورة کښ د مادي په اعتبار سره د تخلیق بیان دی.(۳) د تیرو سورتونو په شان په دي سورة کښ هم د رسول اللهﷺ د فضیلت او د انعاماتو او د نبوت او د وحی د تعلیم بیان دي او د مخالفینو دپاره د ردع بیان دي.

فائده: د جمهور صحابة کرامو او تابعینو قول او بخاری او مسلم او د نورو کتابونو د صحیح روایاتو نه دا خبره ثابت ده چه په رسول اللهﷺ باندي د ټولو نه رومبي وحی د اقراء نه تر مالم یعلم پوري

پنخه آیتونه نازل شو. د بعض حضراتو قول دې چه د سورة المدثر اولنی آیتونه د ټولو نه اول نازل شو دا د جابر رضي الله عنه نه روایت دې بعض حضرات د علی رضي الله عنه نه روایت کوی چه د ټولو نه اول سورة الفاتحه نازله شوه په درې واړو روایاتو کښې رومبې اصح دې. او د جمع صورة هم کیدیشی چه د ټولو نه اول د اقراء آیتونه نازل شو بیا د ډیرې مودې پورې د وحی سلسله بنده وه چه په هغې سره رسول الله ﷺ سخت پریشانه شو. دې ته د فترت زمانه وئیلې شی. بیا جبرائیل علیه السلام سورة المدثر سره نازل شو ځکه چه د فترت د زمانې نه پس د ټولو نه اول سورة المدثر نازل شو په دې وجه دې ته اول وحی اوئیلې شوه. د علی رضي الله عنه نه د سورة الفاتحه په باره کښې دی چه هغه د ټولو نه اول نازله شوه نو د هغې تایل دا دې چه پوره سورة د ټولو نه اول سورة الفاتحه نازله شوه د دې نه مخکښې جدا جدا آیتونه نازل شو. (معارف)

واقعه د وحی د نزول: ام المومنین عائشه صدیقه رضي الله عنها فرمائی چه د وحی شروع د رښتینې خوبونو نه اوشوه رسول الله ﷺ چه به څه خوب هم لیدلو نو بالکل هم د هغې مطابق به واقعه د رڼا ورځ په شان مخې ته راتله بیا د رسول الله ﷺ زړه مبارک د خلوت طرف ته مائل شو د دې خلوت دپاره رسول الله ﷺ غار حرا خوښ کړو دا غار د مکې مکرمې د قبرستان جنت المعلی نه لږ مخکښې په غر باندې دې چه هغې ته جبل النور وائی رسول الله ﷺ به دې غر ته تلو سره هلته عبادت کولو هلته به څو څو شپې مقیم وو چه کله به ورسره توښه ختمه شوه نو واپس به کور ته راتلو د خدیجې رضي الله عنها نه به ئې نوره د څو ورځو توښه یوړه. رسول الله ﷺ هم په دې غار کښې وو چه جبرائیل علیه السلام

رسول الله ﷺ ته د وحی راوړلو دپاره راغلو او وې فرمائیل ﴿ اقراء ﴾
رسول الله ﷺ اوفرمائیل ﴿ ما انا بقارئ ﴾ زه لوستونکې نه یم ځکه
چه رسول الله ﷺ امی وو په دی باندې جبرائیل علیه السلام هغوی په خپل
غیږ کښې نیولو سره په پوره طاقت سره اوزورلو چه رسول الله ﷺ تری
په تکلیف کښې شو بیا ئې اوفرمائیل ﴿ اقراء ﴾ رسول الله ﷺ جواب
ورکړو ﴿ ما انا بقارئ ﴾ هغوی دوباره بیا زور ورکړو بیا ئې
اوفرمائیل ﴿ اقراء ﴾ رسول الله ﷺ هم هغه جواب ورکړو ﴿ ما انا
بقارئ ﴾ بیا ئې دریم کرت زور ورکړو او پرې ئې خودلو او وې
فرمائیل ﴿ اقراء باسم ربک الذی خلق الی قوله مالم یعلم ﴾ د دې
پنځه آیتونو سره په داسې حالت کښې رسول الله ﷺ کور ته راغلو چه
هغوی رپیدل، او خدیجې رضی الله عنها ته ئې اوفرمائیل ﴿ زملونی زملونی ﴾
په ما څادر راواچوه، خدیجې رضی الله عنها پرې څادر واچولو چه کله دا کیفیت
ختم شو نو رسول الله ﷺ خپل زړه سواندې بی بی ته ټوله قصه
واوروله او دا ئې هم اوفرمائیل چه زما داسې حالت شوې دې چه ما
ته د خپل نفس خطره ده، خدیجه رضی الله عنها اوفرمائیل داسې هر ګز نه شی
کیدې الله پاک به تاسو نه ناکامه کوی ځکه چه تاسو خو خپل ولی
پالئ د میلمنو میلمستیا کوئ د مصیبت زده خلقو امداد کوئ بې
روزګاره سړی په کار لګوئ په دې طریقې خدیجه رضی الله عنها رسول الله ﷺ
ته تسلی ورکړه بیا ئې رسول الله ﷺ د خپل تره خوی ورقه بن نوفل
ته بوتلو چه د بت پرستئ نه توبه کولو سره نصرانی شوې وو (هغه
وخت دین حق هم دا وو) لیکلو او لوستلو والا سړې وو عربی ئې
مورنئ ژبه وه په عبرانئ ژبه باندې هم پوهیدلو په دې وخت کښې ډیر

بوډا شوي وو نظر ئې هم ختم شوې وو خديجې ﷺ اوفرمائيل زما د تره ځويه! لږه د دې خپل ورارهٔ خبره واوره ورقه د رسول الله ﷺ طرف ته متوجه شو رسول الله ﷺ ټوله قصه بيان کړه ورقه سره د اوريدلو نه اووې دا خو هغه ناموس فرشته ده کوم چه به موسی ﷺ ته راتلو کاش چه زه ستا د پيغمبرۍ په زمانه کښې قوی اوم کاش چه زه هغه وخت ژوندې يم چه ستاسو قوم به تاسو د وطن نه اوباسی،رسول الله ﷺ په حيرانتيا سره اوفرمائيل ﴿او مخرجی هم﴾ ايا دوی به ما اوباسی ورقه اووې بالکل ځکه چه کله هم يو انسان دين حق راوړی کوم چه تاسو راوړې دې نو د هغوی قوم هغوی ته تکليف ورکړې دې که ما دغه زمانه بيا موندله نو زه به ستاسو ضرور ستاسو امداد کوم خو ژوند وفا اونکړه او څو ورځې پس د هغوی وفات اوشو.

څو سوالونه:

سوال: (١) رسول الله ﷺ د عبادت دپاره غار حرا ولې منتخب کړو.

جواب: په هغه زمانه کښې د هغه ځائې نه خانه کعبه ښکاره کيدله.

سوال: (٢) په غار حرا کښې څو ورځې پاتې شو؟

جواب: په دې کښې اختلاف دې بعض حضرات وائی چه څلويښت ورځې (يو چله) د صحيحينو روايت دې چه رسول الله ﷺ د رمضان په مياشت کښې اعتکاف اوکړو.

سوال: (٣) رسول الله ﷺ به په غار حرا کښې څه عبادت کولو او دکوم شريعت مطابق به ئې کولو؟

جواب: په دې کښې څو اقوال دی: (١)د نوح ﷺ د شريعت مطابق به ئې عبادت کولو (٢) د ابراهيم ﷺ د شريعت مطابق (٣) د

عیسی علیه السلام د شریعت مطابق ....دا اقوال هم د روایت نه ثابت نه دی اود امي کیدو د وجي نه هم دا اقوال صحیح نه دی.(۴) صحیح قول دادي چه دا عبادت صرف فکری وو او د الله پاک طرف ته خاص توجه او د مخلوق نه تعلق پرې کول بس هم دې ته عبادت ونیلې شوې دې.

سوال: (۴) رسول الله ﷺ ته څنګه معلومه شوه چه دا جبرائیل علیه السلام دې؟

جواب:د الله پاک د طرف نه د رسول الله ﷺ په زړه کښې دا خبره واچولې شوه رسول الله ﷺ ته د رڼړا ورځې په شان یقین راغلو چه دا په حقیقت کښې جبرائیل علیه السلام دې.

سوال: (۵) جبرائیل علیه السلام درې کرته زور ولې ورکړو؟

جواب: په ړومبې کرت ئې زور څکه ورکړو چه د دنیا اثرات ترې ختم شي په دویم کرت ئې زور څکه ورکړو چه پکښې صلاحیت او استعداد د وحی پیدا شي په دریم کرت څکه چه مینه پکښې پیدا شي.

سوال: (۶) نزول د وحی په کوم تاریخ اوشوه؟

جواب: په اولسم (۱۷) رمضان المبارک د ګل په ورځ.

سوال: (۷) ﴿ خشیت علی نفسی ﴾ ئې ولې اوفرمائیل؟ په رسول الله ﷺ باندې رڼ ولې لګیدلې وو؟

جواب: دا ویره د دې وجې نه وه چه جبرائیل علیه السلام ئې ړومبی کرت په اصلی شکل کښې اولیدو او د وحې په وخت کښې به په رسول الله ﷺ باندې بوجهه وو.او بیا پرې د نبوت او رسالت ذمه داری هم واچولې شوه د دې وجوهاتو په بناء په رسول الله ﷺ باندې اضطراری طریقې سره دا کیفیت راغلو کوم چه طبعی طور سره وو.

سوال: (۸) د دې آيتونو د نزول نه پس وحی ولې بنده شوه؟

جواب: (۱) د دې دپاره چه کوم آيتونه نازل شوی دی په هغې کښې تدبر اوکړې شی. (۲) چه د وحی ويره ختمه شی (۳) چه دوباره د وحی شوق او ذوق زيات شی.

سوال: (۹) د وحی د نه راتلو (فترت) زمانه څومره ده؟

جواب: په بعض رواياتو کښې دوه نيم کاله او په بعضو کښې درې کاله ده. (معارف،عمدة القاری)

﴿ اقراء باسم ربک الذی خلــق ﴾ مختصر دا چه چه رسول اللهﷺ ته د ټولو نه اول د قراءت ادب اوښودلې شو چه کله هم تاسو لوستل کوئ نو د هغه ذات نوم اخستلو سره لولئ (يعنی بسم الله الرحمن الرحيم لولئ) چا چه ټول مخلوقات پيدا کړل د اقراء مفعول محذوف پټ دې ﴿ ای مـــا يـــوحٰی اليـــک ﴾ چه څه به تاسو نازليږی.....باسم په باء کښې څو احتمالات دی: (۱) چه باء د پاره د مصاحبت وی مقصد به دا وی چه ستاسو قراءت دې ستاسو د رب د نوم سره مصاحب (ملگرې) وی، يوځائې وی. (۲) چه باء دپاره د استعانت وی مقصد به دا وی چه د الله پاک د نوم په امداد سره لولئ بيا به په دې کښې د رسول اللهﷺ د دې عذر جواب وی چه ﴿ مـــا انـــا بقارئ ﴾ گويا الله پاک فرمائی چه تاسو خپل موجوده حالت او امی کيدو ته مه گورئ، بلکه په الله پاک باندې اعتماد کولو سره د هغه د نوم مدد حاصلولو سره لولئ ستاسو رب قادر دې چه هغه يو امی سړې د اعلی علومو او د خطابت او فصاحت او بلاغت هغه درجه ورکړی چه د هغې مخې ته به تعليم يافته هم عاجز شی. (۳) باء دپاره

د برکت ده په معنی د واضح (۴) چه باء زائده شی نو مقصد به دا وی چه د خپل رب نوم اولولئ ...رب دلته د لفظ رب د ذکر کولو وجه رسول الله ﷺ ته تسلی ورکول دی چه تاسو د خپل رب نوم اخستلو سره خو اولولئ چا چه د پیدائش د شروع نه ستاسو تربیت او او پرورش کړي دي او راروان وخت کښ به هم ستاسو هر قسمه تربیت کوی او د امی کیدو باوجود به ئي په تاسو باندي لولی.

﴿ الذی خلق ﴾

سوال: صفت د تخلیق ئي په خصوصیت سره ولې ذکر کړو؟

جواب: وجه دا ده چه په انسان باندي د الله پاک څومره انعامات او احسانات دی د ټولو نه اول انعام د هغه پیدائش او د هغه د وجود ورکړه ده په دي وجه ئي دا ذکر اوفرمائیلو.

فائده: د خلق مفعول ئي ذکر نه کړو په دي کښ اشاره الی العموم ده چه ټول کائنات الله پاک پیدا کړي دي. ﴿ خلق الانسان من علق ﴾ په ﴿الذی خلق ﴾ کښ دنیا د تخلیق ذکر وو په ﴿ خلق الانسان ﴾ کښ د انسان د تخلیق ذکر دي.

سوال: انسانی تخلیق ئي دوباره ولې ذکر کړو؟

جواب: انسان چونکه اشرف المخلوقات دي او د پوره دنیا او مخلوق خلاصه ده څکه چه په جهان کښ څه هم دی د هغي مثالونه په انسان کښ موجود دی هم دا وجه ده چه انسان ته عالم اصغر وئیلې شی هم په دي بنیاد باندي دي په خصوصی طور سره ذکر کړو او دا وجه هم کیدیشی چه د نبوت او رسالت او د قرآن کریم د نزول نه مقصد د الله پاک احکام نافذ کول وی او په هغې باندې عمل کول وی او دا د

انسان سره خاص دی په دې وجه ئې انسان ذکر کړو. ﴿ من علــق ﴾ د دې معنی جامده وينه چه چم شوې وي.

سوال: انسان خو د نطفې نه پيدا کړې شوې دې دلته ئې علق ولې ذکر کړو؟

جواب: د انسان په تخليق باندې مختلف دورونه تيريږي د هغه شروع د خاورې نه وی بيا نطفه بيا علقه بيا مضغة (غوښه) بيا هډوکی په دې ټولو کښې درميانه دور د علق دې په دې وجه الله پاک دا ذکر کړو په دې سره د هغه اول او آخر طرف ته هم اشاره اوشوه.

﴿ اقراء ﴾

سوال: اقراء ئې مکرر ولې ذکر کړو؟

جواب: (۱) د ړومبی اقراء د تاکيد دپاره....(۲) په ړومبی اقراء سره رسول الله ﷺ ته د لوستلو حکم اوشو او په دويم سره خلقو ته د لوستلو حکم اوشو.... ﴿ وربک الاکرم ﴾ او ستا رب ډير کريم دې د اکرم د وصف ذکر کولو دوه وجې کيديشی.(۱)د رسول الله ﷺ د دې عذر جواب دې او هغه رفع کولې شی چه ته اګر چه امی ئې په ليکلو او لوستلو باندې نه پوهيږې خو ستا رب ډير کريم دې چا ته چه غوارې او څه غوارې ورکوی.(۲) او په صفت د اکرم کښې دې طرف ته هم اشاره ده چه په تخليق د عالَم او تخليق د انسان کښې د الله پاک هيڅ ګټه او غرض نشته بلکه صرف د هغه سخاوت او کرم دې.

﴿ الذی علم بالقلم ﴾ په تيرو آيتونو د انسان د تخليق ذکر وو په دې کښې د انسانی تعليم بيان وو تعليم خصوصی طور سره په دې ذکر کړې شو چه هم د دې په ذريعه انسان د حيواناتو نه ممتاز

وی هم دا تعلیم انسان د باقی مخلوق نه اعلی او اشرف جوړوی.

﴿ بالقلم ﴾ د تعلیم دوه صورتونه دی: (۱) تعلیم باللسان (۲) تعلیم بالقلم والکتابة ...په اقراء کښې د تعلیم باللسان حکم وو په دې کښې د تعلیم بالقلم بیان دې د تعلیم یو اهم ذریعه قلم او کتابة دې او هم دا ړومبۍ ذریعه ده د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو ﴿ لما خلق الله الخلق کتب فی کتابه فهو عنده فوق العرش ان رحمتی غلبت غضبی .... وفی حدیث اخر اول ما خلق الله القلم فقال له اکتب فکتب ما یکون الی یوم القیامة الخ ﴾

قلم: علماء کرام فرمائی چه قلم په درې قسمه دې: (۱) د ټولو نه اول هغه دې کوم چه الله پاک په خپل لاس پیدا کړو او د ټول مخلوق د تقدیر لیکلو حکم ئې ورکړو...(۲)دویم د ملائکو قلم چه په هغې سره هغوی کیدونکی واقعات او د انسانانو اعمال لیکی (۳) د انسانانو قلم چه په هغې سره هغوی خپل کلام لیکی نو کتابت په حقیقت کښې د بیان یو قسم دې....د تفسیر امام مجاهد رحمه الله د ابوعمر رحمه الله نه نقل کړې دې چه الله پاک څلور څیزونه په خپل لاس باندې پیدا کړل او باقی مخلوق ئې په کلمه د کن سره پیدا اوفرمائیل هغه څلور څیزونه دا دی: (۱) قلم (۲) عرش (۳) جنت عدن (۴) آدم علیه السلام (معارف)

فائده: علم کتابة د ټولو نه اول چا ته ورکړې شو په دې کښې اختلاف دې د بعضو په نزد ابوالبشر آدم علیه السلام ته ورکړې شو د بعضو په نزد د ټولو نه اول ادریس علیه السلام ته د کتابة فن اوښودلې شو.

کتابة(لیکل) یو نعمت دې: لیکل د الله پاک یو لوئې نعمت دې قتاده رحمه الله فرمائی قلم د الله پاک ډیر لوئې نعمت دې که دا نه وې نو

نه به یو دین قائم وي نه به د دنیا کاروبار صحیح وي، علی رضی الله عنه فرمائی د الله پاک ډیر لوئي کرم دي چه هغه خپلو بندګانو ته د هغه څیزونو علم ورکړو چه په هغې باندې هغوی نه پوهیدل او هغوی ئې د جهالت د تیرو نه د علم رڼا ته راویستل او د علم کتابة ترغیب ئې ورکړو ځکه چه په دې کښې بیشماره او لوئې فائدې دی چه د هغې د الله پاک نه علاوه هیڅ څوک احاطه نه شی کولې د ټولو علومو تدوین او د اولینو او آخرینو تاریخ او د هغوی حالات او هغه کتابونه چه نازل شوی دی د الله پاک د طرف نه هم د دې قلم په ذریعه اولیکلې شو.

سوال: رسول الله ﷺ ته علم کتابة ولې ورنکړې شو؟

جواب: وجه ئې دا بیان کړې شوې ده چه که رسول الله ﷺ لیکل کونې شوې نو د نبوت منکرینو ته به د اشکال موقع ملاؤ شوې وه چه دوی ئې خپله جوړوی او مونږ ته ئې پیش کوی الله پاک رسول الله ﷺ په داسې حالاتو کښې اوساتلو چه په هغه حالاتو کښې دا تصور هم نه شی کیدې چه یو سړې په خپل ذاتی کوشش سره څه کمال حاصلوی هم په دې وجه رسول الله ﷺ د عربو په صحرا کښې پیدا کړې شو. کوم چه د ترقی کونکې دنیا او د علم او د حکمت د ځایونو نه بالکل پریخې کړې شوې وه او لارې ئې دومره سختې وې چه د شام او د عراق او د مصر وغیره د ښهرونو سره ئې څه جوړ نه وو په دې وجه به د عربو خلقو ته امی وئیلې کیدل په داسې ملک او قبائلو کښې رسول الله ﷺ پیدا شو بیا د پیدا کیدو نه مخکښې د پلار سورې اوچتیدل د یتیم والی په حالت کښې ژوند تیرول د دې علم او خط نورې ذریعې هم تقریبا ختمې شوې د دې نه پس ناڅاپه الله پاک هغوی ته د نبوت تاج په سر کولو سره د علم او حکمت یو نه ختمیدونکې سلسله د هغوی په ژبه

باندې جاری اوفرمائیله چه لوئې لوئې شاعران او فصیحان د رسول الله ﷺ د کلام مخې ته عاجز شو دا یو داسې ښکاره معجزه وه چه هر سړی به د دې په لیدو باندې یقین کولو چه د رسول الله ﷺ کمالات د یو انسانی کوشش او منډو تړړو نتیجه نه ده بلکه د الله پاک غیبی ورکړه ده هم په دې وجه رسول الله ﷺ ته د خط او کتابة تعلیم ورنکړې شو.(معارف)

﴿علم الانسان ما لم یعلم﴾ په تیر آیت کښې د تعلیم د یو خاص ذریعې یعنی د تعلیم بالقلم ذکر وو په دې آیتونو کښې د نورو ذریعو بیان دې مقصد دا دې چه اصل تعلیم ورکونکې ذات خو د الله پاک دې او د دې ذریعې مختلف دی د قلم سره خاص نه دی په دې وجه ئې اوفرمائیل چه الله پاک انسان ته هغه علوم اوښودل چه په هغې باندې هغه نه پوهیدلو په دې کښې د څه تعلیمی ذریعې ذکر اونکړې شو په دې کښې ئې اشاره اوکړه چه د الله پاک تعلیم د پیدائش د ابتداء نه بغیر د څه ذریعې نه جاری دې مثلا په انسان کښې ئې عقل کیخودلو چه هغه د ټولو نه لویه ذریعه د علم ده انسان په خپل عقل سره په خپله بغیر د څه تعلیم نه ډیر څیزونه پیژنی بیا ورته د وحی الهام په ذریعه د ډیرو څیزونو علم ورکړو هم دغه شان د ډیرو څیزونو علم الله پاک د انسان په ذهن کښې پخپله پیدا کړو.چه په هغې کښې د څه ژبې یا قلم د تعلیم مداخلت نشته مثلا د یو بې شعوره ماشوم د خپلې مور د خیټې نه وتلو سره د خپل خوراک ځائې یعنی د مور سینه پیژندل بیا د سینو نه د پئ څکلو دپاره د سینو په خولهٔ سره زورل صرف د الله پاک د تعلیم په وجه دی بیا د پیدا کیدو سره د هغه ژړل د هغه د ژوند د ټولو ضرورتونو د پوره کولو ذریعه ده

د هغه د ژړا په وجه مور پلار په فکر کښې پريوځي چه هغه ته څه تکليف دې ﴿ مالم يعلم ﴾ په دې کښې دې خبرې ته اشاره ده چه دا خدائې ورکړی علم او هنر انسان خپل ذاتی کمال اونګڼړی ځکه چه انسان په شروع کښې داسې وو چه هيڅ ئې هم نه پيژندل لکه چه فرمائی ﴿ والله اخرجکم من بطون امهاتکم لا تعلمون شيئا ﴾ نو معلومه شوه چه انسان ته کوم علم هم حاصل شوې دې هغه د هغه ذاتی کمال نه دې بلکه د الله پاک ورکړه ده.

﴿ کلا ان الانسان ليطغی ﴾

ربط: په تيرو آيتونو کښې د وحی ذکر وو په راروانو آيتونو کښې د صاحب نبوت ﷺ د مخالفت مذمت او د هغوی خاص مخالف ابوجهل ته په ګستاخئ کولو باندې د عذاب وعيد دې.

شان نزول : په رسول الله ﷺ باندې چه کله مونځ فرض شو رسول الله ﷺ به په بيت الله کښې مونځ کولو ابوجهل به رسول الله ﷺ منع کولو چه مونځ مه کوه يو کرت رسول الله ﷺ مونځ کولو هغه راغلو او وې وئيل ما ته ډير کرته د دې نه منع کړې ئې که بيا مې اوليدې نو نعوذبالله ستا په سټ باندې به خپه کيدم او مات به ئې کړم....رسول الله ﷺ هغه او رټلو او وې فرمائيل د الله نه اويريږه که هغه اوغواړی نو ستا سټ ماتولې شی هغه اووې زما سټ څوک ماتولې شی؟ پوره د مکې ښهر والا زما سره دی که زه د خپل مجلس خلق راوغواړم نو دا ميدان به ستا خلاف د اعلی اسونو او ځوانانو نه ډک کړم.يو کرت رسول الله ﷺ مونځ کولو ابوجهل رسول الله ﷺ ته د تکليف ورکولو د پاره وړاندې شو او نزدې ورتلو سره اودريدلو او په شا راتلو خلقو

تري نه د دې وجه اوتپوسله وې وئيل زما او د محمد ﷺ ترمينځه د اور خندق خائل شو او په هغې کښې ما ته د وزرو والا څيزونه په نظر راغلل رسول الله ﷺ اوفرمائيل دا ملائک وو که دې مخکښې راغلې وې نو ملائکو به دې پوټې پوټې کړې وې تر آخره پورې هم دې واقعې طرف ته اشاره ده او د دې بدبخت مذمت بيان شوې دې ﴿ كلا ان الانسان ﴾ اګر چه د شان نزول په اعتبار سره دا آيت خاص دې خو په الفاظو کښې عموم دې چه په دې کښې ټول مخالفين (ګستاخ) نبوت داخل شی او د ټولو دپاره وعيد عام شی.

﴿ ان راه استغنى ﴾ په دې کښې د انسان يو کمزورتيا ذکر کړې شوې ده هغه دا ده چه انسان تر څو د نورو محتاج وی نو عاجزی کوی نيغ روان وی او کله ئې چه دا ګمان شی چه هغه د چا محتاج نه دې بې پرواه شوې دې نو په هغه کښې سرکشی او تکبر راشی او په نورو کښې د ظلم او ستم رجحان پيدا شی لکه څنګه چه په مالدارانو او صاحب اقتدار خلقو کښې کتلې شی چه د خپل طاقت په نشه کښې مست کيدو سره د ظلم بازار ګرموی چونکه د ابوجهل هم دا حال وو د مکې مکرمې په مالدارانو خلقو کښې وو د ټول ښهر خلقو به د هغه خبره منله او د هغه احترام به ئې کولو نو هغه په غرور کښې راتلو سره مستيانې شروع کړې او د رسول الله ﷺ په حق کښې ئې ګستاخی شروع کړه.

﴿ ان الى ربک الرجعى ﴾ رجعى د بشرى په شان مصدر دې معنې دا ده چه ټول به د خپل رب طرف ته واپس کيږی د آيت دوه مطلبه کيديشی: (۱) ظاهرا ئې مقصد دا دې چه د مرګ نه پس به

ټول الله پاک ته واپس کیږی او د خپلو عملونو حساب به ورکوی دا ګستاخ رسول ﷺ به هم خپل عملونه پیش کوی او د هغې سزا به خوری. (۲) دا هم ممکنه ده چه په دې آیت کښې متکبر انسان ته د هغه د تکبر او غرور علاج خودلې وی چه اې کم عقل متکبره! ته خپل ځان خود مختار او بې پرواه ګنړې حال دا چه که ته غرور اوکړې نو په خپل هر حالت، هر حرکت او سکون کښې او هر وخت الله پاک ته محتاج ئې بیا خپل ځان د انسانانو نه بې نیازه ګنړل دا هم غلطی ده ګینې انسان خو د نورو انسانانو همیشه مختاج وی د ځانله انسان خپل ټول ضروریات پوره کول او د هغې بندوبست کول ناممکن دی انسان که په خپله یو نمړئ باندې غور اوکړی نو هغه ته به پته اولګی چه په دې کښې د سوونو انسانو د محنت دخل دې هم دا حال د هغه د لباس او د ضروریاتو دې انسان یواځې د هغې انتظام نه شی کولې.

﴿ اریت الذی ینهی عبدا اذا صلی ﴾ په دې آیت کښې د ابوجهل د هم هغه سرکشئ ذکر دې چه هغه رسول الله ﷺ ته دهمکی ورکړې وه چه که مونځ دې اوکړو نو (نعوذبالله) سټ به دې مات کړم الله پاک په طور د تعجب فرمائی چه لږ د دې سړی سرکشئ ته اوګورئ چه د الله پاک یو بنده مونځ کوی هغه دې منع کوی د دې نه زیاته او بده خبره هم څه کیدیشی.

﴿ ارءیت ان کان علی الهدی ﴾ د آیت دوه مطلبه بیان کړې شوی دی: (۱) مقصد به دا وی چه لږ اوایئ چه هغه د الله پاک بنده په خپله هم په هدایت باندې وی او نورو ته هم د تقوی حکم کوی نو داسې مونځ ګزار منع کول به څومره لوئې جرم وی او انجام به څومره

خطرناک وی په دې صورت کښې به د کان او د امر ضمیر مرجع یوه وی (مظهری،معارف) (۲) دویم مقصد دا دې چه دې سړی که د سرکشئ او د مانځه نه د منع کولو په ځائې پخپله هدایت باندې وې او نورو ته ئې هم د تقوی حکم کړې وې نو دا به څومره ښه خبره وه (حقانی)

﴿ ارءیت ان کذب وتولی ﴾ مقصد دا دې چه ګوره اول خو دا د مانځه نه منع کول بده خبره ده بیا بالخصوص چه کله منع کونکې خپله ګمراه سړې وی د دین حق تکذیب کونکې وی او د هغې نه اعراض کونکې وی او کوم چه منع کولې شی هغه د هدایت اعلی نمونه وی نو دا څومره عجیبه شان خبره ده. ﴿ الم یعلم بان الله یری ﴾ بیا ابوجهل ته وعید دې چه آیا هغه ته معلومه نه ده چه الله پاک د هغه سرکشی،د هغه ګستاخی او د هغه بدعملی وینی؟یقینا وینی ئې....په دې وجه هغه به دۀ له سزا ورکوی او سزا هم خطرناکه...﴿ کلا لئن لم ینته ﴾ دلته بیا زجر او توبیخ ده چه دې سړی له هرګز داسې نه دی پکار که هغه د خپلې ګستاخئ او حرکتونو نه منع نه شو نو مونږ به هغه د هغه د ستهوکې نه نیولو سره دوزخ ته بوځو. ﴿ ناصیة ﴾ د تندی مخې ته د سر مخکښې ویښته (ستهوکې) ﴿ ناصیة کاذبة خاطئة ﴾ په دې کښې هم د هغه مذمت دې داسې تندې چه ګنهګار او دروغژن دې مراد ترې د تندی والا دې.

﴿ فلیدع نادیه سندع الزبانیة ﴾ په دې کښې د ابوجهل د دهمکې جواب دې که هغه په خپل مجلس باندې غرور کوی نو هغه دې راغواړی که هغه داسې اوکړل نو مونږ به هم د دوزخ ملائک راوغواړو.په حدیث کښې دی که هغه د خپل مجلس خلق راغوښتلې

وي نو ملائکو به د خلقو مخکښ ابوجهل په رابښکلو سره دوزخ ته بوتلي وي.

﴿ کلا ﴾ بیا زجر دي چه دي بدبخت له هرګز داسې نه دی کول پکار....

﴿ لا تطعه واسجد واقترب ﴾ په دي کښ رسول اللهﷺ ته حکم دي چه تاسو د هغه اطاعت مه کوئ او د خپل رب په عبادت کښ مصروف اوسیږئ خپل رب ته سجده کوه او د هغه قرب لټوه ځکه چه هم دا سجده د قرب ذریعه ده ﴿ کما ورد فی الحدیث اقرب ما یکون من ربه وهو ساجد فاکثروا الدعاء ﴾

سورة القدر مکیة

ركوعها ١	بسم الله الرحمن الرحيم	اياتها ٥

إِنَّآ أَنزَلْنَـٰهُ فِى لَيْلَةِ ٱلْقَدْرِ ۝١ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا لَيْلَةُ ٱلْقَدْرِ ۝٢ لَيْلَةُ ٱلْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ ۝٣ تَنَزَّلُ ٱلْمَلَـٰٓئِكَةُ وَٱلرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِم مِّن كُلِّ أَمْرٍ ۝٤ سَلَـٰمٌ هِىَ حَتَّىٰ مَطْلَعِ ٱلْفَجْرِ

ترجمه: بیشکه مونږ دا قرآن په لیلة القدر کښ نازل کړي دي.او ته څه خبر ئي چه لیلة القدر څه څیز د ي؟ لیلة القدر د زرو میاشتو نه غوره ده.نازلیږی ملائک او روح الامین په دي شپه کښ د خپل رب په اذن د هر کار د (انتظام) دپاره.دا شپه تر د صبا راختلو پوري سلامتی ده.

حل المفردات: انزلنا جمع متکلم القدر شان عظمت اندازه د باب (ض)

نه تدبير كول اندازه كول الف زر جمع ئي آلاف راخي.شهر مياشت جمع ئي شهور او اشهر راخي.تنزل په اصل كښ تتنزل وو يو تاء د تفعل اوغورځولې شوه واحده مونثه غائبه مضارع راكوزيدل الملائكة جمع ده مفرد ئي ملک دې الروح جمع د دې ارواح راخي امر كار ته وائي جمع ئي امور راخي.سلام د باب (س) نه په معنى د نجات او خلاصى موندلو واحد مذكر اسم ظرف د باب (ن) د ستورى وغيره راوتل.

حل التركيب: ﴿ انا انزلناه فى ليلة القدر ﴾ ان حرف د حروف مشبه بالفعل نا ضمير اسم ﴿ انزلناه فى ليلة القدر ﴾ فعل فاعل مفعول او متعلق سره يو ځائې كيدو بآندې جمله كيدو سره خبر شو دپاره د ان،ان د خپل اسم او خبر سره جمله اسميه.﴿ وما ادراک ما ليلة القدر ﴾ واؤ عاطفه ما مبتدا ادراک خبر ما مبتدا ليلة القدر خبر مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه انشائيه كيدو سره د ادرې دپاره مفعول ثانى فعل سره د فاعل او د دواړو مفعولينو سره جمله فعليه خبريه كيدو سره خبر،مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه انشائيه شوه.

﴿ ليلة القدر خير من الف شهر ﴾ ليلة القدر مبتدا خير من الف شهر ئي خبر مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه خبريه مفسره شوه.

﴿ تنزل الملائكة والروح فيها باذن ربهم من كل امر ﴾ تنزل فعل الملائكة معطوف عليه واؤ عاطفه الروح معطوف،معطوف عليه معطوف سره يو ځائې كيدو باندې فاعل فيها جار مجرور په تنزل فعل پورې متعلق شو....باذن ربهم با جار اذن مضاف رب مضاف هم مضاف اليه مضاف سره د مضاف اليه نه مجرور شو

دپاره د جار جار سره د مجرور نه متعلق په تنزل پورې....من کل امر جار مجرور او مضاف مضاف الیه یو ځائې کیدو سره متعلق شو په تنزل پورې فعل سره د فاعل او سره د درې واړو متعلقاتو نه جمله فعلیه خبریه شوه.

﴿ سلام هی حتی مطلع الفجـر ﴾ د دې جملې دوه ترکیبونه کیدیشی.(۱)سلام خبر دې دپاره د مبتدا محذوف هی مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه شوه،هی مبتدا حتی جاره مطلع الفجر مضاف مضاف الیه یو ځائې کیدو سره مجرور،جار سره د مجرور نه متعلق په ثابتة پورې کیدو سره خبر،مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه شوه.(۲)سلم خبر مقدم هی مبتدا موخر او حتی مطلع الفجر جار مجرور متعلق په سلام پورې،مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه شوه.

تفسیر: نوم سورة القدر...په مکی یا مدنی کیدو کښې ئې اختلاف دې راجح قول دا دې چه د؛ مکی دې.

ربط: (۱) په تیر سورة کښې د وحی او د صاحب وحی د فضیلت او صداقت بیان وو په دې سورة کښې د فضیلت او د صداقت د قرآن او د فضائلو د لیلة القدر بیان دې (۲) په تیر سورة کښې په اقراء سره د قرآن د قرات حکم دې په دې سورة کښې د قرآن د فضیلت بیان دې ګویا د لوستلو وجه او علت بیان شوې دې.(۳) په تیر سورة کښې د وحی د نزول او د مخالفین وحی د سزا او عتاب بیان وو په دې کښې د نزول قرآن او د قرآن په ملګرو باندې د انعاماتو او عنایاتو بیان دې.

شان نزول: د دې سورة ډیر شان نزول بیان کړې شوې دی: (۱) په بعض

احاديثو كښې راځي چه يو كرت رسول الله ﷺ په دې خبره ډير خفه شو چه د ړومبو امتونو عمرونه ډير اوږدهٔ وو او زما د امت عمرونه ډير لږ دي كه دوی په نيک اعمالو كښې د هغوی برابری كول غواړی نو نامـمكنه ده په دې باندې دا سورة نازل كړې شوچه كه ستا امت يو شپه عبادت اوكړی نو د زرو مياشتو نه هم ډير غوره ده.(٢)رسول الله ﷺ يو كرت د بنی اسرائيلو د يو مجاهد ذكر اوفرمائيلو چه هغه مسلسل زر مياشتې په جهاد كښې مصروف وو كله ئې هم وسله نه وه كوزه كړې صحابه كرامو ﷺ د هغه د جهاد په عبادت باندې تعجب اوكړو نو دا سورة نازل شو.(٣) ابن جرير په روايت د مجاهد ﷺ بله واقعه ذكر فرمائيلې ده چه په بنی اسرائيلو كښې يو عابد وو چه ټوله شپه به په عبادت كښې مصروف وو او د سحر كيدو سره به جهاد ته لاړو ټوله ورځ به په جهاد كښې مصروف وو تر د زرو مياشتو پورې هغه مسلسل هم داسې وو صحابه كرامو ﷺ د دې په اوريدو باندې ډير خواهش اوكړو په دې باندې دا سورة نازل شو.(۴)په يو روايت كښې دی چه رسول الله ﷺ د بنی اسرائيلو د څلور انبياء كرامو ﷺ ذكر اوفرمائيلو (١) ايوب (٢)زكريا (٣)حزقيل (۴) يوشع ﷺ......چه دوی تر د اتيا اتيا كالو پورې د الله پاک په عبادت كښې وو او د سترګې د رپ برابر ئې هم د الله پاک نافرمانی نه وه كړې.په دې باندې صحابه كرام ﷺ حيران شو نو دا سورة نازل شو.

فضائل ليلة القدر: دا ډيره اهم شپه ده د دې فضائل بيشميره دی....﴿قال رسول الله ﷺ من قام ايمانا و احتسابا فی ليلة القدر غفر له ما تقدم من ذنبه و فی رواية و من حرمها حرم الخير كله ولا يحرم

خیرها الا محروم ﴾

لیلة القدر د زرو میاشتو نه غوره ده په دې شپه ملائک زمکې ته راځی کوم انسان هم چه په عبادت باندې مشغول وی د هغه سره مصافحه کوی او د هغه دپاره دعا کوی په لیلة القدر کښ د عبادت کونکی ټول ګناهونه معاف کولې شی وغیره.

فائده: بعض حضراتو دا فرمائیلی دی چه لیلة القدر د دې امت خصوصیت نه دې ړومبو امتونو ته هم دا شپه ورکړې شوه خو راجح قول دا دې چه دا شپه د امت محمدیه ﷺ د خصوصیاتو نه ده هم دا د امام مالک رحمه الله قول دې چه ابن کثیر رحمه الله نقل کړې دې.

لیلة القدر کومه شپه ده په دې کښ ډیر اقوال دی چه تقریبا څلویښتو ته رسی یو څو اقوال دا دی: (۱) په ټول کال کښ یو نه یو شپه (۲) په رمضان المبارک کښ یو نه یو شپه وی (۳) د رمضان المبارک د آخری عشرې یو نه یو شپه (۴) د آخری عشرې په طاق شپو کښ یو نه یو شپه (۵) د آخری عشرې اویشتمه شپه ....صحیح قول دا دې چه د آخری عشرې په طاق شپو کښ یو شپه ده او هغه شپه معلومه نه ده بلکه بدلیږی رابدلیږی کله یو شپه کله بله شپه.

د عدم تعین حکمت دا ذکر کړې شوې دې چه خلق په ډیر په عبادت کښ مصروف شی. عائشه رضی الله عنها فرمائی ﴿ قال رسـول الله ﷺ تحروا لیلة القدر فی العشر الاواخر من رمضان ﴾ د رمضان په آخری عشره کښ د لیلة القدر لټون کوئ .... ﴿ عن ابن عمر رضی الله عنهما قال رسول الله ﷺ فاطلبوها فی الوتر منها ﴾ په طاق شپو کښ ئې اولټوئ.

علامات د لیلة القدر: په احادیثو کښې د لیلة القدر بعض علامې ذکر کړې شوي دي: (۱)دا شپه صفا او پرقیدونکې وي (۲) نه ډیر ګرمه وي او نه یخه بلکه معتدله وي (۳)په دې شپه کښې تر سحره پورې د آسمان په ستورو باندې شیطانان نه شي ویشتلې. (۴)د دې شپې نه پس نمر بغیر د رڼا ګانو نه راخیژي د چکۍ په شان ګویا چه د څوارلسمې سپوږمۍ ده. (۵)په دې شپه کښې د سمندر اوبه خوږې وي (۶) په لیلة القدر کښې هر څیز سجده کوي تر دې چه اونې په زمکه باندې راوغورځیږي بیا اودریږي. (۷)بعض اهل کشف ته په دې شپه کښې د انواراتو مشاهده کیږي خو د هر یو ته نه وي او د دې په مشاهده نه کیدو باندې په ثواب کښې هیڅ فرق نه راځي او نه دا ضروري ده.

خاص دعا: د عائشې صدیقې ﷺ نه روایت دې چه ما د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو که زه لیلة القدر بیا مومم نو په کښې څه دعا اوکړم رسول الله ﷺ ورته دا دعا ارشاد اوفرمائیله:﴿ اللهم انک عفو تحب العفو فاعف عنی ﴾

﴿ انا انزلناه فی لیلة القدر ﴾ مقصد دا دې چه مونږ قرآن کریم په لیلة القدر کښې نازل کړې دې.

سوال: قرآن مجید صرف په لیلة القدر کښې خو نه دې نازل شوي بلکه دا خو په دور نبوت کښې په لږه لږه نازل شوې دې تقریبا د درویشتو(۲۳) کالو په موده کښې فما هو الجواب عن هذا الاشکال؟

جواب: (۱)اصل خو قرآن پاک په لوح محفوظ کښې وو بیا په لیلة القدر کښې د هغه ځائې نه راتلو سره په ړومبی آسمان کښې په بیت العزت

مقام کښې کیخودلي شو بیا د هغه ځائي نه د ضرورت مطابق نازلیدلو (۲) یا ئي دا جواب هم کیدیشي چه د ټولو نه اول وحي د قرآن کریم په لیلة القدر کښې نازله شوه بیا وخت په وخت نازلیدلو.

فائده: د قرآن مجید نه علاوه باقي آسماني کتابونه هم په دې میاشت د رمضان کښې نازل کړې شو د ابوذر غفاري رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل صحف ابراهیم علیه السلام په دریم رمضان توراة په شپږم رمضان او انجیل په دیارلسم رمضان او زبور په اتلسم تاریخ باندې نازل کړې شو د القدر څو معانی کیدیشي: (۱) په معنی د عظمت او شان دې شپې ته د لیلة القدر د وئیلو وجه د دې شپې عظمت او شان دې یا دا وجه ده چه بې عمله سړې هم چه د هغه د الله پاک په نزد هیڅ شان نشته هغه هم په توبې او استغفار کولو سره صاحب قدر او صاحب شرف جوړیږی.(۲) دویمه معنی تقدیر او حکم بیا به ورته د لیلة القدر وئیلو وجه دا وی چه په دې شپه کښې د ټولو مخلوقاتو دپاره څه چه په تقدیر ازلی کښې لیکلې شوې دی د هغې هغه حصه کوم چه د دې روژې نه تر بلې روژې پورې راپیښیدونکې ده هغه هغه ملائکو ته حواله کولې شي کومې چه د کائنات د تدبیر دپاره مامور دی په دې کښې د هر انسان عمر، مرګ، رزق، باران، په دې کال حج به چا ته نصیب کیږی هر څه اولیکلې شي.

سوال: مشهور قول دا دې چه د تقدیر د کارونو فیصلې خو په شب برات کښې کیږی نه په شب قدر کښې شب براءت ۱۵ شعبان ته وئیلې شي ﴿انا انزلناه في لیلة مبارکة ....فیها یفرق کل امر حکیم﴾ نه هم دا شپه د پنځلسم شعبان مراد ده؟

جواب: اکثر مفسرین فرمائی چه د دې آیت فی لیلة مبارکة نه مراد هم لیلة القدر ده که د دې نه شب براءت مراد شی نو بیا به جواب دا وی چه ابتدائی فیصلې د تقدیری کارونو اجمالی طریقې سره په شب براءت کښې کولې شی بیا د هغې تفصیلات په لیلة القدر کښې لیکلو سره متعلقه ملائکو ته حواله کړې شی. (۳) قدر په معنی د تنګسیا هم استعمالیږی لکه الله پاک فرمائی ﴿ الله یبسط الرزق لمن یشآء ویقدر ﴾ بیا لیلة القدر ته د قدر وئیلو وجه دا ده چه په دې شپه باندې د دومره روحانیاتو او رحمتونو نزول کیږی چه زمکه تنګه شی.

﴿ وما ادراک ما لیلة القدر ﴾ دا استفهام د عظمت دپاره او د زیات شوق ورکولو دپاره دې. ﴿ لیلة القدر خیر من الف شهر ﴾ د شب قدر شان بیانیږی چه د دې شپې عبادت د زرو شپو د عبادت نه هم زیات غوره دې د زرو میاشتو نه درې اتیا کاله او څلور میاشتې جوړیږی بیا د زیادت هم څه انتهاء او حد نشته.

﴿ تنزل الملائکة والروح فیها باذن ربهم من کل امر ﴾ د بل فضیلت بیان دې مقصد دا دې چه په دې شپه باندې ملائک او روح القدس د خپل رب په اجازت باندې هر امر راوړلو سره په زمکه باندې نازلیږی د امر نه یا خو حکم او د تقدیر امر مراد دې یا د دې نه مراد هر د خیر کار دې.

سوال: الروح نه څه مراد دې؟

جواب: په دې کښې ډیر اقوال دی (۱) د صحیح قول مطابق د روح القدس نه مراد جبرائیل علیه السلام دې (۲) یو ډیره لویه فرشته مراد ده چه ټول زمکې او آسمانونه د هغه د یوې نمړۍ برابر دی (۳) د ملائکو یو

مخصوص جماعت مراد دي چه هغه نورو ملائکو ته هم د ليلة القدر په شپه په نظر راځي (۴)دا د الله پاک څه خاص مخلوق دي چه خوراک څکاک کوي خو نه انسانان دی نه ملائک (۵) مراد عيسى عليه السلام دي کوم چه د ملائکو سره د محمد ﷺ د امت د کارنامو کتلو دپاره راکوزيږي (۶)د دي نه مراد د الله پاک خاص رحمت دي کوم چه صرف هم په دي شپه باندي نازليږي (تفسير کبير،قرطبي)

د سلم دوه مطلبه دی (۱)دا شپه د سلام ده لکه څنګه چه په حديث کښ دی چه جبرائيل عليه السلام د ملائکو په ملګرتيا کښ په زمکه راکوزيږي اوکوم انسان هم چه قيام، قعود يا په ذکروغيره کښ مشغول وی ملائک هغه ته سلام کوی.(۲) يامقصد دادي چه دا شپه د سلامتئ او د امن ده په دي شپه کښ د شيطان د مکر او دهوکي نه امن وی.

﴿ حتى مطلع الفجر ﴾ مقصد دا دي چه د ليلة القدر دا برکتونه د شپي د يوي حصي سره مخصوص نه دی بلکه د شپي د شروع نه تر د صبا د راختلو پوري وی.(معارف)

مسئله : کوم انسان چه په شب قدر کښ د ماسخوتن او سحر مونځ د جماعت سره اوکړو هغه هم د دي شپي ثواب بيا موندلو.(معارف)

سورة البينة مدنية

ركوعها ۱	بسم الله الرحمن الرحيم	اياتها ۸

﴿ لَمْ يَكُنِ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِنْ أَهْلِ ٱلْكِتَـٰبِ وَٱلْمُشْرِكِينَ مُنفَكِّينَ
حَتَّىٰ تَأْتِيَهُمُ ٱلْبَيِّنَةُ ۝ رَسُولٌ مِّنَ ٱللَّهِ يَتْلُوا۟ صُحُفًا مُّطَهَّرَةً ۝ فِيهَا

كُتُبٌ قَيِّمَةٌ ﴿٣﴾ وَمَا تَفَرَّقَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ إِلَّا مِن بَعْدِ مَا جَاءَتْهُمُ
الْبَيِّنَةُ ﴿٤﴾ وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ
وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ ۚ وَذَٰلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ ﴿٥﴾ إِنَّ الَّذِينَ
كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَالْمُشْرِكِينَ فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا ۚ
أُولَٰئِكَ هُمْ شَرُّ الْبَرِيَّةِ ﴿٦﴾ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ
أُولَٰئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ ﴿٧﴾ جَزَاؤُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ جَنَّاتُ عَدْنٍ تَجْرِي
مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ۖ رَّضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ ۚ ذَٰلِكَ
لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهُ ﴿٨﴾ ﴾

ترجمه: نه وو هغه خلق چه كافران دی د اهل كتابو نه يا د مشركانو نه قلاريدونكی تر دې چه راغلو هغوی ته ښكاره دليل يعنی رسول ﷺ د الله پاک د طرف نه كوم چه د پاكو صحيفو تلاوت كوی په هغې كښ مضامين دی مضبوط (صحيح سلامت)، او نه دې كړې اختلاف هغه خلقو چه هغوی ته كتاب وركړې شوې دې مګر پس د واضح دليل او نه وو حكم كړې شوې هغوی ته مګر صرف د دې چه هغوی به خاص كونكی عبادت لره په الله پاک پورې په داسې حال كښ چه د ټولو باطلو اديانو نه به حق دين طرف ته مائله كيدونكی وی او ادا كوی به مونځ او وركوی به زكواة او هم دا د مضبوط (حلقو) دين (طريقه) ده. بيشكه هغه خلق چا چه كفر اوكړو د

اهل کتابو او مشرکانو نه هغوی به په دوزخ کښ وی همیشه همیشه به پکښ اوسیدونکی وی هم دا دي بد مخلوق ...بیشکه هغه خلق چه ایمان راوړی او عمل اوکړی په طریقه د نبی ﷺ هم دا خلق بهترین مخلوق دي د هغوی جزا د هغوی د رب په نزد د همیشه اوسیدو باغونه دی چه د هغې د لاندې ولې بهیږی په داسې حال کښ چه اوسیږی به په هغې کښ همیشه الله پاک د هغوی نه راضی او هغوی د الله پاک نه راضی دا (جزا) د هغه چا دپاره ده چه اوویریدلو د خپل رب نه.

حل المفردات: لم یکن په اصل کښ لم یکون وو منفکین جمع مذکر سالم اسم فاعل په اصل کښ منفکین جمع مذکر سالم اسم فاعل په اصل کښ منفکین وو د باب انفعال نه جدا کیدل، پرانستل، منع کیدل ،البینة ښکاره خبره واضح دلیل جمع ئې بینات راځی...یتلوا واحد مذکر غائب مضارع په اصل کښ یتلو وو تلاوت کول ...(په قانون د یدعو او یرمی) یتلوا شو، قیمة: مضبوط، برابر، صحیح لاړې والاکیدل، تفرق واحد مذکر غائب ماضی معروف د باب تفعل نه جدا کیدل متفرق کیدل امروا جمع مذکر غائب ماضی مجهول د باب (ن) حکم کول لیعبدوا لام کئ دي یعبدو جمع مذکر غائب مضارع د باب (ن) نه عبادت کول مخلصین جمع مذکر سالم اسم فاعل د باب (افعال) نه خالص کول...حنفاء جمع ده د حنیف د باطل ادیانو پریخودل او حق دین اختیارونکې د باب (ض) ښکته کیدل ...ویقیموا جمع مذکر غایب مضارع معروف په اصل کښ یقوموا وو په قانون د (یبیع او میزان) یقیموا...یؤتوا جمع مذکر غائب مضارع معروف په اصل کښ یؤتیوا وو د یاء ضمه مو تاء ته ورکړه د اجتماع

ساکنین د وجې نه یاء پریوتله د باب افعال نه ورکول ...خلدین جمع مذکر سالم اسم فاعل د باب (ن) همیشه پاتې کېدل،البریة مخلوق جمع د دې البرایا ده.

حل الترکیب:﴿ لم یکن الذین کفروا من اهل الکتاب والمشرکین منفکین حتی تاتیهم البینة ... رسول من الله یتلوا صحفا مطهرة ... فیها کتب قیمة ﴾ لم نفی دپاره د جحد یکن فعل د افعال ناقصه نه الذین اسم موصول کفروا فعل واؤ ضمیر بارز فاعل من جار اهل مضاف الکتاب مضاف الیه کېدو سره معطوف علیه واؤ عاطفه المشرکین معطوف،معطوف علیه سره د معطوف نه مضاف الیه شو دپاره د مضاف چه اهل دې هغه مجرور شو دپاره د من جار ..... جار سره د مجرور نه متعلق په کفروا پورې شو فعل سره د فاعل او سره د متعلق نه صله شوه دپاره د موصول موصول سره د صلې نه اسم شو دپاره د یکن منفکین صیغه د اسم فاعل هم ضمیر ئې فاعل حتی جاره تاتی فعل هم ضمیر مفعول به البینة مبدل منه رسول موصوف من جار الله مجرور ظرف مستقر کائن پورې متعلق کېدو سره صفت اول دپاره د موصوف یتلو فعل هوضمیر فاعل صحفا موصوف مطهرة صفت اول فیها خبر مقدم کتب قیمة موصوف صفت یو ځائې کېدو سره مبتدا موخر دا جمله صفت ثانی دې دپاره د صحفا موصوف سره د دواړو صفتونو مفعول به شو دپاره د یتلو بیا دا جمله صفت ثانی شو دپاره د رسول بیا رسول بدل دې د پاره د مبدل منه مبدل منه سره د بدل نه فاعل شو فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه کېدو سره مجرور شو دپاره د جار چه حتی دې جار سره د

مجرور نه متعلق په منفکین پورې منفکین سره د خپل فاعل او متعلق نه خبر شو دپاره د کان لم یکن د خپل اسم او خبر سره جمله فعلیه خبریه شوه.

﴿وما تفرق الذين اوتوا الكتب الا من بعد ما جآءتهم البينة﴾

واؤ استینافیه ما نافیه تفرق فعل الذین موصول اوتوا فعل واؤ ضمیر بارز نائب فاعل الکتب مفعول به الا استثنائیه زائده من جار بعد مضاف ما مصدریه جاءت فعل هم ضمیر مفعول به البینة فاعل دا جمله فعلیه کیدو سره په تاویل د مصدر سره کیدو مضاف الیه شوه د پاره د بعد بیا د مجرور شو دپاره د من جار،جار سره د مجرور نه متعلق شو په اوتو پورې....اوتوا د خپل نائب فاعل او متعلق سره یو ځائې کیدو باندې جمله کیدو سره صله شوه دپاره د موصول، موصول سره د صله نه فاعل شو دپاره د تفرق....تفرق فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه خبریه شوه.

﴿وما امروا الا ليعبدوا الله مخلصين له الدين حنفاء ويقيموا الصلاة و يؤتوا الزكواة﴾ واؤ عاطفه ما نافیه امروا فعل هم ضمیر بارز نائب فاعل الا استثنائیه زائده لام کئ جاره یعبدوا فعل واؤ ضمیر بارز ذوالحال الله مفعول به مخلصین صیغه د صفت هم ضمیر فاعل له جار مجرور متعلق په مخلصین پورې الدین مفعول به صیغه د صفت د خپل فاعل او مفعول به سره یو ځائې کیدو باندې حال اول،حنفاء حال ثانی،دوالحال سره د دواړو حالینو نه فاعل شو دپاره د یعبدوا ،فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه معطوف علیه واؤ عاطفه یقیموا فعل واؤ ضمیر بارز فاعل الصلاة مفعول به فعل

سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعلیه کیدو سره معطوف اول،ویؤتوا الزکواة فعل فاعل او مفعول به جمله فعلیه کیدو سره معطوف ثانی معطوف علیه سره د دواړو معطوفینو نه په تاویل د مصدر سره مجرور دې دپاره د جار چه لام دې جار سره د مجرور نه متعلق شو په امروا فعل پورې فعل سره د نائب فاعل او متعلق نه جمله فعلیه خبریه شوه.

﴿ وذلک الدین القیمة ﴾ واؤ عاطفه ذلک مبتدا دین القیمة مضاف مضاف الیه یوځائې کیدو سره خبر،مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه شوه.

﴿ ان الذین کفروا من اهل الکتاب والمشرکین منفکین فی نار جهنم خلدین فیها ﴾ ان حرف د حروف مشبه بالفعل الذین کفروا من اهل الکتاب والمشرکین په شان د مخکښې ترکیب د ان دپاره اسم فی نار جهنم مضاف مضاف الیه یو ځائې کیدو سره مجرور شو دپاره د جار،جار سره د مجرور نه متعلق په کائنون پورې،کائنون صیغه د صفت هم ضمیر ذوالحال خلدین حال فیها جار مجرور متعلق په خلدین پورې ذوالحال سره د حال نه فاعل شو دپاره د کائنون فعل سره د فاعل نه جمله کیدو سره خبر شو دپاره د ان،ان د خپل اسم او خبر سره جمله اسمیه خبریه شوه.﴿ اولئک هم شر البریة﴾ اولئک مبتدا هم ضمیر مبتدا شر البریة مضاف مضاف الیه یو ځائې کیدو سره خبر مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه کیدو سره بیا خبر شو دپاره د مبتدا ،مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه شوه.

﴿ ان الذين امنوا و عملوا الصلحت اولئک هم خير البرية ﴾
ان حرف د حروف مشبه بالفعل الذين اسم موصول امنو جمله فعليه کيدو سره معطوف عليه و عملوا الصلحت فعل فاعل او مفعول به يو ځائې کيدو سره جمله فعليه خبريه کيدو سره معطوف، معطوف عليه سره د معطوف نه صله شوه دپاره د موصول، موصول سره د صله نه اسم شو دپاره د ان ﴿ اولئک هم خير البريـة ﴾ ترکيب هم په مثل د ﴿ اولئک هم شر البرية ﴾ په شان دې بيا دا جمله دپاره د ان خبر دې، ان د خپل اسم او خبر نه جمله اسميه خبريه شوه.

﴿ جزآء هم عند ربهم جنت عدن تجرى من تحتـها الانهـر ﴾
جزآءهم مضاف مضاف اليه يو ځائې کيدو سره مبتدا، عند ربهم مضاف مضاف اليه يوځائې کيدو سره مفعول فيه... دپاره د جزاءهم، جنت عدن مضاف مضاف اليه يو ځائې کيدو سره موصوف، تجرى فعل تحتها مضاف مضاف اليه يوځائې کيدو سره مجرور شو د پاره د من جار، جار سره د مجرور نه متعلق شو په تجرى فعل پورې متعلق شو، الانهر فاعل دا جمله فعليه کيدو سره صفت شو دپاره د موصوف، موصوف سره د صفت نه خبر شو دپاره د مبتدا، مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه خبريه شوه.

﴿ خلدين فيها ابدا ﴾ خلدين صيغه د صفت هم ضمير فاعل فيها جار مجرور په خلدين پورې متعلق ابدا مفعول فيه، صيغه د صفت د خپل فاعل او مفعول فيه سره شبه جمله حال دې دپاره د ادخلوا فعل محذوف (د فاعل) نه بيا دا جمله فعليه خبريه شوه.

﴿ رضى الله عنهم و رضوا عنه ﴾ رضى فعل الله فاعل عنهم

متعلق دا جمله کیدو سره معطوف علیه و رضوا فعل سره د فاعل نه متعلق کیدو سره جمله فعلیه خبریه کیدو سره معطوف، معطوف علیه سره د معطوف نه جمله معطوفه شوه ﴿ ذلک لمن خشی ربه ﴾ ذلک مبتدا لام جاره من موصوله خشی فعل هو ضمیر فاعل ربه مضاف مضاف الیه یو ځائي کیدو سره مفعول به دا جمله کیدو سره صله شوه دپاره د موصول ،موصول سره د صله نه مجرور شو دپار د جار جار سره د مجرور نه متعلق شو په ثابت پورې هغه خبر شو ،مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه شوه.

تفسیر: د سورة نوم سورة البينة،سورة القيامة،سورة البلد ،سورة لم يكن،سورة منفكين،سورة البرية...

ربط : په تیر سورة کښې د قرآن د نزول ذکر وو په دې سورة کښې د هغه خلقو د احوالو بیان دې د چا دپاره چه قرآن کریم نازل شوي دې. د بعضو په نزد دا سورة مکی دې د اکثرو په نزد مدنی دې. ﴿ لم یکن الذین کفروا من اهل الکتب والمشرکین منفکین حتی تاتیهم البینة ﴾ په دې آیت کریمه کښې دا وئیلي شوی دی چه د رسول الله ﷺ د رالیږلو نه مخکښې کافر او مشرک او اهل کتاب د کفر او شرک په سخت مرض کښې اخته وو د رب العالمین د رحمت او حکمت تقاضا دا شوه چه کله مرض سخت شی او مرض عالمګیر دې نو د علاج دپاره هم ډیر لوئي او تکړه ماهر علاج کونکي رالیږل پکار وو په دې وجه د رسول الله ﷺ په شان ماهر معالج د هغوی د اصلاح دپاره رالیږلي شو البینة نه رسول الله ﷺ مراد دې لکه چه مخکښې رسول لفظ د بدل په طور ذکر کړې شوي دې.

﴿ رسول من الله يتلوا صـحفا مطهـرة ﴾ پـه دې آيت كښې د رسول اللهﷺ صفتونه بيانيږي.يتلوا د تلاوت نه دې لوستل صحفا جمع د صحيفة ده هغه كاغذ چه په هغې كښې څه مضمون ليكلې شوې وی مطهرة په ن معنی د پاكيزه مقصد دا دې چه هغه رسولﷺ د داسې صحيفو تلاوت كوی چه پاكې دی يعنی د دروغو نه د شک نه د گمراهئ نه د شيطانانو د تصرف نه د باطل د گډون نه يا د پاک مقصد دا دې چه بې اودسه او ناپاک خلق دې ته لاس نه شی اوړلې.

﴿ فيها كتب قيمة ﴾ كتب جمع د كتاب ده يا د دې معنی ده ليكلې شوې څيز يا ئې معنی ده حكم قيمة په معنې د مستقيمة برابر،صحيح،نيغ،مضبوط مقصد بـه دا وی چه په دې صحيفو كښې د الله پاک مضبوط احكام دی چه تر قيامته پورې به قائم او دائم وی يا درست او صحيح احكام دی...﴿ وما تفرق الذين اوتوا الكتب الا من بعد ما جاءهم البينة ﴾ د تفرق نه اختلاف او انكار مراد دې مقصد دا دې چه د رسول اللهﷺ نبوت او د بعثت نه مخكښې ټول اهـل كتاب د رسول اللهﷺ پـه نبوت باندې متفق وو او د رسول اللهﷺ د راتلو په سختئ سره منتظر وو بلكه كله بـه ئې چه د كفارو سره مقابله وه نو د نبی آخرالزمانﷺ وسيله نيولو سره بـه ئې د الله پاک نه فتح غوښتله خو دا عجيبه خبره ده چه كله هم هغه نبیﷺ د چا تذكره چه هغوی په خپلو كتابونو كښې لوسنلې وه هغوی تـه راغلو نو اختلاف ئې جوړ كړو چا اومنله او ډيرو انكار اوكړو حال دا چه ټولو له منل پكار وو.(معارف)

﴿ و ما امروا الا ليعبدوا الله مخلصين له الذين حنفاء ويقيموا

الصلاة و یؤتوا الزکوة ﴾ مقصد دا دي چه چا ستاسو مخالفت کړي دي په اهل کتابو کښې هغه صرف د حسد او عناد د وجې نه دي تاسو هغوی ته د هم هغه خبرو حکم کړي دي کوم چه د مخکښې نه په توراة او انجیل کښې موجود دی .مثلاً د الله پاک عبادت دي خلوص سره کوی څوک به هم د هغه شریک نه جوړوی د ټولو باطلو ادیانو نه یو طرف ته کیدو سره به صرف هم د هغه عبادت کوی او مونځ ادا کړی او زکواة دي ورکوی.نو د مخالفت هیڅ وجه نشته.(مظهری)

﴿ وذلک الدین القیمة ﴾ القیمة یا د الکتب او یا د ملت محذوف صفت دي مقصد دا دي چه هغوی ته کوم احکام ورکړي شو،عبادت،مونځ،زکوة،په ټولو مضبوطو کتابو کښې هم دغه احکام ذکر کړي شوي دی او د ټولو هم دا دین او طریقه ده.

﴿ ان الذین کفروا من اهل الکتاب والمشرکین فی نار جهنم خلدین فیها اولئک هم شر البریة ﴾ په دي آیت کښې د منکرین رسالت د بد انجام ذکر دي چه دا کفار او اهل کتاب به همیشه په جهنم کښې اوسی او دا ډیر بد مخلوق دي.

﴿ ان الذین امنوا وعملوا الصلحت اولئک هم خیر البریة....جزآءهم عند ربهم جنت عدن تجری من تحتها الانهر خلدین فیها ابدا رضی الله عنهم و رضوا عنه ﴾ په دي آیت کښې د مومنانو د جزا بیان دي چه د هغوی دپاره جنت عدن دي په هغې کښې به همیشه اوسی الله پاک به د هغوی نه راضی وی او هغوی به د الله پاک نه راضی وی.

﴿ ذلک لمن خشی ربه ﴾ په دي آخری آیت کښې ئې د ټولو

دینی کمالاتو او اخروی نعمتونو د بنیاد ذکر اوفرمائیلو او هغه دې د الله پاک ویره او خشیت هغه ویره ده کوم چه د چا د انتهائی عظمت او د جلال د وجې نه وی (معارف) مقصد دا دې چه نعمتونه صرف هغه سړی ته حاصلیږی کوم چه د خپل رب نه ویریږی.

سورة الزلزال مدنیة

ایاتها ۸	بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ	رکوعها ۱

﴿ إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ زِلْزَالَهَا ۝١ وَأَخْرَجَتِ الْأَرْضُ أَثْقَالَهَا
۝٢ وَقَالَ الْإِنسَانُ مَا لَهَا ۝٣ يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا ۝٤ بِأَنَّ رَبَّكَ
أَوْحَىٰ لَهَا ۝٥ يَوْمَئِذٍ يَصْدُرُ النَّاسُ أَشْتَاتًا لِّيُرَوْا أَعْمَالَهُمْ ۝٦ فَمَن
يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ ۝٧ وَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ ۝٨

ترجمه: چه کله اوخوزولې شی زمکه په خوزولو سره....او راوباسی زمکه خپل بوجهـ لره اوانسان به وائی چه په دې زمکه څهٔ چل شوې دې؟په دغه ورځ به دا خپل حال بیان کړی...ځکه چه ستا رب به هغې ته حکم کړې وی...په دغه ورځ به واپس شی خلق په داسې حال کښې چه هغوی به قسم قسم وی یا په داسې حال کښې چه هغوی به مختلف ډلې وی چه اوښودلې شی هغوی ته عملونه خپل پس هغه سړې چه عمل اوکړی د یو ذرې یا میږی برابر نو هغه به اوینی او څوک چه د ذرې برابر بدی کوی هغه به هغه وینی.

حل المفردات: زلزلت واحده مونثه غائبه ماضی مجهول د باب

ملله، نه زلزله راوستل،خوزول زلزله هم د دي باب نه ده اخرجت
راحده مونثه غائبه د باب (افعال) نه راویستل اثقال جمع ده مفرد ئې
ثقل راځی په معنی د بوجهـ تحدث واحده مونثه غائبه مضارع د
باب تفعیل نه خبره کول بیان کول اخبار جمع ده مفرد ئې خبر راځی
اوحی واحد مذکر غائب ماضی په اصل کښې اوحی وو د باب افعال
نه وحی لیږل اشاره کول...یصدر واحد مذکر غائب د باب (ن) واپس
کیدل اشتاتا جمع ده مفرد ئې شتت دي یعنی جدا جدا د باب (ض) نه
متفرق او جدا جدا کیدل لیروا جمع مذکر غائب مضارع مجهول.
اعمال د عمل جمع ده مثقال د یو څیز وزن یا د یو څیز تلل جمع ئې
مثاقیل راځی ذره وړوکې میږې یا د نمر په رنړا کښې واړهٔ واړهٔ ذرات
وی د دي جمع ذرات راځی.

حل الترکیب: ﴿اذا زلزلت الارض زلزلها واخرجت الارض اثقالهـــا وقال الانسان مالها یومئذ تحدث اخبارها بان ربک اوحی لها﴾ اذا شرطیه....

په اذا شرطیه او ان شرطیه کښې فرق : په اذا شرطیه او په ان شرطیه کښې فـرق دا دي چـه د اذا مـدخول امـر یقینـی الوجـود وی د ان شـرطیه مدخول احتمالی او شکی وی.زلزلت فعل الارض نائب فاعل زلزلها مضاف مضاف الیه یو ځائې کیدو سره مفعول مطلق دا جمله فعلیه کیدوسره معطوف علیه واؤ عاطفه اخرجت فعل الارض فاعل اثقالها مضاف مضاف الیه یوځائې کیدو سره مفعول به دا جمله کیدو سره معطوف اول...واؤ عاطفه قال فعل الانسان فاعل فعل سره د فاعل نه قول ما استفهامیه مبتدا لها خبر دا جمله اسمیه کیدو سره مقوله.

قول سره د مقولې نه معطوف ثانی شو، معطوف علیه سره د معطوفاتو نه شرط، یومئذ مضاف مضاف الیه یوځائې کیدو سره د اذکروا محذوف دپاره مفعول فیه یا د تحدث مفعول فیه دې تحدث فعل هی ضمیر فاعل اخبارها مفعول به با سببیه جاره ان حرف د حروف مشبه بالفعل نه ربک مضاف مضاف الیه یو ځائې کیدو سره اسم شو دپاره د ان اوحی فعل هو ضمیر فاعل لها جار مجرور متعلق په اوحی فعل پورې بیا دا جمله فعلیه کیدو سره خبر شو دپاره د ان ان د خپل اسم او خبر سره جمله کیدو باندې مجرور شو دپاره د با جار جار سره د مجرور نه متعلق شو په تحدث پورې تحدث فعل سره د فاعل او متعلق نه جمله فعلیه خبریه کیدو سره جواب دې دپاره د شرط، شرط سره د جزاء نه جمله شرطیه شوه.

﴿ یومئذ یصدر الناس اشتاتا لیروا اعمالهم ﴾ یومئذ مضاف مضاف الیه یو ځائې کیدو سره یا د مخکښې یومئذ نه بدل دې یا د اذکروا مفعول فیه دې یا د یصدر مفعول فیه دې. یصدر فعل الناس ذوالحال اشتاتا حال ذوالحال او حال فاعل شو دپاره د یصدر لام کئ یروا فعل واؤ ضمیر بارز نائب فاعل اعمالهم مضاف مضاف الیه یو ځائې کیدو سره مفعول به بیا دا جمله کیدو سره په تاویل د مصدر باندې مجرور شو دپاره د جار چه لام دې. جار سره د مجرور نه متعلق شو په یصدر فعل پورې بیا دا جمله فعلیه خبریه شوه.

﴿ فمن یعمل مثقال ذرة خیرا یره ﴾ فا تفسیریه یا فصیحه من شرطیه مبتدا یعمل فعل هو ضمیرفاعل مثقال ذرة مضاف مضاف الیه یو ځائې کیدو سره مبدل منه یا ممیز خیرا بدل یا تمیز، مبدل منه سره د بدل نه یا ممیز سره د تمیز نه مفعول به دې

دپاره د يعمل فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه شرط... يره فعل فاعل او مفعول به يو ځائې كيدو سره جزا شوه د پاره د شرط شرط سره د جزا نه جمله شرطيه كيدو سره خبر دې دپاره د من مبتدا مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه خبريه شوه.

﴿ومن يعمل مثقال ذرة شرا يره﴾ د راتلونكې جملې تركيب هم بعينه د مخكښې جملې په شان دې.

تفسير: نوم : سورة الزلزال،سورة اذا زلزلت،سورة الزلزلة ...د بعضو په نزد مكى دې او د اكثرو په نزد مدنى دې....

ربط: (١) په تير سورة كښې د كفارو د سزا بيان وو په دې سورة كښې د سزا د وخت بيان دې. (٢) په تير سورة كښې د قيامت د آخرى حال ذكر وو چه كفار به د دوزخ په اور او مومنان به د هميشوالى په جنت كښې وى په دې سورة كښې د ابتدائى احوالو بيان دې.

﴿اذا زلزلت الارض زلزالهـا﴾ مقصد دا دې چه په زمكه باندې به سخته زلزله راشى هيڅ غر او هيڅ كور به پاتې نه شى.دا سخته زلزله به كله راځى په دې كښې د مفسرينو دوه قوله دى: (١) د نفخه اولى نه مخكښې راتلونكې زلزله مراد ده كوم چه د علامات قيامت نه يو لوئې علامت دې. (٢) د بعضو مفسرينو په نزد د زلزلې نه د نفخه ثانيه نه پس راتلونكې زلزله مراد ده كله چه به مړى دوباره ژوندى كيږى.ممكنه ده چه زلزلې ډيرې وى يو د نفخه اولى په وخت او بله د نفخه ثانيه نه پس دلته د نفخه ثانيه نه پس راتلونكې زلزله مراد ده ځكه چه مخكښې د قيامت د احوالو بيان دې.(معارف)

﴿و اخرجت الارض اثقالها﴾ مقصد دا دې چه دا زمكه به

خپل بوجهونه راوباسی د بوجهـ نه مراد د زمکې دننه هغه ښخې کړې شوې خزانې، کانونه مړی او قسم قسم قیمتی کانړی دی وغیره....
رسول الله ﷺ فرمائی چه زمکه د خپل ځیگر ټکړې د سرو زرو لوئې لوئې غرونه بهر راوباسی او بهر به ئې اوغورځوی هغه وخت به هغه سړې چه د مال د پاره ئې قتل کړې وی هغه به وائی چه دا هغه مال دې چه دا هم هغه مال دې د کوم دپاره چه ما دومره لوئې جرم کړې وو غل به وائی دا هغه مال دې د کوم دپاره چه مې لاس پرې کړې شوې وو څوک به وائی دا هغه مال دې د کوم دپاره چه مې رشته دار پریخودلې وو قطع رحمی کړې وه بیا به څوک هم دې مال طرف ته توجه نه کوی بلکه هغه به پریږدی او ترې به لاړ شی.(مظهری)

﴿ وقال الانسان ما لها ﴾ مقصد دا دې چه انسان به په تعجب سره وائی چه په دې څه چل شوې دې چه هر څه ئې بهر راویستل، د بعض علماء کرامو قول دې چه د انسان نه مراد کافر دې ځکه چه هغه ته د قبرونو نه د پاسیدلو بالکل امید نه وی په دې وجه به هغه د قبر نه د پاسیدلو په وخت داسې وائی او مومن به وائی دا هم هغه دې د کوم چه الله پاک وعده کړې وه او پیغمبرانو ربنتیا وئیلې وو(مظهری)

﴿ یومئذ تحدث اخبارها ﴾ مقصد دا دې چه د قیامت په ورځ به زمکه گواهی ورکوی خپل خبرونه به بیانوی چه فلانی سړی په ما د پاسه دا گناه اوکړه او فلانی فلانۍ نیکی اوکړه.(ترمذی)

﴿ بان ربک اوحی لها ﴾ مقصد دا دې چه زمکې ته به د الله پاک د طرف نه حکم اوشی چه وایه خپل خبرونه دا به د نفخه ثانیه نه پس وی ﴿ یومئذ یصدر النـــاس اشـــتاتا ﴾ مقصد دا چه کله خلق د

حساب د پیشئ نه پس د حساب د مقام نه جدا جدا واپس کیږی ځوک به بنی اړخ د جنت په طرف لاړ شی او ځوک به په ګس اړخ د دوزخ په طرف لاړ شی.

﴿ فمن یعمل مثقال ذرة خیرا یـره ﴾ مقصد دا دې چه کوم سړی په دنیا کښ د یو ذرې برابر یعنی د سپکې نه سپکه نیکی کړې وی نو په آخرت کښ د هغې بدله او میوه ضرور حاصلوی خو شرط دا دې چه هغه نیکی د ایمان سره وی او د ایمان نه بغیر هیڅ نیکی اګر که هغه ډیر لویه او د خلوص سره ولې نه وی شوې په آخرت کښ هغې لره هیڅ اعتبار نشته هیڅ بدله به نه ملاویږی اګر چه په دنیا کښ د هغې بدل ورکړې شی.هم د دې آیت نه معلومیږی چه مومن اګر چه هر څومره ګناهګار ولې نه وی آخر به دوزخ نه ویستلې شی اګر چه بله څه نیکی نه وی نو ایمان خپله هم یو نیکی ده د هغې ثمره او بدله خو به هغه ته ملاویږی هغه به هله ملاویږی چه کله د دوزخ نه ویستلې شی.

﴿ ومن یعمل مثقال ذرة شرا یـره ﴾ مقصد دا دې چه چا د وړې نه وړه ګناه هم په دنیا کښ کړې وی په آخرت کښ به د هغې بدله او سزا ضرور بیا مومی په دې شرط چه توبه ئې نه وی کړې که توبه ئې اوکړه نو هغه ګناه په شان د نیشت ده ګویا بالکل ئې نه ده کړې که توبه ئې اونکړه نو بیا به د هرې وړې غټې ګناه بدله مومی رسول الله ﷺ عائشې ﷠ ته اوفرمائیل چه د داسې ګناهونو نه د ځان بچ کولو اهتمام کوئ کوم چه وړې یا سپکې ګنړلې شی ځکه چه د دې به هم تپوس کیږی.(مظهری) عبدالله بن مسعود ﷛ فرمائی چه دا آیت

د قرآن پاک د ټولو نه زيات مستحکم او جامع آيت دې رسول الله ﷺ فرمائی ﴿ الفـــاذة الجامعـــة ﴾ يعنی دا آيت منفرد دې او جامع دې.(معارف)

ســـورة العاديـــات مكيـــة

ركوعها ١	بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ	اياتها ١١

﴿ وَالْعَادِيَاتِ ضَبْحًا ۝١ فَالْمُورِيَاتِ قَدْحًا ۝٢ فَالْمُغِيرَاتِ صُبْحًا ۝٣
فَأَثَرْنَ بِهِ نَقْعًا ۝٤ فَوَسَطْنَ بِهِ جَمْعًا ۝٥ إِنَّ الْإِنسَانَ لِرَبِّهِ لَكَنُودٌ
۝٦ وَإِنَّهُ عَلَىٰ ذَٰلِكَ لَشَهِيدٌ ۝٧ وَإِنَّهُ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيدٌ ۝٨ * أَفَلَا
يَعْلَمُ إِذَا بُعْثِرَ مَا فِي الْقُبُورِ ۝٩ وَحُصِّلَ مَا فِي الصُّدُورِ ۝١٠ إِنَّ رَبَّهُم
بِهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّخَبِيرٌ ۝١١ ﴾

ترجمه: قسم دې په هغه آسونو چه منډه وهونکی دی په آواز کولو سره، بيا اور پيدا کونکی دی په نعل وهلو سره، بيا قسم دې په تباه کونکو آسونو باندې د سحر په وخت، بيا اوچتوی په دې سحر کښې گرد اوغبار، بيا ننوځی په دې سحر وخت کښې د دشمنانو په جماعت، بيشکه انسان د خپل رب ناشکری کونکې دې، او بيشکه هغه په دې باندې خامخا گواه دې او بيشکه هغه د مال سخت مينه کونکې دې آيا دې نه پوهيږی چه کله پرانستلې شی هغه څيز کوم چه په قبرونو کښې دې او ښکاره به کړې شی هغه څيز چه په سينو کښې دې بيشکه

د هغوی رب د هغوی په هغه ورځ خامخا خبر لرونکې دی.

حل المفردات: والعديات جمع مونث سالم مفرد ئې العادية معنى منډه وهونکی آسونه د باب (ن) ضبحا هغه آواز کوم چه د منډې وهلو په وخت د آس د سینې نه راوځی. د باب (ف) نه د آس په منډه وهلو کښې آواز ویستل د سینې نه الموريت صیغه د جمع مونث سالم اسم فاعل مفرد ئې المورية دی د باب افعال نه اور راویستل.

قدحا د باب (ف) نه نعل وهل... فالمغیرات جمع مونث سالم په اصل کښې مغیرات په قانون د یبیع د یا کسره نقل کولو سره غین ته ورکړې شوه د باب افعال نه حمله کول، چهاپه وهل... فاثرن جمع مونث غائب ماضی معروف په اصل کښې اثورن وو (په قانون د یقال اثارن شو بیا الف د اجتماع ساکنین د وجې نه اوغورځیدلو) د باب افعال نه گرد و غبار نقعا غبار جمع ئې نقاع او نقوع راځی. فوسطن جمع مونث غائبات ماضی معروف د باب (ض) په مینځ کښې کیناستل. لکنود واحد مذکر اسم مبالغه ناشکره د باب (ن) د نعمت ناشکری کول. بعثر واحد مذکر غائب ماضی مجهول د باب (فعلله رباعی مجرد) نوستل، اړول راړول... القبور جمع ده د قبر حصل واحد ماضی مجهول ښکاره کول، حاصلول د باب (تفعیل) نه الصدور جمع ده د صدر سینه خبیر واحد مذکر صفت مشبه د باب (ک) نه واقف کیدل خبریدل.

حل التركيب: ﴿والعديت ضبحا فالموريت قدحا فالمغيرات صبحا فاثرن به نقعا فوسطن به جمعا ان الانسان لربه لكنود وانه على ذلك لشهيد وانه لحب الخير لشديد﴾ واؤ قسمیه جاره العادیات

صیغه د صفت معتمد په موصول محذوف باندې ‹الخیل› هن ضمیر ذوالحال ضبحا مصدر په معنی د ضابحة کیدو سره حال،ذوالحال سره د حال نه فاعل،صیغه د صفت د خپل فاعل سره صفت شو دپاره د موصوف محذوف چه ‹الخیل› دې موصوف سره د صفت نه معطوف علیه فاء عاطفه الموریات صیغه د صفت قدحا مفعول مطلق من غیر لفظه یا دا هم حال دې د الموریات نه بیا دا معطوف اول دې فا عاطفه المغیرات صیغه د صفت صبحا مفعول فیه دې بیا دا معطوف ثانی دې،فا عاطفه اثرن فعل هن ضمیر فاعل به جار مجرور متعلق په نقعا پورې مفعول به دا جمله کیدو سره معطوف ثالث شو فا عاطفه وسطن فعل هن ضمیر فاعل به متعلق،جمعا مفعول به دا جمله کیدو سره معطوف رابع شو معطوف علیه سره د ټولو معطوفاتو نه مجرور شو دپاره د واؤ قسمیه جاره جار سره د مجرور نه متعلق شو په اقسم پورې،اقسم فعل سره د فاعل نه جمله کیدوسره مقسم شو.....ان حرف د حروف مشبه بالفعل الانسان اسم لربه جار مجرور متعلق په لکنود پورې لام تاکید یه کنود خبر دا جمله معطوف علیه،واؤ عاطفه ان حرف د حروف مشبه بالفعل نه ه ضمیر اسم علی ذلک جار مجرور په شهید پورې متعلق لام تاکید یه شهید خبر بیا دا جمله کیدو سره معطوف اول،واؤ عاطفه ان حرف د حرورف مشبه بالفعل نه ه ضمیر اسم لحب الخیر جار مجرور مضاف مضاف الیه یو ځائې کیدو سره متعلق شو په شدید پورې،دا جمله معطوف ثانی،معطوف علیه سره د ټولو معطوفاتو نه جواب قسم،قسم سره د جواب قسم نه جمله قسمیه شوه.

﴿ افلا یعلم اذا بعثر ما فی القبور وحصل ما فی الصدور ان ربهم بهم یومئذ لخبیر ﴾ همزه دپاره د استفهام فا عاطفه لانافیه یعلم فعل هو ضمیر فاعل اذا شرطیه بعثر فعل ما موصوله فی جار القبور مجرور جار سره د مجرور نه متعلق په ثبت پورې صله شوه د پاره د موصول،موصول سره د صله نه نائب فاعل شو دپاره د بعثر دپاره فعل سره د نائب فاعل نه معطوف علیه،واؤ عاطفه حصل فعل ما فی الصدور موصول صله یو ځائې کیدو سره نائب فاعل بیا دا جمله کیدو سره معطوف،معطوف سره د معطوف علیه نه شرط،ان حرف د حروف مشبه بالفعل ربهم مضاف مضاف الیه یو ځائې کیدو سره اسم شو دپاره د ان بهم جار مجرور متعلق په خبیر پورې یومئذ مفعول فیه خبیر دپاره لام تاکیدیه خبیر خبر،ان د خپل اسم او خبر سره جمله کیدو سره جواب د شرط،شرط سره د جواب شرط نه جمله کیدو سره په تاویل د مفرد کیدو سره مفعول به دپاره د یعلم بیا دا جمله فعلیه انشائیه کیدو سره معطوف،د دې معطوف علیه محذوف دې هغه ﴿ یفعل ما یفعل من القبائح ﴾ دې.

تفسیر: نوم سورة العادیات،د بعضو په نزد چه ابن مسعود ، جابر ، حسن بصری او عکرمه رحمهم الله دی دا سورة مکی دې،د ابن عباس، انس،امام مالک او قتادة رحمهم الله په نزد مدنی دې.د جنګی آسونو ذکر د دې په مدنی کیدو باندې دلالت کوی.

ربط: لفظی...﴿ واخرجت الارض اثقالها ﴾ کښې هم د مړو د راویستلو ذکر دې په دې سورة کښې اذا بعثر کښې هم د دې خبرې ذکر دې.

معنوی... (۱) په تیر سورة کښې د خیر او شر د جزا ذکر وو په

دې سورة کښې د شر اختیارونکو د مذمت او وعید د عذاب دې.(۲)
په تیر سورة کښې د نیک عمل او ګناه د انجام په دې ښکلی انداز
سره بیان کړې شو چه سلیم الطبع انسان ته د اوریدلو نه پس د هغې
په قبلولو کښې هیڅ تردد نه پاتې کیږی خو سرکشه او نافرمانه کله
منی د هغوی دپاره خو آسمانی کوړه پکار ده په دې سورة کښې د
جهاد د لښکر او د آسونو صفتونه بیانولو سره اشاره اوکړه چه د
داسې بدبخته دپاره هم داسې ده.چه د سحر په وخت په هغه باندې
ورختلو سره هغه قتل کړې شی.

شان نزول: رسول الله ﷺ یو کرت یو لښکر د جهاد دپاره اولیږلو د
یوې میاشتې پورې د هغوی هیڅ خبر رانغلو منافقینو او یهودیانو
اووې هغوی به ټول وژلې شوې وی په دې خبره دا سورة نازل
شو.(مظهری)

﴿ والعدیت ضبحا ﴾ الله رب العزت د جنګی آسونو په پنځه
صفتونو قسم خوړولو سره جواب قسم موکد کوی (۱)والعدیت دا د
عدو نه مشتق دې د دې معنی ده منډه وهل ضبحا هغه خاص آواز
کوم چه د آس د منډې وهلو په وخت د هغه د سینې نه راوخی څه ته
چه هینهیدل وائی دا عام طور هغه وخت چه کله آسونه په منډه منډه
ستړې کیدو سره آواز اوباسی.

فائده: د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې چه آواز کونکی څناور درې دی:
(۱)لومبړه (۲) سپی (۳) آسونه (مظهری) ﴿ فالموریت قدحا ﴾
دویم قسم دې الموریات د ایراء نه مشتق دې د دې معنې ده اور
ویستل د چقماق وغیره نه د قدح معنی ده د آس نعل وهل...مقصد

دا دي چه الله پاک د هغه جنګی آسونو قسم خوری کوم د شپې جهاد ته د تلو دپاره په غریزه لاړ باندې تیریږی او د تیزې منډې وهلو د وجې نه د هغوی خپې (خصوصا کله چه د هغوی په خپو کښې د اوسپنې نعلونه لګیدلي وی) او د کاڼو سره لګیږی او د هغې نه د اور بسری راوځی.

﴿ فالمغيرات صبحا ﴾ دریم قسم دې مقصد دا دې چه دا جنګی آسونه د شپې د اور بسری الوځولو سره بالکل د سحر په وخت د اسلام په دشمنانو باندې حمله کوی. د سحر وخت خکه ذکر کړې شوې دې خکه چه عربو به د شپې په تیاره کښې حمله کول بد او بزدلی ګنړی په دې وجه به هغوی په سحر کښې حمله کوله د بهادرئ د اظهار دپاره.

﴿ فاثرن به نقعا ﴾ څلورم قسم دې اثارة ګرد اوچتول نقعا ګرد ته وائی مقصد دا دې چه دا جنګی آسونه د سحر په وخت په دشمنانانو باندې حمله کوی نو دومره تیزه منډه وهی چه د هغوی د تلو نه ګرد او غبار الوتلو سره خور شی حال دا چه د سحر په وخت د پرخې د وجې نه دوړه نه اوچتیږی نو اشاره ده د آسونو تیز تلو طرف ته.

﴿ فوسطن به جمعا ﴾ پنځم قسم دې د آسونو د زړه ورتیا او بهادرئ بیان دې چه دا آسونو بغیر د ویرې نه د دشمنانو په صفونو کښې ننوځی.

﴿ ان الانسان لربه لكنود ﴾ دا جواب قسم دې مقصد دا دې چه انسان ډیر ناشکره دې د الله پاک د نعمتونو شکر نه ادا کوی.

فائده: د کنود ډیرې معنې بیان کړې شوی دی: (۱) د نعمتونو انکار

کونکې (۲) ﴿ یذکر المصائب و ینسی النعم ﴾ چه مصیبتونه او تکلیفونه یاد ساتی خو نعمتونه هیر کړی. (۳) پخپله خوری او په میلمنو نه خوری (۴) د الله پاک نعمتونه د هغه په نافرمانئ کښې خرچ کوی (۵) حسد کونکې (۲) د اخلاق رذیله مجموعه....د دې ټولو خلاصه هم دا ده چه د نعمتونو ناشکری کونکې یا د دې وجې نه چه دانعمتونه خپل کوشش ته منسوب کوی یا په دې وجه چه دا نعمتونه بې موقع خرچ کوی یا په دې وجه چه خپل محسن او مربی طرف ته نه تیتیږی بلکه په لذتونو او شهواتو کښې غرق وی. (قرطبی، عزیزی)

﴿ وانه علی ذلک لشهید ﴾ په ذریعه د عطف دا هم جواب د قسم دې مقصد دا دې چه انسان کله د شروع او کله د غور او فکر کولو نه پس خپله هم احساس کوی چه زه ناشکره یم. یا کله بل ته اوائی چه هغه د فلانی نعمت شکریه نه ده ادا کړې حال دا چه خپله ئې هم نه وی کړې ګویا د خپل ځان خلاف ګواهی ورکوی. ﴿ وانه لحب الخیر لشدید ﴾ په ذریعه د عطف دا دریم جواب د قسم دې چه انسان د مال په مینه کښې سخت او مضبوط دې ډیر لالچی دې د الخیر نه مراد مال دې ځکه چه عربو به مال ته خیر وئیلو.

سوال: په قسم او جواب قسم کښې څۀ مناسبت دې؟

جواب: مناسبت دادې چه الله رب العزت د جنګی آسونو د فرمانبردارئ او د جانثارئ بیان کولو سره د انسان ناشکری واضحه کوی چه اې ناشکره انسانه لږ غور او فکر خو اوکړه چه جنګی آسونه څنګه د خپل مالک حکم منی هغه د خپل مالک په حکم باندې د خپل ځان د قربانولو دپاره تیاریږی د سخت نه سخت خدمات انجام ته رسوی

حال دا چه د هغه مالک هغه ته صرف گیا اچوی نه هغه دي پیدا کړي دي او نه ئي گیا پیدا کړي ده خو اس څومره احسان منونکي دي چه خپل خان هغه ته حواله کړی د هغه په ادنی اشاره باندي خپل خان قربانولو ته تیار شی د دي په مقابله کښ ته خپل ځان ته اوگوره چه د پیدائش د ابتداء نه په تا باندي د نعمتونو باران وریږی ته ئي د یو سپک څاڅکی نه پیدا کړي عقل او شعور ئي درکړو طاقت ئي درکړو د ټولو ضروریاتو انتظام ئي اوفرمائیلو خو د دي اعلی او اکمل انعاماتو باوجود ته د الله پاک شکر گزار نه جوړیږي دا څومره لویه ناشکری ده.

سوال: په جواب قسم کښ د دوه څیزونو د وجي نه د انسان بدی بیان کړي شوي ده.

(۱) یو په ناشکرئ باندي چه هغه مصیبتونه او تکلیفونه یاد ساتی او نعمتونه او احسانات هیر کړی (۲) دویم دا چه د هغه د مال سره ډیره سخته مینه ده په هغي کښ اول څیز خو عقلا او شرعا د مذمت قابل دي خو په دویم باندي شک راځی چه مال د انسانی ضروریاتو پوره کولو ذریعه ده او شریعت د هغي حصول صرف حلال کړي نه دي بلکه په قدر د ضرورت ئي فرض کړي دي نو مال ته په څه وجه مذموم اوئیلي شو؟

جواب (۱) د نفس مال مینه مذموم نه ده بلکه د مال په مینه کښ دومره مغلوب کیدل چه د الله پاک د احکامو نه غافل شي او د حلالو او حرامو تمیز نه کوی دا خبره د مذمت قابله ده.(۲) مال په قدر د ضرورت جمع کول دا مذموم نه دی بلکه فرض دی خو د هغي سره د زړه نه مینه ساتل جائز نه دی بلکه بد دی لکه څنگه چه انسان

د ضرورت لاتدې دوائی اوخوری خو د هغې سره مینه نه لری.

﴿ افلا يعلم اذا بعثر ما فى القبور ﴾ په دې آيتونو کښې ، د دې دوه عادتونو باندې د آخرت د عذاب وعيد دې مقصد دا دې چه آيا دې غافل انسان ته دا علم نشته چه کله مړی دوباره ژوندی کړې شی.

﴿ وحصل ما فى الصدور ﴾ او کله چه به د سينو راز ښکاره کړې شی.

﴿ ان ربهم بهم يومئذ لخبير ﴾ او دا خلق پوهيږی هم چه الله پاک د ټولو حالاتو نه واقف دې نو د هغې مطابق به ورته جزا او سزا ورکولې شی په دې وجه د عقلمند سړی کار دا دې چه ناشکری اونکړی او د مال په مينه کښې مغلوب نه شی.

فائده: که الانسان نه کافر مراد وی نو د هغه مينه د مال سره ښکاره ده او که مطلق انسان مراد وی نو انبياء او نيکان خلق به د دې نه مستثنی وی ځکه چه په هغوی کښې د مال مينه نه وی دا دواړه مذموم يعنی بد عادتونه دی خو د کافر خو که په مسلمان کښې هم وی نو په هغه له غور کول پکار دی.

سورة القارعة مكية

ايالها ١١	بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ	ركوعها ١

﴿ اَلْقَارِعَةُ ۝١ مَا الْقَارِعَةُ ۝٢ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا الْقَارِعَةُ ۝٣

يَوْمَ يَكُوْنُ النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوْثِ ۝٤ وَتَكُوْنُ الْجِبَالُ

كَالْعِهْنِ الْمَنْفُوْشِ ۝٥ فَاَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِيْنُهٗ ۝٦ فَهُوَ فِىْ

عِيشَةٍ رَّاضِيَةٍ ﴿٧﴾ وَأَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ ﴿٨﴾ فَأُمُّهُ هَاوِيَةٌ ﴿٩﴾ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا هِيَهْ ﴿١٠﴾ نَارٌ حَامِيَةٌ ﴿١١﴾ ﴾

ترجمه: كړنګونكې.....څه څيز دې كړنګونكې؟.....او تا ته څه پته ده چه څه څيز دې كړنګونكې....په كومه ورځ چه به خلق وى د نوستلې شوې پتنګانو په شان،او وى به غرونه د وهلو شوو رنګينو مالوچو په شان،پس هغه سړې چه درنه شوه تله د نيكو د هغه نو وى به هغه په خوښ آرام كښې اوهغه سړې چه سپک شى تول دهغه پس د هغه استوګنه هاويه ده او تا ته څۀ پته ده چه هغه څيز دې هغه اور دې ډير ګرم.

حل المفردات: القارعة واحده مونثه اسم فاعل كړنګونكې د باب (ف) نه كړنګول...الفراش پتنګان مفرد لفراشه المبثوث واحد مذكر اسم مفعول د باب (ض،ن) نه نوستل العهن رنګ كړې شوې مالوچ جمع ئې عهون ده المنفوش واحد مذكر اسم مفعول وهلې شوې د باب (ن) مالوچ وهل ثقلت واحده مونثه غائبه ماضى معروف د باب (ک) درنيدل موازينه جمع ده مفرد ئې ميزان راځى يا موزون تله او تول ...خفت واحده مونثه غائبه ماضى معروف د با ب(ض) سپكيدل امه يعنى اصل او استوګنه هاويه د دوزخ نوم دې لغوى معنې ئې ده غورځونكې صيغه واحده مونثه اسم فاعل د باب (ض) د پورته نه لاندې غورځيدل.

حل التركيب: ﴿ القارعة ما القارعة ﴾ القارعة مبتدا ما استفهاميه مبتدا القارعة خبر،مبتدااسره د خبرنه جمله اسميه انشائيه كيدو سره بياخبرشودپاره دمبتدا ،مبتدااسره دخبرنه جمله اسميه خبريه شوه.

﴿ وما ادراک ما القارعة ﴾ واؤ عاطفه ما استفهامیه مبتدا ادری فعل هو ضمیر فاعل کاف ضمیر مفعول به اول ما القارعة مبتدا خبر سره جمله اسمیه انشائیه کیدو سره مفعول به ثانی فعل سره د فاعل او د دوارو مفعولینوسره جمله فعلیه خبریه کیدو سره محلا مرفوع خبر دې دپاره د مبتدا چه ما ده مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه انشائیه شوه.

﴿یوم یکون الناس کالفراش المبثوث وتکون الجبال کالعهن المنفوش ﴾ یوم مضاف یکون فعل د افعال ناقصه نه الناس اسم کاف جاره الفراش موصوف المبثوث صفت موصوف سره د صفت نه مجرور شو دپاره د جار جار مجرور متعلق په کائنین پورې خبر د پاره د یکون، یکون د خپل اسم او خبر سره جمله فعلیه خبریه کیدو سره معطوف علیه، واؤ عاطفه تکون فعل د افعال ناقصه نه الجبال اسم کاف جاره العهن موصوف المنفوش صفت، موصوف سره د صفت نه مجرور شو دپاره د کاف جاره، جار سره د مجرور نه متعلق په کائنة پورې د تکون خبر، تکون سره د خپل اسم او خبر نه معطوف، معطوف علیه سره د معطوف نه جمله معطوفه کیدو سره مضاف الیه دې د یوم دپاره، مضاف سره د مضاف الیه نه مفعول فیه دې د اذکروا فعل دپاره یا د تقرع فعل محذوف دپاره فعل سره د فاعل او سره د مفعول فیه نه جمله فعلیه شوه.

﴿ فاما من ثقلت موازینه فهو فی عیشة راضیة ﴾ فا نتیجیه یا فصیحیه اما شرطیه من موصوله ثقلت فعل موازینه مضاف او مضاف الیه یو ځائې کیدو سره فاعل، فعل سره د فاعل نه جمله

فعلیه خبریه کیدو سره صله شوه دپاره د موصول چه من دي،صله سره د موصول نه مبتدا متضمن معنی د شرط لره، فا جزائیه هو ضمیر مبتدا فی جاره عیشة راضیة موصوف صفت یو خائي کیدو سره مجرور شو دپاره د جار،جار سره د مجرور ظرف مستقر متعلق په کائن پوري خبر شو،مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه کیدو سره قائم مقام د جزا کیدو سره خبر،مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه کیدو سره معطوف علیه،﴿ واما من خفت موازینه ﴾ په مثل د ﴿ فاما من ثقلت موازینه ﴾ دي دا جمله مبتدا متضمن معنی د شرط لره ده.

﴿ فامه هاویة ﴾ فا جزائیه امه مضاف مضاف الیه یو خائي کیدو سره مبتدا هاویة خبر مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه کیدو سره قائم مقام د جزا کیدو سره مبتدا ،مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه کیدو سره معطوف،معطوف علیه سره د معطوف نه جمله معطوفه شوه.

﴿ ما ادراک ﴾ ترکیب تیر شوي دي.﴿ ما هیه ﴾ ما استفهامیه مبتدا هی ضمیر خبر (د هیه سره دویمه ها د وقف د وجې نه ده) مبتدا سره د خبر جمله اسمیه انشائیه کیدو سره مفعول ثانی دپاره د ادری فعل .... فعل سره د فاعل او سره د دوارو مفعولینو نه خبر دي دپاره د مبتدا مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه انشائیه شوه.

﴿ نار حامیة ﴾ نار موصوف حامیة صفت،موصوف سره د صفت نه خبردي دپاره د مبتدا محذوف چه هی دي مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه شوه.

تفسیر: د سورة نوم القارعة... دا مکی سورة دي.

ربط : په تیر سورة کښ د قبرونو نه دوباره ژوندی کیدو سره د

پاسیدلو حکم وو په دې سورة کښ د ژوندی کیدو نه پس په میدان محشر کښ د جمع کیدو د احوال ذکر دې. ﴿القارعة ما القارعة وما ادراک ما القارعة﴾ قارعة د قرع نه دې لغوی معنې ئې ده ټکول مراد ترې قیامت دې ځکه چه هغه به هم زړونه په ویرې سره او غوږونه په سخت آواز سره ټکوی. ﴿یوم یکون الناس کالفراش المبثوث﴾ دا د ﴿وما ادراک﴾ والااستفهام جواب دې په دې کښ د القارعة د بعض احوالو ذکر دې مقصد دا دې چه د قیامت په ورځ باندې به خلق د نوستلې شوې پتنګانو په شان وی، پتنګانو سره د تشبیه ورکولو څو وجې دی: (۱) ډیروالې، ځکه چه په دې به ورځ اولین او آخرین ټول انسانان په یو میدان کښ راجع شی نو د ډیروالی په اعتبار سره ئې د پتنګانو سره تشبیه ورکړې دې. (۲) یا د کمزورې کیدو په اعتبار سره ئې پتنګانو سره تشبیه ورکړه چه په دې ورځ به انسانان د پتنګانو په شان ضعیف او کمزورې وی. (۳) یا دا تشبیه د ناقرارئ او د بې تابه کیدو په اعتبار سره ده چه خلق به د پتنګانو په شان بې تابه وی او یو خوا بل خوا به بې قراره ګرځی راګرځی راوړی. (معارف خلاصه تفسیر)

﴿تکون الجبال کالعهن المنفوش﴾ دا دویم حال دې د قیامت، په دغه ورځ به غرونه د رنګینو مالوچو په شان الوځی... رنګین ورته په دې وجه اوونیلې شو ځکه چه د غرورنو رنګونه مختلف دی: سپین، تور، سور وغیره نو کله چه دا ذره ذره کیدو سره والوځی نو د مختلف رنګونو به وی. (معارف)

﴿فاما من ثقلت موازینه فهو فی عیشة راضیة﴾ دریم حال د

قيامت دي چه په دغه ورځ به د عملونو وزن کيږي د کوم انسان د
نيک عمل تله چه درنه شوه نو هغه به د زړه د خوښې آرام کښې وي او
هغه ته به د هميشه ژوند او کاميابي ملاوېږي.

﴿ واما من خفت موازينه فامه هاوية ﴾ او د کوم انسان تله
چه سپکه شوه نو هغه به ناکامه کيږي او د هغه استوګنه به هاويه
وي، د ام معنی جرړه ده، اصل، استوګنه او هاويه کندې ته وائي دلته
ترې دوزخ مراد دي او دا د دوزخ په نومونو کښې يو نوم دي. ﴿ وما
ادراک ما هيه ﴾ دا استفهام د هاويه د شدت او سخت والي د
بيانولو دپاره دي. ﴿ نار حامية ﴾ دا د سوال جواب دي چه دا هاوية
ډير زيات تيز او ګرم دي.

فائده: د قيامت په ورځ به عملونه تللې کيږي شميرلې به نه شي ځکه
چه د عمل دارومدار په خلوص باندې دي نو د کوم سړي چه اعمال
شته خو کم مګر خلوص ئې زيات دي نو د هغه سړي د عمل وزن به په
هغه سړي باندې زيات وي د چا عملونه چه په شمير کښې زيات او په
خلوص کښې کم دی. (معارف)

سورة التكاثر مكية

ركوعها: ١	بسم الله الرحمن الرحيم	اياتها: ٨

﴿ أَلْهَىٰكُمُ ٱلتَّكَاثُرُ ۝١ حَتَّىٰ زُرْتُمُ ٱلْمَقَابِرَ ۝٢ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ ۝٣
ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ ۝٤ كَلَّا لَوْ تَعْلَمُونَ عِلْمَ ٱلْيَقِينِ ۝٥ لَتَرَوُنَّ

ٱلْجَحِيمَ ۞ ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيْنَ ٱلْيَقِينِ ۞ ثُمَّ لَتُسْـَٔلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ ٱلنَّعِيمِ ۞ ﴾

ترجمه: پـه غفلت كښې واچولې تاسو د مـال ډېر والـى يـا پـه ډېر مـال باندې فخر كولو، تر دې چه زيارت اوكړو تاسو د قبرونو هر گز داسـې نه ده زر ده چه تاسو به پوهه شئ بيا هر گز داسې نه ده زر ده چـه تاسـو به پوهه شئ هر گز داسې نه ده كه چرته علم لرلې علم د يقين (نو هرگز به تاسو په غفلت كښې نه وئې اچولې د مال ډېر والى) په الله پـاک قسم تاسو به ضـرور دوزخ گورئ بيـا بـه خامخا گورئ دا دوزخ د يقـين پـه سترگو، بيا به ضرور تاسو نه تپوس كولې شي په دغه ورځ د نعمت پـه باره كښې.

حل المفردات: الهى واحد مذكر غائب ماضى معروف د باب افعال نه غفلت كښې اچول غافل كول، التكاثر مصدر د باب تفاعل نه ډيريـدل پـه كثـرت كښې پـه يـو بـل بانـدې غلبـه حاصـلول. زرتـم مـذكر حاضـر ماضى معروف په اصل كښې زورتـم وو پـه قاعـده د قـال او بـاع او قلـن زرتم شو د باب (ن) په معنى د زيـارت كولـو المقـابر جمـع ده مفـرد ئـې المقبرة په معنى د قبرستـان د دفـن كيـدو ځـائې لتـرون صيغه د جمع مذكر حاضر لام تاكيد بانون ثقيله.

حل التركيب: ﴿ الهكم التكاثر حتى زرتم المقابر ﴾ الهى فعل كم ضـمير مفعول به التكاثر فاعل حتى جاره زرتم فعل او فاعل المقـابر مفعـول فيه دا جمله كيدو سره محلا مجرور شو دپاره د جار چه حتى دې. جار سره د مجـرور نـه متعلـق شـو پـه الهـى فعـل پـورې الهـى فعـل سـره د

فاعل او مفعول به نه جمله فعليه خبريه شوه. ﴿ كلا سوف تعلمون ﴾ كلا حرف ردع سوف دپاره د استقبال تعلمون فعل او فاعل دا جمله فعليه خبريه شوه.

﴿ كلا لو تعلمون علم اليقين ﴾ كلا حرف ردع لو شرطيه تعلمون فعل او فاعل علم اليقين مضاف مضاف اليه يو ځائي كيدو سره مفعول به، فعل سره د فاعل او د مفعول به سره شرط، جزا محذوف ده او هغه ده ﴿ لما الهكم التكاثر ﴾ لام تاكيديه ما نافيه الهى فعل كم مفعول به التكاثر فاعل دا جمله كيدو سره جزا شرط سره د جزا نه جمله شرطيه شوه.

﴿ لترون الجحيم ثم لترونها عين اليقين ثم لتسئلن يومئذ عن النعيم ﴾ لترون لام تاكيديه ترون فعل او فاعل الجحيم مفعول به دا جمله فعليه كيدو سره معطوف عليه، ثم عاطفه لام تاكيديه ترون فعل او فاعل ها ضمير مفعول به اول عين اليقين مضاف او مضاف اليه يو ځائي كيدو سره مفعول به ثاني شو، بيا دا جمله معطوف اول، ثم عاطفه تسئلن فعل او فاعل يومئذ مضاف مضاف اليه يو ځائي كيدو سره مفعول فيه شو عن النعيم جار سره د مجرور نه متعلق په تسئلن فعل پورې، دا جمله معطوف ثاني شو، معطوف عليه سره د دواړو معطوفينو نه جواب قسم شو قسم محذوف دې چه والله دې بيا دا جمله قسميه انشائيه شوه.

تفسير: نوم سورة التكاثر، سورة المقبرة دا سورة مكى دې د بعضو په نزد مدني دي.

ربط: په تير سورة كښې د قيامت احوال بيانولو سره انسان ته خبرداري

ورکړي شوي وو په دې سورة کښې هم د قيامت احوال ذکر کولو سره انسان ته د هغه په غفلت باندې خبرداري دې.

شان نزول: (۱) ابن بريده ﷺ فرمائي چه دا سورة د انصارو د دوه قبيلو په باره کښې نازل شوې دې، بني حارثه، بنو الحارث دواړو په خپل مال او پلار نيکهٔ باندې فخر اوکړو په ژوندو خلقو باندې فخر کولو نه پس هغوی قبرستان ته لاړل هلته تلو سره ئې قبرونو ته طرف ته اشاره اوکړه چه آيا زمونږ د دې سړي شان سړې تاسو سره شته؟ لږ. خو ئې راته اوښايئ په دې باندې دا سورة نازل شو. (۲) کلبی ﷺ دا شان نزول بيان کړې دې چه د دوو قبيلو بني عبد مناف، بني سهم خلقو په يو مجلس کښې خپل فخر ذکر کولو يو اووې زمونږ قبيله مالداره ده او زمونږ سړي هم ګڼړ دی سرداری هم زمونږ حق دې بل اووې زمونږ خلق ډير بهادران دی په دې وجه هم هغوی په جنګ کښې زيات وژلي شوی دی دا خبره زياتيدله، تر دې چه دا فيصله اوشوه چه قبرستان ته ځو چه قبرونه شمار کړو چه د چا قبرونه زيات وو هغه ربنتيني نو قبرونه اوشميرلي شو نو د بني سهم قبرونه په تعداد کښې زيات شو په دې باندې دا آياتونه نازل شو. (مظهری)

﴿ الهكم التكاثر حتى زرتم المقابر ﴾ که د تکاثر معنی تفاخر وی نو مقصد به دا وی چه تاسو په مال او اولاد باندې فخر کولو د الله پاک د عبادت نه غافله کړئ او تاسو په تفاخر کښې دومره زيات شوئ چه د قبرونو شمير دپاره قبرستان ته اورسيدئ په دې صورت کښې به د زرتم معنی شمار کول دی. اګر تکاثر کا معنی د مال کثرت وی نو بيا د زرتم المقابر معنی به مرګ وی څنګه چه خپله رسول الله ﷺ

خپله د دې تفسیر په ﴿ یاتیکم الموت ﴾ سره کړې دې. مقصد به دا وی چه تاسو خلق د مال او دولت ډیر والی د الله پاک د عبادت نه په غفلت کښې واچولئ او ستاسو هم دا د غفلت حال وی د خپل انجام او د آخرت هیڅ فکر درسره نه وی تر دې چه تاسو قبرستان ته اورسئ او مرګ درله راشی او بیا هلته په عذاب کښې اونیولې شئ.

﴿ کلا سوف تعلمون ﴾ کلا په ماقبل باندې د زجر او توبیخ دپاره دې مقصد به دا وی چه ستاسو دا د مال په ډیروالی باندې تفاخر او د آخرت نه غفلت کول صحیح نه دی زر ده چه تاسو به د دې فخر او غفلت انجام اوګورئ. ﴿ ثم کلا سوف تعلمون ﴾ په دې کښې بیا د تیر وعید تاکید اوفرمائیلو نو تکرار به د تاکید دپاره وی. بعض مفسرینو فرمائیلی دی چه رومبې ﴿ کلا سوف تعلمون ﴾ نه مراد دا دې چه تاسو به په قبر کښې یا د مرګ په وخت پوهه شئ او د دویم کلا نه مراد په آخرت کښې د قیامت په ورځ به تاسو د غفلت انجام باندې پوهه شئ.

﴿ کلا لو تعلمون علم الیقین ﴾ کلا نه بیا په تاکید کښې تاکید دې. لو شرطیه دې جزا محذوف ده مقصد به دا وی چه که تاسو ته د حساب او کتاب یقین وی او په دلائل صحیحه کښې مو د غور او فکر نه کار اخستلې وې او د آخرت د پیښې یقین مو کړې وې نو بیا به تاسو په دې فضول کارونو کښې نه پریوتلئ او د آخرت نه به نه غافل کیدلئ. ﴿ لترون الجحیم ﴾ الله پاک فرمائی اوس مونږ تاسو ته صفا ښایو او په قسم خوړلو سره درته ښایو چه تاسو به دوزخ ضرور اووینئ. (مظهری ملخصا)

﴿ ثم لترونها عين اليقين ﴾ سره بيا تاكيد دي چه تاسو به دا دوزخ په خپلو سترګو ګورئ.

فائده: عين اليقين هغه علم او يقين دې کوم چه د څۀ څيز مشاهدې نه پس حاصل شي او دا د ټولو نه اول درجې والا يقين وي. علم اليقين د دې نه کم وي. رسول الله ﷺ فرمائی ﴿ ليس الخبر كالمعاينة ﴾ الله پاک چه کله موسى عليه السلام ته خبر ورکړو چه ستاسو قوم د سخي عبادت کوی نو په موسى عليه السلام باندې د دې زيات اثر او نه شو چه کله ئې خپله اوليدو نو د تورات تختئ ئې اوغورځولې.

﴿ ثم لتسئلن يومئذ عن النعيم ﴾ مقصد دا دې چه د قيامت په ورځ باندې به ستاسو نه د هر نعمت په باره کښې سوال کولې شی چه د هغې شکر دې ادا کړې وو مثلاً صحت مندی، خوراک څکاک، جامه، کور، ښځه او اولاد او حکومت او عزت تر دې چه د يخو اوبو په باره کښې به هم سوال کولې شی لکه څنګه چه په احاديثو کښې د دې تفصيل دې رسول الله ﷺ فرمائی چه د قيامت په ورځ به هيڅ يو انسان د خپل ځائې نه او نه خوزی تر دې چه د پنځو سوالونو جواب ورنکړی. (١) عمر دې په کومو کارونو کښې تير کړو (٢) ځوانی دې کوم ځائې خرچ کړه (٣) مال دې څنګه حاصل کړې وو په جائز يا ناجائز طريقې سره (۴) مال دې کوم ځائې خرچ کړې وو (۵) په خپل علم دې څومره عمل کړې وو.

سورة العصر مكية

ایاتها ۳	بسم الله الرحمن الرحيم	رکوعها ۱

﴿ وَالْعَصْرِ ۝١ إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ ۝٢ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ ۝٣ ﴾

ترجمه: قسم دې په زمانه باندې چه انسان په نقصان کښې دې مګر هغه خلق چاچه ایمان راوړې دې او عمل ئې نیک کړې دې او وصیت ئې اوکړو په حق باندې او وصیت ئې اوکړو په صبر باندې.

حل المفردات: العصر زمانه جمع ئې اعصار، اعصور راځی خسر د باب(س) نقصان اوچتول.

حل التركيب: ﴿ والعصر۝ ان الانسان لفی خسر۝ الا الذين امنو وعملوا الصحلت وتواصوا بالحق وتواصوا بالصبر۝ ﴾ واؤ قسميه جاره العصر مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو په اقسم فعل پورې،فعل سره د فاعل نه قسم،ان حرف د حروف مشبه بالفعل نه الانسان مستثنی من لام دپاره د تاكيد فی جاره خسر مجرور جار سره د مجرور نه متعلق په كائن پورې كيدو سره خبر دپاره د ان،الاحرف استثنائيه آمنو فعل او فاعل يو ځائې كيدو سره معطوف عليه،واؤ عاطفه عملوا فعل فاعل،الصلحت مفعول به،دا جمله كيدو سره معطوف اول،واؤ عاطفه تواصوا فعل فاعل بالحق جار مجرور متعلق،دا جمله معطوف ثانی،واؤ عاطفه تواصوا فعل او فاعل بالصبر جار مجرور متعلق په تواصوا پورې،دا معطوف ثالث دې

معطوف عليه سره د تولو معطوفاتو نه صله شوه دپاره د الذين اسم موصول، موصول سره د صله نه مستثنى دپاره د الانسان، مستثنى منه د خپل مستثنى سره يو ځائي كيدو باندې اسم شو، ان د خپل اسم او خبر سره جمله اسميه خبريه كيدو سره جواب قسم شو بيا دا جمله قسميه شوه.

تفسير: نوم سورة العصر **ربط:** (١) په تير سورة كښې د انساني غفلت ذكر وو په دې سورة كښې د انسان د خسران او نقصان ذكر دې او د دې خسران او نقصان نه د بچ كيدو بيان دې چه انسان دې طاعات اختيار كړي. (٢) په تير سورة كښې د غافلينو ذكر وو په دې سورة كښې د عاملينو او مومنانو ذكر دې چه د غفلت نه ښكار كيږي بلكه صحيح مقصد مخې ته كولو سره ژوند تيروي.

فضائل سورة العصر: د الفاظو په اعتبار سره مختصر دې خو د مضامينو په اعتبار سره ډير جامع دې، امام شافعي رحمه الله فرمائي چه كه خلقو صرف په سورة العصر كښې تدبر او فكر كړې وې نو هم دا سورة به د هغوى د دين او دنيا د ښيګړې دپاره كافي شوې وو.

﴿ والعصر ﴾ نه څه مراد دې؟ په دې كښې ډير اقوال دى: (١) ورځ او شپه ترې مراد دى (٢) د حسن بصرى قول د زوال نه تر غروب پورې (٣) د مازيګر مونځ مراد دې (٤) زمانه مراد ده.

﴿ ان الانسان لفى خسر ﴾ جواب قسم دې الله پاک د زمانې قسم خوړلو سره فرمائى چه يقينا انسان په تاوان كښې دې.

سوال: په قسم او جواب قسم كښې څه مناسبت دې؟

جواب: اكثر مفسرينو دا مناسبت بيان فرمائيلې دې چه وړاندې په

﴿الا الذين﴾ کښې انسان ته د خسارې نه د بچ کيدو دپاره د کومو اعمالو هدايت کړې شوې دې هغه هم د دې زمانې په ورځ او شپه کښې وی، د دې نه علاوه د انسان ټول حالات د هغه لوئيدل د هغه حرکات او سکنات اعمال اخلاق ټول هم په دې زمانه کښې وی او زمانه د انسان د عروج او زوال او د هغه د خسارې او ګټې سبب ده. او که غور اوکړې شی نو د انسان د عمر زمانه د هغه قيمتی سرمايه ده الله پاک دا لويه قيمتی سرمايه ورکولو سره انسان ته د تجارت حکم ورکړې دې د قرآن پاک نصوص هم دا مضمون ثابتوی د الله پاک ارشاد دې ﴿ يآايها الذين آمنوا هل ادلکم علی تجارة تنجيکم من عذاب اليم تومنون الخ ﴾ اې مومنانو زه تاسو ته داسې تجارت در او نه ښايم کوم چه تاسو ته د عذاب اليم نه خلاصې درکړی هغه دا چه تاسو په الله پاک او د هغه په رسول ﷺ باندې ايمان راوړئ او نيک اعمال کوئ او په حديث کښې هم دی ﴿ کل يغدو فبائع نفسه فمعتقها او موبقها ﴾ يعنی هر انسان چه پاسی د سحر په وخت نو د خپل ځان سرمايه په تجارت باندې اولګوی خپل ځان خرڅ کړی نو بيا څوک خو خپله سرمايه د نقصان او خسارې نه بچ کړی او څوک ئې هلاکه کړی. نو د قرآن او حديث نه هم دا خبره ثابته شوه چه د انسان ژوند او د هغه وختونه د هغه سرمايه ده که هغه دا سرمايه د ګټې په کارونو کښې اولګوی نو په دنيا او آخرت کښې به عظيمې او عجيبې فائدې اخلی هغه د ګټې کار هم دا دې کوم چه په دې سورة کښې ذکر کړې شوې دې يعنی ايمان اعمال صالحه تواصی بالحق او تواصی بالصبر

او که هغه د ژوند سرمایه په بدو کارونو کښې خرچ کړه نو بیا به د هغه د عمر سرمایه ضائع شي او د هغه د پاره به مصیبت جوړ شي.

حیاتک انفاس تعد فکلما : مضی نفس منها انتقصت به جزا

ستا یو ژوند څو ساګاني دي: کله چه یو ساه تیره شي نو یو حصه د عمر کمیږي.څکه چه زمانه د نفع او نقصان سبب دې په دې وجه الله پاک د دې قسم خوړلې دې.

﴿ الا الذین امنوا وعملوا الصلحت وتواصوا بالحق وتواصـــوا بالصبر ﴾ دا د ماقبل نه استثناء ده په دې کښې الله پاک د خسارې نه د بچ کیدو یو نسخه بیان کړې ده کومه چه په څلور اجزاء باندې مشتمله ده: (١) ایمان (٢) اعمال صالحه (٣) تواصی بالحق (۴) تواصی بالصبر په دې کښې دوه د خپل ذات داصلاح دپاره دی او آخری دوه د مسلمانانو د هدایت او اصلاح متعلق دی.مقصد دا دې چه کوم انسان دا څلور اختیاروی د هغوی دپاره په دنیا او آخرت کښې کامیابی ده.(١) ﴿ امنوا ﴾ چه ایمان راوړی یعنی د زړه نه د الله رب العزت د یو والی تصدیق اوکړی د الله پاک په ټولو رسولانو ملائکو کتابونو او قیامت باندې ایمان راوړی.

(٢) ﴿ وعملوا الصحلت ﴾ کښې ټول نیک اعمال داخل شو

(٣) ﴿ تواصوا بالحق ﴾ تواصوا د وصیت نه دې د وصیت معنی ده چا ته په موثر انداز کښې نصیحت کول.

د حق نه مراد (١) د بعضو په نزد عقائد صحیحه او د اعمال صالحه دواړو مجموعه ده چه د هغې حاصل به امر بالمعروف وی (٢) د بعضو په نزد د حق نه مراد صرف عقائد حقه دی.مقصد دا دې

چه هغه خلق د نورو د عقائدو او د اعمالو اصلاح هم کوی او هغوی ته د نیکئ هدایت کوی. (۴) ﴿ تواصوا بالصبر ﴾ د صبر معنی ده نفس لره منع کول او پابند کول. که د حق نه مراد اعتقادات او اعمال صالحه دواړه وی نو د صبر نه مراد به صرف گناه او بد کارونه وی چه د هغې حاصل به نهی عن المنکر وی. که د حق نه صرف عقائد مراد شی نو د صبر نه به نیک او بد عملونه دواړه مراد وی مقصد به دا وی چه هغه انسان کامیاب دې چه خلق د بدو عملونو نه منع کوی کوم انسان چه دا څلور کارونه کوی د هغه تجارت به ډیر مفید وی او په دنیا او آخرت کښ به هغه ته لویه گټه حاصلیږی.(معارف ملخصا)

فائده: په دې سورة کښ انسان ته ډیر لوئې هدایت کړې شوې دې چه د انسان د پاره څنگه چه دا ضروری ده چه د خپلې اصلاح فکر اوکړی نو هغه شان دا هم ضروری ده چه نورو مسلمانانو ته هم د ایمان او عمل دعوت ورکړی او د وس مناسب د هغوی د اصلاح کوشش اوکړی گینې صرف خپل عمل به نې د نجات د پاره کافی نه وی خصوصا د خپل اهل و عیال او د احبابو د اصلاح فکر کول خو ډیر ضروری دی په احادیثو کښ د امر بالمعروف او نهی عن المنکر په پریخودلو باندې ډیر وعیدونه راغلی دی حدیث دې ﴿ من رای منکم منکر فلیغیره بیده فان لم یستطع فبلسانه فان لم یستطع فبقلبه وذلک اضعف الایمان ﴾

﴿ قال ابی بن کعب قراءت علی رسول اللهﷺ (والعصر) ثم قلت:ما تفسیرها یا نبی اللهﷺ قال:والعصر قسم من الله اقسم ربکم بآخر النهار (ان الانسان لفی خسر) ابوجهل (الا الذین آمنوا) ابوبکر

(وعملوا الصلحت) عمر (وتواصوا بالحق) عثمان (وتواصوا بالـصبر) علی رضی الله عنهم اجمعین (قرطبی)

سورة الهمزة مكية

ایاتها: ۹	بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ	رکوعها: ۱

﴿ وَيْلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةٍ ۝١ ٱلَّذِى جَمَعَ مَالًا وَعَدَّدَهُۥ ۝٢
يَحْسَبُ أَنَّ مَالَهُۥٓ أَخْلَدَهُۥ ۝٣ كَلَّا ۖ لَيُنۢبَذَنَّ فِى ٱلْحُطَمَةِ ۝٤ وَمَآ أَدْرَىٰكَ
مَا ٱلْحُطَمَةُ ۝٥ نَارُ ٱللَّهِ ٱلْمُوقَدَةُ ۝٦ ٱلَّتِى تَطَّلِعُ عَلَى ٱلْأَفْـِٔدَةِ ۝٧ إِنَّهَا
عَلَيْهِم مُّؤْصَدَةٌ ۝٨ فِى عَمَدٍ مُّمَدَّدَةٍۭ ۝٩ ﴾

ترجمه: هلاکت دې د هر عيب لټونکی او پيغور ورکونکی دپاره هغه چا چه مال جمع کړو او په شمير شمير ئې اوساتلو او ګمان کوی هغه انسان چه د هغه مال به هميشه ساتی (هغه لره) هر ګز داسې نه ده په الله قسم هغه به ضرور حطمه ته غورځولې شی او تاسو ته څه پته ده چه حطمه څه ځيز دې هغه د الله پاک اور دې بل کړې شوې ورخيژی به په زړونو باندې بيشکه هغه اور په هغوی باندې بند کړې شوې دې په اوچتو اوچتو ستنو کښې.

حل المفردات: همزة په وزن د فعلة په دې وزن کښې د عادت والا معنی ده لکه ضحكة کوم سړې چه د خندا عادت جوړ کړی همزة معنی د غيبت کونکې د باب (ض،ن) نه غيبت کول، بنـخول، ماتول. لمزة مخامخ دچا عيب راويستل چا برعکس معنی کړې ده د باب (ن،ض)

عدد واحد مذکر غائب ماضی د باب (تفعیل) نه شمیر کول اخلد واحد مذکر غائب ماضی (افعال) همیشه پاتي کیدل همیشه ساتل لینبذن واحد مذکر غائب لام تاکید بانون ثقیله مجهول د باب(ض) غورځول الحطمة د دوزخ په نومونو کښ یو نوم معنی ئې ده ماتونکي ځکه چه د دوزخ اور به هم هر یو څیز مات راماتات کړی د باب (ض) نه ماتول الموقدة واحده مونثه اسم مفعول د باب (افعال) نه اور بلول،لمبي کول تطلع واحد مونثه غائبه مضارع معروف په اصل کښ تطتلع وو تا لره په طا کښ مدغم کړي شوه د باب افتعال نه رسیدل ختل ،کتل، خبردار کول، خبردار کیدل،الافدة جمع ده مفرد ئې فواد راځی معنی ئې ده زړه عمد جمع ده مفرد ئې عمود راځی،عماد ،ستن ممدة واحد مونثه اسم مفعول د باب (تفعیل) راخکل اوږدول.

حل التركيب: ﴿ ويل لكل همزة لمزة الذى جمع مالا وعدده يحسب ان ماله اخلده ﴾ ويل مبتدا لام جاره کل مضاف انسان موصوف محذوف همزة صفت اول لمزة صفت ثانی موصوف سره د صفتینو نه مضاف الیه شو دپاره د کل،مضاف سره د مضاف الیه نه مبدل منه،الذی اسم موصول جمع فعل هو ضمیر فاعل مالا مفعول به دا جمله کیدو سره معطوف علیه واؤ عاطفه عدد فعل هو ضمیر ذوالحال ه ضمیر مفعول به یحسب فعل هو ضمیر فاعل ان حرف د حروف مشبه بالفعل نه ماله مضاف مضاف الیه یوځائي کیدو سره اسم د ان شو اخلده فعل او فاعل او مفعول به یو ځائي کیدو سره جمله فعلیه کیدو سره خبر شو د ان،ان د خپل اسم او خبر سره جمله

اسمیه کیدو سره محلا منصوب مفعول به دي د پاره د یحسب فعل. فعل سره د فاعل او سره د مفعول به جمله فعلیه خبریه کیدو سره محلا منصوب حال دي د عدده د ضمیر مستتر نه،ذوالحال سره د حال نه فاعل،فعل سره د فاعل او مفعول به نه جمله کیدو سره معطوف،معطوف علیه سره د معطوف نه جمله معطوفه کیدو سره صله شوه دپاره د موصول چه الذی دي،صله سره د موصول نه بدل دي دپاره د کل،مبدل منه سره د بدل نه مجرور دي دپاره د جار،جار سره د مجرور نه په ثابت پوري متعلق کیدو سره خبر دي دپاره د مبتدا چه ویل دي،مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه شوه.

﴿ كلا لينبذن فى الحطمة ﴾ کلا حرف ردع موکد للقسم ینبذن فعل هو ضمیر نائب فاعل فی الحطمة جار مجرور متعلق دا جمله فعلیه کیدو سره جواب قسم دي د پاره د قسم محذوف چه والله دي قسم سره د جواب قسم نه جمله قسمیه شوه.﴿ وما ادراک ما الحطمة﴾ د دي ترکیب د ﴿ وما ادراک ما القارعة ﴾ په شان دي ﴿ نار الله الموقدة التى تطلع على الافئدة ﴾ نار الله مضاف مضاف الیه یو ځاني کیدو سره موصوف الموقدة ئې صفت اول التی موصوله تطلع فعل هی ضمیر فاعل علی الافئدة جار مجرور متعلق بیا دا جمله صله شوه دپاره د موصول صله سره د موصول نه صفت ثانی، موصوف سره د دوارو صفتونو نه خبر دي دپاره د مبتدا محذوف چه هی دي مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه شوه.دا هم احتمال شته چه ﴿ نار الله ﴾ د ﴿ الحطمة ﴾ نه بدل شی یا عطف بیان.

﴿ انها عليهم موصدة ﴾ ان حرف د حروف مشبه بالفعل نه ،

ها ضمير اسم عليهم جار مجرور متعلق په موصدة پورې،موصدة صيغه د صفت هی ضمير نائب فاعل.فی عمد ممدة: (۱) فی جار عمد موصوف ممدة صفت،موصوف سره د صفت نه مجرور شو دپاره د جار،جار سره د مجرور نه متعلق شو په موصدة پورې،صيغه د صفت د خپل فاعل او متعلق سره خبر شو د پاره د ان دا جمله اسميه شوه (۲) يا فی عمد جار مجرور متعلق شو په کائنين يا موثقين (تړلي شوي) پورې نو دا حال دې د عليهم د هم ضمير نه (۳)يا فی عمد جار مجرور خبر دې د پاره د مبتدا محذوف چه هم دي.(۴) يا فی عمد جار مجرور يو ځائې کيدو سره صفت دې دپاره د موصدة(املاء ما من به الرحمن ص ۲۹٤)

تخيير: نوم سورة الهمزة، سورة الحطمة

ربط: په تير سورة کښې د انسان د خسارې بيان وو په دې سورة کښې د سبب او وجه د خسارې بيان دې هغه دې لوئې گناهونه کول.

شان نزول: عثمان او ابن عمر رضي الله عنهم فرمائی چه مونږ به برابر اوريدل چه د ﴿ ويل لكل همزة لمزة ﴾ نزول د ابی بن خلف په باره کښې شوی دي.او ابن ابی حاتم د سدی نه بيان کړې دې چه د اخنس بن شريق بن وهب ثقفی په حق کښې د دې آيت نزول شوې دې.ابن جرير د رقه په اوسيدونکو کښې د يو سړی په حواله باندې بيان کړې دې چه دا آيت د جميل بن عامر په حق کښې نازل شوې دې.ابن المنذر د ابن اسحاق نه بيان کړې دې چه د اميه بن خلف حمجی رسول الله ﷺ ته د عيب ښکاره کولو او بد نظر سره اوکتل د هغه په باره کښې الله پاک دا ټول سورة نازل کړو.مقاتل ونيلی دی چه وليد بن مغيره به د رسول

الله ﷺ غیبت کولو او هر خائي کښې به ئې وریسې بدې ردې ونیلې د هغه متعلق د دې سورة نزول اوشو.

﴿ ویل لکل همزة لمزة ﴾ په دې سورة کښې الله پاک د درې لویو گناهونو ذکر کولو سره په هغوی باندې د سخت عذاب بیان فرمائی. هغه درې گناهونه دا دی: (۱)همزة (۲)لمزة (۳) د مال جمع کول...د همزه او لمزة په معنی او مصداق کښې ډیر اقوال دی: (۱) همزة په چا کښې عیب راویستل لمزه مخامخ چا ته پیغور ورکول (۲) د دې برعکس (۳) همزة چغل خور لمزة طعن کونکې (۴)همزة په خپل وجود کښې نکته چینی او لمزة په نورو کښې نکته چینی (۵)همزه چه په لاس باندې بدی کوی لمزه چه په ژبې سره بدی کوی وغیره (مظهری،قرطبی) همزه او لمزه دواړه کبیره گناهونه دی خصوصا همزة (غیبت)باندې وعیدونه په قرآن او حدیث کښې ډیر زیات دی.په قرآن کریم کښې غیبت لره د مړ رور غوښه خوړولو سره مشابه کړې دې.په حدیث کښې دی ﴿ الغیبة اشد مـــن الزنـــا ﴾ بیا دا داسې گناه ده چه انسان په دې کښې په مخکښې روان وی هیڅ څوک ئې مخکښې دفاع کونکې نه وی جواب ورکونکې هیڅ څوک نه وی د دې نه علاوه په چا پسې پشی شا عیب لگول په دې وجه هم ظلم دې چه هغه ته پته هم نه وی چه په هغه باندې څهٔ الزام لگولې کیږی چه هغه د دې جواب ورکړې شی.هم دغه شان لمزه(د چا مخامخ د هغه عیب بیانول) دا هم لویه گناه ده څکه په دې کښې د هغه سپکاوې او ذلت مقصود وی رسول الله ﷺ فرمائی چه د الله پاک په بندگانو کښې د ټولو نه بدترین هغه خلق دی کوم چه چغل خوری کوی د ملگرو ته ترمینځه فساد

راولي او په بې ګناه خلقو کښې عيب لټوي.(معارف)

﴿ الذی جمع مالا و عدده ﴾ دريم لوئي حصلت په ﴿ الـذی جمـع ﴾ کښې بيـان کړې شـوې دې چـه د هغـه د مـال سـره ډيـر مينـه ده،حرص ئې دې په دې وجه مال جمع کوی او بيا د فخر د وجې نه هغه بار بار شماری او په دې مال سره د الله پاک حقونه نه ادا کوی.

﴿ يحسب ان ماله اخلده ﴾ مقصد دا دې چه هغه خيال کوی چه د هغه مال به هغه هميشه په دنيا کښې ساتی د دولتمند کيدو د وجې نه به کله هم نه مری حال دا چه د هغه دا خيال بالکل غلط دې ځکه چه د هميشوالی ژوند به د مال په وجه حاصل نه شی.بلکه د ايمان او عمل صالح په وجه به حاصليږی.﴿ کلا لينبذن فی الحطمـة ﴾ دپاره د زجر دې يعنی هر ګز داسې نه ده دا مال به هغه هميشه نه ساتی په دې باندې د هميشوالی ژوند نه حاصليږی.

﴿ لينبذن فی الحطمـة ﴾ په الله پاک قسم دا انسان به حطمة کښې اچولې شی د حطمة معنی ده ماتول په دوزخ کښې چه کوم څيز واچولې شی د دوزخ اور به هغه څيز مات رامات کړی په دې وجه ئې نوم حطمة کيخودلې شو.﴿ وما ادراک ما الحطمة ﴾ د دې استفهام نه د دوزخ ويره ښکاره کول مقصد دې يعنی تاسو د دوزخ سخت والې نه پيژنئ د هغې سخت والې د تصور نه بهر دې.﴿ نار الله الموقـدة ﴾ هغه د الله پاک اور دې د الله پاک طرف ته نسبت کولو سره ئې د هغه اور نور هم شدت بيـان کړو بيا ئې د نور زيات شدت د بيان دپاره الموقـدة چـه هغـه د دوزخ اور ښـه بـل کـړې شـوې دې.ابـوهريره رضی الله عنه فرمائی چه د دوزخ اور سل کاله ګرم کړې شو تر دې،چه سور شو بيا

سل کاله بل کړي شو تر دي سپين شو بيا سل کاله بل کړي شو تر دي چه تور شو اوس هغه تور دي.﴿ التی تطلع علی الافئدة ﴾ دا هم د اور صفت دي په دي سره د نور شدت اظهار دي چه هغه د دوزخ اور به زړونو ته ورسيږی او زړونه به سيزی.(مظهری ملخصا)

سوال: دا خو په هر اور کښې وی چه هغه زړونو ته ورسيږی چه کله يو څيز اور ته لاړ شی نو اور خو د هغه ټول اجزاء اوسيزی نو بيا د دوزخ د اور سره دا په خصوصی طور سره ولې ذکر کړې شو؟

جواب: د دنيا اور چه کله د انسان بدن ته اورسيږی نو زړه ته د رسيدلو نه مخکښې په انسان باندې مرګ راشی.او په آخرت کښې خو به مرګ نه راځی نو هلته به په ژوندی حالت کښې اور د هغه زړه سوځوی او هغه به خپله د هغې تکليف او درد محسوسوی.

﴿ انها عليهم موصدة ﴾ هغه اور به په دوی باندې بند کړې شی.يعنی د دوزخ دروازې به بندې وی او د اور نه د وتلو به هيڅ لار نه وی چه د هغې په وجه باندې به د دوزخ په تاؤ کښې نوره هم اضافه اوشی.﴿ فی عمد ممددة ﴾ مقصد دا دې چه دا دوزخيان به په اوږدو اوږدو ستنو پورې تړلې شی چه يو خوا بل خوا او نه تختی هغه ستنې به يا د اوسپنې وی يا د اور (مظهری) اعاذنا الله منها.

سورة الفيل مكية

آياتها: ٥	بسم الله الرحمن الرحيم	ركوعها: ١

﴿ أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصْحَٰبِ ٱلْفِيلِ ۝ أَلَمْ يَجْعَلْ

كَيْدَهُمْ فِي تَضْلِيلٍ ﴿٢﴾ وَأَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا أَبَابِيلَ ﴿٣﴾ تَرْمِيهِم بِحِجَارَةٍ مِّن سِجِّيلٍ ﴿٤﴾ فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَّأْكُولٍ ﴿٥﴾ ﴾

ترجمه: آيا ته نه ګورې چه څه اوکړل ستا رب د هاتي والو سره.آيا د هغوی مکر او فريب ئې خراب نه کړو؟ او راوليږل الله پاک په هغوی باندې مارغان سيلونه سيلونه،ويشتل ئې هغوی په قرط کانړو باندې پس کړل الله پاک هغوی داسې لکه خوړلې شوې ګيا يا بوس.

حل المفردات: الفيل هاتی جمع ئې افيال يا فيول راځي... تضليل د باب تفعيل نه ګمراه کول طيرا مرغئ جمع ئې طيور راځي د يو قول مطابق طير خپله جمع ده.

ابابيل د دې لفظ په باره کښې د اهل لغت څو اقوال دی:

(١)فراء نحوی فرمائی چه دا جمع ده خو﴿ لا واحد له من لفظ ﴾ معنی د مارغانو سيلونه،(٢) ابوعبيده فرمائی دا جمع ده د دې مفرد ابالة راځي چه معنې ئې ده لوئې سيل.

(٣) د امام کسائی قول دا دې چه د دې مفرد ابول دې (۴)د بعضو په نزد ابيل دې (۵) د بعضو په نزد ابل دې ....ترمی واحده مونثه غائبه مضارع د باب (ض) نه ويشتل (مظهری)حجارة جمع ده د دې مفرد حجر راځي په معنی د کانړی سجيل په معنی ده کانړی تيکرې هغه خاوره چه په اور پخه شی نو هغه کلکه او د کانړی په شان شی.(عصف) د پتی پانړې دلته ترې مراد ګيا بوس دی ماکول واحد مذکر اسم مفعول د باب (ن) خوراک.

حل التركيب: ﴿ الم ترکيف فعل ربک باصحب الفيل ﴾ همزه د پاره د

استفهام لم تر فعل او فاعل کیف مفعول فیه دپاره د فعل،فعلَ فعل ربک مضاف مضاف الیه فاعل با حرف جار اصحب مضاف الفیل مضاف الیه بیا دا متعلق په فعل پورې کیدو دا جمله محلا منصوب مفعول به دې د لم تر.بیا دا جمله فعلیه انشائیه شوه.

﴿الم یجعل کیدهم فی تضلیل وارسل علیهم طیرا ابابیل ترمیهم بحجارة من سجیل﴾ همزه دپاره د استفهام،لم یجعل فعل هو ضمیر فاعل کیدهم مضاف مضاف الیه یو ځائې کیدو سره مفعول به فی تضلیل جار مجرور یو ځائې کیدو سره متعلق په کائنا پورې مفعول ثانی شو،فعل سره د فاعل او سره د دواړو مفعولینو جمله فعلیه خبریه کیدو سره معطوف علیه،واؤ عاطفه ارسل فعل هو ضمیر فعل علیهم جار مجرور متعلق په ارسل پورې.طیرا موصوف ابابیل صفت اول ترمی فعل هی ضمیر فاعل هم ضمیر مفعول به با جاره حجارة موصوف من جاره سجیل مجرور جار سره د مجرور نه ظرف مستقر په کائنة پورې متعلق کیدو سره صفت دې دپاره د حجارة،موصوف سره د صفت نه مجرور شو دپاره د جار،جار سره د مجرورنه متعلق شو په ترمی فعل پورې،بیا دا جمله کیدو سره صفت ثانی دې دپاره د طیرا یا حال دې بیا موصوف صفت یو ځائې کیدو سره مفعول به دې د پاره د ارسل فعل بیا دا جمله کیدو سره معطوف معطوف علیه سره د خپل معطوف نه جمله معطوفه انشائیه شوه.

﴿فجعلهم کعصف ماکول﴾ فا عاطفه یا نتیجیه جعل فعل هو ضمیر فاعل هم ضمیر مفعول اول کاف جاره عصف موصوف

ماكول صفت بيا دا مفعول ثاني دپاره د جعل يا متعلق په بيا دا جمله فعليه شوه.

تفسير: نوم : سورة الفيل

ربط: په تيرسورة كښ د انسان د ځو بدو اخلاقو ذكر كولو سره د هغه د اخروري سزا ذكروو په دې سورة كښ د دنياوى سزابيان دې چه كله كله په دنيا كښ هم سزا وركولې شى لكه چه ابرهه ته وركړې شوه.

شان نزول: په دې سورة كښ د اصحاب الفيل مختصر واقعه بيان كړې شوه.

واقعه:......دا واقعه د رسول اللهﷺ د پيدائش نه ځو ورځې مخكښ پيښه شوې وه د بعضو علماء كرامو د قول مطابق پنځوس ورځې مخكښ، د بعضو په نزد پنځه پنځوس ورځې مخكښ، د بعضو په نزد څلويښت ورځې او د بعضو په نزد يو مياشت د پيدائش نه مخكښ تفسير حقاني والاليكى چه په كوم كال دا واقعه پيښه شوه هم په هغه كال كښ يو مياشت او پنځه ويشت ورځې پس رسول اللهﷺ پيدا شو.(حقانى ص٢٤٧ ج ٨) محدثينو دا واقعه د رسول اللهﷺ په معجزاتو كښ شمير كړې ده خو چونكه د معجزې قانون دا دې چه هغه د نبى د نبوت نه پس د هغه د تصديق دپاره ښكاره كولې شى د نبوت نه مخكښ يا د نبى د پيدائش نه مخكښ چه بعض وخت كوم واقعات يا نخښې د عادت خلاف ښكاره كيږى هغه بعينه معجزه نه وى بلكه د معجزې په شان وى د محدثينو په اصطلاح كښ دې ته ارهاص وائى ارهاص د رهاص نه مشتق دې د دې معنى بنياد كيخودل دى دا واقعه هم د ارهاصاتو نه ده.

د دې تفصيل علامه ابن كثير رحمه الله داسې نقل فرمائيلي دي چه په ملک يمن باندې د حمير د بادشاهانو قبضه وه دا مشركان خلق وو د هغوى آخرى بادشاه ذونواس وو كوم چه ډير ظالم وو هغه د هغه وخت نصارى كوم چه اهل حق وو او صرف د الله پاک عبادت ئې كولو په هغوى باندې ډير ظلم اوكړو هم هغه اوږدۀ او پلن خندقونه ويستلو سره په هغې كښې اور واچولو او اهل حق نصرانيان كوم چه د بت پرستۍ خلاف وو هغه ئې پكښې اوسوزول چه د هغوى تعداد تقريبا شل زره وو د هغه واقعه په سورة بروج كښې تيره شوې ده په دوى كښې دوه سړى په تيز رفتار آسونو باندې سوريدلو سره په تختيدلو كښې كامياب شو هغوى د شام ملک قيصر ته ورغلل او فرياد ئې اوكړو او د ذونواس ظلمونه ئې بيان كړل هغه د حبشې بادشاه ته خط اوليكلو چه تاسو د دې ظالم نه د ظلم انتقام واخلئ هغه خپل عظيم لښكر د دوو كمانډرانو ارباط او ابرهه په قيادت كښې يمن ته روان كړل هغه زبردسته حمله كولو سره يمن د قوم حمير د قبضې نه خلاص كړو ذونواس تختيدلو سره په درياب لاهو شو او د آس سره غرق شو بيا د ارباط يا رباط او ابرهه په خپل مينځ كښې جنګ شروع شو او ارباط قتل شو ابرهه د يمن د ملک ګورنر جوړ شو چه كله هغه ته پته اولګيده چه د يمن خلق د حج كولو دپاره بيت الله ته ځى او د بيت الله ډير احترام دې نو هغه په دارالحكومت صنعاء كښې يو ډيره لويه ګرجا جوړه كړه چه د هغې اوچتوالي دومره زيات وو چه د هغې په څوكه باندې لاندې ولاړ انسان نظر نه شو اچولې بيا ئې هغه د سرو سپينو او جواهراتو سره ښكلې كړو د دې ګرجې مثال په دنيا كښې نه وو دا هغۀ په دې وجه تعمير كړې وه چه

عرب خلق د دې د شان او شوکت نه مرعوب کیدو سره د خانه کعبې په خائې دې ته متوجه شی او هم د دې طواف کوی خو په عرب کښې اګر چه شرک او بت پرستی غالب شوې وه خو د هغې باوجود په هغوی کښې د ابراهیم علیه السلام دین او د کعبة الله عظمت او مینه پیوست وه په دې وجه چه کله هغوی د دې ابرهه د شرارت په باره کښې واوریدل نو د عربو قبائل عدنان، قحطان، او قریشو کښې د غصې اثرات پیدا شو تردې چه په دوی کښې یو کس د شپې ورتلو سره هلته متیازې اوکړې او په ګندګئ ئې ککړه کړه د بعضو روایاتو مطابق یو مسافره قبیله د شپې په وخت دې ګرجې سره اودریده او اور ئې بل کړو او اور په ګرجا کښې اولګیدو چه په هغې سره هغې ته سخت نقصان اورسیدو ابرهه ته خبر ورکړې شو او دا خبر هم ورکړې شو چه دا کار چا قریشی کړې دې نو هغه ډیر زیات غصه شو او هغه قسم اوخوړو چه زه به بدله اخلم داسې چه د کعبې به ښخته ښخته ورانه کړم ابرهه تیاری شروع کړه او د حبشې د بادشاه نه ئې اجازت واخستلو. هغه نه صرف دا چه اجازت ورکړو بلکه خپل خاص هاتی ډیر لوئې چه د هغه څۀ مثال نه وو چه د هغه نوم محمود وو هغه ئې هم ابرهه ته حواله کړو چه په هغه باندې سوریدلو سره په کعبة الله باندې حمله اوکړی او د دې نه علاوه ئې اتۀ هاتیان نور هم روان کړل چه د کعبة الله په غورځولو کښې د دې نه امداد واخستلې شی او منصوبه دا وه چه د بیت الله په ستنو کښې به د اوسپنې مضبوط زنځیرونه تړلو سره هغه زنځیرونه د هاتیانو په ستونو کښې واچولې شی بیا به هاتیانو ته منډه ورکړې شی نو نعوذبالله ټوله کعبه به فورا په زمکه راپریوځی. په عربو کښې چه کله د دې حملې خبر اورسیدۀ نو

ټول عرب غصه شو او د مقابلې دپاره تيار شو خپله په يمن کښې اوسيدونکی عرب حضرات د ذونفر نومې سړی په قيادت کښې د مقابلې دپاره تيار شو او د هغه د لښکر سره ئې جنګ اوکړو خو ماتې ئې اوخوړه ذونفر قيد کړې شو بيا مخکښې روان شو د قبيله خثعم خلق د خپل سردار نفيل بن حبيب په قيادت کښې مقابلې ته راغلل هغوی هم ماتې اوخوړه او نفيل قيد کړې شو.

کله چه دا لښکر طائف ته اورسيدلو نو قبيله ثقيف د مقابلې نه کولو فيصله اوکړه ځکه چه هغوی د ابرهه د فتح واقعات اوريدلې وو هغوی د ابرهه سره فيصله اوکړه چه تاسو زمونږ بت خانه مه چيړئ مونږ به تاسو سره تعاون کوو بلکه ستاسو د رهنمائئ دپاره خپل يو سردار ابورغال تاسو سره ليږو ابرهه په دې باندې راضی شو دا لښکر تلو سره مکې مکرمې ته نزدې يو مقام مغمس ته اورسيدو هلته تلو سره دوی پړاؤ واچولو هلته د مکې د قريشو اوښان څريدل د ابرهه لښکر د ټولو نه اول په هغوی باندې حمله کولو سره هغه اونيول په هغې کښې دوه سوه اوښان د قريشو د سردار د رسول الله ﷺ د نيکهٔ وو.د دې نه پس ابرهه خپل يو سفير حناطه حميری ښهر ته اوليږلو چه هغه د قريشو سردارانو ته اووائی چه مونږ جنګ کولو دپاره نه يو راغلې بلکه زمونږ مقصد د کعبې راغورځول دی که تاسو بنديز نه جوړيږئ نو تاسو ته به هيڅ نقصان نه در رسيږی حناطه چه کله ښهر ته داخل شو نو ټولو هغه ته عبدالمطلب سره د ملاويدو دپاره مشوره ورکړه چه زمونږ لوئې سردار هم هغه دې.حناطه عبدالمطلب ته اورسيدلو او د ابرهه پيغام ئې ورکړو عبدالمطلب دا جواب ورکړو چه مونږ هم د ابرهه سره د جنګ اراده نه لرو او نه مونږ

سره د هغه د مقابلې طاقت شته خو زه دا خبره تاسو ته کوم چه دا د
الله پاک کور او د هغه د خليل ابراهيم عليه السلام جوړ کړې دې هغه خپله د
دې د حفاظت ذمه دار دې او که تاسو د الله پاک سره مقابله کول
غواړئ نو بيشکه اوکړئ بيا اوګورئ چه الله پاک تاسو سره څۀ
معامله کوي. حناطه عبدالمطلب ته اووې نو تاسو ما سره لاړ شئ زه
به د ابرهه سره ستاسو ملاقات اوکړم عبدالمطلب چه کله ابرهه ته
اورسيدو نو چونکه عبدالمطلب ډير اوچت قد والا او ښکلې ځوان وو
نو ابرهه د هغوی په ليدو باندې د تخت نه کوزيدو سره په زمکه
باندې کيناستلو او عبدالمطلب ئې ځان ته مخامخ کينولو بيا ئې
ترې د خپل ترجمان په ذريعه تپوس اوکړو چه په څه غرض باندې
راغلې ئې. هغه اووې زما ضرورت خو صرف دومره دې چه زما اوښان
واپس کړئ. ابرهه اووې چه کله ما تاسو اول ځل اوليدئ نو زما په زړه
کښې ستاسو احترام او عزت پيدا شو خو ستاسو دې خبرې اوريدو
سره ټول احترام ختم شو وجه دا ده چه زه ستاسو کعبه کوم چه ستاسو
مرکز دې راغورځولو دپاره راغلې يم تاسو د هغې متعلق هيڅ خبرې
اونکړې بس د خپلو اوښانو متعلق مو خبره اوکړه. عبدالمطلب
عجيبه جواب ورکړو چه اصل خبره دا ده چه زه د اوښانو مالک يم په
دې وجه ما سره د دوی فکر شو او د دې مطالبه مې اوکړه پاتې شوه
کعبة الله نو د هغې زه مالک نه يم نه ما سره د هغې څۀ فکر شته د
هغې مالک يو عظيم ذات دې هغه د خپل کور حفاظت ښه کولې شي
ابرهه اووې نعوذبالله ستا رب به هغه زما د لاس نه بچ نه کړې شي
عبدالمطلب اووې بيا تاسو ته اختيار دې چه څه کوئ هغه اوکړئ
ابرهه د عبدالمطلب اوښان واپس کړل هغه د اوښانو سره واپس راغلو

او د قریشو د یو لوئي جماعت سره کعبة الله ته داخل شو او ډیر په ژړا او فریاد سره د بیت الله د دروازې حلقه نیولو سره دعا اوکړه او اشعار ئې اووې او وې وئیل یا الله مونږ د دې ظالم مقابله نه شو کولې پس ته خپله د خپل کور د حفاظت انتظام اوکړه د ئې دعا کولو نه پس عبدالمطلب صاحب د مکې خلقو سره مختلفو غرونو ته لاړل ځکه چه د هغوی یقین وو چه د ابرهه په قوم باندې به څه عذاب ضرور داخلیږی چه سحر شو نو ابرهه په کعبه باندې د راختلو تیاری اوکړه او خپل هاتهی محمود نومې ته ئې د وړاندې تلو اووې نفیل بن حبیب کوم چه په لاره نیولې شوې راوستلې شوې وو هغه مخکښې تلو سره د هاتهی په غوږ کښې اووې ته چه د کوم ځائې نه راغلې ئې هم هلته صحیح سالم لاړ شه ځکه چه ته د الله پاک په بلد آمین کښې ئې په دې وینا سره ئې د هغه غوږ پریخودلو، هاتهی په دې اوریدو سره کیناستلو هاتهیانو والا هغه پاسول روانول غوښتل خو هغه د خپل ځائې نه پا نه سیدلو هغه د اوسپنې په ډیرو وسلو باندې اوهلې شو په پوزه کښې ورته د اوسپنې کړئ واچولې شوه خو ټول کوششونه ناکامه ثابت شو هغه د یمن طرف ته روان کړې شو نو روان شو د شام طرف ته هم باقی به هر طرف ته تلو خو د بیت الله طرف ته نه تلو، یو خو د الله پاک دا یو قدرت ښکاره شو. دویم دا چه د سمندر (د جدې) د طرف نه د مرغو څۀ سیلونه راښکاره شو چه د هغوی سره درې کانړی وو کوم چه د چنړې یا د مسور برابر وو یو په خوله کښې او دوه پنجو کښې او په ټول لښکر باندې خورې شوې او دا کانړی ئې په هغوی باندې غورځول شروع کړل یو یو کانړی هغه کار اوکړو کوم چه د مشین ګولئ هم نه شی کولې، په هغه کانړو کښې د زهرو بارود وو چا

ته چه به لګیدل د هغه په بدن باندې به پولۍ راختلې په بدن کښې به ئې زهر خواره شو په چا چه به لګیدل نو په سر کښې دننه کیدو سره به ترې په لاندې اړخ اووتل او په زمکه کښې به ښخ شو دې عذاب لیدو سره ټول هاتیان یو خو بل خوا اوتختیدل پوره لښکر یو خوا بل خوا لاړو چا ته هم پته نه وه چه کوم خوا روان دې الله پاک ټول لښکر په موقع باندې هلاک نه کړو بلکه دوی په لار کښې ټکړې ټکړې کیدو سره غورځیدل ابرهه ته چونکه سخته سزا ورکول وو په دې وجه فورا هلاک نه شو بلکه زهر د هغه په بدن کښې خوارۀ شو او یو یو اندام ئې ورستیدو سره غورځیدو.د بعض مفسرینو مطابق په لار کښې د خثعم په مقام باندې هلاک شو او د بعض مفسرینو مطابق هغه ملک یمن ته راوستلې شو خو د هغه حال (بدن) داسې شوې وو لکه څنګه چه چرګوټې وی د هغه ټول بدن ټوټې ټوټې کیدو سره اوبهیدو او مړ شو.بعض حضراتو لیکلی دی چه محمود هاتهی ژوندې بچ شوې وو د هغه دوه ساتونکی کومو چه هغه پاسول غوښتل هغوی هم په مکه مکرمه کښې پاتې شوی وو خو دواړه ړانده او شل شو،عائشه او اسماء رضي الله عنهما دواړه فرمائی چه مونږ هغوی په خیر ټولولو باندې اولیدل دغه شان الله پاک د خپل قدرت کامله نظاره ښودلو سره په وړو وړو مرغو باندې یو لوئې لښکر تباه کړو.

د وقوع تاریخ: دا واقعه په روایت د ابن عباس رضي الله عنهما په دویشتم (۲۲) محرم د اتوار په ورځ پیښه شوې وه.(مظهری)

﴿الم تر کیف فعل ربک باصحب الفیل﴾ استفهام تقریری دې معنی دا ده چه آیا تا وو نه کتل چه ستا رب د هاتهیانو والا سره څومره بد سلوک اوکړو.

سوال: دا واقعه خو د رسول اللهﷺ د پیدائش نه مخکښې پیښه شوې ده نو الله پاک څنګه فرمائی چه تا او کتل؟

جواب: (۱) الم تر په معنی د الم تعلم دې رویت علمی مراد دې یعنی تاسو د دې واقعې نه خبر یئ. (۲) کله یو واقعه ډیره زیاته مشهوره شی او عامو خلقو هغه لیدلې نه وی چونکه هغه واقعه یقینی وی په دې وجه د هغې نه په رؤیت یعنی لیدو سره تعبیر کولې شی. (۳) یا په حقیقت باندې حمل دې ځکه چه رسول اللهﷺ څه اصحاب الفیل په خپلو سترګو لیدلې وو لکه چه تیر شوی دی روند او شل اولیدې شو نو آثار ئې لیدلې وو. (معارف)

﴿ الم يجعل كيدهم فی تضليل ﴾ دا جمله د کیف فعل تفسیر دې مقصد دا دې چه آیا الله پاک د هغوی مکر او تدبیر لره غلط نه کړو یقینا غلط ئې کړو چه کومه هغوی منصوبه جوړه کړې وه کومه چه د هغوی په زړونو کښې وه هغه ارمان پاتې شو هغوی د هغې سره جهنم ته داخل شو.

﴿ وارسل عليهم طيرا ابابيل ﴾ دا هم د کیف فعل تفسیر دې چه الله پاک هغوی ته د سزا ورکولو د پاره مارغانو لره (چه یو خاص قسم وو) راولیږل چه د ټولګو په شکل کښې به سیلونه سیلونه راتلل.

تنبیه: دلته د ابابیل معنی ده سیلونه سیلونه د ابابیل نه مراد دلته هغه مرغۍ نه ده کومه چه په اردو ژبه کښې مشهوره ده (یا ورته په پښتو کښې توتکرې وائی) چه د مرغۍ په شان وی بلکه د واقدیؒ په روایت کښې دی چه دا مرغۍ عجیبه قسم وې چه د دې نه مخکښې نه دی لیدې شوې او په بدن کښې د کونترې نه ورې وې او داسې جنس

وو چه د دې نه مخکښې نه وې ليدې شوې.(معارف)

﴿ ترميهم بحجارة من سجيل ﴾ هغه مارغانو به په هغوی باندې کاڼړی راویشتل چه پاخه وو د ټيکری په شان.

فائده: د لفظ سجیل په باره کښې ډیر اقوال دی: (۱) دا معرب دې د سنگ گل نه سنگ په معنی د گاڼړی او گل معنی خاوره نو مقصد به دا وی چه هغه خاوره چه په اور کښې پخولو سره کلکه کړې شی نو په دې کښې به اشاره وی چه دا کاڼړی دومره مضبوط نه وو صرف د معمولی ختې او اورنه جوړ وو. (۲) سجیل په اصل کښې سجين وو نون په لام سره بدل کړې شو سجين هغه ځائې کوم ځائې چه د کفارو ارواح دی نو بيا به مقصد دا وی چه دا کاڼړی څه معمولی نه وو بلکه د سجين نه راوړلې شوې وو کوم ځائې چه د کفارو روحونو ته عذاب ورکولې شی. (۳) سجیل د سجل نه مشتق دې چه معنی ئې ده ليکل یا لیکلې شوې څيز دیا دفتر بیا به ئې مقصد دا وی چه هغه کاڼړی داسې وو چه په ازل کښې د دې بدبختو دپاره لیکلې شوې وو په هر کاڼړی باندې ليکلې شوې وو چه دا د فلانی د فلانی څوی دپاره دې.(حقانی)

﴿ فجعلهم كعصف ماكول ﴾ مقصد دا چه الله پاک دا لښکر ټکړې ټکړې کولو سره تباه کړو څنګه چه خوړلې شوې گیا بالکل ذره ذره وی په دې آیت کښې د هغوی د هلاکت د سخت والی بیان دې اول خپله بوس د ټکړو په شان کښې منتشر وی بیا چه کله څناور هغه اوخوری نو بالکل میده شی د هغوی صورت هم څه دغه شان وو چه د هغوی جوړونه بالکل ذره ذره کیدو سره غورځیدلې وو د ډکو په شان.(معارف)

فائده: د اصحاب الفیل د هلاکت نه پس په ټولو عربو کښې د قریشو عظمت زیات شو د خلقو په زړونو کښې د هغوی احترام پیدا شو او ټولو اوونیل چه دا د الله والاخلق دی الله پاک د هغوی دشمنان هلاک کړل هم دا وجه ده چه کله به نې د تجارت د پاره د مختلفو ملکونو سفرکولونو په لارکښې به چاهم دوی ته دنقصان ورکولوجرات نه کولو.

سورة القریش مکیة

رکوعها: ۱	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ	آیاتها: ٤

﴿ لِإِيلَٰفِ قُرَيْشٍ ۝١ إِۦلَٰفِهِمْ رِحْلَةَ ٱلشِّتَآءِ وَٱلصَّيْفِ ۝٢
فَلْيَعْبُدُوا۟ رَبَّ هَٰذَا ٱلْبَيْتِ ۝٣ ٱلَّذِىٓ أَطْعَمَهُم مِّن جُوعٍ
وَءَامَنَهُم مِّنْ خَوْفٍۭ ۝٤ ﴾

ترجمه: (مونږ هلاک کړل هاتیانو والا د پاره د مینې پیدا کولو د قریشو (د خلقو په زړونو کښې) یعنی مینه اچول د هغوی د یخنۍ او ګرمۍ په سفرکښې پس پکار ده چه عبادت اوکړی هغوی د دې کورد رب هغه ذات چه دوی ته نې خوراک ورکړو او امن نې ورکړو د ویرې نه.

حل المفردات: ایلف مصدر دې د باب افعال نه خپل مینځ کښې په مینه محبت اوسیدل په اصل کښې املاف وو په قانون د ایمان ایلاف شو، قریش تصغیر دې د قرش د باب (ض) نه د یوخوا بل خوا نه راجمع کول، قریش د عربو مشهوره قبیله ده چه د هغې په باره کښې په تیر سورة کښې خبره شوې ده د د دې د نوم کیخودلو په باره کښې

ځو اقوال دی: (١) قریش د سمندر یو ډیر بهادر ځناور دې چونکه قریش هم بهادر وو په دې وجه ورته قریش وائی. (٢) د قرش معنی جمع کول چونکه قصي بن کلاب مختلف قومونه په مکه مکرمه کښې جمع کړې وو او په هغوی کښې اتفاق د نورو قومونو په نسبت زیات وو په دې وجه د هغوی نوم قریش کیخودلې شوه. (٣) د قریش معنی کسب ګټه دې قریشو به خپله ګټه کوله لوټ مار به ئې کم کولو په دې وجه ورته نوم قریش کیخودلې شو. رحلة سفر الشتاء یخنی جمع ئې اشتية راځی الصيف ګرمی جمع ئې اصياف راځی فليعبدوا جمع مذکر امر غائب معروف د باب (ن) لوړه د باب (ن) اوړې کیدل.

حل الترکیب: ﴿ لايلف قريش ايلفهم رحلة الشتاء والصيف ﴾ لام جار ايلف مضاف قريش مضاف اليه مضاف سره د مضاف اليه نه مبدل منه واؤ عاطفه، ايلف مصدر مضاف هم ضمير مضاف اليه رحلة مضاف الشتاء معطوف عليه واؤ عاطفه الصيف معطوف، معطوف عليه سره د معطوف نه مضاف اليه شو دپاره د مضاف هغه مفعول به دې د پاره د ايلف هغه بدل دې د مخکښې ايلف نه بدل سره د مبدل منه نه مجرور شو دپاره جار جار سره د مجرور نه متعلق شو په تير سورة پورې د ﴿ فجعلهم ﴾ سره يا متعلق دې د اعجبوا فعل محذوف سره يا د ﴿ اهلكنا اصحب الفيل ﴾ سره يا د مابعد ﴿ فليعبدوا ﴾ سره.

﴿ فليعبدوا رب هذا البيت الذی اطعمهم من جوع و امنهم من خوف ﴾ ف تفريعيه ليعبدوا فعل واؤ ضمير بارز فاعل رب مضاف هذا موصوف البيت صفت، موصوف سره د صفت نه مضاف اليه شو دپاره د رب، مضاف سره د مضاف اليه نه موصوف

شو،الذی موصول اطعم فعل هوضمیر فاعل هم ضمیر مفعول بـه من جـوع جـار مجـرور متعلـق،دا جملـه کیـدو سـره معطـوف علیـه واؤ عاطفه امنهم من خوف فعل فاعل معفول جار مجرور یو ځاني کیدو سـره معطوف،معطـوف علیـه سـره د معطـوف نـه صـله د موصـول، موصول سره د صلې نه صفت دې دپاره د رب موصـوف سـره د صفت نه مفعول به دې دپاره د فلیعبدوا بیا دا جمله انشائیه شوه.

تفسیر: نوم سورة القریش.....د اکثر مفسرینو په نزد دا مکی دې د بعضو په نزد دا مدنی دې.

ربط: په تیر سورة کښې په.قریـشو باندې د یو انعـام ذکر وو چه مونږ ستاسو دشمن کوم چه ستاسو کور تـه رارسیدلې وو په خپـل قـدرت سـره هـلاک کـړل پـه دې سـورة کښې د هـم هغـه انعـام ذکـر کولـو سـره قریشو ته د شکر ادا کول حکم فرمائی چه د شکر په طور د خپـل رب عبادت کوئ.که غور اوکړې شی نو د مضمون په اعتبار سره د دې سورة د مخـکښې سـورة سـره ډیـر ژور ربـط دې ځکـه چـه پـه دې سـورة کښې د اصحاب الفیل د هلاکت تنیجه او ثمره بیـانیږی چه د هغـوی د هلاکت نتیجه دا راووتلـه چـه پـه ټـول ملکونـو د عربـو کښې د قریـشو عظمت نور هم زیات شو خلقو د هغوی سره مینـه شـروع کـړه چـه دا د الله والاخلـق دی د الله پـاک د کـور خادمـان دی هـم د دې ژور ربـط د وجـې نـه بعـض صـحابه کـرام رضی الله عنهم دا دواړه سـورتونه یـو ګنـړی خـو عثمـان رضی الله عنه چـه کله پـه خپلـه زمانـه کښې ټول مـصحفونه د قـرآن کـریم جمع کولو سره یو نسخه تیـاره کـړه نو پـه هغـې کښې ئې دا دواړه بیـل بیـل اولیکل او په مینځ کښې ئې بسم الله اولیکله.(معارف)

د ﴿ لایلف قریش ﴾ مقصد دا دي چه مونږ د قریشو د مینې دپاره چه د خلقو زړونه هغوی ته مائل شی او د هغوی سره مینه شروع کړی اصحاب الفیل هلاک کړل د دې آیت نه معلومه شوه چه د قریشو قبیله د الله پاک په نزد د ټولو عربو قبائلو نه زیاته محبوبه او مقبوله ده د دې د مقبولیت وجه دا ده چه دا د اسماعیل علیه السلام د اولاد نه دی بیا ئې هم د دې نه سید الانبیاء ﷺ پیدا کړو او د کفر او شرک او د جهالت په دور کښې هم د دوی بعض اخلاق او عادتونه ډیر اعلی وو او په دوی کښې د حق قبلولو استعداد ډیر کامل وو هم په دې وجه د صحابه کرامو رضی الله عنهم او اولیاء الله زیات تعداد او اکثریت د قریشو سره تعلق لری رسول الله ﷺ فرمائی الله پاک د اولاد اسمعیل نه کنانه او په کنانه کښې قریش لره او په قریش کښې بنوهاشم لره او په بنوهاشم کښې زه منتخب کړم، په یو بل حدیث کښې دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ټول سړی په خیر او شر کښې د قریشو تابع دی. (مظهری)

﴿ ایلفهم رحلة الشتاء والصیف ﴾ دا د ماقبل نه بدل دې او هم د دې تیرشوی آیت تفسیر دې چه هم د دې اصحاب فیل د هلاکت د وجې نه د قریشو هغه دوه سفرونه کوم چه به هغوی په ګرمئ او یخنئ کښې کول آسان شو اوس به ئې بغیر د ویرې او خطرې نه تجارت کولو دا خو معروف خبره ده چه مکه مکرمه په یو داسې مقام باندې ده چه هلته نه زمینداری کیدشی نه کرونده او نه باغونه، بې اوبو او بې ګیاه هغه په غرونو کښې پریوتلې ښهر هم په دې وجه خو د بیت الله بانی ابراهیم خلیل الله علیه السلام دا دعا اوفرمائیله ﴿ وارزق اهله من الثمرات ﴾ یا الله دې ښهر والاته رزق ورکړه د میوو نه ﴿ یجبی الیه

ثمرات کل شئ ﴾ د بهر نه دې هر قسم میوې دلته راوړې شی هم په دې وجه د مکې خلق په دې مجبور وو چه د خپل معاش د پاره د نورو ملکونو سفر اوکړی د هغوی سره تجارت اوکړی او د خپلو ضروریاتو د نورو ملکونو نه انتظام اوفرمائی.هم دا خبره ابن عباس رضی الله عنهما بیان فرمائی چه د مکې خلق په ډیره تنګسیا او غریبئ کښې وو تر دې چه د رسول الله ﷺ نیکهٔ هاشم قریش دې ته تیار کړل چه هغوی د نورو ملکونو سره تجارت اوکړی پس قریش تیار شو دوی به په کال کښې دوه سفرونه کول په ژمی کښې د یمن او د اوړی په زمانه کښې به ئې د شام ځکه چه هغهٔ یخ ملک وو او په دواړو سفرونو کښې به ئې ښه تجارتی ګټه کوله چونکه دا خلق د بیت الله خادمان وو نو په دې وجه به خلقو د زړه نه د دوی احترام کولو او دوی به د هر خطرې نه محفوظ وو.بیا نور د الله پاک احسان دا اوشو چه مکې مکرمې ته نزدې علاقې تباله او حرش ئې دومره زرخیزه او شنه جوړه کړه چه هغوی به زیاتی غله جدې ته راوړلو سره خرڅوله اوس به به قریشو هم د دې ځائې نه غله اخستله د یمن او د شام د ملکونو د سفر زحمت هم ختم شو الله پاک په دې آیت کښې قریشو ته هم دا انعامات وریادوی.(معارف)

﴿ فلیعبدوا رب هذا البیت ﴾ د انعامات ذکر کولو نه پس الله پاک د هغوی د شکر ادا کولو دپاره په خصوصی طور سره خطاب کولو کښې دا هدایت فرمائی چه د کوم بیت الله د وجې نه په پوره دنیا کښې ستاسو شان او عظمت دې هم د دې بیت الله د مالک او د رب عبادت کوئ او د چا مخکښې هم مه ښکته کیږئ.

﴿ الذی اطعمهم من جوع و امنهم من خوف ﴾ په آیت کریمه کښې الله پاک بیا د دوه خصوصی نعمتونو ذکر کولو سره قریش عبادت طرف ته توجه فرمائی : (۱) اطعام یعنی دا د الله پاک خومره لوئي نعمت دي چه د خوراک څکاک ټول ضروریات ئې درته پوره کړل.

(۲) امن: الله پاک ستاسو ښهر مکه مکرمه د امن ځائګو جوړه کړه هیڅ انسان دلته د فساد او قتال جرات نه شی کولې او د سکون د ژوند تیرولو دپاره دا دواړه څیزونه ډیر ضروری دی. د دې آیت نه معلومه شوه چه کوم انسان د الله پاک عبادت کوی الله پاک به هغه ته دواړه نعمتونه ورکوی او که مخ اړوی نو رزق او امن به ترې دواړه اخلی لکه څنګه چه ﴿ وضرب الله مثلا قریة کانت امنة..........الی قوله فکفرت بانعم الله فاذاقها الله لباس الجوع والخوف ﴾ دا آیت هم په دې مضمون باندې دلالت کوی.

عظیمه فائده: ابوالحسن قزوینی رحمه الله فرمائی چه کوم سړی ته د دشمن یا د خه بل مصیبت ویره وی هغه دې سورة ایلف اولولی دا د هغه دپاره امان دې علماء کرامو دې ته مجرب وئیلې دی.(معارف)

سورة الماعون مكية

آیاتها:۷	بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ	رکوعتها:۱

﴿ أَرَءَيْتَ ٱلَّذِى يُكَذِّبُ بِٱلدِّينِ ۝١ فَذَٰلِكَ ٱلَّذِى يَدُعُّ

ٱلْيَتِيمَ ۝٢ وَلَا يَحُضُّ عَلَىٰ طَعَامِ ٱلْمِسْكِينِ ۝٣ فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّينَ

﴿٤﴾ ٱلَّذِينَ هُمۡ عَن صَلَاتِهِمۡ سَاهُونَ ﴿٥﴾ ٱلَّذِينَ هُمۡ يُرَآءُونَ ﴿٦﴾ وَيَمۡنَعُونَ ٱلۡمَاعُونَ ﴿٧﴾﴾

ترجمه: آيا تا هغه سړې ليدلې دې چه دروغ وائی جزا ته... پس دا هم هغه دې چه يتيم ته ديکې ورکوی... اومسکين ته په خوراک ورکولو باندې ترغيب نه ورکوی... پس هلاکت دې د مونځ گزارو دپاره..... هغه خلق چه د خپل مانځه نه نا خبره دی... هغه خلق چه رياکاری کوی او منع کوی لږ شان څيز (يا زکواة) لره.

حل المفردات: يدع صيغه د غائب مضارع د باب (ن) په طاقت سره ديکه ورکول ولا يحض واحد مذکر غائب مضارع منفی د باب (ن) نه تيارول ترغيب ورکول ساهون جمع مذکر اسم فاعل په اصل کښ ساهيون وو د بابه (ن) نه غافل کيدل هيرول، يرآءون جمع مذکر غائب مضارع معروف په اصل کښ يرآئيون وو د يا ضمه نقل کولو سره همزه ته ورکړې شوه يا د اجتماع ساکنين دوجې نه اوغورځيدله د باب (مفاعله) نه رياکاری کول. الماعون الشئ القليل لږ شان څيز د کور هغه څيز چه د هغې نه خپله هم فائده اوچتولې شی او نورو ته هم د سوال په طور ورکولې شی لکه ديگچې چمچه چاړه وغيره د زکواة په معنیٰ کښ هم راځی.

حل التركيب: ﴿ارايت الذی يکذب بالدين﴾ همزه دپاره د استفهام راءيت فعل اوفاعل الذی اسم موصول يکذب فعل هوضمير فاعل بالدين جار مجرور متعلق، بيا دا جمله صله شوه دپاره د موصول، موصول سره د صله نه مفعول به شو دپاره د راءيت. بيا دا جمله انشائيه شوه.

﴿ فذلک الذی یدع الیتیم ولا یحض علی طعام المسکین ﴾ فا جزائیه او شرط به محذوف وی ﴿ ان تاملته ﴾ ذلک اسم اشاره مبتدا الذی اسم موصول یدع فعل هو ضمیر فاعل الیتیم مفعول به،بیا دا جمله کیدو سره معطوف علیه،واؤ عاطفه لایحض فعل هو ضمیر فاعل علی طعام جار مجرور مضاف الیه یو ځائې کیدو سره متعلق په لایحض پورې،بیا دا جمله معطوف شوه دپاره د معطوف علیه،بیا صله شوه دپاره د موصول صله سره د موصول نه خبر دې دپاره د مبتدا مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه کیدوسره جزا ده دپاره د شرط محذوف....

﴿ فویل للمصلین الذین هم عن صلاتهم یحافظون الذین هم یراؤن ویمنعون الماعون ﴾ فا فصیحیه یا تتیجیه ویل مبتدا لام جاره المصلین مجرور کیدو سره موصوف یا مبین الذین موصول هم ضمیر مبتدا عن صلاتهم جار مجرور او مضاف مضاف الیه یو ځائې کیدو سره په ساهون پورې متعلق شو،ساهون صیغه د صفت د خپل فاعل سره خبر شو دپاره د مبتدا مبتدا سره د خبر نه صله شوه دپاره د موصول،موصول صله یو ځائې کیدو سره صفت اول شو یا بیان اول،الذین اسم موصول هم مبتدا یراءون فعل واؤ ضمیر فاعل فعل سره د فاعل نه جمله کیدو سره معطوف علیه،واؤ عاطفه یمنعون فعل واؤ ضمیر بارز فاعل الماعون مفعول به بیا دا جمله کیدو سره معطوف شو دپاره د معطوف علیه،معطوف سره د معطوف علیه نه خبر شو دپاره د مبتدا،مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه کیدو سره صله شوه دپاره د موصول،موصول سره د صلې نه صفت ثانی یا بیان

ثاني،موصوف سره د دواړو صفتونو نه مجرور شو دپاره د لام جاره،جار مجرور یوځائې کیدو سره ظرف مستقر متعلق په ثابت پورې کیدو سره خبر دپاره د مبتدا ،مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه شوه.

تفسیر: د سورة نوم سورة الماعون، سورة ارءیت،سورة الدین،سورة التکذیب،سورة الیتیم.

ربط: په تیر سورة کښې الله پاک خپل انعامات یادولو سره قریشو ته د خپلو احکاماتو او د عبادت ترغیب ورکړې وو په دې سورة کښې د قریشو د هغه روحانی مرضونو او رذیل اخلاقو بیان دې کوم چه د الله عبادت دپاره بندیز دې او هلاکونکی دی.

شان نزول: په دې کښې ډیر اقوال دی: (١) د عامر بن وائل سهمی په باره کښې نازل شوې دې.(٢) ولید بن مغیره (٣)د عمرو بن عامر محزومی په باره کښې نازل شوې دې.ممکنه ده د ټولو په باره کښې نازل شوې وی د الفاظو په اعتبار سره عموم دې په دې کښې د کفارو او منافقانو د څو قبیحه افعالو ذکر دې.(مظهری)

﴿ ارءیت الذی یکذب بالدین ﴾ د ټولو نه اول ئې دا صفت بیان کړې شو د جزا او د بدلې اعتقاد نه ساتل دا بده عقیده د ټولو گناهونه جړ او بنیاد دې ځکه چه کله دا عقیده وی چه زما دعملونو د تپوس والا څوک نشته زما د اعمالو به هیڅ حساب نه وی،هیڅ بدله به نه وی نو بیا انسان د زړه نه گناه کوی په دې وجه ئې اوفرمائیل آیا تا هغه سړې لیدلې دې چه د جزا ورځې ته دروغ وائی حال دا چه دا خبره یقینی ده چه انسان ته به د نیک او بد عمل سزا ملاویږی عدل

والاالله به د انسان نه ضرور تپوس کوی.

﴿ فذلک الذی یدع الیتیم ﴾ په دې کښې د کافر انسان د اخلاقي ښکته والی بیان دې چه دې داسې سخت زړه والا دې چه یتیم ته دیکې ورکوی هغه یتیم چه د هغه د سر تاج د هغه د سر سورې مهربانه پلار وفات شوې دې دا ماشوم د مینې او مهربانۍ محتاج دې دا بدبخته هغه ته دیکې ورکوی.

﴿ ولا یحض علی طعام المسکین ﴾ په دې آیت کښې هم د هغه د یو ناپاکه او رذیل عادت بیان دې که په انسان کښې خپله د غوره سلوک کولو همت نه وی نو کم از کم په ژبه دې نورو ته ترغیب ورکړی خو په هغه کښې دا ادنی درجه هم نشته نورو ته هم د مسکینانو او محتاجو سره د امداد کولو ترغیب نه ورکوی.

﴿ فویل للمصلین الذین هم عن صلاتهم ساهون ﴾ په تیرو آیتونو کښې د بندګانو د حق ضائع کولو ذکر وو په دې آیتونو کښې د الله پاک د حق ضائع کولو بیان دې او په هغې باندې وعید دې د مونځ نه غافل کید په دې وجه ئې ارشاد اوفرمائیلو چه ویل دې د هغه مونځ ګزارو دپاره چه د خپل مانځهٔ نه ناخبر دې.مونځ یو داسې عبادت دې چه په هغې کښې بدن او روح دواړه شریک دی دا داسې عبادت دې چه د زړه د حاضروالی سره اوکړې شی او روح ته داسې رڼا ورکوی چه د انسان د هر قسم ګناهونو نه نفرت پیدا شی په دې وجه په قرآن پاک کښې ارشاد دې:﴿ ان الصلاة تنهی عن الفحشآء والمنکر ﴾ دا بدبخته خلق په داسې عبادت کښې غفلت کوی.

فائده: یو ده د مانځه نه سهوه او بله د په مانځه کښې سهوه، په دې دواړو کښې فرق دې.

د مانځه نه سهوه دا ده چه په دې کښې غفلت اوکړې شی مثلاً (۱) که مرضی ئې شوه نو او ئې کړو او که مرضی ئې شوه وو ئې نه کړو (۲) په مانځه کښې سستی کول (۳) په توجه سره او د شرطونو د رعایت سره نه ادا کول، په دې آیت کښې هم دا معنی مراد ده.

په مانځه کښې سهوه یعنی په مانځه کښې دننه هیره کیدل سهوه او نسیان راتلل دا هیڅ ګناه نه ده بلکه معاف ده که سجده سهوه اوکړی نو مونځ به صحیح شی په دې آیت کښې دا معنی مراد نه دی دا قابل د وعید نه ده بلکه د احادیثو نه ثابته ده چه د رسول اللهﷺ نه هم ډیر کرته په مانځه کښې هیره شوې ده په آیت کښې ړومبۍ معنی مراد ده یعنی سستی او غفلت کوم چه د منافقانو حصلت وو. (معارف)

﴿ الذین هم یراءون ﴾ مقصد دا دې چه منافق اول خو مونځ کوی نه او که چرته ګیر شی نو بیا ریاکاری کوی د ښودنې په نیت ئې کوی او د خلوص او د الله پاک د رضا دپاره ئې نه لولی: ﴿ ویمنعون الماعون ﴾ لفظ ماعون په وزن د فاعول په معنی کښې ډیر اقوال دی: (۱) ﴿ الشئ القلیل والحقیر ﴾ لږ غوندې څیز... (۲) هغه د استعمال څیزونه کوم چه عادة یو بل ته په سوال ورکولې شی او د هغې نه ورکونکې ډیر زیات بخیل او شوم ګڼړلې کیږی مثلاً مالګه، مرچ، اوبه، کټوئ، اور او د ماچس تیلی وغیره. (۳) زکواة: که اول دوه معنی مراد شی نو بیا په دې کښې د هغوی د سپکاوی او شوم توب او

بدحال بيانول مقصود دی چه داسې بدکرداره او شومان خلق دی چه سپک او لږ شان عام د استعمال څيز هم د ورکولو دپاره تيار نه دی.که دريمه معنی مراد شي (زکواة) نو بيا به مقصد دا وی چه دوی د زکواة فريضه نه ادا کوی زکوة ته ماعون په دې وجه اوونيلې شو ځکه چه هغه هم د مقدار په لحاظ انتهائی لږ وی مفسرينو دې معنی ته ترجيح ورکړې ده ځکه چه د دوزخ د عذاب ويره ورکول په زکواة پريخودلو باندې کيديشی.(قرطبی ص ۲۱۳ ج ۲)

سورة الكوثر مكية

آياتها: ۳	بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ	رکوعتها: ۱

﴿إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ ۝١ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ ۝٢
إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ ۝٣﴾

ترجمه: بيشکه مونږ تاته کوثر درکړې دې.پس د خپل رب دپاره مونځ کوه او قرباني کوه.بيشکه ستا دشمن هم هغه دې.

حل المفردات: اعطينا جمع متکلم ماضی د باب افعال نه الکوثر په وزن د فوعل د کثرت نه مشتق دې د مبالغې دپاره دې عربو به هر ډيرڅيز ته کوثر وئيل.فصل واحد مذکر امر حاضر په اصل کښ صلی وو يا د وقف د وجې نه اوغورځيده وانحر واحد مذکر امر حاضر د باب(ف) ذبح کول قرباني کول شانئک واحد مذکر اسم فاعل د باب (ف،س) بغض کول دشمنی کول ابتر واحد مذکر اسم تفضيل لکئ پرې کړې شوې،بې اولاده،د باب (ن) نه په معنی د (س) پريکول.

حل التركيب: ﴿ انآ اعطينک الكوثر ﴾ ان حرف د حروف مشبه بالفعل نه نا ضمير اسم اعطينا فعل او فاعل كاف ضمير مفعول اول الكوثر مفعول ثانی بيا دا جمله خبر شو دپاره د ان،ان د خپل اسم او خبر سره جمله اسميه خبريه شوه.﴿ فصل لربک وانحر ﴾ فا عاطفه يا نتيجيه صل فعل او فاعل لام جاره رب مضاف كاف ضمير مضاف اليه بيا دا جار مجرور په صل پورې متعلق شو،صل جمله كيدو سره معطوف عليه،وا عاطفه انحر فعل او فاعل بيا دا جمله انشائيه كيدو سره معطوف،معطوف عليه سره د معطوف نه جمله معطوفه شوه.﴿ ان شانئک هو الابتر ﴾ ان حرف د حروف مشبه بالفعل شانئک مضاف مضاف اليه سره يو ځائې كيدو باندې اسم شو،الابتر يو ځائې كيدو سره جمله اسميه كيدوسره خبرشو دپاره د ان بيا دا جمله اسميه شوه.

تفسير: نوم سورة الكوثر،سورة النحر،د جمهور مفسرينو قول دا دې چه دا سورة مكی دې د بعض مفسرينو قول دا دې چه دا مدنی دې.

ربط: په تير سورة كښې د بدو اخلاقو ذكر كولو سره د هغې انجام هلاكت بيان اوفرمائيلو په دې سورة كښې د اخلاق حسنه او د ښكلى صفتونو خاوند انسان انعامات ذكر دې چه بعضې داسې خوش نصيبه هم وی چه هغوی ته هر قسمه انعامات او ډير خير وركړې شوې دې.

شان نزول: (١) د كوم سړی چه به اولاد مړه كيدل عربو به هغه ته ابتر وئيلو يعنی مقطوع النسل (بې اولاده) چه كله د رسول الله ﷺ ځوئې قاسم رضی الله عنه يا د ابراهيم په وړوكوالی كښې وفات اوشو نو د مكې كفارو به رسول الله ﷺ ته پيغور وركولو سره د ابتر نوم اخستلو چه

په هغوی کښې عاص بن وائل بنکاره وو چه کله به د هغه مخکښې د رسول الله ﷺ ذکر کولې شو نو هغه به وئیل هغه پریږده د هغه فکر مه کوه هغه خو ابتر دې د هغه اولاد خو شته نه (نعوذبالله) چه کله مړ شی نو بیا به ئې څوک نوم اخستونکې نه وی په دې خبرو باندې د رسول الله ﷺ د تسلۍ دپاره دا سورة نازل شو. (۲) په بعض روایاتو کښې دی چه کعب بن اشرف یهودی مکې مکرمې ته راغلو نو د مکې قریش هغه ته لاړل او وې وئیل چه تاسو دې خوان رسول الله ﷺ نه دې ته نه ګورئ وائی چه زه ستاسو ټولو نه په دین کښې غوره یم حال دا چه مونږ د حاجیانو خدمت کوو خلقو ته اوبه ورکوو د کعبة الله حفاظت کوو نو کعب یهودی اووئیل تاسو د هغه نه غوره يئ په دې باندې دا سورة نازل شو.

﴿انا اعطینک الکوثر﴾ په دې آیت کښې د رسول الله ﷺ فضیلت بیان کړې شو چه اې نبی ﷺ مونږ تا ته کوثر درکړې دې. ﴿ما هو الکوثر؟﴾ د کوثر نه څه مراد دې؟ په دې کښې د مفسرینو ډیر اقوال دی: (۱) د کوثر نه مراد خیر کثیر دې مقصد دا شو چه مونږ تا ته ډیر خیر او فضیلت درکړې دې په دې کښې به د دنیا او د آخرت هر خیر راشی. د دین اسلام د بقاء او ترقۍ په آخرت کښې د جنت درجات ټول په خیر کثیر کښې داخل دی. (۲) کوثر په جنت کښې یو نهر دې کوم چه رسول الله ﷺ ته د معراج په شپه خودلې شوې وو چه د هغې په غاړو باندې د ملغلرو خیمې وې رسول الله ﷺ د هغې اوبه اوکتلې د مشکو نه زیاتې خوشبوداري وې رسول الله ﷺ د جبرائیل علیه السلام نه تپوس اوکړو چه دا هم هغه کوثر دې کوم چه تاسو ته درکړې شوې

دي.(۳) د کوثر نه حوض کوثر مراد دي چه د قیامت په ورځ به نبي الله پاک خپل نبی ﷺ ته ورکوی د هغې پلن والي او اوږدوالي به د مشرق او مغرب برابر وی.(روح) د هغې اوبو به د واورې نه زیاتې یخې د پیو نه زیاتې سپینې د شهدو نه زیاتې خوږې وی د هغه ورځ تږی به هلته راځی چه نیک بخته وی هغوی به اوڅکی او بد بخته به محروم پاتې شی رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو چه د اوبو څکلو لوښی به د آسمان د ستورو نه زیات وی رسول الله ﷺ دا هم ارشاد اوفرمائیلو چه په حوض کوثر کښې به دوه ناوې وی د کوثر نهر اوبه به په هغې کښې غورځیږی بیا به هغه ناوې حوض لره د هغه اوبو نه ډکې کړی.(۴) د کوثر نه مراد د اولاد کثرت دي چه مونږ تا ته کوثر درکړې دي یعنی ډیر اولاد.

د اولاد دوه قسمونه دی روحانی او بدنی د رسول الله ﷺ روحانی اولاد خو ډیر زیات دي او بدنی اولاد ئې هم ډیر زیات دي اګر چه د خوی ئې نه وو مګر د لور اولاد ئې ډیر وو او د قیامته پورې به وی.

(۵) قرآن مجید مراد دي (۶) د کوثر نه دین اسلام مراد دي (۷) رسول الله ﷺ ته چه کوم علوم ورکړې شوې دی هغه کوثر دی (۸) د کوثر نه مراد د رسول الله ﷺ اخلاق دی (۹)د کوثر نه هم دا سورة مراد دي (۱۰) مقام محمود ترې مراد دي.(رازی،حقانی)

﴿ فصل لربک وانحر ﴾ په دې کښې د نعمتونو د شمیر کولو حکم ورکولې شی.(۱) ړومبې حکم دا دې چه مونځ کوئ ځکه چه دا ډیر لوئې نعمت دې نو د دې د شکریه ادا کولو دپاره هم لوئې عبادت پکار دې او هغه مونځ دې او د مونځ د کوثر سره د کمال مناسبت دي

ځکه چه په دې کښې د خپل خالق سره مناجات او خبرې د شهدو نه زیاتې خوږې دی او په دې کښې چه کومې رڼړا ګانې پرقیږی هغه د پیو نه زیات سپین دی او زړه ته چه کومه خوشحالی حاصلیږی هغه د واورې نه زیاته یخه وی او د مانځه سنن او آداب د دې شنو اونو او د جواهراتو په شان دی کوم چه د حوض کوثر په غاړو باندې دی.(۲)
دویم حکم دا دې چه قربانی کوئ ړومبې عبادت بدنی وو دا عبادت مالی دې د نحر دوه معنې دی: (۱) مطلق یو څاروې ذبح کول (۲) د اوښ ذبح کول چه د هغې مسنون طریقه دا ده چه د هغه خپه ترلو سره د هغه په حلق باندې چاړهٔ راخکل یا نیزه وهل په عربو کښې عموما چونکه د اوښانو قربانی وه په دې وجه ورته د وانحر لفظ استعمال کړې شو.
عام طور د مانځه سره د زکوٰة ذکر کولې شی دلته ئې نحر ذکر اوفرمائیلو ځکه چه د الله پاک په نوم باندې قربانی کول د بت پرستئ خلاف یو قسم جهاد وو ځکه د هغوی قربانی به د بتانو په نوم باندې وه.
﴿ ان شانئک هو الابتر ﴾ دا آیت د هغه کفارو په جواب کښې نازل شوې دې کومو چه به رسول الله ﷺ ته د ابتر کیدو پیغور ورکولو الله پاک فرمائی اې پیغمبره هم ستا دشمنان ابتر او مقطوع النسل دی ستاسو روحانی نسل به هم تر قیامته پورې باقی وی او جسمانی به هم باقی وی اګر چه د خوی اولاد نشته د لور اولاد خو به ترقیامته پورې باقی وی.غور اوکړئ نن صبا کوم دې د هغه کفارو اولاد د هغوی نوم هم نشته خو د رسول الله ﷺ ذکر ته الله پاک څنګه عظمت او اوچتوالې ورکړو چه د رسول الله ﷺ د زمانې نه واخله تر د

نن ورځې پورې د دنیا په هر اړخ کښ د رسول الله ﷺ نوم مبارک پنځه وخته د الله پاک د نوم سره په مینارونو باندې اخستلې شي.(مظهری،معارف ملخصا)

سورة الكفرون مكية

آیاتها: ٦	بسم الله الرحمن الرحيم	رکوعها: ١

﴿ قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْكَٰفِرُونَ ۝١ لَآ أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ ۝٢ وَلَآ أَنتُمْ
عَٰبِدُونَ مَآ أَعْبُدُ ۝٣ وَلَآ أَنَا۠ عَابِدٌ مَّا عَبَدتُّمْ ۝٤ وَلَآ أَنتُمْ عَٰبِدُونَ
مَآ أَعْبُدُ ۝٥ لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِىَ دِينِ ۝٦ ﴾

ترجمه: تاسو اوفرمایئ اې کافرانو.....زه بندګی نه کوم د هغه چا چه تاسو ئې بندګی کوئ.....او نه تاسو بندګی کوئ د هغه الله چه زه ئې بندګی کوم.....او نه زه عبادت کونکی یم د هغه چا چه تاسو ئې عبادت کوئ.....او نه تاسو عبادت کونکی ئې د هغه چا چه زه ئې عبادت کوم.....ستاسو دپاره ستاسو دین او زما دپاره زما دین.

حل المفردات: الكفرون ..... جمع مذکر سالم ﴿ لا اعبد ﴾ د باب (ن) واحد متکلم تعبدون جمع مذکر حاضر عابدون جمع مذکر اسم فاعل عبدتم جمع مذکر حاضر ماضی.

حل التركيب: ﴿ قل يآايها الكفرون لا اعبد ما تعبدون ولآ انتم عبدون ما اعبد ولآ انا عابد ما عبدتم ولآ انتم عبدون مآ اعبد ﴾ قل فعل فاعل یوځائې کیدو سره قول، یا حرف نداء ایها مضاف مضاف

اليه يوخائي كيدو سره موصوف،الكفارون صفت،موصوف سره د صفت نه منادي،لانافيه اعبد فعل او فاعل ما موصوله تعبدون فعل او فاعل جمله كيدو سره صله شوه.موصول سره د صلې نه مفعول به د اعبد دپاره،فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه معطوف عليه،واؤ عاطفه لانافيه انتم مبتدا عابدون صيغه د صفت هم ضمير فاعل ما موصوله اعبد جمله صله،موصول سره د صلې نه يوخائي كيدو سره د عابدون دپاره مفعول به،هغه خبر دې د انتم دپاره بيا دا جمله معطوف اول،واؤ عاطفه لانافيه انا مبتدا عابد خبر ما موصوله عبدتم جمله كيدو سره صله شوه،موصول سره د صلې نه مفعول دپاره د عابد،بيا دا جمله كيدو سره معطوف ثانى شو،واؤ عاطفه لانافيه انتم مبتدا عابدون خبر ما اعبد موصول صله يو خائي كيدو سره د عابدون دپاره مفعول به بيا دا جمله معطوف ثالث، معطوف عليه سره د ټولو معطوفاتو نه مقصود بالنداء،منادى مقصود بالنداء يو خائي كيدو سره جمله ندائيه كيدو سره مقوله شوه دپاره د قول،مقوله سره د قول نه جمله فعليه انشائيه شوه.

﴿لكم دينكم ولى دين﴾ لكم جار مجرور متعلق په ثابت پوري كيدو سره خبر مقدم دينكم مضاف مضاف اليه يو خائي كيدو سره مبتدا موخر،مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه كيدو سره معطوف عليه،واؤ عاطفه لى جار مجرور خبر مقدم،دين مضاف يا ضمير د متكلم مضاف اليه محذوف بيا دا مبتدا موخر،مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه كيدو سره معطوف،معطوف عليه يو خائي كيدو سره جمله معطوفه شوه.

تفسیر: نوم سورة الکافرون، سورة العبادة، سورة الاخلاص، سورة المقشقشة... د قشقش معنی ده د بیمار رغیدل نو د مقشقشه معنی به وی د شرک نه بری کونکې د جمهور مفسرینو په نزد مکی دې د بعضو په نزد مدنی دې.

ربط: په سورة کوثر کښې د خیر کثیر وعده اوکړې شوه چه په هغې کښې هر قسمه دینی ترقی شامل ده په دې سورة کښې رسول ﷺ ته ښکاره د توحید تبلیغ او د شرک نه د براءت کولو حکم درکولې شی.

شان نزول: د قریشو د کفارو جماعت، ابوجهل، عاص بن وائل، ولید بن مغیره، اسود بن عبد یغوث، اسود بن عبدالمطلب... رسول الله ﷺ ته راغلل او وې وئیل که ستاسو د بادشاهت خواهش وی نو مونږ به تاسو خپل سردار جوړ کړو که د مال ضرورت وی نو دومره مال به درکړو چه تاسو به د ټولو نه زیات مالدار جوړ شئ، که د ښځې خواهش وی نو د عربو د ټولو نه ښکلې زنانه سره به ستا نکاح اوکړو تاسو صرف زمونږ دا خبره اومنئ چه زمونږ معبودانو ته بد مه وایئ. رسول الله ﷺ اوفرمائیل زما په دې څیزونو کښې یو ته هم ضرورت نشته زه خو دا غواړم چه تاسو د هلاکت نه بچ شئ او صحیح لار اختیار کړئ. د هغې نه پس ئې ورته دا خبره اوکړه چه یو کال تاسو زمونږ د معبودانو عبادت اوکړئ یو کال به مونږ ستا د معبود عبادت کوو هغوی بار بار دا تاکید اوکړو د هغوی په جواب کښې دا سورة نازل شو. (معارف)

فضائل: (١) صحابه کرامو ﷺ عرض اوکړو مونږ ته څه دعا اوښایئ چه د اوده کیدو نه مخکښې ئې لولو رسول الله ﷺ اوفرمائیل ﴿ قل

يآايها الكفــرون﴾ لوليځ دا د شرک کولو نه براءت دي.(٢) جبير بن مطعم رضي الله عنه فرمائی چه ما ته رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه کله په سفر ځې نه د خپلو ټولو ملګرو نه زيات خوشحاله او بامراده شې او ستا سامان زيات وی ما اووې اوجی بيشکه...رسول الله ﷺ اوفرمائيل د ﴿ قل يآايها الكفرون ﴾ نه واخله تر آخره پورې پنځه سورتونه لوله هر سورة په بسم الله باندې ختموه جبير رضي الله عنه فرمائی چه ړومبی زما حال ډير خراب وو د کله نه چه مې دا وظيفه اولوستله نو ډير زيات په ښه حال شوم.(٣)رسول الله ﷺ فرمائی يو کرت نبی ﷺ لړم اوخوړلو رسول الله ﷺ اوبه او مالګه راوغوښتله هغه به ئې په خوړلی شوی ځائې باندې مږله او قل يا ايهاالكفرون به ئې لوستلو.ورسره ئې ﴿ قل اعوذ برب الفلق ﴾ او ﴿ قل اعوذ برب الناس ﴾ هم لوستلو.(معارف)

﴿ قل يآايها الكفرون ﴾ په قل وينا سره اشاره ده چه زه تاسو ته د خپل طرف نه کافران نه وايم نه زه ستاسو معبودانو ته بد وايم بلکه ما ته حکم کړې شوې دې مجبور يم د الله پاک د حکم د وجې نه داسې کوم.﴿ ايها الكفــرون﴾ ئې اووې ﴿ ايهـا القــوم﴾ ئې او نه وې.اشاره ئې اوکړه چه تاسو د کفر په شان هلاکونکی مرض باندې اخته يئ او په ځائې د علاج کولو حکيم او معالج هم په دې مرض کښې اخته کول غواړئ.

﴿ لا اعبد ما تعبدون ﴾ مقصد دا دې چه زه د دې دروغژنو معبودانو عبادت نه شم کولې د چا چه تاسو عبادت کوئ او نه په تاسو کښې داسې آثار ښکاره کيږی چه تاسو صرف زما د معبود عبادت اوکړئ، ﴿ ولا انا عابد ما عبدتم ﴾ او نه په راروان وخت کښې

توقع ساتئ چه زه به ستاسو د بتانو عبادت اوکړم.

سوال: ﴿لا اعبد﴾ والاجمله ئې په تکرار سره ذکر کړه تکرار خو د فصاحت او بلاغت خلاف دې؟

جواب: (۱) بعض مفسرینو دا جواب ورکړې دې چه دا تکرار صرف د تاکید دپاره دې د بلاغت اصول دا دې چه د مخاطب د حال مطابق کلام اوکړې شي چونکه د کفارو د طرف نه بار بار تکرار سره دا مطالبه وه چه یو کال به تاسو زمونږ د معبودانو عبادت کوئ یو کال به مونږ کوو نو د هغوی په جواب کښې الله پاک د هغوی په تردید کښې هم تکرار اوکړو نو دا عین بلاغت دې. (۲) امام بخاری رحمه الله د ډیرو مفسرینو نه دا جواب نقل کړې دې چه اول دواړه کلمې د حال د زمانې دپاره دی او آخری دوه د استقبال دپاره دی یا به د دې برعکس مقصد دا وی چه لااعبد فی الحال داسې نه کوم او د ولاانا عابد مقصد به دا وی چه په مستقبل کښې به هم داسې نه کیږی نو اوس به د تکرار والااشکال نه وی. (۳) علامه ابن کثیر رحمه الله دا جواب ورکړې دې چه په اوله جمله کښې ما موصوله ده او د دې نه مراد معبودان دی چه نه تاسو زما د معبود عبادت کولې شئ او نه زه ستاسو د معبود عبادت کولې شم او په بله جمله کښې ما مصدریه ده دا فعل لره د مصدر په معنی کښې کوی معنی به دا وی ﴿ولا انا عابد عبادتکم،ولا انتم عابدون عبادتی﴾ یعنی نه تاسو زما په شان عبادت کولې شئ او نه زه ستاسو د عبادت په شان عبادت کولې شم زمونږ د عبادت طریقې جدا جدا دی د عبادت طرز هم مختلف دې نو په اول جمله کښې د معبودانو اختلاف اوښودلې شو په دویم کښې د عبادت

طرز او د طریقې اختلاف ذکر کړې شو په دې وجه هیڅ تکرار نشته.

﴿ لکم دینکم ولی دین﴾ مقصد دا دې چه که تاسو د توحید والا یعنی زما لار نه اختیاروئ نو تاسو پوهه شئ او ستاسو دین تاسو ته به د خپلو اعمالو بدل ملاویږی او ما ته به د خپل عمل بدل ملاویږی چه څه کړې هغه به ریبې مقصد د آیت به هم دا راوخی.

فائده: په دې سورة کښې کافرانو چه کومه صلح وړاندې کړه الله پاک هغه بالکل رد کړه ځکه په دې کښې خو شرک کول وو داسې صلح خو حرامه ده نا جائز ده خو کفار چه کله خپله ښکته شی او صلح کول غواړی نو صلح کول جائز دی چه په هغې سره د اسلام په یو حکم باندې څۀ مخالفت رانشی د رسول الله ﷺ نه هم کفارو سره د صلح معاهدې ثابت دی. (معارف)

سورة النصر مکیة

آیاتها: ۳	بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ	رکوعها: ۱

﴿ إِذَا جَآءَ نَصۡرُ ٱللَّهِ وَٱلۡفَتۡحُ ۝١ وَرَأَيۡتَ ٱلنَّاسَ يَدۡخُلُونَ فِي دِينِ ٱللَّهِ أَفۡوَاجٗا ۝٢ فَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ وَٱسۡتَغۡفِرۡهُۚ إِنَّهُۥ كَانَ تَوَّابَۢا ۝٣ ﴾

ترجمه: چه کله راشی امداد د الله پاک یا راغلې دې او فتح ... او تاسو به اوګورئ یا تاسو اوکتل خلق چه داخلیږی د الله پاک په دین کښې ډلې ډلې ... پس ته تسبیح وایه د خپل رب د تعریف سره او د هغه نه بخښنه غواړه بیشکه هغه توبه قبلونکې دې.

حل المفردات: استغفر واحد مذکر امر معروف د باب استفعال نه

بخښنه غوښتل توابا صيغه د مبالغې ده د باب (ن) واپس كيدل رجوع كول.

حل التركيب: ﴿اذا جآء نصر الله والفتح ... ورايت الناس يدخلون في دين الله افواجا﴾ اذا شرطيه جاء فعل نصر الله والفتح معطوف عليه و معطوف يو ځائې كيدو سره فاعل،فعل سره د فاعل نه معطوف عليه،واؤ عاطفه رءايت فعل او فاعل الناس ذوالحال يدخلون فعل واؤ ضمير بارز ذوالحال في جار دين الله مضاف مضاف اليه يو ځائې كيدو سره مجرور،جار سره د مجرور نه متعلق په يدخلون فعل پورې.افواجا حال،ذوالحال سره د حال نه فاعل د يدخلون دپاره فعل سره د فاعل او متعلق نه جمله كيدو سره بيا د الناس نه حال دې،ذوالحال سره د حال نه مفعول به د پاره د راءيت،بيا هغه معطوف دې د معطوف عليه دپاره،واؤ عاطفه استغفره فعل فاعل او مفعول به كيدو سره معطوف،معطوف عليه سره د معطوف نه جزا،شرط سره د جزا نه جمله شرطيه شوه.

﴿انه كانه توابا﴾ ه ضمير د ان اسم كان فعل ناقصه هو ضمير اسم توابا خبر دا جمله كيدو سره د ان خبر شو ان د خپل اسم او خبر سره جمله اسميه شوه.

تفسير: نوم سورة النصر،سورة اذا جاء،سورة التوديع،توديع د وداع نه دې چه معنې ئې ده چا لره رخصت كول په دې سورة كښې هم د رسول الله ﷺ د دنيا نه د رخصت كيدو طرف ته اشاره ده په دې وجه د دې سورة نوم سورة التوديع هم دې.

ربط: په تیر سورة کښ د توحید د اعلان کولو حکم ورکړې شوې وو په دې سورة کښ د رسول الله ﷺ د تسلئ دپاره د دین اسلام د غلبې او د فتح مکه د زیری او د کفارو د شکست خبر ورکولې کیږی دا سورة په اجماع سره مدنی دې. د ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل دی چه سورة نصر د قرآن کریم آخری سورة دې مقصد دا دې چه د دې نه پس هیڅ پوره سورة نازل نه شو د دې نه پس خو جدا جدا آیتونه نازل شو لکه چه د ابن عمر رضی الله عنهما په حدیث کښ د هغې تفصیل موجود دې هغوی فرمائی دا سورة په حجة الوداع کښ نازل شو د دې نه پس آیت ﴿ الیوم اکملت لکم دینکم﴾ نازل شو د دې دواړو د نزول نه پس رسول الله ﷺ اتیا ورځې ژوندې وو د دې نه پس آیت د کلاله نازل شو ﴿یستفتونک قل الله یفتیکم فی الکلالة﴾ په هغه وخت کښ د رسول الله ﷺ د ژوند پنځوس ورځې پاتې وې د دې نه پس ﴿ لقد جآءکم رسول من انفسکم ﴾ نازل شو په دې وخت کښ د رسول الله ﷺ د ژوند پنځه دیرش ورځې باقی وې د دې نه پس ﴿ واتقوا یوما ترجعون فیه الی الله ﴾ نازل شو د هغې نه یویشت ورځې پس او د مقاتل د روایت مطابق صرف اووه ورځې ژوندی وو. (معارف)

﴿ اذا جاء نصر الله والفتح ﴾ په دې آیت کښ رسول الله ﷺ ته د الله پاک د نصرت او د فتح زیرې ورکړې کیږی. د نصر معنی وی د مطلوب او مقصود په حاصلولو کښ امداد ورکول او د فتح معنی وی مطلوب حاصلول، د فتح نه کوما فتح مراد ده تفسیر حقانی ډیر اقوال نقل کړی دی: (١) فتح خیبر (٢) ټول فتوحات (٣) فتح مکه

مراد ده او هم دا قول راجح دې د اکثرو مفسرینو رائې دا ده خو په دې کښې د مفسرینو اختلاف دې چه دا سورة د فتح مکې نه مخکښې نازل شو یا روستو د بعضو مفسرینو رائې دا ده چه دا سورة د فتح مکې نه روستو نازل شو خو د اکثرو مفسرینو رائې دا ده چه دا سورة د فتح مکې نه مخکښې نازل شو ﴿ اذا جآء ﴾ لفظ هم په دې باندې دلالت کوی فتح مکه په اتمه هجری رمضان المبارک کښې اوشوه. ﴿ ورایت الناس فی دین الله افواجـا ﴾ تاسو بـه خلق پـه اسلام کښې ډلې ډلې داخلیدونکی اوینئ دا هم د فتح مکې په وخت اوشوه د فتح مکې نه مخکښې ډیرو خلقو ته د اسلام د حقانیت یقین راغلې وو خو د قریشو د مخالفت او د ویرې د وجې نه هغوی اسلام نه راوړو فتح مکې هغه بندیز ختم کړو خلق بیا ډلې ډلې په اسلام کښې داخلیدل شروع شو هره ورځ به د سوونو په تعداد کښې خلق مسلمان کیدل.

﴿ فسبح بحمدک واستغفره ﴾ په دې آیت کښې رسول الله ﷺ ته حکم ورکولې شی چه کله نصرت اوفتح راشی نوبیا تاسوپه تسبیح او تحمید او استغفار کښې مشغول شئ او اوګنړئ چه ستاسو د دې دنیا نه د تلو وخت نزدې راغلو ځکه چه ستاسو د رالیږلو مقصد پوره شوې دې. عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمائی د دې سورة د نازلیدو نه پس به رسول الله ﷺ د هر فرض مانځه نه پس دا دعـا لوستله:﴿ سبحنک ربنا و بحمدک اللهم اغفـرلی ﴾ ام سلمه رضی الله عنها فرمائی د دې سورة د نزول نه پس پـه ناسته ولاړه تلو راتلو هر وخت بـه ئې دا دعـا لوستله ﴿سبحان الله و بحمده استغفر الله و اتوب الیه ﴾ (معارف)

فائده: رسول الله ﷺ ته د تسبیح ونیلو حکم اوکړې شو او هغه هم د

حمد سره يو خائي كولو باندي،د تسبيح حقيقت دا دي چه د الله پاک
د ټول عيبونو والاخيزونه نه پاکي بيانه کره مثلا هغه فاني نه دي
هغه حادث نه دي هغه د چا محتاج نه دي هغه اودهٔ کيږي نه هغه
بيمار نه دي وغيره د دي دپاره لفظ مشهور دي ﴿ سبحان الله ﴾ .

فائده: په ډيرو احاديثو کښې دا خبره ثابته ده چه په دي سورة کښې د
رسول الله ﷺ د وفات خبر ورکړې شوي دي چه کله رسول الله ﷺ د
اسلام ترقي او فتوحات ويني نو بيا دي اوګڼري چه د هغوی د وفات
کيدو وخت راغلو اوس دي په تسبيح او استغفار کښې مشغول شي
چه کله دا سورة نازل شو رسول الله ﷺ صحابه کرامو ﷺ ته واورولو
نو باقي صحابه کرام ﷺ خو د فتح زيري اوريدلو سره خوشحاله شو
خو عباس ﷺ (معارف) او ابوبکرصديق ﷺ (حقاني) په ژړا شود هغوی
نه تپوس اوکړې شو؟هغوی جواب ورکړو په دي کښې د رسول الله ﷺ
د وفات خبر دي رسول الله ﷺ د دي خبري تصديق اوکړو.

(مظهري،معارف)

سورة اللهب مكية

آياتها: ٥	بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ	ركوعها: ١

﴿ تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ ۝١ مَا أَغْنَىٰ عَنْهُ مَالُهُ وَمَا كَسَبَ ۝٢
سَيَصْلَىٰ نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ ۝٣ وَامْرَأَتُهُ حَمَّالَةَ الْحَطَبِ ۝٤ فِي جِيدِهَا
حَبْلٌ مِّن مَّسَدٍ ۝٥ ﴾

ترجمه: هلاک دې شي د ابولهب دواړه لاسونه (او هلاک شو) پکار رانغلو مال د هغه او هغه چه کسب ئې کړي وو زر ده چه هغه به د لمبو والا اور کښې داخل کړې شي او د هغه ښځه هم چه د لرګو بارونکې ده د هغې په مرئ کښې رسئ ده د میزرو.

حل المفردات: تبت واحده مونثه غائبه ماضي معروف په اصل کښې تببت وو د باب (ن) نه هلاکیدل. لهب (س) شعله اوچتیدل، سیصلی په صل کښې یصلی وو الحطب لرګی جمع ئې احطاب راځي د باب (ض) نه لرګی راجمع کول،جید سټ جمع ئې جیاد راځي حبل رسئ جمع ئې حبال او احبال او حبول راځي،مسد: د کهجورو پانړې (میزری) جمع ئې امساد او مساد راځي د باب (ن) پرې غښتل.

حل التركيب: ﴿ تبت يدا ابي لهب و تب ﴾ تبت فعل يدا مضاف ابی لهب مضاف اليه بيا دا د تبت فاعل،فعل سره د فاعل نه معطوف عليه و تب فعل او فاعل يو ځائې کیدو سره معطوف علیه،وتب معطوف...بیا معطوف معطوف علیه یو ځائې کیدو سره جمله معطوفه شوه...﴿ مآ اغنی عنه ماله وما کسب ﴾ ما نافیه اغنی فعل عنه جار مجررو متعلق په ماله پورې مضاف مضاف الیه یو ځائې کیدو سره معطوف علیه،واؤ عاطفه ما موصوله یا مصدریه،کسب فعل او فاعل یوځائې کیدو سره صله شوه دپاره د موصول،موصول سره د صلې نه معطوف شو دپاره د معطوف علیه.معطوف سره د معطوف علیه نه د اغنی د پاره فاعل فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه شوه.

﴿ سيصلى نارا ذات لهب،وامراته حمالة الحطب ﴾ سيصلى فعل هو ضمير معطوف عليه نارا موصوف ذات لهب مضاف مضاف

الیه سره صفت شو،موصوف سره د صفت نه مفعول به د یصلی فعل دپاره واؤ عاطفه امراته مضاف مضاف الیه یوځائي کیدو سره ذوالحال،حمالة الحطب مضاف او مضاف الیه یوځائي کیدو سره حال شو،ذوالحال سره د حال معطوف شو دپاره د معطوف علیه،معطوف سره د معطوف علیه نه د یصلی دپاره فاعل،فعل فاعل او مفعول به یوځائي کیدو سره جمله فعلیه خبریه شوه.﴿ فی جیدها حبل من مسد ﴾ فی جار جیدها مضاف مضاف الیه یو ځائي کیدو سره مجرور شو،جار سره د مجرور نه خبر مقدم حبل موصوف من مسد جار مجرور په کائن پورې متعلق کیدو سره صفت، موصوف سره د صفت نه مبتدا موخر مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه شوه.

تفسیر: نوم سورة اللهب،سورة المسد...

ربط: په تیر سورة کښې د خلقو اسلام ته د داخلیدو ذکر وو په دې سورة کښې د یو سړي اسلام ته د نه داخلیدو عذاب بیانیږي او د هغه د بد انجام بیان دې.په تیر سورة کښې د مسلمانانو سره د نصرت او د فتح وعده وه په دې سورة کښې د کافر دپاره وعید دې.

شان نزول: په بخاری او مسلم کښې دی چه کله په رسول الله ﷺ باندې آیت ﴿ وانذر عشیرتک الاقربین﴾ نازل شو چه خپل نزدې رشته دار اویروئ نو رسول الله ﷺ په صفا غونډئ باندې اوختلو او ﴿ یا صباحاه ﴾ ئې اوفرمائیل بیا ئې د قریشو د قبیلې نوم اخستو سره آواز اوکړو یا بنی عبد مناف،یا بنی هاشم،یا بنی عبدالمطلب،وغیره ځکه چه داسې راغوښتل به د خطرې علامت ګڼړلې کیدو په دې وجه

ټول په منډه منډه راغلل چه کله ټول جمع شو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل دا بیان کړئ چه که زه تاسو ته خبر درکړم چه دشمن په تاسو د باندې د حملې کولو دپاره تیار ولاړ دې نو آیا تاسو به زما تصدیق کوئ ټولو په یو آواز اووې او بالکل به کوو ځکه چه ته رښتینې ئې کله دې هم دروغ نه دی وئیلې.رسول الله ﷺ اوفرمائیل که تاسو ته زما په خبره یقین وی نو زه تاسو د الله پاک د عذاب نه ویروم کوم چه به د شرک او د کفر د وجې نه په تاسو باندې واقع کیږی که د خلاصی لاړ غواړئ نو د یو الله پاک شئ شرک پریږدئ په دې قوم غصه شو او ابولهب چه د رسول الله ﷺ تره وو وې وئیل ﴿ تبا لک یا محمد الهذا جمعتنا ﴾ (نعوذ بـالله) او کاڼړې ئې واخستلو او په رسول الله ﷺ ئې ګزار اوکړو او کنځل ئې اوکړل بیا خو هغه د رسول الله ﷺ د مخالفت او دشمنئ دپاره مـلا اوتړله.کلـه چـه بـه رسـول الله ﷺ خلقو ته د تبلیغ کولو دپاره تشریف اوړلو دې به په رسول الله ﷺ پسې روستو روستو تلو په کاڼړو به ئې ویشتلو او وئیل به ئې زما ورارهٔ لیونې شوې دې د هغه په خبرو باندې یقین مه کوئ.نو الله پاک د هغه د مذمت دپاره دا سورة نازل کړو.(معارف)

﴿ تبت یدا ابی لهب و تب ﴾ مات دې شی او هلاک دې شی لاسونه د ابوله،تبت د تباب نه مشتق دې چه د هغې معنی هلاکت او بربادی ده.یدا تثنیه ده په اصل کښې یدان دې د اضافت د وجې نه نون غورځیدلې دې کله د ید لفظ ذکر کولو سره د هغه انسان ټول ذات مراد وی ځکه د انسان په ټولو کارونو کښې د لاسونو ډیر دخل وی دلته هم ذ یدا نه د ابولهب ذات مراد دې ابولهب دا کنیت دې د لهب

معنی ده د اور شعله ځکه چه ابولهب ډیر ښکلي او د سور رنګ والا وو په دې وجه د هغه دا کنیت شو او اصل نوم ئې عبدالعزی وو.

سوال: نوم ئې ولې ذکر نه کړې شو؟

جواب: (۱) کنیت ئې زیات مشهور وو نوم ئې مشهور نه وو. (۲) شرکیه نوم وو ځکه چه عزی د بت نوم وو په دې وجه الله پاک د هغه نوم ذکر کول خوښ نه کړل. (۳) لهب د اور شعلې ته وائی الله پاک د دې ذکر فرمائیلو سره د هغه دوزخی کیدو طرف ته اشاره اوکړه. (حقانی) ﴿ تبت یدا ﴾ والا جمله بد دعائیه ده دا بد دعا الله پاک د مسلمانانو د زړه د یخولو دپاره کړې ده ځکه ابولهب چه کله رسول الله ﷺ ته خیرې اوکړې نو د مسلمانانو خواهش وو چه هغوی هم د هغه دپاره بد دعا اوکړی. ګویا الله پاک د هغوی د زړه خبره پخپله اوکړه وتب الله پاک فرمائی او هلاک شو مقصد دا چه مونږ کومه بددعا کړې ده د هغې اثر هم ښکاره شوې دې او هغه هلاک شوې دې پس د دې بد دعا اثر دا شو چه د بدر د واقعې نه اووۀ ورځې پس په هغه باندې د طاعون دانه را اوختله چه هغې ته په عربئ کښې عدسه وائی د کور خلقو ئې د دې ویرې نه چه دا بیماری هغوی ته او نه لګی هغه د کور نه ځانله په څه ځائې کښې واچولو هیڅ څوک به هم هغه ته نزدې نه ورتلل مخ ئې خراب شو او د سپو په شان آوازونه به ئې کول په دې بې آسرې حالت کښې مړ شو تر د درې ورځو پورې ئې بدن پروت وو چه کله ترې بدبوئې اوچته شوه نو هله ئې د کور خلقو ته د مرګ خبر اوشو مزدوران ئې را اوغوښتل او په هغوی ئې اوچت کړو هغوی ورله کنده اوکړه او هغې ته ئې اوغورځولو او (کنده ئې) د کاڼړو نه ډکه کړه دا شو انجام د رسول الله ﷺ د دشمن. (معارف)

﴿ مآ اغنی عنه ماله وما کسب ﴾ یعنی مال او د هغه گټې هغه د خپل عبرتناک انجام نه بچ نه کړې شو د ﴿ ماله وما کسب ﴾ دوه تفسیرونه کړې شوې دی.(۱) د ماله نه مراد مال او د ماکسب نه مراد اولاد دې.عائشې ؓ،مجاهد ،عطا او ابن سیرین هم دا معنی مراد کړې ده.ابولهب کثیر المال هم وو او کثیر الاولاد هم په دې وجه ئې اوفرمائیل چه نه ئې مال په کار راغلو او نه اولاد .ابن عباس ؓ فرمائی چه کوم وخت رسول الله ﷺ قوم د عذاب نه اویرولو نو ابولهب اوئیل که دا ربښتیا وی نو څه چه زما ورارۀ وائی نو ما سره مال او اولاد ډیر زیات دې نو زه به هغه ورکولو سره خپل ځان بچ کړم په دې باندې دا آیت نازل شو.﴿ سیصلی نارا ذات لهب ﴾ رومبی ئې د دنیا حال بیان کړې شو او اوس ئې د آخرت د بد انجام بیان دې چه نزدې به د مرگ نه فورا پس نیغ اور ته ځی او اور به هم تیز او لمبې وهونکې وی.

﴿ وامراته حمالة الحطب ﴾ د ابولهب د انجام ذکر کولو نه پس د هغه د ښځې د بد انجام ذکر دې دا هم د ابولهب په شان د رسول الله ﷺ د نفس دشمنه وه رسول الله ﷺ ته به تکلیفونه ورکول،په تکلیف ورکولو دشمنۍ او مخالفت کښې ئې د خپل خاوند پوره پوره ملگرتیا کوله د دې نوم اروی بنت حرب بن امیه وو.(ابن کثیر ص ۵۹٤ جلد ٤) کنیت ئې ام جمیل وو دا د ابوسفیان خور وه الله پاک فرمائی دا به هم په دوزخ کښې سوزی ﴿ حمالة الحطب ﴾ دا د هغه ښځې حال بیان کړې شوې دې د دې لغوی معنې خو ده د اور بلولو دپاره لرگی جمع کولو اوچتونکې.دلته د حمالة الحطب نه څه مراد دې په دې

کښې درې احتمالات دی: (۱) د دې نه مراد د دې حقیقي معنی ده یعني لرګی جمع کونکې ځکه چه دې ښځې به د ځنګل نه د ازغو نه ډک لرګی راوړل او د شپې به ئې د رسول الله ﷺ په لار کښې اچول چه سحر د تیریدو په وخت رسول الله ﷺ ته تکلیف وی د دې ذلیل او سپک حرکت د بیان دپاره ئې دا لفظ ذکر کړو. (۲) بعض مفسرینو وئیلي دی چه دا د دې د دوزخ حال بیان کړې شوې دې چه په دوزخ کښې به هغه د زقوم وغیره نه لرګی جمع کولو سره په خپل خاوند باندې اچوی چه د هغه اور نور هم تیز شی ځنګه چه به ئې په دنیا کښې د هغه کفر او ظلم ډیرولو په آخرت کښې به د هغه عذاب ډیروی. (۳) حمالة الحطب نه چغل الخوری مراد ده ځکه د هغې د چغلخورئ عادت وو د چغلخورئ د وجې نه هم په افرادو او خاندان کښې د فساد اور تیزیږی په دې وجه په عربو کښې دې ته حمالة الحطب وائی.

﴿فی جیدها حبل من مسد﴾ مسد د سین د سکون سره مصدر دې په معنی د رسئ یا پړی غړلو سره یا د تار غړلو یا په تار باندې تار خیژولو سره مضبوطول.او مسد د سین په فتحې سره رسئ یا تار ته وائی چه مضبوط کړې شوې وی که هغه د هر څیز وی د کهجورې د غونچې یا د اوسپنې د تارونو په شان مضبوطه رسئ په دې کښې داخله ده.د دې آیت په باره کښې د مفسرینو دوه قولونه دی: (۱) په دې آیت کښې د ابوجهل د ښځې د دوزخ حال بیانیږی او د مسد نه مراد د اوسپنې د تارونو نه جوړه شوې رسئ ده مقصد دا دې چه په دوزخ کښې به د هغې مرې ته د اوسپنې د تارونو نه غړلې شوې مضبوط طوق واچولې شی مجاهد رحمه الله د ﴿من مسد﴾ تفسیر کوی

﴿اى من حديد﴾ او هم دا د ابن عباس رضي الله عنهما او د عروه بن زبير رضي الله عنه قول دې (۲) امام شعبي رحمه الله وغيره دې ته د دنيا حال وئيلې دې او د مسد نه ئې د کهجورې رسئ اخستلې ده او فرمائيلې ئې دی چه اګر که ابولهب او د هغه ښځه مالدار او د غنی قوم سردار ګڼړلې کيدل خو د هغه بی بی به د خپل سپک طبيعت د وجې نه د خپل شومتوب په وجه د ځنګل نه لرګی راجمع کولو سره راوړل او رسئ به ئې په خپله مرئ کښې اچوله چه د لرګو پيټې او نه غورځيږی يو ورځ ئې د معمول مطابق لرګی راوړل کيدې غټې وو ستړې شوه کيناستې ئې د سر نه پريوتلو په مرئ کښې ئې چه کومه رسئ وه هغې سره ئې مرئ زور واخستلو او ورته ورپريوتله او هم په هغې کښې مړه شوه. اول ته ترجيح ورکړې شوې ده ځکه چه د ابولهب د ښځې داسې کول د عقل نه لرې ده هم په دې وجه اکثر مفسرينو روميې تفسير اختيار کړې دې.

(مظهری ملخصا)

سورة الاخلاص مكية

آياتها: ٤	بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ	ركوعها: ١

﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ﴿١﴾ اللَّهُ الصَّمَدُ ﴿٢﴾ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ﴿٣﴾ وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ ﴿٤﴾﴾

ترجمه: اووايه چه هغه يعنی الله يو دې.....الله بې حاجته دې.....نه ئې څوک زيږولې دی او نه زيږولې شوې دې.....او نشته د هغه سره هيڅ څوک برابر.

حل المفردات: الصمد بې نيازه بې حاجته د باب (ن،ض) اراده كول.لم يلد واحد مذكرغائب نفی جحد بلم په اصل کښې لم يولِد وو (په قانون د يعد او يلد شو) د باب (ض) نه زيږول لم يولد مجهول نفي جحد...كفوا په مثل د نظير اصل كفو وو (د سوال قانون د لاندې كفوا شو) د باب (ف) نه نظير مثل كيدل.

حل التركيب: ﴿قل هو الله احد﴾ قل فعل فاعل كيدو سره قول (۱) هو ضمير شان مبهم مفسر الله مبتدا احد خبر بيا دا جمله تفسيريه كيدو سره مقوله شوه دپاره د قول مقوله سره د قول نه جمله شوه.(۲) هو ضمير راجع په طرف د رب مبتدا الله بيا مبتدا احد خبر بيا دا جمله د ماقبل خبر.(۳) هو مبتدا الله خبر اول او احد خبر ثاني (۴) هو مبدل منه الله احدجمله كيدوسره بدل.﴿الله الصمد﴾:الله مبتدا او الصمد خبر.

﴿لم يلد ولم يولد﴾ لم يلد فعل او فاعل جمله فعليه كيدو سره معطوف عليه ولم يولد فعل او نائب فاعل يو ځائې كيدو سره جمله كيدو سره معطوف اول.واؤ عاطفه.....﴿ولم يكن له كفوا احد﴾ (۱ لم يكن فعل د افعال ناقصه نه له جار مجرور په لم يكن پورې متعلق كفوا خبر احد اسم موخر،بيا دا جمله كيدو سره معطوف ثاني، معطوف عليه سره د دواړو معطوفينو نه جمله معطوفه شوه.(۲)واؤ عاطفه لم يكن فعل ناقص له جار مجرور په ثابتا پورې متعلق كيدو سره د لم يكن خبر كفوا حال مقدم احد ذوالحال موخر ذوالحال سره د حال نه اسم موخر شو دپاره د لم يكن بيا دا جمله اسميه شوه.

تفسير: نومونه (۱) سورة الاخلاص (۲) سورة الاساس (۳) قل هو الله احد (۴) سورة النجاة (۵) سورة الولاية (۶) سورة المعرفة (۷) سورة

الجمال (٨) سورة النسبه (٩) سورة الصمد (١٠) سورة المعوذة (١١) سورة المانعة (١٢) سورة المحضر (١٣) سورة الصمد (١٤) سورة المنفردة (١٥) سورة البراءة (١٩) سورة المذكرة (٢٠) سورة النور (٢١) سورة الايمان (روح المعاني جلد ٣٠ ص ٣٠٦،٣٠٧)

د جمهور مفسرينو قول دا دې چه دا سورة مکی دې د بعض مفسرينو قول دا دې چه دا مدنی دې.

ربط: په تير سورة کښې د منکرين توحيد مذمت وو په دې سورة کښې د توحيد خالص بيان دې چه د الله وحد لاشريک په باره کښې څه عقيده ساتل پکار دی؟

فضائل: (١) په دې سورة کښې د توحيد عقيده چه د ايمان بنياد د پوره طاقت سره بيان کړې شوې ده او د شرک د ټولو صورتونو نفی کړې شوې ده. (٢) يو سړی اووې زما د سورة الاخلاص سره مينه ده نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل د دې سورة مينې ته جنت ته داخل کړې. (٣) يو کرت رسول الله ﷺ اوفرمائيل ټول راجمع شئ زه تاسو ته د قرآن دريمه حصه اوروم ټول جمع شو نو رسول الله ﷺ سورة الاخلاص تلاوت اوفرمائيلو او وې فرمائيل دا سورة د قرآن پاک د دريمې حصې برابر دې. (۴) رسول الله ﷺ ارشاد فرمائی څوک چه سحراو مابنام سورة الاخلاص او معوذتين اولولی دا د هغه دپاره کافی دی په يو روايت کښې دی هغه لره د هرې بلا نه د بچ کولو دپاره کافی دې. (٥) عتبه بن عامر فرمائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل زه تا ته درې سورتونه دربنايم د اودۀ کيدو نه مخکښې دا ضرور لوله هغه قل هو الله او معوذتين دی.

شان نزول: (١) د مکې مشرکانو تپوس کړې وو چه ستاسو د الله نسب

خه دي د دې خبرې په جواب کښې دا سورة نازل شو (۲) په بعض روایاتو کښې دی چه مشرکانو تپوس اوکړو چه ستاسو معبود د څه څیز نه جوړ دې د سرو زرو که د سپینو زرو یا د یو بل څیز په دې باندې دا سورة نازل شو ﴿ قل هو الله احد ﴾ د قل نه اشاره ده د رسول الله ﷺ د نبوت طرف ته چه پخپله نه بلکه زمونږ د طرفه دا بیان اوکړئ چه الله پاک یو دې الله دا علم ذاتی یا اسم ذاتی دې د هغه ذات دپاره چه مجتمع دې ټولو صفاتو د کمال لره او پاک دې د ټولو عیوبو او نقصاناتو نه د لفظ احد او واحد دواړو معنی یوه ده خو د مفهوم په اعتبار سره لفظ د احد خاص دې احد هغه ذات ته وئیلې شی چه د ترکیب (جوړ) تجزیه (جزء) تعدد، مشابهت او مشاکلت نه پاک وی او په هر اعتبار سره یو وی په دې آیت کښې د هغه خلقو جواب دې چه تپوس به ئې کولو چه ستاسو خدائې د سرو زرو دې که د چاندئ جواب ورکړې شو چه هغه یو دې د هغه په شان هیڅ څوک نشته.

﴿ الله الصمد ﴾ الله بې نیازه دې د صمد ډیر معنې بیان کړې شوی دی. (۱) نه ویریدونکی چه هیڅ ویره ورسره نه وی (۲) هغه ذات چه نه خوراک کوی او نه څکاک (۳) سردار چه د هغه سرداری په خپل اوچت والی باندې وی (۴) هغه ذات چه په خپلو ټولو صفاتو او افعالو کښې کامل وی (۵) هغه ذات چه په هر حاجت کښې مقصود وی. (۶) د مخلوق د فانی کیدو نه پس باقی کیدونکی ته صمد وائی (۷) هغه ذات چه په هغه باندې څه مصیبت نه شی راتلې. (۸) د ټولو اقوالو نچوړ او خلاصه دا ده چه صمد هغه ذات دې چه خپله د چا محتاج نه وی او باقی ټول څیزونه هغه ته محتاج وی چه د هغه طرف ته خلق په خپلو ضرورتونو او حاجتونو کښې رجوع کوی. (حقانی،مظهری)

﴿ لم یلد ولم یولد﴾ نه والد دې نه مولود ګیني بیا به د هغه هم جنس ثابت شي احدیت او صمدیت به ئې ختم شي دا د هغه مشرکانو جواب اوشو چه د الله پاک نسب نامه ځۀ ده.

﴿ ولم یکن له کفوا احد﴾ مقصد دا دې چه د هغه په شان هیڅ څوک نشته د هغه مثال،د هغه برابر د هغه مشابه یا همشکل هیڅ څوک نشته.

فائده: سورة الاخلاص د هر قسمه مشرکانه خیالاتو نفی کولو سره پوره د توحید درس ورکړو په ﴿ الله احد ﴾ سره ئې د خدایانو د تعداد نفی اوکړه،﴿ الله الصمد﴾ سره ئې د مشرکانو تردید کړې دې چه د غیر نه ئې خپل ضروریات او حاجتونه غوښتل ﴿ لم یلد ولم یولد﴾ کښ د هغه مشرکانو تردید اوشو کوم چه د الله پاک دپاره د خوی او د لونړو قائل دی وغیره.

سورة الفلق مکیة

آیاتها: ۵	بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ	رکوعها: ۱

﴿ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ۝١ مِن شَرِّ مَا خَلَقَ ۝٢
وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ ۝٣ وَمِن شَرِّ النَّفَّاثَاتِ
فِي الْعُقَدِ ۝٤ وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ ۝٥ ﴾

ترجمه: اووایه چه زه پناه نیسم په رب د څیرې کیدو د صبا باندې.... د شر د هر هغه څیز نه چه هغه پیدا کړو....او د تیارهٔ شپې د شر نه چه

کله خوره شی.....او په غوټو کښې د پوکو وهونکو زنانو د شر نه او د حسد کونکو د شر نه کله چه هغوی حسد کوی.

حل المفردات: اعوذ واحد متکلم مضارع په اصل کښې اعوذ وو په قانون د یقول د باب (ن) نه پناه غوښتل....الفلق د باب (ض) نه په معنی د شلولو د شپې تیاره لرې کول او د سحر رڼا راښکاره کول.

غاسق واحد مذکر اسم فاعل د باب (ض) نه د شپې تیاره کیدل.وقب د باب(ض) نه د شپې د تیارهٔ خوریدل،النفثت جمع ده د نفاثة چه صیغه د مبالغې ده پوکی وهونکې زنانه د باب (ن) د خولې نه تهوکل،پوکې وهل...العقد جمع ده مفرد ئې عقدة راځی غوټه د باب (ض) غوټه ورکول.حاسد صیغه د اسم فاعل د باب (ض،ن) نه د نعمت د زوال خواهش کول (د نورو نه).

حل الترکیب: ﴿قل اعوذ برب الفلق من شر ما خلق ومن شر غاسق اذا وقب ومن شر النفثت فی العقد ومن شر حاسد اذا حسد﴾

قل فعل او فاعل یوځائې کیدو سره قول،اعوذ فعل او فاعل با جاره رب الفلق مضاف مضاف الیه یوځائې کیدو سره مجرور،جار مجرور متعلق په اعوذ پورې متعلق شو،من جاره شر مضاف ما موصوله خلق فعل او فاعل یوځائې کیدو سره صله شوه،موصول سره د صلې نه مجرور شو د جار،جار سره د مجرور نه معطوف علیه واؤ عاطفه شر مضاف غاسق صیغه د صفت.اذا ظرفیه مضاف وقب فعل او فاعل دا جمله کیدو سره مضاف الیه شو دپاره د اذا ،بیا هغه مفعول فیه دې دپاره د غاسق،هغه مضاف الیه دې د شر دپاره،هغه مجرور د پاره د من جار،بیا دا معطوف اول،واؤ عاطفه من جار شر مضاف النفثت صیغه د مبالغې فی جاره العقد مجرور دا متعلق په النفثت

پورې هغه مضاف اليه دپاره د شر هغه مجرور د من جار جار سره د مجرور نه معطوف ثاني،واؤ عاطفه شر مضاف حاسد صيغه د صفت اذا ظرفيه مضاف حسد فعل هو ضمير فاعل بيا دا جمله کيدو سره مضاف اليه شو د اذا د پاره،هغه مفعول فيه دې د حاسد دپاره او هغه مضاف اليه دې د شر دپاره،هغه مجرور د من دپاره،بيا دا معطوف ثالث،معطوف عليه سره د درې واړو معطوفاتو نه په اعوذ پورې متعلق شو بيا هغه جمله فعليه کيدو سره مقوله شوه د پاره د قل،قول او مقوله يو ځائې کيدو سره جمله فعليه انشائيه شوه.

تفسير: نوم سورة الفلق...په مکی مدنی کيدو کښې ئې اختلاف دې بعض ورته مکی وائی اوبعض ورته مدنی وائی صاحب دروح المعانی د دې دواړو سورتونو مدنی کيدو له ترجيح ورکړې ده ځکه په دې کښې د جادو ذکر دې او جادو د مدينې يو منافق يهودی کړې وو.

ربط: په تير سورة کښې د عقيده توحيد بيان وو کوم چه د انسان د خلاصی بنياد دې هم په دې سره د آخرت کاميابی او ابدی خوشحالی ملاويږی په دې سورة کښې او په روستو راتلونکی سورة کښې د هغه څيزونو ذکر دې کوم چه په عقيده د توحيد کښې خلل جوړيږی او د هغې نه د پناه غوښتلو حکم او تعليم ورکولې شی.

فضائل: دې دواړو سورتونو ته معوذتين وائی او دا دواړه يو ځائې نازل شوی دی د دې دواړو شان نزول هم يو دې د دې فضائل او منافع برکتونه د دې ضرورت او حاجت داسې چه هيڅ يو انسان د دې نه بې پرواه کيدې نه شی دا دواړه سورتونه د سحر د ختمولو او د بد نظر او نور روحانی او بدنی مرضونو د لرې کولو دپاره لوئې علاج دې.دا خو

د هر مومن عقیده ده چه د دنیا او آخرت هر فائده او نقصان د الله پاک په لاس کښې دې، د هغه د رضا نه بغیر څوک چا ته د ذرې برابر فائده یا نقصان نه شی رسولې نو د دنیا او آخرت د ټولو آفتونو نه د بچ کیدو دپاره یوه ذریعه ده چه انسان خپل ځان لره د الله پاک په پناه کښې ورکړی په دې سورة کښې هم د دې خبرې تعلیم ورکولې کیږی، په سورة فلق کښې د دنیاوی آفتونو نه د پناه غوښتلو تعلیم دې او په سورة الناس کښې د اخروی آفتونو نه د بچ کیدو تعلیم ورکولې کیږی.

(۲) عقبه بن عامر رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل نن په ما باندې داسې آیتونه نازل شوی دی چه د هغې مثل نشته، ﴿وفی روایة﴾ د هغې مثل نه په قرآن کښې شته او نه په توراة کښې او نه په انجیل کښې او نه په زبور کښې، په یو روایت کښې ئې د دې د لوستلو هدایت د اودهٔ کیدو او پاسیدو په وخت اوفرمائیلو.

عائشه رضی الله عنها فرمائی کله به هم چه رسول الله ﷺ بیمار شو نو دا دواړه سورتونه به ئې اولوستل او په خپلو لاسونو باندې به ئې دم کول او په ټول بدن باندې به ئې راخکل بیا چه په مرض الوفات کښې د هغوی تکلیف زیات شو نو ما به دا سورة لوستلو سره د رسول الله ﷺ په لاسونو باندې دمولو نو رسول الله ﷺ به هغه په خپل ټول بدن باندې راښکلو عبدالله بن حبیب رضی الله عنه فرمائی چه یو شپه باران او سخته تیارهٔ وه مونږ د رسول الله ﷺ د لټون دپاره اووتلو چه کله مو رسول الله ﷺ اوموندلو نو وې فرمائیل وایه، ما عرض اوکړو څه اووایم؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل ﴿قل هو الله احد﴾ او معوذتین اووایه چه کله سحر وی او ماښام وی درې کرته لوله ستا دپاره به د هر تکلیف نه امن وی.

شان نزول: يو كرت رسول الله ﷺ بيمار شو او تقريبا شپږ مياشتې بيمار وو د عائشې رضي الله عنها روايت په بخاري كښې دې چه په رسول الله ﷺ باندې يو يهودي منافق جادو اوكړو چه د هغې اثر دا اوشو چه بعض كرت به رسول الله ﷺ يو كار نه وو كړې خو داسې به ئې محسوس كول چه كړې ئې دې بيا يو ورځ رسول الله ﷺ عائشې رضي الله عنها ته اوفرمائيل چه ما ته الله پاک اوخودل چه زما بيماري څه ده او وې فرمائيل په خوب كښې دوه سړي راغلل يو زما سر ته كيناستلو او يو د خپو طرف ته د سر والا د بل نه تپوس اوكړو چه دوي ته څه تكليف دې بل اووې په دوي باندې جادو كړې شوې دې بيا هغه تپوس اوكړو چا پرې جادو كړې دې نو بل جواب وركړو لبيد بن اعصم چه يهودي منافق دې هغه بيا سوال اوكړو په څه څيز ئې پرې جادو كړې دې هغه جواب وركړو په يو ګومنځه او د هغې په غابښونو كښې (دا هغه د هغه خلق نه په دهوكه اخستلې وو چا چه به د رسول الله ﷺ خدمت كولو) بيا هغه تپوس اوكړو هغه كوم ځائې دې هغه جواب وركړو چه هغه د كهجورې په غلاف (غونچه) كښې بندولو سره په ذروان كوهي كښې ده چه د يو كاڼي د لاندې كيخودلې شوې دي.پس د بيداريدو نه پس رسول الله ﷺ هغه كوهي ته تشريف يوړو د هغه كوهي اوبه د نكريزو په شان شوې وې رسول الله ﷺ د هغه ځائې نه راويستله او پرينستله نو په هغې كښې د څرمنې يو تار لګيدلې وو چه په هغې كښې يولس غوټې وې په هره غوټه كښې يوه ستن وه الله پاک پرې دا دوه سورتونه نازل كړل د دې دواړو سورتونو ټول يولس آيتونه دي رسول الله ﷺ به يو آيت لوستلو سره يو غوټه سپړدله چه كله ټولې غوټې پرانستلې شوې نو رسول الله ﷺ ته محسوس شوه چه چرته لوئې بوجه د هغوي

د سر نه کوز شوي دي.

﴿ قل اعوذ برب الفلق ﴾ د فلق معنى شليدل دلته تري مراد د شپې شليدل او د سحر راوتل دلته د دې صفت اختيارولو وجه دا ده د شپې تيارۀ اکثر د شرونو او آفتونو او مصيبتونو سبب جوړيږي او د صبا رڼا هغه لرې کړي په دې صفت سره ئې اشاره اوکړه چه څوک هم د الله پاک پناه غواړي الله پاک به د هغه ټول آفتونه لرې کړي.

﴿ من شر غاسق ﴾ : په دې آيت کښې د ټول مخلوق د هر قسم شر نه د پناه غوښتلو تعليم ورکړې شوې دې بيا د شر دوه قسمه دي روحاني بدني د روحاني عقائدو د شر د بدو خبرو طرف ته ميلان، بدني شر مثلاً د مال خساره، مرضونه، د دشمنانو غلبه وغيره دا ټول په لفظ د شر کښې داخل دي.

﴿ ومن شر غاسق اذا وقب ﴾ کښې د ټول مخلوق د شر نه د پناه د غوښتلو د حکم ورکولو نه پس درې څيزونه ذکر کولو سره په خصوصي طور سره د هغې د شرونو نه د پناه غوښتلو حکم ورکولې کيږي ځکه چه د اکثرو آفتونو او د مصيبتونو سبب هم دا څيزونه جوړيږي. غاسق د غسق نه دې معنى ئې ده د تيرې خوريدل، غوړيدل د وقوب معنى د تيارې پوره طريقې سره خوريدل، مقصد به دا وي چه زه د شپې نه پناه غواړم چه کله د هغې تيارۀ پوره طريقې سره خوره شي. د شپې د تيرې نه په دې وجه خصوصي طور سره پناه غوښتلې شوې ده ځکه چه دا وخت د جناتو او د شيطانانو، د ضررې ځناورو حشرات الارض، غلو او ډاکوانو د خوريدلو او د دشمن د حملې کولو وخت وي او د جادو اثر هم په شپه کښې ډير وي. په ورځ کښې دا څيزونه ختم شي.

﴿ومن شر النفثت فی العقد﴾ بل څیز د کوم نه چه د پناه غوښتلو حکم ورکړي شوي دي هغه دي جادو او سحر دا هم ډیر خطرناک څیز دي النفثت یا خو د نفوس صفت دي د نفس لفظ په مذکر او مونث دواړو باندي وئیلي شی یا د النفثت نه ښځي مراد دی بیا ښځو لره په خصوصی طور سره د ذکر کولو دوه وجي کیدیشی، (١) په رسول الله ﷺ باندي جادو کونکي د لبید لونړه وي په دي وجه نفثت مونث ذکر کړي شو. (٢) چونکه د جادو په وجه کم عقلتوب، رذالت او حسد وی او دا څیزونه په ښځو کښ ډیر وی هم دا وجه ده چه جادو زیات تر ښځي کوی په دي وجه نفثت د مونث صیغه ذکر کړي شوه.

د جادو نه د پناه غوښتل په خصوصی طور سره ذکر کولو دپاره دوه وجي کیدیشی. (١) یوه وجه خو دا ده چه د سورة د نزول سبب هم دا دي. (٢) د دي شر او ضرر ډیر زیات دي ځکه چه انسان ته د دي خبر هم نه وی هغه په بي خبرئ کښ دا بیماری ګنړلو سره علاج کوی او تکلیف زیاتیږی.

﴿ومن شر حاسد اذا حسد﴾ دریم څیز چه د هغي نه د پناه غوښتلو خصوصی طور سره ذکر کړي شوي دي هغه حسد دي د هغي د تخصیص وجه دا ده چه عام طور سره جادو هم د دي حسد په وجه باندي کیږی او په رسول الله ﷺ باندي هم جادو د حسد د وجي نه کړي شوي دي یهود او منافقین د رسول الله ﷺ او د مسلمانانو ترقی لیدو سره سوزیدل او په ظاهری طریقي سره جنګ جهګړه کولو سره ئي هم غلبه نه شوه حاصلولي هغوی په رسول الله ﷺ باندي جادو کولو سره د دي حسد اور مړ کول غوښتل د رسول الله ﷺ

حاسدين بيشماره وو په دي وجه خصوصي طور سره د حسد نه د پناه غوښتلو حکم اوکړې شو،او د حاسد حسد هم هغه په آرام نه پريږدی هغه هر وخت هغه ته په نقصان ورکولو کښې وی په دې وجه دا ضرر هم شديد دې.حسد وائی د چا نعمت او راحت ته کتلو سره سوزيدل او دا غوښتل چه دا نعمت د هغه نه ختم شي اګر که هغه ته هم حاصل نه شي.دا حسد کبيره ګناه او حرام دې دا د ټولو نه اول ګناه ده چه په آسمان باندې اوکړې شوه او د ټولو نه اول ګناه ده چه په زمکه باندې اوکړې شوه په آسمان باندې ابليس د آدم عليه السلام سره حسد اوکړو په زمکه باندې قابيل د خپل رور هابيل سره حسد کولو باندې هغه قتل کړو.

سورة الناس مكية

آياتها: ٦	بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ	ركوعها: ١

﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ ﴿١﴾ مَلِكِ النَّاسِ ﴿٢﴾ إِلَٰهِ النَّاسِ ﴿٣﴾
مِن شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ ﴿٤﴾ الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ ﴿٥﴾
مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ ﴿٦﴾﴾

ترجمه: اووايه پناه نيسم په رب د خلقو....په مالک د خلقو....په معبود د خلقو....د هر وسوسه اچونکی نه چه روستو تلونکي دي يا چه پټيدونکي دي....هغه چه وسوسې اچوی د خلقو په زړونو کښې....د جناتو نه او د انسانانو نه.

حل المفردات: اله جمع ئې الهة راځي د باب (ف) نه عبادت کول

بندګی کول . د باب (س) نه په معنی د حیرانیدلو. الخناس واحد
مذکر اسم مبالغه د باب (ن،ض) روستو کیدل، پټیدل. یوسوس واحد
مذکر غائب مضارع د باب فعلله وسوسه اچول. الجنة جن الجنة باغ
الجنة بضم الجیم پرده، ډهال.

حل الترکیب: ﴿قل اعوذ برب الناس.... ملک الناس... اله الناس.....
من شر الوسواس الخناس.... الذی یوسوس فی صدور الناس.... من
الجنة والناس﴾ قل فعل او فاعل یو ځائې کیدو سره قول اعوذ فعل با
جاره رب مضاف الناس مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه
متبوع، ملک الناس مضاف مضاف الیه یو ځائې کیدو سره عطف
بیان اول، اله الناس مضاف مضاف الیه یو ځائې کیدو سره عطف
بیان ثانی، مبتوع سره د دواړو عطف بیانونو سره مجرور شو دپاره د
جار، جار سره د مجرور نه متعلق شو په اعوذ فعل پورې، من جار شر
مضاف الوسواس موصوف الخناس صفت اول الذی اسم موصول
یوسوس فعل هو ضمیر فاعل فی جار صدور مضاف الناس مضاف
الیه بیا دا متعلق شو په یوسوس فعل پورې من الجنة والناس
معطوف معطوف علیه یوځائې کیدو سره جار مجرور متعلق په
یوسوس پورې، یا متعلق په کائنا پورې کیدو سره حال دې د یوسوس
د ضمیر نه، بیا هغه صله ده د موصول، موصول سره د صلې نه صفت
ثانی شو، موصوف سره د دواړو صفتونو نه مضاف الیه شو دپاره د
شر، هغه مجرور شو د من جار، جار سره د مجرور نه متعلق شو په
اعوذ پورې متعلق شو، اعوذ د خپل فاعل او متعلقینو سره جمله
فعلیه کیدو سره مقوله شوه دپاره د قول، قول سره د مقولې نه جمله
فعلیه انشائیه شوه.

●

تفسیر: نوم سورة الناس : **ربط:** په تیر سورة کښې هم د آفتونو نه د بچ کیدو حکم وو په دې سورة کښې هم د داسې آفتونو او شرونو نه د پناه غوښتلو حکم دې کوم چه د انسان د زړه پورې رسیږی.او ایمان زائل کوی.په دې تیر سورة کښې هم د دنیاوی او اخروی آفتونو او مصیبتونو نه د پناه غوښتلو تعلیم وو په دې سورة کښې د آخروی افاتو نه د پناه غوښتلو حکم دې.په دې سورة کښې هم د داسې شر نه د پناه غوښتلو حکم ورکولې شی چه د ټولو ګناهونو جرړه ده او هغه ده شیطانی وسوسه.

ړومبې خبره دا بیان کړې شوې ده چه د دواړو سورتونو ژور ربط دې الفاظ هم یو شان او شان نزول هم یو شان دې معنوی ربط ئې هم شته چه په دواړو کښې د شرونو او آفتونو نه پناه غوښتلې شوې ده.﴿قل اعوذ برب الناس﴾ د رب معنی هر څیز لره د هغه د مزاج مطابق روزی ورکول.

سوال: په ړومبی سورة کښې اضافت فلق طرف ته شوې وو او په دې سورة کښې الناس طرف ته شوې دې د دې څه وجه ده؟

جواب: وجه دا ده چه په تیر سورة کښې د ظاهری او بدنی آفتونو نه د پناه غوښتلو ذکر وو هغه د انسان سره مخصوص نه دی ځناورو ته هم بدنی تکلیفونه او آفات رسیږی خو په دې سورة سورت کښې چه د کوم شر او آفت بیان دې هغه د انسان سره مخصوص دې د دې نقصان صرف انسان ته وی په دې وجه دلته د رب اضافت خصوصی طور سره الناس ته شوې دې ﴿ملک الناس﴾ یعنی چه د خلقو باشاه دې. اله الناس چه معبود دې.

سوال: په دې درې صفتونو ذکر کولو کښې څه حکمت دې؟

جواب: (۱) د درې وارو صفتونو ذکر د دې دپاره اوشو ځکه چه د درې وارو مجموعه صرف په الله پاک کښې موندلې شی که صرف برب الناس وئیلې شوې وې نو ذهن د غیر طرف ته هم متوجه کیدې شو ځکه چه د رب اضافت د غیر الله طرف ته هم کیدې شی لکه رب البیت،رب المال.

(۲)د دې درې صفتونو ذکر کولو وجه دا هم کیدې شی چه دا درې واړه د حفاظت داعیان دی ځکه چه هر مالک د خپل مملوک حفاظت کوی.هر بادشاه د خپل رعایا حفاظت کوی معبود د خپل عبادت کونکی حفاظت کوی.

سوال: د لفظ الناس بار بار تکرار ولې اوکړې شو؟ که د دې په ځائې ضمیر ذکر کولو سره ﴿ ملکهم او الههم ﴾ وئیلې شوې وې نو تکرار به نه لازم راتلو؟

جواب: (۱) دا توله دعا او مدح او ثناء ده او په دې کښې تکرار غوره دې.

(۲) بعض مفسرینو د لفظ الناس په تکرار کښې دا نکته بیان کړې ده چه د ړومبی الناس نه ماشومان مراد دی او لفظ د رب پرې قرینه ده ځکه چه د پرورش زیات ضرورت ماشومانو ته وی.د دویم الناس نه مراد ځوانانو دی لفظ د ملک په دې قرینه ده ځکه چه د ځوانان د نګرانئ کولو ضرورت زیات وی.د دریم الناس نه مراد بوډا ګان دی لفظ د اله په دې باندې قرینه ده ځکه چه په بوډا توب کښې انسان عبادت طرف ته متوجه کیږی،د څلورم الناس نه مراد صالحین دی ځکه چه شیطان هم د هغوی زړونو کښې وسوسه اچوی.د پنځم الناس مراد فسادی خلق دی ځکه چه پناه هم د دغه فسادیانو نه غوښتلی شي (معارف)

﴿من شر الوسواس الخناس﴾ دا مصدر په معنی د الوسوسه دي د وسوسې معنی ده د پټ کلام په ذریعه د شیطان خپل طرف ته راوغوښتل داسې خبره چه د هغې مفهوم زړه ته راشي ځو هیڅ آواز نه اوریدې کیږی... خناس د خنس نه مشتق دې چه معنې ئې ده واپس کیدل شیطان ته په دې وجه خناس وئیلې شی چه د هغه عادت دې چه کله انسان د الله پاک ذکر کوی نو هغه شاته اوتختی او کله چه انسان غافل وی نو دې بیا راشی د رسول الله ﷺ ارشاد دې چه د هر انسان په زړه کښې دوه کورونه دی په یو کښې فرشته اوسیږی او په بل کښې شیطان، فرشته هغه ته د نیک کارونو ترغیب ورکوی او شیطان د بدو کارونو. بیا چه کله شیطان د الله ذکر اوروی نو فوراً شاته لاړ شی او کله چه هغه د الله پاک په ذکر کښې نه مشغولیږی نوشیطان خپله مخوکه د هغه په زړه باندې کیږدی او وسوسې ورکوی.

﴿من الجنة والناس﴾ من بیانیه دې دا د وسواس بیان دې مقصد به دا وی چه وسوسه اچونکی د پیریانو نه هم وی او د انسانانو نه هم چه د بل انسان په زړه کښې وسوسې اچوی.

فائده: په دې آخری سورة کښې الله پاک خپل درې صفتونه ذکر کولو سره د شیطانی وسوسې نه د پناه غوښتلو حکم کړې دې د دې نه معلومه شوه چه شیطانی وسوسه ډیر لوئې آفت او شر دې ځکه چه د هر انسان سره یو شیطان دې کوم چه په قدم قدم باندې د هغه د تباه او برباد کولو په کوشش کښې لګیدلې دې. اول خو د هغه د ګناهونو دپاره د تیارولو کوشش کوی که په دې کښې کامیاب نه شی نو بیا به د انسان د عبادت خرابولو کوشش کوی مثلاً ریا، نمود، تکبر، عجب، به د وسوسې په ذریعه اچوی. نو ثابته شوه چه د شیطان اثر د

ټولو آفتونو نه زيات دي او دا هم چه د نورو آفتونو اثر په بدن باندې وي او په دنياوی کارونو باندې وی په خلاف د شيطان چه دې د انسان د دنيا او آخرت دواړو د تباه کولو په فکر کښ دې په دې وجه د هغه ضرر سخت وی.او هغه په نظر هم نه راځی په دې اعتبار سره هم د هغه حمله سخته وی.

د انسان دوه دشمنان دی (١) شيطان (٢) انسان ،د انسانی دشمن د علاج دپاره الله پاک دوه طريقې ښودلې دی (١) اول خو ښه اخلاق، نيکه معامله،د بدل پريخودل او په صبر سره د هغه د ختمولو کوشش کوه.(٢) که دا تدبير او نه چليږی نو بيا ئې د جدال او جهاد او د قتال حکم کړې دې.د شيطان دشمن د علاج او مقابلې دپاره الله پاک يو علاج خودلې دې هغه د پناه غوښتل،د الله پاک په پناه کښ راتلل.

فائده: د قرآن پاک ړومبې سورة سورة فاتحه او په آخری سورة کښ هم مناسبت دې په سورة فاتحه کښ د الله پاک د حمد او ثناء نه پس د هغه نه امداد طلب کول او د صراط مستقيم توفيق اوغوښتلې شو او هم دا دوه څيزونه دی چه په هغې باندې د انسان د دنيا او د آخرت د کاميابئ بنياد دې خو د دې څيزونو د حاصلولو نه پس د هغې په استعمال کښ هر وخت د شيطان لعين د مکر او فريب او وسوسو جال خور وی او په دې آخری سورة کښ د دې جال نه د بچ کيدو طريقه او تدبير خودلې شوې دې هغه دې د الله پاک نه پناه غوښتل (الاستعاذة)